# سیګار

ځانګړی عمومي پلټونکی د افغانستان
بیارغونې لپاره

اکتوبر 30،
2013



## د 2008 مالي کال لپاره د ملي دفاع واکمنۍ قانون (P.L. 110-181) د افغانستان بیارغونې لپاره ځانګړی عمومي پلټونکی تاسیس کړ (سیګار).

د سیګار د نظارت ماموریت، لکه چې په قانون کې تعریف شوی، په خپلواک او مقصدي ډول لاره برابرول دي چې

- د افغانستان بیارغونې لپاره چمتو کړی شوي یا تخصیص شوي مقدارونو سره بسپنه شوي پروګرامونو او عملیاتو پورې اړوند پلټنې او تحقیقات پرمخ ویسي.
- د پروګرامونو او عملیاتو په اداره کولو کې د اقتصاد، کفایت او مؤثریت ودې ته ډیزاین شوي پالیسیو رهبریت او همغږي او وړاندیزونه، او په دا ډول پروګرامونو او عملیاتو کې د ضایع، درغلۍ او ناوړه ګټه اخیستو مخنیوی او موندل.
- پدې معنی چې د دا ډول پروګرامونو او عملیاتو اداره کولو پورې اړوند ستونزو او کمښتونو په اړه د بهرنیو چارو او دفاع وزیر په بشپړ ډول او دا مهال خبر کړی شي او د سمون په عمل لازمیت او پرمختګ.

د افغانستان بیارغونه کې کوم لوی قرارداد، بلاعوضه مرسته، تړون ا نور د بسپنه ورکولو میکانیزم شامل دي چې د متحده ایالاتو کوم وزارت یا اداري له لارې وي چې د تخصیص شوي مقدارونو کارول پکې دخیل وي یا په بیله بیا د افغانستان بیارغونې لپاره چمتو کړی شوي وي.

سرچینه: P.L. 110-181، "د 2008 مالي کال لپاره د ملي دفاع واکمنۍ لایحه،" 1/28/2008.

(د دې رپوټ د هغو منځپانګو د لست لپاره چې د کانګرس لخوا تصویب شوي دي، 3 برخه وګورئ).

**د پوښ تصویر:**

معمولا، یو افغان ډیر بار شوی ټرک د افغانستان - پاکستان پولې کې د متحده ایالاتو فنډ ورکړی شوي ویش عبور ته په تمه دی. پدې ربعه کې یو د خبرتیا لیک خپور کړی شو چې د سیګار پلټونکو نظارت پکې په نښه شوي و چې ډیری افغان ټرکونه د تیریدو پرمهال نوي تفتیش وسیلې له لارې تیریدو ته ډیر لوړ دي. (د سیګار عکس)

# د افغانستان بیا رغونې
# لپاره ځانګړی عمومي مفتش

زه خوشهاله یم چې د سیګار د وروستۍ ربعي راپور په افغانستان کې د امریکا د بیا رغونې د هڅو په درېځ د امریکا کانګرس، او د امریکا دفاع او بهرنیو چارو وزیرانو ته وړاندې کوم.

سیګار یو ځانګړی ماموریت لري ترڅو د هغو هڅو لپاره نظارت برابر کړي چې زمونږ د هیواد په تاریخ کې د یوه هیواد د بیار رغولو تر ټولو لویه هڅه ګرځیدلې ده. لکه د نورو عمومي مفتیشینو په توګه نه، هغه کسان چې عموماً د هغو ادارو په پلټنو او تحقیقونو ترسره کولو پورې محدود وي چې دوی ورسره کار کوي، سیګار د امریکا کانګرس له لورې یو ځانګړی ماموریت لري ترڅو په افغانستان کې د امریکا د هر او ټولو بیارغونو هڅو پروګرامونو نظارت وکړي. د یووازې ادارې په توګه چې په ځانګړې توګه د افغانستان د بیارغونې هڅو آزموینه کوي، سیګار په هغه هیواد کې خپلې پلټنې او تحقیقونه ترسره کوي چې نه یووازې د امریکا ملي امنیت لپاره مهم دی، مګر هغه هیواد دی چې بې وزله، په وچه کې پروت جنګ ځپلی او فساد هم لري.

پدې ستونزمن حالت کې، له فساد سره په مبارزه کې او د امریکا له نږدې 100$ ملیاردو امریکایي ډالرو پانګونې څخه ساتنه کولو کې د قانون پلې کول مهمه ونډه لري ترڅو د افغانستان امنیتي ځواکونه جوړ شي، د افغانستان دیموکراسی ته وده ورکړ شي، او اقتصادي پراختیا وهڅول شي. لکه څنګه چې د امریکا او ایتلاف ځواکونو کمیدل روان دي، په کابل کې د امریکا سفارت د خپلو ملکي کارکوونکو شمیره هم کموي. د فیدرال نورې ادارې کموي یا په بشپړه توګه خپل استازي له افغانستان څخه وباسي چې دا د "سمې اندازې" جوړولو برخې پروسې په نوم یادیږي. سیګار په افغانستان کې د قانون پلې کولو قوي شتون ساتي. د نورو ادارو کم شوی شتون د سیګار مسولیتونه ډیروي ترڅو د افغانستان د بیا رغونې تخصیص شوې پیسې چې په افغانستان کې لګیږي په اړوند جنايي فعالیتونه له منځه یوسي او مخه یې ونیسي، او په راتلونکي کې مرستې له ضایع کیدلو، تقلب او ناوړې ګټې اخیستنې څخه خوندي کړي.

د دې راپور لمړی برخه په افغانستان کې د قانون پلې کولو په ننګونو باندې خبرې کوي. د سیګار څو اړخیزه ستراتیژي ترڅو دا ډیره مهمه دنده ترسره کړي په پنځو مهمو برخو باندې کار کوي: تقلب کشفول، د محاکمې لپاره په امریکا او افغانستان کې جنايي او مدني قضیو جوړول، د غلا شویو بیارغونې مرستو تعقیبول، د کم فعالیت او مفسدو انفرادي کسانو ته د امریکا له لورې تمویل شویو قراردادونو ورکولو مخه نیول، د دواړو امریکا په پروګرامونو او د افغانستان په وزارتونو کې د بې پاملرنې مدیریت افشا کول چې د امریکا د مالیې ورکونکو ډالرونه له خطر سره مخ کوي.

سیګار د فیدرال استازو او تحلیل کوونکو یو تجربه لرونکی ټیم جوړ کړی دی چې په افغانستان کې ګمارل شوي. هغوی په هیواد کې د امریکا د نظارت له نورو ډیرو کار کونکو څخه ډیرې مودې لپاره خدمت کوي او د امریکا له ملکي او اردو قانون پلي کوونکو او نظارت ادارو سره یې په بریالیتوب سره ملګرتیا کړې ده. چیرته چې کیدای شي، سیګار د افغانستان قانون پلي کوونکو ادارو سره کار کوي او لارښوونه کوي ترڅو هغه افغان وګړي او شرکتونو چې د امریکا له لورې تمویل شویو قراردادونو په جنايي فعالیتونو کې لاس لري ونیسي او محاکمه کړي.

یووازې پدې ربع کې، د سیګار تحقیقونو پایله د 63$ میلیونو امریکایي ډالرو حسابي بانکونو کنګل کول، دوه نیول، درې بندي کول، او له 95,000$ امریکایي ډالرو څخه زیاتو جریمو او بیرته لاسته راوړل وو. تر دې نیټې، د سیګار تحقیقونو پایله د 47 محاکمه کولو او جرمي تورونو؛ له 236$ میلیونو امریکایي ډالرو څخه ډیر بیرته لاسته راوړلو، سپمولو، او د قرارداد پیسو خوندي کول*؛ او د امریکا له لورې تمویل شویو قراردادونو څخه د 61 انفرادي کسانو او شرکتونو تعلیقول او 94 بندول وو. سیګار په افغانستان او امریکا کې له 300 څخه زیات روان جنايي تحقیقونه لري.

---

* "د قرارداد پیسې خوندي شوي" دا یوه تحقیقي اصطلاح ده چې د قرارداد فسخه کولو له کبله له پیسو څخه په ښه توګه کار اخیستلو ته ویل کیږي.

2530 CRYSTAL DRIVE ARLINGTON, VIRGINIA 22202

د افغانستان له ادارو سره د سیګار همکاریو ښه پایله درلوده، لکه د تیلو د غلا مخه نیول ترڅو د امریکا حکومت له 2$ میلیونو امریکایي ډالرو څخه زیات وسپموي. سیګار د قانون پلي کولو یووازې هغه بهرنی اداره چې ورڅخه غوښتل شوې ترڅو په فساد تورن د یوه افغان وګړي په وړاندې د افغانستان په محکمه کې شهادت ورکړي.

د افغانستان پراخ فساد د امریکا د بیا رغونې ډالرونو د اغیزمنې او فعالې ګټې اخیستنې په وړاندې یو مهم خنډ دی. لکه څنګه چې امریکا د بودجې په اساس د خپلو مرستو ډېره برخه مستقیماً د افغانستان حکومت ته ورکوي، او نه د امریکا له لورې اداره شویو قراردادونو ته، غلا او تقلب به د امریکا د مالیې ورکونکو ډالرو لپاره لا ډېر خطر وي. لدې کبله د سیګار تحقیق کوونکي او پلټونکي په ځیر سره ګوري چې آیا د افغانستان حکومت وزارتونه دا وړتیا لري چې څنګه د امریکا مرستې لګېږي په مناسبه توګه یې حساب ورکړي. تر دې هم مهم، څکه نو د هغو انفرادي کسانو په اړوند چې د افغانستان په بیلابیلو وزارتونو کې کار کوي او کیدای شي مفسد وي د سیګار تحقیقي کار ډېر مهم ګرځیدلی که څه هم دا انفرادي کسان نشی کیدای د امریکا په محکمو کې د قانوني صلاحیت له کبله او د افغانستان په محکمو کې د ارادې نشتون له کبله محکمه شي.

پدې ربع کې، د افغانستان د عامې روغتیا په وزارت کې زمونږ پلټنې د کورني کنترول کمزورۍ وموندلې چې مونږ باور لرو د امریکا مرستې یې د ضایعاتو له خطر او ناوړې ګټې اخیستنې سره مخامخ کړې. پلټنه په مستقیمه توګه دې پایلې ته ورسیدله چې سیګار په وزارت کې د ممکنه فساد یو جنایي تحقیق پرانیزي. په نورو قضیو کې، لکه څنګه چې د سیګار ریاستونه معلومات شریکوي، تحقیقي پایلې د پلټنو او ځانګړو پروژ سبب ګرځیدلې دي. د بیلګې په توګه، په دوو تفتیشونو کې زمونږ د تحقیق کوونکو کار پایله دا وه چې مونږ یې پدې ربع کې په اړه راپور ورکړی. یوې د محکمې په خونه کې ساختماني نیمګړتیاوې؛ او بل د سرحد تیریدولو په مهم ځای کې د ډیزاین نیمګړتیاوې وموندلې.

د داسې موندنو ځای پیدا کول او ثابتول کیدای شي ډېر ستونزمن وي که د بیار رغونې مستقیمو مرستو مخ په زیاتیدونکو سپارل د خوندي کولو له اغیزمنو ګامونو سره یو ځای نشي.

کیدای شي مستقیمه مرسته یوه ګټوره وسیله وي ترڅو له مرستو لاسته راوړونکو سره مرسته وشي چې د وزارتونو ظرفیت ته وده ورکړي او مرستې د خپلو ځانګړو او بدلیدونکو اړتیاو سره برابرې کړي. مګر، د مناسبې لیدلو اندازې ساتنه او حساب ورکول مهم دي، او د افغانستان په چاپیریال کې په ځانګړې توګه ستونزمن دي. څکه نو، کانګرس د امریکا له نړیوالې پراختیایي ادارې (USAID)، د امریکا هغه اصلي اداره چې د افغانستان ملکي وزارتونو ته مستقیمه مرسته برابروي، وغوښتل چې د پلټنې له شخصي شرکتونو سره قرارداد وکړي ترڅو دا ارزونه وکړي چې تر کومې کچې دا وزارتونه کولای شي د شفافیت مدیریت وکړي او د مرستو حساب ورکړي. سیګار یوه پلټنه تر لاس لاندې لري چې د USAID د وزارتونو ارزونې پروسې اعتبار، دقیقوالی او ګټورتوب آزموینه وکړي. مونږ پلان لرو چې د دې پلټنې پایلې د راتلونکي ربع په پیل کې خپره کړو.

پردې برسیره، سیګار اوس هم د افغانستان د ملي امنیتي ځواکونو (ANSF) د وړتیا په اړه اندیښنه لري. د امریکا بیا رغونې مرستې ډېره برخه، له 54$ میلیاردو امریکایي ډالرو څخه زیاته، د افغانستان ملي امنیتي ځواکونو جوړولو ته تللې ده. په افغانستان کې د امریکا ماموریت بریالیتوب تر ډېرې کچې د افغانستان ملي اردو (ANA) او د افغانستان ملي پولیسو (ANP) پورې اړه لري چې د افغانستان ملکي وګړي خوندي کړي او د القاعدې او نورو تروریستي ډلو مخه ونیسي چې ونشی کولای امن ځایونه تاسیس کړي او له هغو ځایونو څخه په امریکا او متحدینو باندې یې حملې وکړي. سیګار پدې ربع کې درې پلټنې خپرې کړي چې د پلان کولو او لوژستیکي ستونزې یې موندلې چې باید د حل لار ورته وموندل شي ترڅو نه یووازې هغه مرستې خوندي شي چې د افغانستان ملي امنیتي ځواکونو د تاسیساتو لپاره کارول کیږي، د ملي پولیسو لپاره تیل اخیستل کیږي، او د ملي اردو لپاره فالتو سامانونه تعقیب کړي، بلکه د یوه ځواکمن او فعال ملي امنیتي ځواکونو تضمین هم وشي. سیګار په اوس وخت کې د افغانستان ملي امنیتي ځواکونو کار کوونکو، معاش سیستمونه او د هغه سیستم ارزونه هم کوي چې د امریکا اردو د افغانستان د ملي امنیتي ځواکونو د توانمندی او ظرفیت د اندازه کولو لپاره ورڅخه کار اخلي، ترڅو دا وګوري چې د سپارلو پدې مهم پړاو کې د امریکا د مالیې ورکوونکو ډالرو څخه په مناسبه توګه کار اخیستل کیږي.

د امریکا محاربوي ځواکونو کمیدل به د بیارغونې نظارت باندې یو نه نومول شوی مګر لوی اغیز ولري. کیدای شي په 2015 کې د افغانستان نږدې 80% ته به د امریکا ملکي پلټونکي، تحقیق کوونکي او د فیدرال نور کارکوونکي لاس رسی ونلري. د سیګار نقشه چې د نظارت لاس رسۍ کموالی ښیي د دې راپور په 2 برخه کې راغلې. پدې ربع کې سیګار د امریکا دفاع او بهرنیو چارو وزیرانو او د USAID رییس ته لیکلي چې پدې اړه معلومات ترلاسه کړي چې د دوی پلان د پروګرامونو د مدیریت، نظارت او ارزونې لپاره څه دی،

که د امریکا قرارداد کولو او نظارت چارواکي ونشی کولای له ساحو څخه لیدنه وکړي. سیګار غواړي د امریکا دفاع او بهرنیو چارو وزارتونو، USAID او د حکومت او غیر حکومتي نورو ادارو سره کار وکړي ترڅو د "ښو کارونو" په تشریح کولو کې مرسته وکړي او دا وګوري چې بیارغونې مرستو اغیزمن نظارت ترسره کیږي. سیګار به په راتلونکو میاشتو کې د متخصصینو یوه ډله را غونډه کړي، چې د حکومت او غیر حکومتي سازمانونو څخه راوړل شوي ترڅو د امریکا له لورې تمویل شویو پروژو او پروګرامونو لپاره ښه کارونه وپیژني.

پدې ربع کې، زه پخپلو اندیښنو ټینګار کوم، چې ما د امریکا د تعلیق او بندیز د پالیسیو د تیرو دوو ربعونو پخپلو راپورونو که څرګندې کړې وي. د امریکا اردو نه منل چې د یاغیتوب ملاتړ کوونکي د حکومت قراردادونو اخیستلو څخه تعلیق او بند کړي ځکه چې هغه معلومات چې د دې سپارښتنو ملاتړ کوي محرم دي نه یووازې له قانوني پلوه غلط دی مګر د یوې ښې عامه پالیسی او ملي امنیت موخو ضد هم دی. زه په دوامداره توګه کانګرس هڅوم ترڅو دې غلطې پالیسی ته بدلون ورکړي او د اردو تعلیق او بندیز په پروګرام کې د ښه قضاوت کولو قانون منځ ته رواړي.

ولسمشر د 2014 مالي کال بودیجې پخپله غوښتنه کې له کانګرس څخه وغوښتل چې د افغانستان بیارغونې مرستې لپاره نږدې $12 میلیارده اضافي امریکایي ډالر برابر کړي. لکه څنګه چې امنیتي، سیاسي، او اقتصادي سپارل پرمختګ کوي، تطبیق کوونکي اداري، د نظارت نورې ادارې، او سیګار باید یوځای کار وکړي ترڅو دا وګوري چې د امریکا د مالیې ورکوونکو ډالرونه تر فساد لاندې رانشي او پلان شوي موخې لاسته راوړي. زما کارکوونکي او زه لیواله یو چې له کانګرس او اداري سره کار وکړو ترڅو پروګرامونه زیات اغیزمن کړي او له ضایعاتو، تقلب او ناوړې ګټې اخیستنې څخه یې لرې کړي.

په درناوي،

جان اف. ساپکو
د افغانستان بیارغونې لپاره ځانګړی عمومي پلټونکی

**د سيګار د نظارت کار د لنډيز او د يوه مهم پراختيايي سيکتور په نويو معلوماتو برابرولو برسيره، دا راپور پدې هم خبرې کوي چې د افغانستان د بيا رغونې لپاره نږدې 100$ ميلیارده امريکايي ډالرو چې کانګرس تخصيص کړي د سيګار تحقيق کوونکي يې په اغيزمن نظارت کې مهمه ونډه لري. د راپور ورکولو پدې پړاو کې، سيګار 12 پلټنې، تحقيقونه، خبرتيا مکتوبونه، او نور راپورونه خپاره کړي، چې د افغانستان د امنيتي ځواکونو د جوړولو، حکومتوالی ښه کولو، او اقتصادي پراختيا آسانتياو په برخو کې د امريکا هڅو ارزونه کوي. دې راپورونو يو شمير ستونزې، پشمول د کمزوري پلان کولو، مديريت او نظارت نيمګړتياوې، په پروژو کې ځنډ، کمزوري ساختماني کارونه، او روغتيا او خونديتوب ته ګواښونه پيژندلي دي، د سيګار تحقيقونو پايله د 63$ ميليونو امريکايي ډالرو بانکي حسابونو کنګل کول، دوه نيول، درې بندي کول، او له 95,000$ امريکايي ډالرو څخه زياتو جريمو او بيرته لاسته راوړل وو.**

## د سيګار لنډيز

د قانون پلي کول د مؤثره نظارت يوه حياتي برخه ده. سيګار د فيدرال استازو او تحليل کوونکو ډير تجربه لرونکو تر ټولو يو لوی ټيم جوړ کړی دی چې په افغانستان او امريکا کې کار کوي ترڅو د افغانستان په بيا رغونه کې د امريکا پانګونه خوندي کړي. د سيګار راپور د لنډيز برخه هغه توضيحات ورکوي چې د سيګار تحقيق کوونکي څه کوي ترڅو په برياليتوب سره د افغانستان چاپيريال مهم ننګونو ته ماتې ورکړي ترڅو د ضايعاتو، تقلب، ناوړې ګټې اخيستنې او فساد مخه ونيسي. سيګار په پنځو مهمو برخو باندې کار کوي: په امريکا او افغانستان کې د تقلب کشفول، د محاکمه کولو لپاره جنايي او مدني قضيو جوړول، د غلا شويو بيا رغونې مرستو او مفسدو انفرادي کسانو او شرکتونو تعقيبول، د امريکا له لورې تمويل شويو قراردادونو له اخيستلو څخه د کم فعاليت او مفسدو انفرادي کسانو مخه نيول، او د امريکا په پروګرامونو او د افغانستان په وزارتونو کې د کمزوري مديريتي کارونو افشا کول دي چې د امريکا د مالیي ورکونکو ډالرونه له خطر سره مخ کوي.

## پلټنې

پدې ربع کې سيګار څلور پلټنې، څلور تفتيشونه، او يو د خبرتيا مکتوب توليد کړی. دريو پلټنو د افغانستان د ملي امنيتي ځواکونو د جوړولو او ارزيابۍ پروګرامونو ارزونه کړې. پلټنو دا وموندل:

- د امريکا دفاع وزارت به اضافي ګامونه واخلي ترڅو د افغانستان ملي امنيتي ځواکونو لپاره د 4.7$ ميلياردو امريکايي ډالرو په ارزښت پلان شويو او روانو ساختماني پروژو کې ضايعات کم کړي.
- د امريکا دفاع وزارت اړتيا لري ترڅو د افغانستان ملي پوليسو لپاره د امريکا په مرستو سره د تيلو اخيستلو نظارت قوي کړي.
- د افغانستان ملي اردو په دوامداره توګه خپل ثبت شوي فالتو سامانونه (لست) نه کاروي يا تازه کوي ترڅو فالتو سامانونه تعقيب کړي.

د پلټنې څلورم راپور د افغانسان عامې روغتيا په وزارت کې مالي مديريت نيمګړتياوې وموندلې، چې دا کار لدې وزارت سره د USAID له لورې 236$ ميليونه امريکايي ډالرو مستقيمه مرسته د ضايعاتو، تقلب، او ناوړې ګټې اخيستنې سره مخامخ کوي. د پلټنې پايلو له کبله، سيګار پدې وزارت کې د احتمالي فساد تحقيق کوي.

سيګار د امريکا له لورې تمويل شويو تاسيساتو د تفتيش څلور راپورونه خپاره کړي چې لاندې ستونزې يې موندلې:

- د ولسوالی د پوليسو قرارګاه چې د نه ساتنې له کبله په خراب حالت کې وه
- يو روغتون چې د قراردادي کمزوري فعاليت له کبله بشپړ شوی نه وو
- د محکمې يوه خونه چې هيڅ بشپړه شوې نه وه.
- د روغتيا يو کلنيک چې د ډيزاين مشخصاتو په اساس نه و جوړ شوی او هيڅ ورڅخه کار نه و اخيستل شوی

سيګار د خبرتيا يو مکتوب هم ليږلی ترڅو د امريکا دفاع وزارت خبر ورکړي چې تفتيش کوونکو په يوې روانې پلټنې کې د کندهار ولايت د ويش چمن د سرحد تيريدلو په ځای کې د ډيزاين غلطۍ موندلي دي.

## نوي پلټنې

پدې ربع کې، سيګار د فعاليت دوه نوي پلټنې او 13 مالي پلټنې پيل کړې. د فعاليت دوه پلټنې د سيکتور د پراخو پلټنو پلان شوې لړۍ يوه برخه ده. دا پلټنې به د امريکا حکومت بشپړ شوېو، روانو،

او پلان شویو پروژو چې په افغانستان کې په ځانګړې سیکتور پورې اړه لري تر پوښښ لاندې ونیسي. دوه پلټنې چې پدې ربع کې پیل شوي دا ارزونه به وکړي:

- د امریکا حکومت هڅې ترڅو د افغانستان روزنې سیکتور ښه کړي
- د افغانستان میرمنو نوښت چې د امریکا حکومت له لورې تمویلېږي

13 مالي پلټنې به د امریکا بهرنیو چارو وزارت او USAID د قراردادونو، مرستو، او همکاریو موافقو چې ګډ لګښت یې نږ دې $843.7 امریکایي ډالرو ته رسیږي، او د روانو مالي پلټنو ټوله شمیره 25 ته راوړي او لګښت یې له $2.2 میلیاردو امریکایی ډالرو څخه ډیر دی، ارزونه کوي.

## تحقیقونه

د راپور ورکولو پدې پړاو کې، د سیګار تحقیقونو پایله د $63 میلیونو امریکایي ډالرو غیر قانوني لاسته راوړل شوي ملکیت بانکي حسابونه کنګل شوي، له $1.5 میلیونو امریکایي ډالرو څخه زیات خوندي شوي، $344,000 امریکایي ډالر بیرته لاسته راغلي، او $10,000 امریکایي ډالر سپمول شوي. د سیګار تحقیقونو پایله د دوو نیولو، دریو بندي کولو، له $95,000 امریکایي ډالرو څخه زیات جریمې او بیرته لاسته راوړلو حکم، دوه تورونه، یو جنایي معلومات، یو جنایي شکایت، او څلور جنایي اعترافونه وو. د سیګار د تحقیقونو له کبله د افغانستان چارواکو پنځه افغان وګړي نیولي. د تحقیق په سرلیکونو کې دا لاندې شامل دي:

- د امریکا یو سرپرکمشر او د امریکا یو پخوانی عسکر د تیلو غلا په ارتباط رشوت ورکولو په جرم اعتراف کوي.
- د امریکا اردو احتیاط عسکر د بریښنایي تقلب ترسره کولو توطیې په جرم اعتراف کوي.
- د سیګار د یوه تحقیق په پایله کې درې جنراتورونه چې ارزښت یې $302,510 امریکایي ډالر وو بیرته لاسته راغلي.
- د افغانستان چارواکو یو افغان قراردادي نیولی چې هغه سیستمونه یې ندي نصب کړي چې د یاغیانو مخه ونیسي ترڅو د پلچکونو تر لاندې چاودیدونکي توکې کینږدي.

## ځانګړې پروژې

د سیګار ځانګړو پروژو دفتر د امریکا فساد په وړاندې ستراتیژۍ په اړه یو راپور خپور کړی. دې راپور موندلي چې امریکا د فساد په وړاندې یوه هر اړخیزه ستراتیژي نلري.

سیګار د امریکا بهرنیو او دفاع وزیرانو او د USAID رییس ته دا هم لیکلي، لکه څنګه چې د امریکا محاربوي ځواکونه وځي، د خپلو پلان کولو په اړه معلومات وکړي ترڅو د امریکا له لورې تمویل شویو بیا رغونو هڅو نظارت ډاډ ترلاسه شي. سیګار د نظارت لاس رسی نقشو یوه لړی خپره کړې چې ویلې د سپارلو په پای کې د امریکا ملکي نظارت کارکوونکي به د افغانستان له 21% څخه زیات ته لاس رسی ونلري.

## د بیا رغونې نوي معلومات

د 2013 د سپتمبر تر 30 پورې، امریکا له 2002 مالي کال څخه د افغانستان مرستې او بیار رغونې لپاره نږدې $96.6 میلیارده امریکایي ډالر تخصیص کړې دي. ولسمشر د 2014 مالي کال لپاره پشمول د نظارت او عملیاتو بودیجو لپاره نږدې $12 میلیارده امریکایي ډالرو غوښتنه کړې ده.

د امریکا بیا رغونې هڅې په دریو پراخو ساحو باندې کار کوي: امنیت، حکومتوالي، او اقتصاد او ټولنیزه پراختیا. پدې ربع کې د دې سیکتورونو د بیا رغونو مهمې برخې دا دي:

- د افغانستان ملي امنیتي ځواکونو د قربانیو په اړه د امریکا او افغانستان اندیښنې
- د امریکا او افغانستان دوه اړخیز نوي امنیتي تړون لپاره دوامدارې خبرې
- د افغانستان په مشری امنیت روان سپارل
- د امریکا وروستي ملکی- نظامي ستراتیژیک کاري چوکاټ خپرول
- دوامداره عملیاتونه، پشمول د ولسمشری لپاره کاندیدانو ثبتول، د افغانستان د 2014 ولسمشری او ولایتي شورا ټولټاکنو لپاره
- د افغانستان حکومت پیسو لګولو ډیروالی او عوایدو کموالی
- د تجارت او پانګوالو ډاډ کموالي له کبله د اقتصاد او ودې ټمه کیدونکی کموالی

# د **محتوياتو** جدول

## 1 برخه




**1 U.S. په افغانستان کې د قانون اجرا**

3 افغانستان: د امريکه لپاره سخت حالات د قانون اجرا

5 د سگار د پلټنو رياست

7 د سگار د پلټنو ستراتيژي

14 کوم داسې شيان دي چې افغانستان د يو بې ساره چيلنج په توګه رامخکې کوي؟

17 لرليد


## 2 برخه




**19 د سيګار نظارت فعاليتونه**

22 د څارنې يو جامع پلان وړاندې کړې شو

22 حسابي تصفيې

36 پلټنې

44 خصوصي پروژې

46 درې مياشتينۍ جايزه: څارنو ته د لاسرسي چيلنجونه

48 پلټنې

58 د سګار بجټ

58 د سګار غړي


## 3 برخه




**61 د بيا رغونې نوي معلومات**

63 جايزه

67 د بسپنې حالت

81 امنيت

109 حکومت

111 د مياشتينۍ جايزه: د ټولټاکنو تيارئ او چيلنجونه

145 اقتصادي او ټولنيز پرمختګ

# د **محتویاتو** جدول



## 4 برخه


**179 نورو ادارو نظارت**

182 د بشپړه شوي څارنو فعالیتونه

185 د روانو څارنو فعالیتونه


## ضمیمې او پای لیکونه


196 ضمیمه الف: د راپور مقطع حواله قانوني غوښتني

202 ضمیمه ب: متحده ایالات د افغانستان لپاره بسپنې بیارغونه

204 ضمیمه ج: د سګار لیکلي شوي محصول

208 ضمیمه د: د سګار پلټنې او هاټ لاین

212 ضمیمه هـ: مخففات او لنډیزونه

216 پایلیکونه

”مونږ ژمن يو ترڅو له هرې ممکنه لارې څخه کار واخلو ترڅو د ماليه ورکوونکو غلا شوي پيسې بيرته لاسته راوړو. زه په خپلو استازو وياړم، هغه کسان چې له نږدې د امريکا عدليې وزارت سره پدې نوي لاسته راوړني کار کوي [چې له 63$ ميليونو امريکايي ډالرو څخه زيات د امريکا حکومت مرستې يې کنګل کړي، چې په غلطه توګه د تقلب له لارې ترلاسه شوې وي]. دا مجرمين په هغه ځای کې وهي چيرته چې درد کوي. سيګار به خپله ټوله هڅه وکړي ترڅو دا پيسې تعقيب کړي هر چيرته چې ځي.“

—ځانګړی عمومي مفتش جان اف. ساپکو

سرچينه: د سيګار مطبوعاتي اعلاميه، د 2013 د اګست 9.

# 1
# په افغانستان کې د امریکا قانون پلي کول



# محتويات


**افغانستان: د امریکا لپاره سخته آزموینه قانون پلې کول** 3

**د سیګار تحقیقونو ریاست** 5

**د سیګار تحقیقي ستراتیژی** 7

**افغانستان ولې یوه ځانګړې ننګونه ده** 14

**نظریه** 17


**عکس په تیره پاڼه کې**

د سیګار یو ځانګړی استازی یوه هلیکوپتر ته خیږي، وروسته لدې چې په هرات کې د امریکا قونسلګری چې د سپتمبر په میاشت تر برید لاندې راغلې وه وسله واله تلاشی ترسره کړه ترڅو د ټولو کارکوونکو شمیره څرګنده شي، او دا چې هیڅ یاغیان ساحې ته ننوتلې نه وي. (د سیګار عکس)

# په افغانستان کې د امریکا قانون پلې کول

## افغانستان: د امریکا قانون پلې کولو لپاره سخت چاپیریال

د امریکا د قانون پلې کولو د افسر په توګه په افغانستان کې کار کول کیدای شي له غلو، رشوت اخیستونکو، پیسو مینځونکو، او مخدره توکو قاچاق کوونکو سره معامله شامل وي، مګر انتحاري بم لرونکي او د یاغیانو برید ډله هم شتون لري.

د افغانستان د بیا رغونې عمومي مفتش (سیګار) څخه ځانګړی استازی جیف میلسلګل، د 2013 د سپتمبر په 13 سهار وختي په هرات کې د امریکا په قونسلګری وو. یوه لاری چې له چاودیدونکو توکو څخه ډکه وه په امنیتي دروازې ورغله او وچاودیده. چاودنې یو شمیر محافظین ووژل او ودانی ته ډیر تاوان ورساوو. وروسته بیا د یاغیانو یوې ډلې په انګړ باندې برید وکړ، مګر په 20 دقیقو جنګ کې لږ تر لږه پنځه ووژل شول او نور په شا ولاړل. میلسلګل چې له سیمیز امنیتي افسر[1] سره یې مرسته کوله، یوه وسله واله تلاشی ترسره کړه ترڅو دا وګوري چې د ماموریت ټولو کارکوونکو شمیره څرګنده شي او دا چې هیڅ یو یاغي قونسلګری ته ننوتلی نه وي. میلسلګل د قربانیانو په وړلو کې هم مرسته وکړه او وسلواله



**د امریکا دفاع وزارت معاون،** اشتون کارتر د 2013 د سپتمبر په 13، په هرات کې د امریکا په قونسلګری باندې د یاغیانو برید د چاودنې تاوان معاینه کوي. (د امریکا دفاع وزارت عکس)

موضع یې وساتله ترڅو د قونسلګرۍ خلاصه چاودل شوې دروازه تر پوښښ لاندې راوړي. هغه له ټپي کیدلو پرته له برید څخه ژوندی پاته شو.

د هرات برید دا ښيي چې په افغانستان کې د امریکا قانون پلې کولو کارکوونکي له مهمو ننګونو سره مخامخ دي. د امریکا له 12 کلونو بوختیا وروسته، دا هیواد اوس هم د جنګ ساحه ده. د هرات برید پایلو د قانون پلې کول نور هم پیچلي کړي دي. د امریکا کارکوونکي له زیانمن شوي قونسلګرۍ څخه د اردو نږدې پایګاه ته یووړل شوي چې عام افغانان نشي کولای هلته ورشي او دا چې فیدرال ملکیان نشی کولای له عسکري محافظینو پرته دباندې ووځي. اوس په افغانستان کې د امریکا شتون یووازې دوه ځایونه دي چېرته چې فیدرال ملکي کارکوونکي کولای شي پخپله په موټر کې چیرته ولاړ شي. داسې محدودیتونه د سیګار او نورو استازو توان ډیر محدودوي ترڅو د افغانستان له مخبرینو سره کار وکړي، قراردادیانو سره خبري وکړي، او ګټور شاهدین استخدام کړي.

د یاغیانو له بریدونو څخه پرته، افغانستان د امریکا قانون پلې کولو لپاره یو شمیر ګواښوونکی خنډونو وړاندې کوي. سفر ستونزمن دی. رواجونه او ژبې توپیر لري. ملاتړ کیدای شي لږ یا هیڅ نه وي. ګټور شواهد یا اساسي سندونو پیدا کول ستونزمن دي. کیدای شي وګړي شکمن او بې همکاری وي. کیدای شي چارواکي مفسد وي یا له ګواښه وډاریږي. د امریکا چارواکي صلاحیت نلري چې افغان وګړي ونیسي. دا هیواد له امریکا سره د مجرمینو تبادلې تړون نلري. هغه شکمن چې افغان ادارو ته یې راپور ورکول کیږي کیدای شي هیڅ محاکمه نشي. په عین وخت کې، د افغانستان کوکنارو تجارت، رشوت، غلا، او د ګواښ نغدې پیسې چې د امریکا د مرستو په راتللو پورې اړه لري فساد او یاغیتوب ډیروي.

افغانستان د امریکا د قانون پلې کوونکو چارواکو لپاره یوه ننګونه ده، مګر هغه څه چې په افغانستان کې پیښیږي تل په افغانستان کې نه پاته کیږي. خلک، پیسې، مخدره توکې، او نور قاچاق چې په افغانستان کې په جرم تړاو لري امریکا ته ځي. ځکه نو د افغانستان د بیا رغونې په پروګرام کې د جرم تحقیق د تحقیق کوونکو، تحلیل کوونکو او څارنوالانو لپاره هم په امریکا کې او هم دننه په هیواد کې کار شته.

د ملګرو ملتونو امنیت شورا پدې وروستیو کې لکه څنګه چې یې د ناتو په مشرۍ د نړیوالې امنیتي همکاری ځواک ماموریت وغزاوه، د جرم اهمیت ته اشاره وکړه. د امنیت شورا د 2013 د اکتوبر 10 د رایو په اتفاق سره پریکړه لیک د "افغانستان د امنیتي وضعیت په اړه سخته اندیښنه ښودلې، په ځانګړې توګه د طالبانو، القاعدې او نورو بې رحمو افراطیانو، غیر قانونی وسلوالو ډلو او مجرمینو، پشمول د هغو کسانو چې د غیر قانوني مخدره توکو په قاچاق یا تجارت کې لاس لري روان تاوتریخوالی او تروریستي فعالیتونه دي."[2]

جرمونه لکه غلا، رشوت، غیر قانونی پیسې، او پیسې مینځل پروګرامونه له اړینو سرچینو څخه او حکومتونه له اړینو عوایدو څخه محرومويي. دا د خلکو په نظر فساد هم ډیروي، د افغانستان حکومت او نړیوال بیارغونې پروګرامونو هم کمزورې کوي، او د طالبانو ولسی غوښتنه هم ډیروي، کیدای شي چې هغوی ظالمان او لاسونه یې په وینو لړلې وي مګر به پراخه پیمانه هغوی ته په نه مفسد توګه لیدل کیږي. لکه څنګه چې د امریکا دفاع وزارت په رسمي توګه راپور ورکړی،

> په پاکستان کې د یاغیتوب خوندي ځایونه، د افغانستان حکومت بنسټیزه محدوده وړتیا، او پراخ فساد د افغانستان اوږ مهاله ثبات او دوامداره امنیت لپاره لوی خطر پاته دی. ...پراخ فساد اوس هم د افغانستان حکومت اغیز او مشروعیت محدود کړی.[3]

په بل عبارت، په افغانستان کې جرم یوه ناڅاپه فرعی ننداره نده، مګر د امریکا د اردو، بیارغونې، او پراختیایي هڅو په وړاندې یوه مهمه ننګونه ده.

دا لیکنه په افغانستان کې د سیګار د قانون پلې کولو، د کارکوونکو د کارونو په وړاندې خنډونه، او د سیګار هغه ستراتیژی ترڅو پر دې خنډونو بریالیتوب ترلاس شي یا کم شي او خرابکاران کشف شي، جزا ورکړ شي او مخه یې ونیول شي، یو لنډ نظر وړاندې کوي.

## د سیګار تحقیقونه ریاست



**د سیګار استازی** د کندهار په هوایي ډګر کې د ګمرک استازو ته معلومات ورکوي. (د سیګار عکس)

د سیګار تحقیقونو ریاست د سیګار له ماموریت څخه ملاتړ کوي ترڅو د ضایعاتو، تقلب، ناوړې ګټې اخیستنې، او فساد مخه ونیسي، او په پنځو مهمو برخو کار کوي: د تقلب کشفول، په امریکا او افغانستان کې جرمي او مدني قضیو جوړول، د بیارغونې غلا شویو مرستو بهیر تعقیبول، د امریکا له لورې تمویل شویو قراردادونو ترلاسه کولو څخه د کم فعالیتو او مفسدو انفرادي کسانو او شرکتونو مخه نیول، د امریکا په پروګرامونو او د افغانستان په وزارتونو کې د کمزورې مدیریت او کارونو افشا کول چې د امریکا د مالیې ورکونکو ډالرونه له خطر سره مخامخ کوي.[4]

د سیګار تحقیقونو ریاست د سیګار پلټنې او تفتیش له ریاست او د ځانګړو پروژو له دفتر سره له نږدې همکاري کوي. هر ټیم کیدای شي د نور له کار څخه د کارونو د آسانه کولو لپاره ګټه واخلي. د دندو په ترسره کولو کې، د تحقیقونو ریاست ډیری وختونه هغه معلومات پیدا کوي چې د سیګار پلټنو او ځانګړ پروژ ته لار پرانیزي، پداسې حال کې چې د سیګار پلټنې ډیری وختونه د جرمې تحقیقونو سبب ګرځیدلي. د بیلګې په توګه، پدې ربع کې د افغانستان عامې روغتیا په وزارت کې د سیګار پلټنې په کورنې کنترول کې کمزورۍ وموندلې چې کیدای شي د امریکا مرستې له خطر سره مخامخ کړي. پلټنه په مستقیمه توګه دې سبب شوه چې سیګار پدې وزارت کې د ممکنه جرم یو تحقیق پرانیزي.

د 2013 تر اکتوبر پورې، د تحقیقونو ریاست 306 پرانیستې جرمې تحقیقونه لري چې د افغانستان بیار رغونې د قرارداد تقلب، فساد، او غلا په اړه دي. د راپور ورکولو پدې پړاو کې، د سیګار یوه تحقیق پایله د $63 میلیونو امریکایي ډالرو په بانک کې د پیسو کنګل کول د محکمې حکم وو چې شک کیږي د جرم میوه وه. په امریکا کې د سیګار تحقیقونه د دوو نیولو، دریو بندې کولو، دوو تورونو، یوه جرمې معلوماتو، یوه جرمې شکایت، او څلورو جرمې اعترافونو سبب شول؛ او په افغانستان کې پنځه افغان وګړي د سیګار له تحقیقونو وروسته ونیول شول.

د سیګار تحقیقونو ریاست په تشکیل کې 57 کارکوونکي کار کوي، چې د سیګار کارکوونکو نږدې دریمه برخه ده، چې 36 د ویرجینیا په قرارګاه کې او 21 (دوه نور بهرنې وګړي) په افغانستان کې ګمارل شوي. په مدیرانو برسیره، دا ریاست ځانګړې استازي، تحقیق تحلیل کوونکي، اداري متخصصین، جرمې علم تحلیل کوونکي، او افغان ملاتړ کوونکي کارکوونکي په دندو ګمارلې دي. پردې برسیره، یو شمیر وکیلان چې د تعلیق او بندیز تخصص

لري، څارنوالان چې ځانګړو مرستندویانو امریکا څارنوالانو په توګه خدمت کوي، او حقوقي مرستندویان چې تحقیقونو لپاره ملاتړ برابروي، اما په اداري کارکوونکو کې نه راځي.

د سیګار ځانګړې استازې د فیدرال تجربه لرونکې قانون پلې کوونکې افسران دي: هویت پاڼه لري، د وسلو د درلودلو اجازه لري، او صلاحیت ورکړ شوي چې نیول ترسره کړي (مګر نه افغانان پخپله خاوره کې). د قانون په پلې کولو کې د استازو منځنی تجربه له 20 کلونو څخه زیاته ده. د هغوی دندې نه یووازې په افغانستان کې هغوی ځایونو ته وړي، مګر په امریکا کې اردو پایګاوو، سرحدونو، محکمو خونو، څارنوالانو دفترونو، او هغه کورنې ځایونه ته چې د افغانستان بیارغونې له جرمونو څخه اغیزمن شوي وي هم ځي. د ریاست نور متخصصین، لکه د تحقیق تحلیل کوونکې، د جرمي علم پلټونکې، او جرمي علم آزمویونکې، په منځنی کچه له 10 کلونو څخه زیاته تخصصي تجربه سیګار ته روارې.

د سیګار تحقیق کوونکې د عمومي مفتش معاون دګلاس جې. دومین او د عمومي مفتش دویم معاون شارون اې. وودز تر لارښوونې لاندې کار کوي.

دومین د FBI پخواني استازی دی او د هغه په دندو کې د امریکا سفارت په لندن کې، د FBI دالاس ساحوې دفتر کې اداري دنده، او د FBI مینیاپولیس په څانګه کې ځانګړې استازې په توګه د 200 کارکوونکو مسولیت درلود او د مینیسوتا او داکوتا عملیاتونه هم پکې شامل وو راځي. پداسې حال کې چې دی په FBI کې وو، هغه د پراخې معلوماتې تیکنالوجی پروژې مدیریت هم کاوو چې IAFIS به یې تولیدوو، چې د متحد اتومات کوتې نښې پیژندلو سیستم دی او له 100 میلیونو څخه زیات جوړې د جرمي او مدني قضیو ګوتو نښې یې ثبت کړې، عکسونه اخلې، جرمي تاریخ ثبتوي او نور معلومات په چټکه توګه د قانون پلې کوونکو لپاره 24 ساعته شتون لري.[5]

د وود په دندو کې د بهري جرمي تحقیق کوونکي خدمت ځانګړي استازې دنده، د دفاع جرمي تحقیق کوونکې خدمت ریس (DCIS)، او د عمومي مفتش په دفتر کې د دفاع لوجستیک اداري ریس په توګه هم دنده ترسره کړې ده. وړاندې تر دې چې له سیګار سره یوځای شي، هغې د DCIS له تاسیسدلو، او په کویت، عراق او افغانستان کې شتون سره مرسته وکړه.

د امریکا او ایتلاف عسکري ځواکونو په خو پراونو کې وتل او په جلا توګه د ننه په هیواد کې شتون د امریکا په نورو ادارو کې د "سمي اندازې جوړول،" دا ټول سره یوځای کیږي او اغیزمن نظارت ستونزمن کوي او دا په افغانستان کې د سیګار د تحقیق ونډې ننګونه او اهمیت لا هم زیاتوي. پدې وروستیو کې سیګار د خپلو لوړ پوړو کدرونو شمیره زیاته کړې چې په افغانستان کې مستقیمه تجربه لري او دا به له سیګار سره مرسته وکړي چې له ننګونو سره کار وکړي. د کارکوونکو زیاتوالی د ځانګړې عمومي مفتش د پروګرام ښکارندوی دي چې لکه د پیسو مینځلو او مخدرو توکو سره مبارزې موضوعاتو متخصصین اضافه کوي ترڅو د شته ظرفیتونو ملاتړ وکړي.

په نویو استخدامونو کې فرانک پې کالیستینو شامل دي، هغه د مالیې وزارت متخصص دی او د افغانستان مالي ګواښ اداري یو تاسیس کوونکی وو او په عراق کې د دې دفتر د ریس معاون په توګه خدمت کړی دی. په راتلونکې ربع کې به دایوید جې شیویندیمن له سیګار سره یوځای شي، هغه د فیدرال یو پخوانی څارنوال دی چې اوس د امریکا عدلیې وزارت اتشې په توګه د کابل په سفارت کې کار کوي. د هغه په پخوانی تجربه کې په بالکان کې د جنګ جرمونو نړیوال محاکمه کول شامل دي. هغه به په افغانستان کې د سیګار د مخکنیو عملیاتو ریس وي،

او د ځانګړې عمومي مفتش رسمي استازې په توګه به کار کوي. تیموتي آ جونز به هم سیګار ته راځي، د مخدره توکو پلې کولو ادارې اوږد مهاله کارکوونکی چې اوس د افغانستان مالي ګواښ ادارې ریس دی چې د مخدره توکو او تروریستانو مالي اړیکې په نښه کوي.

## د سیګار تحقیقي ستراتیژي

د تحقیقونو ریاست خپلې موخې له څو لارو تعقیبوي:

- په افغانستان کې یو قوي شتون ساتل
- د قانون پلې کولو له نورو ادارو سره اړیکې جوړول
- په افغانستان او امریکا کې قضیو جوړول
- په فعاله توګه د تعلیق او بندیز لپاره کاندیدانو په نښه کول
- له پیسو مینځلو سره مبارزه کول
- مخدره توکو تجارت سره مبارزه کول
- د بیارغونې غلط چلند لیدونکو ته لاس غزول

## په افغانستان کې قوي شتون ساتل

سیګار په افغانستان کې د امریکا قانون پلې کولو متخصصینو تر ټولو لویه، ډیره تجربه لرونکې، او د اوږدې مودې لپاره په دنده ګمارل شوې ډله لري. په افغانستان کې میشت د سیګار تحقیقي کارکوونکې ځانګړې استازې دي چې د امریکا قانون پلې کولو پوره افسر صلاحیت لري.

په افغانستان کې د سیګار شتون نه یووازې د اندازې پرتله کولو له کبله، مګر د ماموریت له کبله هم قوي دی. د قانون په اساس، سیګار د امریکا د نظارت یووازې هغه اداره ده چې ځانګړې دنده یې د افغانستان له بیارغونې سره ده. دا اداره یووازې هغه اداره ده چې کولای شي د ادارو سرحدونو برسیره د بیارغونې هڅو هرې برخې ارزونه وکړي.

سیګار په کابل، کندهار هوایي ډګر، کمپ لیدرنیک، هرات، مزارشریف، او بګرام هوایي ډګر کې تاسیس شوې دفترونه لري.



**د سیګار استازی** افغان کلیوالو سره لیدنه کوي. (د سیګار عکس)

## د قانون پلې کولو نورو ادارو سره اړیکې جوړول

په افغانستان کې سیګار د امریکا د نظارت او قانون پلې کولو ادارې په توګه یووازې نده. هغه نورې قانون پلې کولو امریکایي ادارې چې په افغانستان کې شتون لرې دا دي:

- د امریکا دفاع وزارت، د دفاع جرمي تحقیق خدمت (DCIS)
- د کورني امنیت وزارت (DHS)
- د بهرنیو چارو وزارت د عمومي مفتش دفتر (State OIG)
- د امریکا عدلیې وزارت، د مخدره توکو پلې کولو اداره (DEA)
- د عدلیې وزارت، د فیدرال تحقیق بیرو (FBI)
- د امریکا اردو جرمي تحقیق ځانګې قوماندانی، د مهمو تدارکاتو تقلب اداره (MPFU)
- د امریکا بهري ځواکونو، بهري جرمي تحقیق خدمات (NCIS)
- د امریکا هوایي ځواکونو، د ځانګړو تحقیقونو دفتر (OSI)
- د امریکا بهرنیو چارو وزارت، د امنیت سیمیز دفتر (RSO)
- په افغانستان کې نړیوالې پراختیایي ادارې عمومي مفتش دفتر (USAID OIG)

سیګار لدغو ادارو سره همکاري کوي. پردې برسېره، د امریکا حکومت یو شمیر ډلې او دندو ځواکونه جوړ کړي ترڅو د افغانستان په اړوند مسلو ته حل لار پیدا کړي. سیګار لدغو ادارو سره له نږدې کار کوي:

- **د نړیوال قرارداد فساد دندې ځواک (ICCTF):** په 2006 کې FBI د دې ځانګړې څو ادارو ترمنځ اداري جوړول پیل کړل څکه چې د امریکا د ملکي او اردو قرارداد کولو چارواکو په منځ کې او قراردادیانو چې په بیړنیو عملیاتو کې کار کاوو د رشوت، غیر قانوني پیسو او غلا پراخې جرمي ستونزې شتون درلود.[6] سیګار په 2009 لدې ځواک سره یوځای شو او د ICCTF په قرارګاه کې یې یو دایمي ځانګړی استازی ګمارلی دی. پر افغانستان برسیره، د ICCTF ملګري استازي په عراق، کویت، قطر، پاکستان او هایتي کې کار کوي. د ICCTF په غړو کې اوس FBI، سیګار، DCIS، MPFU، NCIS، او د امریکا بهرنیو چارو وزارت او USAID عمومي مفتشینو دفترونه شامل دي.
- **د 2010 دندې ځواک (TF 2010):** دا ټیم په افغانستان کې د امریکا ځواکونو له لورې په 2010 کې جوړ شو، له قوماندانانو او اخیستلو کارکوونکو سره کار کوي ترڅو د قرارداد ګواښ او غلا مخه ونیسي، او د دښمن په لاسونو کې د امریکا د قراردادونو پیسو لویدل مخه ونیسي. TF 2010 د پلټنو، کشفي، قانون پلې کولو، او حقوقي فرعي ادارو کارونه په مخ وړي. سیګار په حقوقي فرعي اداره کې یو میشت کار کوونکی لري، او د کابل، بګرام او کندهار په هوایي ډګرونه په پخوانیو قرارګاوو کې د TF 2010 له کارکوونکو سره کار کوي. د دندې ځواک له هغه وخته خپلې قرارګاوې په خلیج کې د قطر، دوهې ته نږدې یوې هوایي پایګاه ته وړې. سیګار د امریکا له اردو څخه اجازه غوښتې ترڅو یو استازی هلته وګماري او نږدې کاري ملګرتیا ته دوام ورکړي.
- **افغانستان ګواښ مالي اداره (ATFC):** دا د عراق ګواښ مالي اداري په ډول جوړ شوی او د امریکا مالیې او دفاع وزارتونو تر مشرۍ لاندې کار کوي، ATFC په 2009 کې په کار پیل وکړ ترڅو د امریکا ادارو لپاره مالیي تخصص او د عمل وړ کشف برابر کړي او له غیر قانوني مالي شبکو سره مبارزه وکړي. ATFC پدې لټه کې دی چې د ګواښ هغې مالې شبکې وپیژني او مخه یې ونیسي چې له تروریزم او د افغانستان یاغیتوب سره تړاو لري. د مخدره توکو پلې کولو اداره د ATFC مشرۍ کوي او د امریکا دفاع وزارت یې د معاون په توګه کار کوي. سیګار پدې اداره کې یو میشت تحلیل کوونکی لري. دې کار ورسره مرسته کړې ترڅو پلټنو او تحقیقي کارونو لپاره پراخو معلوماتو ته لاس رسی ولري.
- **په افغانستان کې څو ادارو دندې ګډ ځواک (CJIATF-A):** دا کنسورسیم د فساد، مخدره توکو، مالي ګواښ، له دښمن سره قرارداد کولو په وړاندې هڅې همغږې کوي. دا ځواک د توقیف شویو کارونه هم ترسره کوي او د افغانستان حکومت له ادارو سره همغږې کوي. په غړو کې TF 2010 او CJIATF مخدره توکو سره مبارزې تحلیل کوونکي اداره، د ادارو تر منځ د عملیاتو همغږی مرکز او ATFC په ملګرتیا سره د CJIATF-A ټیم شامل دي.

د سیګار څارنوالان هر وخت چې امکان ولري د افغانستان د لوی څارنوال له دفتر سره په تحقیقونو، مصاحبو، او د افغان وګړو محاکمې ته راجع کولو په اړه همکاري کوي. د امریکا هیڅ یوه بله اداره د افغانستان لوی څارنوال دفتر سره داسې کاري ملګرتیا نلري. دا امریکا ته چې د افغانستان له قرارداد کوونکو سره کار کوي یو آواز ورکوي هغه کسان چې امریکا ورته

هیڅ قانوني علاج نلري. له 2010 څخه، د افغانستان لوی څارنوال دفتر 35 هغه انفرادي کسان محاکمه کړي چې د سیګار له لورې د بیا رغونې تقلب، غلا، او فساد په اړه راپور ورکړ شوی.

د لوی څارنوال دفتر د سیګار کار په اساس د افغانانو په وړاندې عمل کړی چې په ځینو قضیو کې یې لاس درلود. پدې کې هغه قراردادیان شامل دي چې ونشو کولای د پلچکونو لاندې اړینې ځالی نصب کړي ترڅو یاغیان ونشي کولای تر سړکونو لاندې بمونه کیږدي. لکه څنګه چې د سیګار په پخوانیو راپورونو کې راغلي، د لوی څارنوال دفتر عموماً ټیټ پوړي شکمن محاکمه کوي، او هغه خلک نه محاکمه کوي چې سیاسي اړیکې لري یا ډیرې پیسې لري چې عدالت مخه نیولو لپاره ورڅخه کار اخلي.

او سیګار استازې د فساد په وړاندې د نظارت او ارزونې ګډې خپلواکې کمیټې (MEC) سره په افغانستان کې د بشپړ شویو پروژو او قراردادونو د فساد او تقلب په اړه معلومات شریکوي. دا کمیټه په 2010 کې د افغانستان حکومت په غوښتنې جوړه شوه، د شپږو غړو دا نړیواله کمیټه د فساد په وړاندې نښې تاسیسوي، ستونزې پیژني، او پرمختګ ارزونه کوي. دا کمیټه د قانون پلي کولو اداره نده، مګر راپورونه یې د نړیوالې ټولنې لپاره د یاددښت بڼه لري او کیدای شي د افغانستان حکومت فساد ضد هڅو لیوالتیا باندې اغیز وکړي.

## په افغانستان او امریکا کې د قضیو جوړول

سیګار استازې د پلټنو له موندنو، مخبرینو معلوماتو، ادارو ترمنځ اړیکو، او نورو سرچینو څخه کار اخلي ترڅو په دواړو افغانستان او امریکا کې قضې جوړې کړي.

لکه څنګه چې د سیګار په خبرې پاڼه کې تشریح شوې، د تحقیق ریاست د تیلو غلا په قضیو کې مهمې برياوې ترلاسه کړي او په بانک کې اچول شوي 63$ میلیونه امریکایي ډالر یې کنګل کړي چې کیدای شي په افغانستان کې غیر قانوني فعالیتونو پورې اړه ولري. داسې تحقیقونه، چې په افغانستان او امریکا کې ترسره شوي، په زیاته توګه به ځکه مهمې وي چې امریکا د مرستو پیسې په مستقیمه توګه د افغانستان حکومت ته سپارې، او دا د خراب چلند لپاره نوي فرصتونه لکه غلا او د غیر قانوني پیسو لیږل برابروي.

د سیګار تحقیقونه اوس په لمړني پړاو کې دي، چې د افغانستان امنیتي ځواکونو لپاره د امریکا له لورې تمویل شوي په روسیه کې جوړ شوي Mi-17 ترانسپورت هلیکوپترونو په اخیستلو کې د ممکنه جرمي تحقیق په اړه د قانوني صلاحیت ارزونه کوي. د Mi-17 د قرارداد په اړه تورونه د سیګار د عامو خلکو لپاره د مستقیم تیلفون له لارې راغلل.

د افغانستان کندهار په هوایي ډګر کې د قراردادي یوه معاون یوه افغان فرعي قراردادي ته کار ورکړی چې بیا ده له هغه څخه 60,000$ امریکایي ډالره اخیستې. د سیګار تحقیق په افغانستان کې پیل شوی. شکمن، ایلتون ام مککیب III د لویزیانا له سلیدیل څخه، کله چې دی امریکا ته بیرته راغی د 2012 په دسمبر کې ونیول شو. هغه د غیر قانوني پیسو په اخیستلو او د امریکا په وړاندې د توطیې په جرمونو اعتراف کړی. هغه دا موافقه هم وکړه چې 60,000$ امریکایي ډالر تسلیم کړي. مککیب د 2013 د اګست په 22 د فیدرال په بندي خانه کې د لسو میاشتو لپاره بندي شو.[7]

د مککیب په څیر وړې قضیې کیدای شي ګټورې وي. مالیه ورکوونکي او بیارغونې هڅې ګټه اخلي کله چې یو کس یا سازمان غواړي خراب چلند وکړي او بیا د کشف خطر په پام کې نیسي او د جرم لپاره خپل پلان پریږدي. څکه نو د ریاست اغیز نشی کیدای په پوره توګه اندازه شي کله چې په ساده توګه لاسته راوړل شوې، بیرته راوړل شوې، جریمه شوې، یا د خرابو قراردادیانو ته له نورې توزیع څخه خوندي شوې ډالرونه سره راټول شي. مخنیوی هم حسابیږي.

اغیزمن تحقیق او قضیې جوړول معلوماتو لاس رسي ته اړتیا لري. سیګار به اوس له هغه لاس رسي څخه چې د امریکا سنا د تحقیق دایمي فرعي کمیټې (PSI) دوسیو ته یې اوس لاسته راوړی ډېره ګټه واخلي. د امریکا سنا د تحقیق دایمي فرعي کمیټې (PSI) ځانګړې عمومي مفتش د PSI ریس کارل لوین او لوړ پوړې غړې جان مک کین ته د 2013 په اپریل کې د لاس لیاره ولیکل. د سنا اکثریت مشر هرِي رید د 2013 د می په 23 یو پریکړه لیک وړاندې کړ، چې PSI ته یې اجازه ورکړه ترڅو په افغانستان کې د امریکا هڅو په اړه د کمیټې اسناد د فیدرال تحقیق کوونکو ته شتون ولري. پریکړه لیک د رایو په اکثریت تایید شو.[8] دا ډېر زیات غیر معمولې حرکت ښیې چې سیګار د تحقیق هره شته لار تعقیبوي.

## په فعاله توګه کاندیدان د تعلیق او بندیز لپاره په نښه کوي

سیګار وموندل چې تعلیق او بندیز، هغه عمل چې د لنډې مودې لپاره یا په دایمي توګه یو کس یا شرکت د امریکا حکومت له قرارداد کولو څخه مخه نیسي، او په افغانستان کې کیدای شي یوه قوي وسیله وي. د امریکا قانون پلې کول د افغانستان وګړو او افغانستان شرکتونو باندې کم قانوني صلاحیت لري. مګر د امریکا تطبیق کوونکې اداري کولای شي د هر هیواد شرکت یا انفرادي کس که یې فعالیت کمزورې وي، په غیر قانوني فعالیتونو کې لاس ولري، یا له مجرمینو او یاغیانو شبکو سره اړیکې ولري د امریکا له لوري تمویل شویو قراردادونو، پیسو، یا پورونو څخه تعلیق یا بند کړي.

د امریکا نورې اداري، عسکري یا ملکي، په ځینو وختونو کې د عملیاتو یا نورو دلیلونو لپاره لیواله ندي ترڅو د سیګار په سپارښتنو باندې عمل وکړي او قراردادیان تعلیق یا بند کړي. د امریکا اردو د بیلګې په توګه، له طالبانو، القاعدې، یا حقاني شبکې سره د 43 شرکتونو اړیکو په اړه د سیګار سپارښتنې ندې منلي. دا شرکتونه د امریکا سوداګری وزارت انفرادي کسانو په لست کې دي چې بهرنې کسان یا شرکتونه د صادراتو له اخیستلو څخه منع کوي. سیګار څو ځلې په اردو باندې غږ کړی ترڅو د امریکا له قراردادونو اخیستلو څخه د دغو شرکتونو مخه ونیسي، مګر اردو د نه عمل لپاره حقوقی دلیلونو ته اشاره کړې.[9] سیګار باور لرې چې د اردو نه منل چې دا شرکتونه تعلیق او بند کړي د عامه پالیسی او ملي امنیت موخو سره مخالف دي.

خو د سیګار له سپارښتنو سره د اداري مقاومت د ټولو ګامونو مخه نشي نیولای. د سیګار تحقیقونو پایله د دې سبب شول ترڅو 200 انفرادي افغانان د امریکا له پایګاوو څخه منع شي او امریکا ته ویزې اخیستلو څخه بند شي.

سیګار غوښتنه کړې مګر تر اوسه یې هغه قانوني صلاحیت لاسته ندی راوړی چې شکمن قراردادیان تعلیق یا بند کړي. غوښتنه د 2011 په پای کې د اداري او بودجې دفتر (OMB) وړاندې شوې؛ OMB لا تراوسه ورباندې کار ندی کړی. ځکه نو سیګار نورو ادارو ته په سپارښتنو محدود دی چې تعلیق او بندیز وضع کړي. له 2008 څخه، سیګار نورو ادارو ته 358 قضیې راجع کړې، چې پایله یې 61 تعلیقونه، 94 بندیزونه، او یوه اداري تصفیه وه.

## پیسو مینځلو سره مبارزه

په افغانستان کې د بیا رغونې کارونو لپاره د امریکا قراردادونو په اړوند غلا او تقلب او د هیواد مخدره ټوکو لوی تجارت څو ځلې د هغو سبب شوی ترڅو اقتصادي عایدات "ومینځي" او د قانون پلې کولو تحقیق مخه ونیسي او مرستې پیسې نورو ځایونو ته یوسي.

په پیسو مینځلو کې افغانان، امریکایان، او د نورو هیوادونو وګړې شامل دي. په یوې قضیه کې مرکزي کس یو امریکایي قراردادي چارواکی وو او هغه په دواړو فساد او پیسو قاچاق کې لاس درلود. سیګار تحقیق کوونکو دونالد جې ګارست هغه وخت ونیو چې هغه یې کوله له افغانستان څخه د پوستې په تجارتي غوټه کې $150,000 امریکایي ډالر قاچاق کړي. هغه بیا وروسته اعتراف وکړ چې له افغان قراردادیانو څخه یې $210,000 امریکایي ډالر د قرارداد کولو ښه چلند لپاره غیر قانوني پیسې لاسته رواړي. د امریکا عدلیې وزارت ویلې چې ګارست پلان جوړ کړی وو ترڅو په غیر قانوني توګه $400,000 نور امریکایي ډالر لاسته رواړي، مګر وړاندې تر دې چې پیسې واخلې ونیول شو.[10] ګارست کار ورکوونکی په هغه وخت کې AC First د لوی قراردادیانو AECOM او CACI سره ګډ کار کاوو، او په افغانستان کې د امریکا له اردو سره د وسایطو او تجهیزاتو ساتنې، تاسیساتو او موادو ادارې، ترانسپورت، او نورو خدماتو څو میلیونو ډالرو قرارداد درلود.

د 2013 د فبرورۍ په 12 په کنزاس کې د فیدرال یوې محکمې ګارست د 30 میاشتو لپاره بندي کړ او هغه یې د جرم په اعتراف او ډیرو پیسو قاچاق په تور $52,117 امریکایي ډالر جریمه کړ. $150,000 امریکایي ډالرو پوسته ضبط شوه.

د ګارست قضیه یوه منفرده قضیه نده. افغانستان د بازیل حکومتوالی انستیتوت د پیسو مینځلو د خطر په لست کې د 149 هیوادونو په سر کې راغلی.[11] سیګار د کابل هوایي ډګر له لارې د ډیرو نغدو پیسو د قاچاق شواهدو په اړه راپور ورکړی، او د غیر قانونی ټولو نغدو پیسو لیږل اټکلونه میلیونونو ډالرونو ته رسیږي. له افغانستان څخه د غیر قانوني پیسو لیږل، که دا د نغدو پیسو قاچاق له لارې یا د بریښنایې وسیلو له لارې وي، د افغانستان حکومت د مالیې له عواید څخه محرومو‌ي، د مجرمینو پروژو او تروریزم ملاتړ کوي، او په حکومت باندې د عامو خلکو ډاډ کموي.

د امریکا یو شمیر قوانین پیسو مینځل جرم ګڼي.[12] مګر په افغانستان کې د پیسو مینځلو قضیو تحقیق کول ډیر ستونزمن کار دی. عموماً د کیفیت وړ شواهد او له بانک څخه رسمې اسنادونو لاسته راوړل ناکامه کیږي. ډیری وختونه د افغانستان پولیسو او محکمې اسنادونه شتون نلري. د حکومت دفترونه کیدای شي کمپیوتري اسنادونه، کمپیوترونه، او یا بریښنا ونلري. ځکه نو تحقیق کوونکي بیا د ویسترن یونین بریښنایي اسنادونو، د افغانستان غیر رسمي "حوالې" مالي سپارلو، یا افغان څارنوالانو ته د معلوماتو او شواهدو لپاره ورځي.

سیګار ځانګړې ګامونه اخیستې دي ترڅو خپل توان د پیسو مینځلو کشف او تحقیق لپاره قوي کړي. پردې برسیره چې د امریکا مالیې وزارت د پیسو مینځلو یو پخوانی متخصص یې استخدام کړی هغه کس چې د افغانستان مالي ګواښ له ادارې سره کار کړی دی، سیګار په معلوماتې تیکنالوجی کې یوه لویه نوې پانګونه کوي. نوي کمپیوتري وسیلې به له افغانستان څخه د پیسو پیچلې لیکې تعقیبولو کې مرسته وکړي.

## د مخدره توکو تجارت سره مبارزه

لکه څنګه چې د دې راپور په امنیتي برخه کې پراخ توضیحات ورکړل شوي، په افغانستان کې له مخدره توکو سره مبارزې هڅې د امریکا پیسو او هڅو لویه برخه جذب کړې ده. دا هیواد په نړۍ کې د تریاکو ستر تولیدونکی دی، او د مخدره توکو تجارت د افغانستان په سلګونو زرو بزګرانو لپاره معیشت برابروي. مخدره توکي عامه روغتیا لپاره هم ستونزه جوړوي، د مخدره توکو لاسته راوړلو لپاره ګټه اخیستونکې هڅول کیږي ترڅو په جرم لاس پورې کړي، د یاغیانو او تروریستانو لپاره مالي سرچینه ده، او د پیسو مینځلو او نغدو پیسو قاچاق کارونو لپاره وسیله ده.

سیګار استازو په یوې جرمې قضیې باندې کار کړی چې د جرمونو تړاونو ښیي. پداسې حال کې چې د کونر ولایتي بیا رغونې ټیم کې یې کار کاوو، سیدارت هاندا، د اردو احتیاط یوه تورن، له یوه افغان ژباړونکي سره همکاري وکړه ترڅو له هغو شرکتونو څخه چې ساختماني قراردادونو لپاره یې سیالي کوله، رشوت لاسته راوړي. دواړو موافقه کړې وه چې له $1.3 میلیونو امریکایي ډالرو څخه زیات رشوت پیسې لاسته راوړي چې هغوی لاسته راوړې او $315,000 امریکایي ډالر یې وړاندې تر دې وویشل چې هاندا له افغانستان څخه ووت. یوه همکار شاهد او خفیه استازې بیا وروسته د ویرجینیا په یوه هوټل کې د نورو $500,000 ژمنو شویو امریکایي ډالرو رسولو په بهانه له هغه سره ولیدل. له همکار شاهد سره د خپلو خبرو په وخت کې، هاندا د هیروینو په خرڅولو هم خبرې وکړې.

کله چې هاندا له پیسو سره، له مرمیو ډکه تومانچې، او یوې پاڼې کې چې د رشوت ژمنې او تادیات پکې لیکل شوي وو له هوټل څخه ووت افسرانو هاندا ونیو. د 2011 د سپتمبر په 23 د ویرجینیا فیدرال یوې محکمې هاندا د رشوت غوښتلو او منلو، او د هیروینو د توزیع توطیې لپاره په 120 میاشتو بندي کړ. هغه ته دا حکم هم وشو چې $315,000 امریکایي ډالر بیرته تادیه کړي.[13]

د سیګار دوامداره بوختیا د DEA په مشرۍ د افغانستان مالي ګواښ اداري سره د دې سبب شوه چې دا اداره سیګار ته د خپلو اسنادونو، شواهدو، او معلوماتو ته چې کولای شي د مخدره توکو سره مبارزې کې مرسته وکړي، لاس رسی ورکړي.

## د بیا رغونې خراب چلند لیدونکو ته لاس غزول

د سیګار تحقیقونو ریاست د تقلب او فساد په مبارزه کې خپل لاس ټولو همکارۍ لپاره غزوي. سیګار د تقلب ضد د تیلفون یوه مستقیمه شمیره لري چې هر څوک چې د غیر قانوني فعالیت په اړه معلومات لري تیلفون وکړي، فکس ولیږي یا ایمیل وکړي،یا که هغوی غواړي په محرمیت سره سیګار ته له خپلو معلوماتو سره راشي. نږدې 70 تیلفونونه په هر ربع کې دې شمیرې ته راځي، او نږدې 40% د لمړني یا بشپړ تحقیق سبب ګرځي.

سیګار ته پدې شمیره کې یو معلومات د یوه افغاني ساختمانې شرکت په اړه وو چې غوښتل یې د امریکا له لورې تمویل شوي قراردادونو غفلت لپاره دوه فسخه کیدل بیرته وګرځوي. امریکا بهرنیو چارو وزارت د نړیوال مخدره توکو او قانون پلې کولو چارو بیرو لپاره کار کاوو د $30,000 امریکایي ډالرو وړاندیز وکړ . دې شرکت یوه امریکایي قراردادي نماینده افسر ته چې په 2009 او 2010 کلونو کې یې د امریکا په کابل سفارت کې د سیګار تحقیق کوونکو د تیلفون معلومات وکتل، شواهد یې راټول کړل او قضیه یې څارنوالاتو ته راجع کړه. د 2013 د سپتمبر په 19، مدعی علیه کینیت ایم بروپهي د امریکا د ویلمینګتن په محکمه کې د عامه چارواکي له لورې د غیر قانوني پیسو په اخیستلو اعتراف وکړ. د هغه




**سیکار په پوسترونو** او اعلانونو سره د خپلې مستقیمې تیلفون شمیرې تبلیغ کوي.

د اعتراف موافقه کې د شپږو میاشتو بندي کول، شپږو میاشتو تر لارښوونې لاندې آزادي، او د محکمې تایید په اساس د $30,000 امریکایي ډالرو بیرته تادیه کول دي. د 2013 د اپریل په 29، د امریکا بهرنیو چارو وزارت له حکومت سره له نورو قرارداد کولو څخه تعلیق کړ.[14] او د پای بندیز پریکړه د بروپهي د جرمي بند په اساس په تمه ده.

په امریکا کې د تیلفون مستقیمه وړیا شمیره — 866-329-8893، او په افغانستان کې د ګرځنده تیلفون شمیره — 0700107300 دا ده، دې شمیرو ته د کاري ساعتونو په وختونو کې په کابل کې د سیګار په قرارګاه ځواب ورکول کیږي، او په دریو ژبو کې د غږ ثبت 24 ساعته شتون لري. د سیګار چارواکو له لورې په نشراتي خبري راپورونو کې مصاحبې او بیانیې په دواړو امریکا او افغانستان کې د تیلفون شمیرې اړیکې زیاتوي.

سیګار د خپل فساد ضد ماموریت او تیلفون شمیره په ځایونو کې لکه د اردو ځواکونو شبکه، *Stars and Stripes*، او د صافي هوایي شرکت، د افغانستان هوایي شرکت په مجله کې اعلانوي. په انګلیسي، دري او پښتو ژبو کې پوسترونه د امریکا په پایګاوو، افغانستان وزارتونو او کاري ځایونو کې کیښودل کیږي. سیګار د افغانستان په راډیو او تلویزیون کې د نشراتو وخت اخیستلو ته هم ګوري، دا یو اختیار دی چې کیدای شي په یوه پراخ بې سواده هیواد کې په ځانګړې توګه ګټور وي.

## افغانستان ولې یوه ځانګړې ننګونه ده؟

د بېلابېلو دلیلونه په اساس، د افغانستان چاپېریال د قانون پلې کولو استازو ټولې دندې پېچلې کوي او کیدای شي په یوه بهرني هیواد کې د امریکا قانون پلې کولو لپاره د یوې زیاتې خرابې قضیې وضعیت استازې توب وکړي.

## د جنګ په ساحه کې کار

لکه څنګه چې وړاندې اشاره وشوه، اصلي ننګونه دا ده چې افغانستان د جنګ یوه فعاله ساحه ده. په افغانستان کې د نظارت او تحقیق چارواکې تر ډېرې کچې د ترانسپورت او امنیت لپاره د امریکا په اردو باندې زیاته تکیه کوي. له افغانستان څخه د امریکا او نورو ایتلاف ځواکونو دوامداره کمیدل او د پایګاوو اړونده تړل کیدل لا له وړاندې پدې هیواد کې د فیدرال ادارو پخپلې ارادې حرکتونو توان او د تحقیقونو په چټک بشپړولو باندې اغیز کړی.

په امریکا کې د تقلب ډېری تحقیقونه د لمړني تور تر لاسه کولو تر جرمي، مدني، یا ادارې تصفیې پورې څو کلونه تر کار لاندې وي. افغانستان د چټک کار غوښتنه پدې دلیلونو کوي چې دلته عموماً کار کوونکي بدلیږي او دا کار د معلومات لرونکي شاهدانو شمیره کموي، بنسټیزه حافظه له منځه وړي، او د اسنادونو جوړوول او ساتلو تر منځ خنډونه راوړي. په یوه وخت کې، د سیګار تحقیق کارکوونکي د افغانستان په نهو موقیعتونو کې ګمارل شوي وو او کولای شول په هیواد کې په څرخنده یا ثابت وزر طیارو کې چې د ورځې څو ځلې پرواز کاوو سفر وکړي. پدې وروستیو کې په هیواد کې د امریکا له اصلي پایګاه څخه مخکنیو عملیاتي پایګاوو ته ترانسپورتي پروازونو مهال ویش په اونۍ کې دریو ته کم شوي. دا خنډونه لا هم د تحقیق کوونکو لپاره مهم ګرځیدلې ترڅو د تحقیق له ملګرو سره همکاري وکړي او د ماموریت ترسره کولو لپاره له نویو تخنیکونو او تیکنالوجی څخه کار واخلي.

## د نظارت لپاره لاس رسي ځایونو کمیدل

لکه څنګه چې هغو ځایونو ته چې د امریکا اردو چمتو ده ملکیان ترانسپورت کړي د امریکا د ځواکونو په وتلو سره کمیږي، د افغانستان نږدې 80% کیدای شي د امریکا نظارت او تحقیق چارواکو لپاره له 2014 وروسته په کمه کچه د لاس رسي وړ وي.[15] لکه څنګه چې د امریکا د انجنیرانو قولو اردو، USAID، او د قرارداد کولو سیمیزه قوماندانې کیدای شي د نظارت کمیدلو لاس رسي ساحو د باندې ساختماني پروژو قراردادونه وړاندې کړي، دا کار د سیګار او نورو ادارو توان په وړاندې زیاتو خنډونه معنی لري، ترڅو وکولای شي د ضایعاتو، تقلب او ناوړې ګټې اخیستنې تورونو یا شواهدو باندې په فعاله توګه عمل وکړي. په عین وخت کې، په افغانستان کې د قانون پلې کولو ادارو دوامداره شتون کمیدل به په هیواد کې په 2014 او وروسته لکه څنګه چې د بیارغونې مرستې به لاهم توزیع کیږي، دواړه ننګونې او د سیګار کار به زیات کړي.

د دې راپور په 2 برخه کې د نظارت لاس رسي ننګونې په اړه معلومات دي، او په یوې نقشې کې له 2009 څخه او په 2014 کې تمه کیدونکي بدلونونه توضیح شوي.

## په قرارداد کولو د امریکا زیاته تکیه

په افغانستان کې قراردادونه یوه بله ننګونه وړاندې کوي. هلته لکه د عراق په څیر، د امریکا اردو، بیارغونه، او د پراختیا فعالیتونه په زیاتو شمیرو قراردادیانو باندې د هغو کارونو لکه

# په افغانستان کې د امریکا قانون **پلې کول**

ساختماني او تجهیزاتو ساتنه ترڅو د ساتنې او روزنې لپاره آسانتیا برابره کړي، تکیه کوي.

د 2013 مالي کال تر څلورم ربع پورې، د امریکا مرکزي قوماندانی په افغانستان کې د امریکا دفاع وزارت د 85,528 قراردادیانو راپور ورکړی، چې نږدې په مساوي توګه د امریکا، افغانانو او دریمو هیوادونو ترمنځ تقسیمیږي.[16] لکه څنګه چې ډیری وختونه په عراق او افغانستان کې وو، قراردادیانو شمیره د اردو له ګمارل شویو کارکوونکو څخه ډیره وه. د امریکا دفاع وزارت ډیری شمیره قراردادیان د بیارغونې په فعالیتونو کې پشمول د ساختماني پروژو، اداري او ساتنه، او د افغان ځواکونو روزنه کې کار کوي. پردې برسیره، په زرګونه قراردادیان، د دوو اړخیزو همکاریو ملګري، او نور د امریکا بهرنیو چارو وزارت، USAID، او د فیدرال نورې اداري چې په افغانستان کې کمه ونډه لري، یا د هغوی لپاره یا د هغوی په استازیتوب کار کوي.

د قراردادیانو ډیره زیاته شمیره، په میلیاردونو ډالر، د قراردادیانو په لسګونو زره کارکوونکي، او توپیرونه پشمول د ژبنیو او اسنادونو ساتنې سیستمونو، دا ټول د تجربه لرونکو او اعتماد وړ قرارداد کولو افسرانو او مدیریت او تخنیکي استازو کموالي سره یوځای کیږي ترڅو د نظارت لپاره ځانګړې ستونزې او د ضایعاتو، غلا، او فساد لپاره ښه فرصتونه رامنځ ته کړي.

د تحقیق لپاره یو بل خنډ د "افغانستان لمړي نوښت" د 2006 قانون له منځ ته راتلو پیدا شوی. دا قانون افغان قراردادیانو ته د امریکا دفاع وزارت موادو او خدماتو اړتیاوو لپاره لمړیتوب ورکوي. کیدای شي دا به د سیاسي موخو او ښې ارادې منځ ته راتلو او د افغانستان اقتصاد پراختیا ملاتړ لپاره ښه وي، مګر دې کار غیر پلان شوي پایلې رامنځ ته کړي او د بیارغونې تقلب او غلا محاکمه کول یې لا هم ستونزمن کړي.

په عراق کې، د امریکا په عملیاتو کې ډیرو عراقي فرعي قراردادیانو کار کاوو، مګر اصلي قراردادیان چې په قانوني توګه یې د فرعي قراردادیانو استخدامولو او اداره کولو مسولیت درلود عموماً امریکایي شرکتونه وو او د امریکا قانون تابع وو. په افغانستان کې په بل ډول ده، د امریکا قانون پلې کوونکي په اصلي افغان قراردادیانو یا د هغوی په فرعي قراردادیانو باندې هیڅ قانوني صلاحیت نلري. اداري یوازې کولای شي قضیې افغان څارنوالانو ته راجع کړي، د تعلیق او بندیز سپارښتنه وکړي ترڅو مجرمین ونشي د قرارداد نور کار وکړي، او ځانګړي کارکوونکي د امریکا له پایګاوو څخه منع کړي.

## حقوقي پیچلتیاوې

د افغانستان ملي حاکمیت او د نړیوالو تړونونو دریځ هم په افغانستان کې د امریکا قانون پلې کوونکو لپاره ژوند پیچلی کوي. امریکا او افغانستان اوس هم په یوه دوه اړخیز تړون باندې خبرې کوي چې دا به په افغانستان کې د امریکا اردو او قانون پلې کوونکو حقوقي دریځ تعریف کړي. په اوس وخت کې، د امریکا اداري کولای شي قضیې افغان څارنوالانو ته راجع کړي، مګر هغوی نشي کولای افغان وګړي ونیسي یا افغان محکمو ته قضیې وړاندې کړي. مګر، په هغو قضیو کې چې په افغانستان کې امریکایان لاس لري کیدای شي د جرمي محکمې لپاره فیدرال چارواکو ته ورکړ شي یا که د امریکا عدلیې وزارت نه غواړي چې د اردو غړي قضیه واخلي، د اردو عدالت د یونیفورم قانون په اساس اردو قوماندانی ته راجع شي.

سیګار د افغانستان قانون پلې کوونکو سره کار کوي، مګر دا یو نادره کار دی چې یو غیر افغان وګړی د هیواد په جرمي اجراتو کې د شاهد په توګه حاضر شي. کله چې د 2013 مارچ کې د سیګار یوه ځانګړې استازې د افغانستان استیناف محکمه کې شاهدت ورکړ، کیدای شي دا به د امریکا قانون پلې کوونکې استازې له لورې لمړنی شاهدت ورکول وو. د ځانګړې



**د سیګار استازی د افغانستان** په جرمي محاکمه کې شهادت ورکوي. (د سیګار عکس)

## تحقیقي نوښتونه

د افغانستان له عملیاتي چاپېریال سره د سیګار په تحقیقي نوښتونه کې دا شامل دي:

- د تعلیق او بندیز له سپارښتنو څخه فعاله ګټه اخیستنه
- په جرمي فعالیتونو کې شاملو ملکیتونو ضبطولو لپاره دعوا پیلول
- د افغانستان په استیناف محکمه کې د محاکمې شاهد په توګه شهادت ورکول
- ځینې افغانان د امریکا پایکاوو ننوتلو او د امریکا ویزې اخیستلو څخه بندول

استازي شاهدت مرسته وکړه چې محکمه تورونه بیرته راوړي، د بند موده زیاته کړي، او یو افغان چې د امریکا بیا رغونې قرارداد په اړوند د $1 میلیونو امریکایي ډالرو په رشوت او غلا تورن وو، تحمیل شوې جریمه دوه برابره کړي.[17] د سیګار شاهدت د استازي د قانون پلې کولو وسیلو څخه د ګټې اخیستنې، پشمول د خفیه کار، آواز ثبتول، هوایي کشف، مخبرینو، او له افغان پولیسو او څارنوالانو سره همکارۍ په اساس وو.

که څه هم امریکا لږ تر لږه له 110 هیوادونو سره د تبادلې تړونونه لري، افغانستان لدغو څخه یو ندی.[18] ځکه نو یوه افغان چې د امریکا قانون څخه یې سرغړونه کړې وي امریکا ته راوړل د افغانستان حکومت سره ځانګړو اوږدو دیپلوماتیکو هڅو ته اړتیا لري، چې له وړاندې د بهرنیانو اغیز سره حساسیت لري. تر اوسه، د امریکا عدلیې وزارت د افغانستان بیارغونې تورونو په اړوند یې هیڅ افغان د امریکا په محکمو کې ندی محاکمه کړی.

په یوې اړوندې پیچلتیا کې، د امریکا عدلیې وزارت تر اوسه له افغان وګړو څخه کار ندی اخیستی چې د شاهدینو په توګه د امریکا محکمو په قضیو کې د سیګار اړوندو تحقیقونو کې شهادت ورکړي. د ویزې اخیستل، د سفر او هوټل مصرفونه، د ژبې له خنډونو سره معامله کول، او د شاهدینو او کورنیو په وړاندې ګواښ ته په کتو سره، دا نامکنه خنډونه دي.

د سیګار تحقیقونو ریاست په دوامداره توګه هڅه کوي ترڅو د افغانستان له چاپېریال سره ځان آشنا کړي، او لکه څنګه چې وضعیت بدلون مومي او نوي خنډونه او فرصتونه پیدا کیږي خپل چلند به ښه او برابر کړي.

### افغان وزارتونو ته د زیاتو پیسو ورکولو ننګونې

امریکا او نورو نړیوالو مرستندویانو ژمنه کړې ترڅو د امریکا ادارو او قراردادي کارونو، یا د غیر حکومتي سازمانونو چې د امریکا حکومت په استازیتوب کار کوي په ځای، د بیارغونې او پراختیا مرستو ډیره برخه مستقیماً د افغانستان حکومت ته ورکړي.

"مستقمه مرسته" یوه اصطلاح ده چې بیلا بیل تعریفونه لري، او ځینې وختونه د "بودجې په اساس" یا له "حکومت څخه حکومت ته" مرستې په توګه پېژندل کیږي.[19] په معیاري توګه، د مستقیمې مرسته برابرول کیدای شي له اخیستونکي حکومت سره مرسته وکړي ترڅو خپل ظرفیت د بودجې پلان کولو او پلې کولو لپاره ډیر کړي، او دا چې مرستې د خپل هیواد له بدلیدونکو اړتیاو او لمړیتوبونو سره برابر کړي. مګر په حقیقت کې، مستقیمه مرسته کیدای شي د فساد او غلا ګواښ هم زیات کړي. د بیلګې په توګه، د افغانستان حکومت وزارتونه کیدای شي مناسب تخصص، مالي سیستمونه، یا کورني کنترولونه ونلري چې په مناسبه توګه د زیاتو پیسو بهیر مدیریت او نظارت وکړي، او امکان لري د پیسو بل ځای وړلو ته فرصتونه ډیر کړي.

د مستقیمې مرستې له لارې د اضافي پیسو امکاناتو، د افغانستان حکومت وزارتونو ظرفیتونو په اړه د امریکا حکومت ارزونو مهمې پوښتنې را پورته کړې. مګر، د امریکا حکومت او نورو نړیوالو مرستندویانو ژمنه کړې چې لږ تر لږه د مرستو 50% د مستقیمو مرستو پروګرامونو له لارې برابر کړي. دا ژمنې د حقیقت یوې برخې استاریتوب کوي، او د دوو کلونو په ترڅ کې به تر ډیرې کچې دا د افغانستان حکومت پورې اړه ولري چې بیارغونې هڅو ته دوام ورکړي چې امریکا او نورو ډیره پانګونه کړې ده.

د سیګار ځینو پلټنو اشاره کړې چې د افغانستان ځینې وزارتونه لا تر اوسه دا توان نلري چې په مناسبه توګه د پیسو زیات بهیر مدیریت وکړي. سیګار په دوامداره توګه د افغانستان کورنیو او دفاع وزارتونو په ظرفیتونو کې کمزوری موندلي ترڅو د هغو مرستو مدیریت وکړي چې د مهمو پطرولي موادو، تیلو او روغنیاتو اخیستلو لپاره دي. د سیګار پلټنو د افغانستان وزارتونو ظرفیتونو په وړاندې ډیرې ننګونې هم موندلي ترڅو وکولای شي د امریکا له لورې برابر شوې تاسیساتو او تجهیزاتو ساتنې ته د مستقیمې مرستې له لارې دوام ورکړي.

د سیګار پلټنو پدې او د هر ربع تیرو راپورونو کې هغه حالتونه موندلي چې د ضایعاتو، تقلب او ناوړې ګټې اخیستنې لپاره تیار دي. داسې موندنې بیا د سیګار تحقیق کوونکو ته د نورو ارزونو لپاره راجع کیږي. که جرمي تحقیق پیدا شي کیدای شي د افغانستان اسنادو ساتلو سیستمونو له کمزورۍ، کارکوونو او اسنادونو ته محدود لاس رسي، او د نظارت نورو ننګونو څخه پیچلې شي. که بیا هم سیګار ونشي کولای افغان وګړې محاکمه کړي یا افغان چارواکې وهڅوي چې محاکمه یې کړي، د انفرادي کسانو او ادارو چې په فساد یا غلا کې لاس لري پیژندل کیدای شي له نړیوالو مرستندویانو او تطبیق کوونکو ادارو سره د خپلو مستقیمو مرستو په ډیزان کولو او په نښه کولو کې مرسته وکړي.

پدې نږدې وختونو کې، پدې ربع کې سیګار د روغتیا پروګرام لپاره د 236$ میلیونو امریکایي ډالرو همکارۍ قراردادونو یوه پلټنه بشپړه کړه، چې د افغانستان عامې روغتیا وزارت د افغانستان سیمیزو کلنیکونو او روغتونونو ته روغتیایي خدماتو رسولو ملاتړ کوي. پلټنې د عامې روغتیا په وزارت کې د مالي مدیریت مهمې کمزورۍ وموندلې، پشمول د هغو ستونزو چې د وزارت په کورنۍ پلټنه، بودجې، محاسبې، او تدارکاتو کارونو کې شتون درلود. د سیګار په نظر، د USAID هغه پریکړه چې د عامې روغتیا وزارت سره د مرستو توزیع ته دوام ورکړي او دا چې هیڅ تظمین نشته چې دا مرستې له ضایعاتو، تقلب او ناوړې ګټې اخیستنې څخه وساتې، د پروګرام اعتبار په اړه مهمې اندیښنې راپورته کوي.

پردې برسیره، د دې پلټنې له خپریدلو وروسته، سیګار دهغې ادارې په اړه د تقلب او فساد تورونه ترلاسه کړل چې د عامې روغتیا په وزارت کې د وزارت د مالي مدیریت د کمزورۍ کمولو لپاره جوړه شوې وه. دا تورونه د نویو جرمي تحقیقونو سبب شول چې د عامې روغتیا وزارت ته د امریکا مستقیمه مرسته پکې شامل ده او کیدای شي پایله به یې دا وي چې سیګار قضیې د امریکا او افغان څارنوالانو ته راجع کړي.

## نظر

نږدې 19$ میلیارده امریکایی ډالر د امریکا مرسته چې د افغانستان بیا رغونې لپاره تخصیص شوې لا تر اوسه ندې توزع شوې، او د امریکا حکومت ژمنه کړې چې د راتلونکو کلونو لپاره د نورو میلیاردونو ډالرو غوښتنه وکړي. او پلان وایي چې د دغو پیسو ډیرۍ برخه د مستقیمې مرسته له لارې برابره شي. په عین وخت کې، د امریکا او نورو نړیوالو ادارو به په هیواد کې خپل شتون کم کړی وي او د نظارت لاس رسی به لاهم زیات ستونزمن وي. دا حقیقتونه به له سیګار او د امریکا نظارت او قانون پلي کولو له نوور ادارو څخه وغواړي ترڅو د افغانستان له بدلیدونکي عملیاتي چاپیریال سره خپل چلند په دوامداره توګه ښه او برابر کړي. دا حقیقتونه دا هم وایي چې د سیګار او تحقیق ریاست به یې د راتلونکې وخت لپاره هم بوخت وي.

”د افغانستان ډیره برخه له وړاندې د سیګار
او نورو عمومي مفتشینو، لکه د حکومت حساب
ورکولو دفتر، او د امریکا نورو ملکیانو ته چې
نظارت ترسره کوي، لکه د قرارداد کولو افسرانو ته،
د لاس رسي وړ نده. سیګار باور لري چې د نظارت
لپاره دا خنډونه به یووازې نور هم د امریکا
او ایتلاف پایګاوو ترلو سره خراب شي.“

—ځانګړی عمومي مفتش جان اف ساپکو

سرچینه: د امریکا بهرنیو چارو، دفاع وزیرانو او USAID ته د جان اف ساپکو معلوماتو مکتوب، د 2013 د اکتوبر 10.

# 2 د سیګار نظارت



# د سیګار نظارت محتویات


| | |
|---|---|
| د نظارت هر اړخیز پلان خپور شو | 22 |
| پلټنې | 22 |
| تفتیشونه | 36 |
| ځانګړې پروژې | 43 |
| د ربع مهمې خبرې: د نظارت لاس رسي ننګونې | 46 |
| تحقیقونه | 48 |
| د سیګار بودجه | 58 |
| د سیګار کارکوونکي | 58 |


**عکس په تیره پاڼه کې**
د ګردیز روغتون ساختماني ساحې څخه د هندوکش غرونو سلسله. (د سیګار عکس)

# د سیګار نظارت فعالیتونه

د راپور ورکولو پدې پړاو کې سیګار 12 د پلټنو، تفتیشونو، خبرتیا مکتوبونو، او نور راپورونه خپاره کړي. دې کار کمزوري پلان کول، مدیریت نیمګړتیاوې، پروژو ځنډونه، او د افغانستان بیارغونې لکه عامې روغتیا او ملي امنیت کې د نظارت ناکامی موندلې. دې کار د ډېزاین ستونزې، خراب ساختماني کارونه، او د روغتیا او خوندیتوب په وړاندې ګواښ هم موندلې.

د خبرتیا یوه مکتوب په کندهار کې د یوه مهم سرحد تیریدلو په ځای کې د ډېزاین په اړه اندېښنه ښودلې. د پلټنې یوه راپور خبرداری ورکړی چې د کورنې کنترول نیمګړتیاوو د عامې روغتیا وزارت سره د امریکا مرستې د ضایعاتو، تقلب، او ناوړې ګټې اخیستنې خطر سره مخامخ کړې. یوې بلې پلټنې راپور ورکړی چې په افغانستان کې د امنیت سپارلو ګډې قوماندانۍ (CSTC-A) هغه تاسیسات جوړول چې کیدای شي د افغانستان ملي امنیتي ځواکونه ورته اړتیا ونلري. د یوې دریمې پلټنې راپور ښودلې چې کمزوری نظارت او د افغانستان ملي پولیسو لپاره د تیلو اخیستلو اسناودنه د دې سبب شوې چې د لوړ قیمت له قراردادي څخه کار واخیستل شي او د امریکا حکومت ته لګښتونو په اړه پوښتنې راپورته کړي.

د تفتیش څلورو راپورونو ښودلې چې په آرچي کې د پولیسو قرارګاه په خراب حالت کې وه، او د قراردادي د کمزوري فعالیت له کبله د ګردیز روغتون له دوو کلونو وروسته بشپړ شوی ندی، او په پروان کې نیمګړی نظارت د یوه ناکامه ساختماني کار سبب شوی، او د ولایتي روغتیا کلینک په ځانګړتیاوو سره جوړ شوی ندی او هیڅ ورڅخه کار ندی اخیستل شوی.

د سیګار د ځانګړو پروژو دفتر خبرداری ورکړی چې امریکا په افغانستان کې له فساد سره مبارزې لپاره یو ستراتیژیک پلان او میکانیزم نلري چې پرمختګ تعقیب کړي. د ځانګړو پروژو دفتر د امریکا بهرنیو او دفاع وزیرانو او د امریکا نړیوالې پراختیایي ادارې (USAID) ریس ته هم لیکلې ترڅو د بیا رغونې لپاره د هغوی د نظارت برابرولو په اړه معلومات تر لاسه کړي، لکه څنګه چې امریکا او ایتلاف ځواکونه کمیږي دا د امریکا د ملکي کارکوونو لاس رسی چې اوس یې د څو مهمو ښارونو د باندې پروژو ته لري، تر ډېرې کچې محدودوي.

پدې ربع کې د سیګار تحقیقونو پایله د $63 میلیونو امریکايي ډالرو کنګل کولو وو چې په تقلب او جرم سره تړلاسه شوې وي. په امریکا کې، سیګار تحقیقونه د دوو نیولو، دریو بندي کولو، له $95,000 امریکايي ډالرو څخه زیاتې جریمې او بیرته تادیات، دوه تورونه، یو جرمي معلومات، یو جرمي شکایت، او څلور جرمي اعترافونو سبب شوي. په افغانستان کې، پنځه افغان وګړي د سیګار له تحقیقونو وروسته نیول شوي. په هغو پیسو کې چې پدې ربع کې د سیګار له لوري سپمول شوي $1.5 میلیونه امریکايي ډالر خوندي شوي، $344,000 امریکايي ډالر بیرته لاسته راوړل شوي او $10,000 امریکايي ډالر سپمول شوي شامل دي. سیګار 14 انفرادي کسان او 17 شرکتونه تعلیق او بندیز ته هم راجع کړي.

## پلټنې خبرتیا مکتوب

- خبرتیا 14-2: د ویش چمن په سرحدي بندر کې د ډېزاین نیمګړتیاوې

## بشپړې شوې پلټنې

- پلټنه 13-17: عامې روغتیا وزارت سره د USAID مرسته
- پلټنه 13-18: د افغانستان ملي امنیتي ځواکونو ساختماني پروژې
- پلټنه 14-1: د افغانستان ملي پولیسو تیلو پروګرام
- پلټنه 14-3: د افغانستان ملي اردو وسایطو فالتو سامانونه

## بشپړ شوې مالي پلټنه

- مالي پلټنه 14-9: قراردادونه چې د چیچې شرکت له لوري تطبیق شوي

## بشپړ شوي تفتیشونه

- تفتیش 14-5: د آرچي ولسوالی پولیسو قرارګاه
- تفتیش 14-6: د ګردیز روغتون
- تفتیش 14-7: د پروان محکمې کې د عدلي مرکز
- تفتیش 14-10: ویلایتي روغتیا کلنیک

## د ځانګړو پروژو بشپړ شوي راپورونه

- ځانګړې پروژه 13-9: د فساد ضد هڅې
- ځانګړې پروژه 14-4: د نظارت لاس رسي معلومات

## د نظارت هر اړخیز پلان خپور شو

پدې ربع کې سیګار او جنوب لویدیځې آسیا ګډ پلان کولو ډلې د جنوب لویدیځې آسیا (COPSWA) لپاره د 2014 مالي کال د نظارت هر اړخیز پلان خپور کړ. پدې پلان کې د سیګار د عمومي مفتش، د امریکا دفاع او بهرنیو چارو وزارتونو، او د امریکا نړیوالې پراختیایي اداري، د اردو پلټنې اداري، د بهرې ځواکونو پلټنې خدماتو، او هوايي ځواکونو پلټنې اداري له لورو د افغانستان او جنوب لویدیځې آسیا لپاره ټول پلان شوی او روان نظارت شامل دی. پدې کې د جنوب لویدیځې آسیا په اړه د امریکا حکومت د حساب ورکولو دفتر د روان نظارت هڅې هم شاملې دي. دا پلان وايي چې بیارغونې ماموریت تطبیقول به د امریکا اردو له کمیدلو سره ډیر بدلون وکړي. لکه څنګه چې د امریکا ځواکونه ډیره برخه او د هغوی ملاتړ کوونکې شبکه له افغانستان څخه وځي، د عملیاتو مسولیت به د امریکا له دفاع وزارت څخه د امریکا بهرنیو چارو وزارت ته وسپارل شي، چې له USAID سره هم همغږي کوي. په عین وخت کې، د امریکا د پایګاوو او په منظمه د امریکا "امنیت ځایونه" او روغتیايي ارزونو خدمات به د امریکا له لوري د بیا رغونو تمویل شویو پروژو مدیریت او نظارت پیچلی او محدود کړي. د سیګار په پلان شویو کارونو کې د امریکا حکومت بیارغونې سپارلو پلان پلټنه، د افغانستان امنیتي ځواکونو د کارکوونکو معلوماتو دقیقوالي پلټنه، د کجکي بند او اړوندو ساختماني پروژو تفتیش، او د امریکا حکومت له لوري تمویل شوی د افغان میرمنو نوښتونه یوه پلټنه هم شامل دي.

## پلټنې

سیګار د افغانستان د بیارغونې په اړوند پروګرامونو او پروژو د فعالیت پلټنې، تفتیشونه او مالي پلټنې ترسره کوي. پدې ربع کې، سیګار د پلټنې څلور راپورونه خپاره کړي. سیګار د نوي فعالیت دوې پلټنې هم پیل کړې، چې دا د ټولو روانو پلټنو شمیره 12 رسوي. خپاره شوي راپورونو، د نورو شیانو په منځ کې، د عامې روغتیا وزارت ته د امریکا له لوري برابر شوي مرستو، د افغانستان امنیتي ځواکونو لپاره ساختماني پروژو، او د ملي پولیسو لپاره برابر شویو تیلو په اړه اندیښنه ښودلې. پلټنو ټولې 16 سپارښتنې وړاندې کړې ترڅو دا وکوري چې د عامې روغتیا وزارت د امریکا له مرستو څخه د پلان شویو موخو لپاره کار اخلي، دا چې د امریکا مرستې د افغانستان امنیتي ځواکونو په ساختماني پروژو باندې ضایع نشي، د ملي پولیسو لپاره د امریکا په لګښتونو باندې نظارت قوي شي، او دا چې CSTC-A د دقیقو معلوماتو په اساس د وسایطو فالتو سامانونو فرمایش ورکوي.

## د خبرتیا مکتوبونه

لکه څنګه چې افغانستان د سپارلو په منځ کې دی، د امریکا اردو او ملکي چارواکو له سیګار څخه غوښتنه کړې ده چې د هغوی لپاره حقیقي معلومات برابر کړي ترڅو ضایعاتو مخه ونیسي او د امریکا بیارغونې پروګرامونو اغیز ډیر کړي. د سیګار یوه اصلي موخه دا ده ترڅو پداسې حال کې چې د بدلون لپاره اوس هم وخت شته، د تطبیق کوونکو ادارو او کانګرس لپاره د عمل وړ معلومات برابر کړي. د راپور ورکولو پدې موده کې، سیګار د پلټنې موندنو په اړه چې بیړنی پاملرنې ته اړتیا لري، د امریکا دفاع وزارت ته د خبرتیا یو مکتوب لیږلی؛ د خبرتیا مکتوب د ویش چمن سرحد تیریدلو د ډیزاین نیمګړتیاوو لپاره پاملرنې ته اشاره کوي.

**د فعالیت پلټنې:** د وضع شویو معیارونو سره برابر، د پوره او مناسبو شواهدو ارزولو په اساس، ډاډ او پایلې برابرې کړي. د فعالیت پلټنې حقیقي تحلیل برابروي ترڅو اداره او هغه کسان چې د حکومتوالی مسولیت لري وکولای شي له معلوماتو څخه کار واخلي ترڅو د پروګرام فعالیت او عملیاتونه ښه کړي، لګښتونه کم کړي، او د مسول لورو لپاره د پریکړو اخیستل آسانتیاوې برابرې کړي، ترڅو د عامه حساب ورکولو لپاره د سمون ګامونو نظارت وکړي یا پیل کړي. د فعالیت پلټنې عموماً د حکومت د پلټنې منل شویو ستندردونو (GAGAS) او د اعتبار او اغیز عمومي مفتشینو شورا (CIGIE) د عمومي مفتش د فیدرال دفترونو کیفیت ستندردونو په اساس ترسره کیږي.

**تفتیشونه:** د ډیزاین، تطبیقولو، او/یا د اداري عملیاتو پایلې، پروګرامونو، یا پالیسیو، سیستماتیک او خپلواکه ارزونه ده. سیګار د تفتیش او ارزونې لپاره د CIGIE کیفیت ستندردونو په اساس تفتیشونه ترسره کوي، ترڅو په ټول افغانستان کې، کانګرس او عامو خلکو ته د تاسیساتو او زیربنا د ساختماني کارونو کیفیت په اړه معلومات برابر کړي؛ او عموماً، ترڅو وګوري چې تاسیسات د قرارداد اړتیاو په اساس جوړ شوي، د موخو لپاره ورڅخه کار اخیستل شوی، او د دوام وړ دي، ارزونه برابروي.

### د پلټنې خبرتیا مکتوبونه

- خبرتیا 14-2: د ویش چمن په سرحدي بندر کې د ډیزاین نیمګړتیاوې

## خبرتيا 14-2: د ويش چمن په سرحدي بندر کې ډېزاين نيمګړتياوې

د 2013 د اکتوبر په 10، سيګار په افغانستان کې د امريکا اردو چارواکو ته اطلاع ورکړه چې سيګار د کندهار ولايت په يوه مهم سرحدي بندر کې چې د ساختماني کارونو لاندې وو د ډيزاين ستونزې موندلې. سيګار د امريکا نړيوالې پراختيايي اداري او د کورني امنيت وزارت د ګمرکونو او سرحد خونديتوب هڅو چې د افغانستان ظرفيت ته وده ورکوي ترڅو وکولای شي د ګمرکونو عوايد ټول کړي په يوې رواني پلټنه کې د ويش چمن په سرحدي بندر کې ستونزې وموندلې. سيګار خبرتيا په خپل مکتوب کې ويلې چې د افغانستان په وروستی مالي کال کې د ګمرکونو عوايد د افغانستان د کلنی بودجې 44% جوړوي.

سيګار د ډيزاين دوې انديښنې موندلې لمړی، ساحه يووازې د ننوتلو يوه دروازه لري، پداسې حال کې چې اوسنی لارښوود د ننوتل دوو دروازو غوښتنه کوي. دويم، پلانونو شتون لري ترڅو په ساحه کې د تفتيش يوه وسيله نصب شي. وسيله به د تګ راتګ يوه لار بنده کړي او پورته په کافي اندازه ځای نلري ترڅو د ډيرو وسايطو تفتيش ته اجازه ورکړي چې له بندر څخه تيرېږي. کيدای شي د ډيزاين دا ستونزې ګنه ګونه زياته کړې، او دا به د تفتيش اغيز کموالي سبب شي. په ويش کې د دې مسلو حلول کيدای شي په افغانستان کې د ناتو روزنې ماموريت (NTM-A)/په افغانستان کې د امنيت سپارلو ګډې قومانداني (CSTC-A) او USACE سره مرسته وکړي ترڅو د ښېرو نورو بندرونو ساختماني پروژو چې نږدې ټول لګښت يې 38.4$ ميليونه امريکايي ډالر دي په ورته ډيزاين مسلو کې مرسته وکړي.

### مالي پلټنې

**مالي پلټنې:** پدې اړه چې آيا يوه بنسټ د وضعيت، پايلو، او له سرچينو څخه ګټې اخيستل د پيژندل شويو معيارونو په اساس راپور وراندي کړی، خپلواکه ارزونه او مناسب ډاډ برابروي. سيګار د GAGAS په اساس پلټنې ترسره کوي، چې پدې کې د د پلټنې د ستندرد په اړه د تجربه لرونکو عامه محاسبينو امريکايي انستيتوت راپورونه او په GAGAS نوري برابري شوي اړتياوې شامل دي. سيګار د خپلواکو عامه محاسبينو (IPA) مالي پلټنو ارزونه هم کوي. کله چې IPA يوه مالي پلټنه ترسره کوي، سيګار مناسب طرزالعملونه ترسره کوي ترڅو د IPA د پلان شوي کار څخه ګټه اخيستل او د دې کار په اړه د سيګار له لوري منل شوي مسوليت انداز ه د GAGAS اطاعت سره وګوري.

## د پلټنو راپورونه خپاره شوي

پدې ربع کې، سيګار د پلټنو څلور راپورونه بشپړ کړي چې په افغانستان کې د روغتيا خدماتو او د افغانستان امنيتي ځواکونو ساختماني پروژو او د هغو برابرولو سيستمونو ارزونه کړي چې د ملي اردو لپاره فالتو سامان او ملي پوليسو لپاره تيل برابر وي. سيګار دا څو 12 پلټنې تر کار لاندې لري چې د نورو کارونو ترڅنګ د افغانستان وزارتونو ظرفيت، د امريکا حکومت بيارغوني سپارلو پلان، د افغانستان امنيتي ځواکونو د کاروونکو معلوماتو دقيقوالي ارزونه کوي. د بشپړو روانو پلټنو لست لپاره د C ضميمه وګورى.

### بشپړې شوې پلټنې

- پلټنه 13-17: د مرستو ناوړې ګټې اخيستنې برسيره، USAID اوس هم عامې روغتيا وزارت ته ميليونونه ډالر برابروي
- پلټنه 13-18: د افغانستان ملي امنيتي ځواکونه: نورو ګامونو ته اړتيا ده ترڅو د 4.7$ ميليونو امريکايي ډالرو په ارزښت پلان شويو او روانو ساختماني پروژو ضايعات کم شي
- پلټنه 14-1: د افغانستان ملي پوليسو د تيل پروګرام: فعالو هڅو ته اړتيا ده ترڅو د امريکا مرستو نظارت قوي شي
- پلټنه 14-3: د افغانستان ملي اردو: په افغانستان کې امنيت سپارلو ګډه قوماندانی د وسايطو فالتو سامانونو موجودی شميرې او اړتياوو په اړه مهم معلومات نلري

## پلټنه 13-17: په افغانستان کې د روغتيا خدمات

**USAID د مرستو خطر او ناوړې ګټې اخيستنې برسيره اوس هم د عامې روغتيا وزارت ته په ميليونونو ډالر برابروي.**

د 2008 په جولای کې، USAID او د افغانستان عامې روغتيا وزارت د 236$ ميليونو امريکايي ډالرو د روغتيا لپاره همکاری قراردادونه (PCH) پروګرام تاسيسولو د تطبيقولو يو مکتوب لاسليک کړ. دا پروګرام چې د 2009 نومبر په پيل کې پيل شو، له عامې روغتيا وزارت سره مرسته کوي چې سيميزو افغان کلنيکونو او روغتونو ته د روغتيا خدمات ورسوي. د عامې روغتيا وزارت د USAID له مرستو څخه کار اخلي چې له غير حکومتي سازمانونو سره قرارداد وکړي ترڅو په 13 ولايتونو کې اساسي روغتيا پاملرنه او په پنځو ولايتونو کې د روغتون خدمات برابر کړي.

د دې پلټنې موخې دا وې ترڅو دا وګوري چې تر کومې کچې (1) USAID د عامې روغتيا وزارت د مالي مديريت توان ارزونه کړې (2) او د PCH لګښتونو اټکل په مناسبه

توګه جوړ شوی. دا يوه موخه نه وه ترڅو فساد وښيو يا پيدا کړو، مګر د دې پلټنې پايلې له کبله، سيګار د عامې روغتيا په وزارت کې د فساد په اړه جرمي تحقيق پرانيستی.

**موندنې**

د عامې روغتيا وزارت کې د مالي مديريت نيمګړتياوو برسيره، USAID اوس هم د امريکا ماليه ورکونکو په ميليونونو ډالر مستقيمه مرسته برابروي، او کم تظمين شتون لري چې د عامې روغتيا وزارت لدې مرستو څخه د موخو لپاره کار اخلي. په ځانګړې توګه، د USAID د عامې روغتيا وزارت د مالي مديريت توان د 2012 اپريل ارزونې د کورني کنترول نيمګړتياوې موندلې. د بيلګې په توګه، ارزونې د عامې روغتيا په وزارت کې د کورنی پلټنې، بودجې، محاسبې، او تدارکاتو کارونو نيمګړتياوې موندلې. د USAID چارواکو سيګار ته ويلې چې هغوی دا نده تاييد کړې چې که د عامې روغتيا وزارت د نيمګړتياوو حلولو لپاره کوم ګام اخيستی وي. مګر د USAID يوه چارواکي سيګار ته ويلې چې USAID هيڅ مکلفيت نلري ترڅو موندل شوې نيمګړتياوې حل کړي يا د سمون ګامونه تاييد کړي چې کيدای شي د عامې روغتيا وزارت د PCH روان پروګرام لپاره تطبيق کړي وي. د سيګار په نظر، د USAID دا پريکړه چې عامې روغتيا وزارت سره د مرستو ورکولو ته دوام ورکړي او دا چې د دې مرستو په اړه له ضايعاتو، تقلب او ناوړې ګټې اخيستنې څخه د خونديتوب ډاډ نشته، د PCH پروګرام اعتبار په ا ړه مهمې انديښنې را پورته کوي.

USAID د عامې روغتيا وزارت د لګښتونو اټکل په اساس، چې USAID په خپلواکه توګه ندي تصديق کړي، د PCH پروګرام لپاره $236 ميليونه امريکايي ډالر برابر کړي. په ځانګړې توګه، USAID د نورو شيانو په منځ کې لکه د ناروغ کارونو کچه، نفوس احصايې، اوسنی زيربنا، او امنيت مهمو حقيقتونه څخه په کار اخيستلو د PCH پروګرام حقيقی لګښت لپاره هر اړخيزه تحليل ندی برابر کړی. USAID چارواکو ويلې چې اټکل د تاريخي معلومات په اساس وو، مګر هغوی ونشو کولای هغه سندونه برابر کړي چې دا اټکل څنګه محاسبه شوی. د PCH پروګرام لپاره له $236 ميليونو برابر شويو امريکايي ډالرو څخه $190 ميليونه امريکايي ډالر مکلف شوي دي. مګر، د سيګار بيا کتنې وموندل چې په حقيقت کې $127 ميليونه امريکايي ډالر لګول شوي دي، او دا به احتمالې مکلفيتونه نږدې $63 ميليونه امريکايي ډالر زيات کړي.

**سپارښتنې**

سيګار سپارښتنه کوي چې د USAID ماموريت ريس (1) د PCH پروګرام لپاره نوره مرسته برابره نکړي ترڅو چې د پروګرام لګښتونو اټکل مشروع تصديق شوې نه وي؛ (2) د عامې روغتيا وزارت سره په همغږۍ کې يو هر اړخيز عملي پلان جوړ کړي ترڅو د هغو نيمګړتياوو لپاره چې د 2012 اپريل د وزارت ظرفيت اروزنه کې موندل شوي، حل لار پيدا کړي، او د دې عملي پلان لپاره مهمې نښې تاسيس کړي ترڅو د دې عملي پلان تطبيقولو پرمختګ نظارت وشي، او د PCH لپاره بايد نورې مرستې د دې نښو په برياليتوب سره تطبيقولو په اساس وي؛ او (3) د PCH پروګرام له پيل څخه د مکلف شويو او لګول شويو مرستو تصديق وکړي او اضافي مرستې له مکلفيت څخه خلاصې کړي او بيرته يې د امريکا مرستو ته راوړي. د امريکا وزارت لدې مرستو څخه ښه ګټه واخلي.



له عامې روغتيا وزارت سره **د USAID مستقيمې مرستې** د غزني ولايتي روغتون لپاره د کوچنيانو ماشينونه واخيستل، مګر غوښتنه ډيره ده: کين لورې ته ماشين کې دوه ګوني خوندي دي، او درې ګوني ښۍ خوا ته ماشين کې پراته دي. (سيګار عکس)

**د ادارې نظرونه**

USAID له لمړی سپارښتنې سره موافقه نده کړې، د دویمې سپارښتنې له یوې برخې سره یې موافقه کړې، او له دریمې سپارښتنې سره موافقه کړې. USAID ویلې چې د خوندیتوب هغه وسیلې چې یې د عامې روغتیا په وزارت کې ایښې د مالیه ورکوونکو مرستې له ناوړې ګټې اخیستنې څخه ساتې. مګر قوي شواهد شتون لري چې د عامې روغتیا وزارت لپاره برابر شوې مرستې د ناوړې ګټې اخیستنې له خطر سره مخامخ دي. په ځانګړې توګه، د USAID او دریم ګړي د عامې روغتیا وزارت ارزونو پایلو ښودلې چې د عامې روغتیا وزارت سیستمونه، کارونه، او کورني کنترولونه ترڅو د مرستندویانو مرستې اداره کړي، د سمون له ګامونو پرته د اعتماد وړ ندي.

## پلټنه 13-18: د افغانستان ملي امنیتي ځواکونه

**د افغانستان ملي امنیتي ځواکونه: د 4.7$ میلیونو امریکایي ډالرو په ارزښت پلان شویو او روانو ساختماني پروژو لپاره اضافی کار ته اړتیا ده ترڅو ضایعات کم شي**

له 2005 څخه، کانګرس د افغانستان امنیتي ځواکونو د تجهیز، روزنې، پایګاه، او دوام لپاره نږدې 52.8$ میلیونه امریکایي ډالر تخصیص کړي دي. د 2013 تر اپریل پورې، د افغانستان امنیتي خواکونو ساختماني پروګرام له 400 څخه ډیر تاسیسات تر کار لاندې یا تسلیمی یا د پلان کولو په پړاونو کې وو. دا تاسیسات، د 4.7$ میلیونه امریکایي ډالر په ارزښت، دې لپاره ډیزاین شوي چې د افغانستان ملي امنیتی ځواکونو اوسنی 352,000 کارکوونکو تایید شوې شمیرې ملاتړ وکړي. CSTC-A پداسې وخت کې د افغانستان امنیتي ځواکونو لپاره نوي تاسیسات جوړوي چې امریکا او ایتلاف ملګري یې په افغانستان کې خپل شتون کموي او د نړیوالې امنیتي همکارۍ ځواک ګډې قوماندای (IJC) له لارې خپل تاسیسات یا تړي یا یې د افغانستان حکومت ته سپاري. د سیګار د افغانستان امنیتي ځواکونو تاسیساتو تیرې پلټنې د CSTC-A پلان کولو په نیمګړتیا باندې اندیښنه ښودلې چې هغه خطر یې زیات کړی چې CSTC-A هغه تاسیسات جوړوي چې د افغانستان امنیتي ځواکونه ورته اړتیا نلري. پردې برسیره، امریکا، ناتو ملګري یې او د افغانستان حکومت د 2012 د می شیکاګو په غونډه کې ویلې وو چې د امنیتي اوضاع په اساس کیدای شي د افغانستان امنیتي ځواکونه له اوسنی 352,000 شمیرې څخه 228,500 ته کم شي.

د دې پلټنې موخې دا وې ترڅو دا ارزونه وکړي چې (1) تر کومې کچې د افغانستان امنیتي ځواکونو لپاره د امریکا او ایتلاف پایګاوو پلانونه د اټکل شویو شمیرې استازیتوب کوي؛ (2) آیا CSTC-A د افغانستان امنیتي ځواکونو د پایګاوو اړتیاوو پوره کولو لپاره د نورو چارو تحلیل کړی، پشمول د امریکا او ایتلاف له اوسنیو پایګاوو څخه کار خیستل؛ او (3) تر کومې کچې پلان شوی ترڅو دا احتمال شته چې ساختماني پروژې به د 2014 تر دسمبر پورې بشپړې شي.

**موندنې**

IJC یوه پروسه تاسیس کړې ده ترڅو د افغانستان حکومت ته د ایتلاف د اوسنیو تاسیساتو سپارلو ارزونه او تحلیل وکړي. په ځانګړې توګه، د 2012 په اپریل کې، IJC د عملیاتي پایګاوو یو بورد جوړ کړ چې هره اونی غونډه کوي ترڅو د امریکا او ایتلاف ځواکونو اوسنې

تاسیسات د ترلو یا د افغانستان حکومت ته سپارلو لپاره غوره کړي او ارزونه وکړي. IJC بورد په فعاله توګه CSTC-A او د افغانستان دفاع او کورنیو چارو وزارتونو سره کار کوي ترڅو وګوري چې کوم تاسیسات باید د افغانستان امنیتي ځواکونو ته وسپارل شي. په پایله کې CSTC-A د افغانستان امنیتي ځواکونو لپاره د 318 نویو تاسیساتو پلان پرېښود، او $2 میلیارده امریکایي ډالر یې وسپمول.

CSTC-A د IJC په مرسته په ټولو هیواد کې د افغانستان امنیتي ځواکونو لپاره د تاسیساتو جوړولو مدیریت مسولیت لري. مګر، CSTC-A د افغانستان امنیتي ځواکونو پایګاوو لپاره پلان نلري چې د افغانستان امنیتي ځواکونو راتلونکی کموالی او په اوسنیو تاسیساتو کې ډیروالی په پام کې ونیسي. اوسنی ساختماني اړتیاوې د اوسني تایید شوي 352,000 امنیتي ځواکونو کچې ښکارندوی دي او د امنیتي ځواکونو راتلونکی کموالی پدې محاسبه کې نه راځي. په پایله کې، که د امنیتي ځواکونو شمیره 228,500 کارکوونکو ته کم شي، د امنیتي ځواکونو تاسیسات به د کارکوونکو اضافي ظرفیت ولري. سیګار د امنیتي ځواکونو اوسنیو تاسیساتو اضافي ظرفیت او کم کار اخیستلو ته به تیر کې اشاره کړې وه. سیګار هڅه کړې ترڅو د امنیتي ځواکونو اوسنیو تاسیساتو نیونې ارزونه وکړي او د ملي اردو او ملي پولیسو د 36 په غیر منظمه توګه غوره شویو تاسیساتو په ساحه کې د کارکوونکو شمیرې غوښتنه کړې، مګر IJC او CSTC-A چارواکو سیګار ته خبر ورکړی چې هغوی دا معلومات نه تعقیبوي. په پایله کې، CSTC-A نشی کولای ترڅو دا وګوري چې آیا اوسني یا پلان شوي تاسیسات د افغانستان امنیتي ځواکونو اړتیاوې پوره کوي، او کیدای شي دا فرصت به له لاسه ورکوي ترڅو نور پلان شوي تاسیسات د کار اخیستول یا له منځه وړلو لپاره وپیژني.

د CSTC-A د 2012 د پایګاوو مهال ویش په ګټه اخیستلو، سیګار 52 پروژې پیژندلې چې کیدای شي د آیساف د 2014 ساختماني کارونو پای تاریخ سره بشپړ نشي، که دا پروژې دوام ومومي لګښت او د نظارت خطر به زیات کړي. د سیګار ارزونې له CSTC-A سره توپیر درلود، او دا اټکل کوي چې یووازې یو تاسیسات د 16$ میلیونو امریکایي ډالرو په ارزښت به د آیساف 2014 کال د پای تاریخ سره بشپړ نشي. وروسته لدې چې CSTC-A سیګار ته خپل تحلیل په اړه معلومات ورکړل، سیګار د پروژې مهال ویش بیا ارزونه وکړه. د 2013 تر جون پورې، سیګار دا اټکل تر 47 پروژو تعدیل کړ چې ارزښت یې 1.1$ میلیارده امریکایي ډالر دی او د آیساف 2014 پای تاریخ وروسته به هم تر ساختماني کار لاندې وي.

د دې راپور مسودې په نظرونو کې، CSTC-A ویلې چې یو شمیر نوښتونه تر کار لاندې لري ترڅو هغې ساحې وپیژني چې اضافي ظرفیت لري او کیدای شي اوسنی پروژې وړې یا فسخه شي. د CSTC-A په وینا، د 2013 له جنوری تر اګست پورې، د دې نوښتونه او منظمو ارزونو پایلې د 432$ میلیونو امریکایي ډالرو د امریکا او ایتلاف مرستو کموالی وو. پر دې برسیره، آیساف قوماندان په هر ربع کې د ارزونې غوښتنه کړې ترڅو دا وګوري چې د تاسیساتو اړتیا اړوند پاته شي او ساختماني کار په وخت وي. په خطرناکو ځایونو کې د امنیتي ځواکونو ساختمانی پروژو موقیعت پیدا کولو، کمولو او د امریکا ځواکونو پلان شویو وتلو په پام سره، د 2014 تر دسمبر پورې د پروژو بشپړولو له ننګونو ډک کړي، مګر دا چې CSTC-A د نظارت برابرولو لپاره اړیني سرچینې برابرې کړي.

**سپارښتني**

د ډاډ ترلاسه کولو لپاره چې د امریکا حکومت د افغانستان امنیتي ځواکونو لپاره په اوس او راتلونکي کې مناسب شمیرې تاسیسات برابروي، سیګار سپارښتنه کړې چې د CSTC-A قوماندان معاون، د نورو کارونو ترڅنګ دا ترسره کړي، (1) یو پلان جوړ کړي چې د امنیتي ځواکونو کموالی په پام کې نیسي او تاسیسات په مناسبه توګه وځنډوي ترڅو راتلونکی اضافي ظرفیت کم کړي، او (2) تر هغې کچې چې له اوسنیو تاسیساتو څخه کار نه اخیستل کیږي وپیژني ترڅو د نویو تاسیساتو جوړول کم کړي او د بیارغونې مرستې وسپموي. سیګار دا سپارښتنه هم کړې چې د CSTC-A قوماندان معاون له عمومي قوماندان، او د USACE ریس انجنیر سره په همغږۍ کې، له 2014 وروسته د ساختماني پروژو د امنیت او نظارت لپاره یو پلان ځانګړی جوړ کړي.

**د ادارې نظرونه**

سیګار د دې راپور مسودې په اړه له CSTC-A او IJC څخه نظرونه ترلاسه کړي. CSTC-A په خپل آدرس د ټولو سپارښتنو سره موافقه کړې او IJC په خپل آدرس له دوو سپارښتنو سره موافقه کړې. دواړه CSTC-A او IJC او د امریکا مرکزي قوماندانی، اضافي تخنیکي نظرونه برابر کړي، او سیګار لکه څنګه چې مناسب وو شامل کړي.

## پلټنه 14-1: د افغانستان ملي پولیسو د تیل پروګرام

**د افغانستان ملي پولیسو د تیل پروګرام: فعالو هڅو ته اړتیا ده ترڅو د امریکا مرستو نظارت قوي شي**

له 2005 څخه، کانګرس د افغانستان امنیتي ځواکونو د روزنې، تجهیز او دوام لپاره نږدې $52.8 میلیارده امریکایي ډالر تخصیص کړي، چې د افغانستان ملي اردو او ملي پولیسو څخه ترکیب شوي. CSTC-A چې د افغانستان امنیتي ځواکونو جوړولو مسولیت لري، د افغانستان امنیتي ځواکونو له وجهي صندق (ASFF) څخه کار اخلي ترڅو د امنیتي ځواکونو لپاره تجهیزات، روزنه، او مواد برابر کړي، او تاسیسات او زیربنا جوړ کړي او بیا ورغوي. د وجهي صندق له یوې برخې څخه د امنیتي ځواکونو د تیلو اخیستلو لپاره کار اخیستل کیږي. CSTC-A د اخیستلو له هر اړخیزو موافقو څخه کار اخلي چې د امریکا مرکزي قوماندانی د ګډې ساحې ملاتړ قرارداد کولو قوماندانی (C-JTSCC) له لوري ورکول کیږي. C-JTSCC د قراداد کولو دفتر په توګه، په افغانستان کې ټول بیړني قراداد کول بشپړوي، مدیریت کوي او کنترولوي. د اخیستلو هر اړخیزو موافقو په اساس، CSTC-A د قراداد کولو افسر استازی برابروي او د افغانستان امنیتي ځواکونو لپاره د تیلو اخیستلو فرمایش ورکول او محاسبه کولو مسولیت لري.

له 2007 څخه، C-JTSCC له قراردادیانو سره د اخیستلو هر اړخیزې 17 موافقې تاسیس کړي ترڅو د افغانستان امنیتي ځواکونو لپاره تیل برابر کړي. C-JTSCC د هرې میاشتې تیل قیمتونه تاییدوي او لدې تایید څخه وروسته، CSTC-A له تایید شویو قیمتونو څخه کار اخلي ترڅو قراردادیان غوره کړي او تیلو فرمایش ورکړي. دا قراردادیان بیا په ټول افغانستان کې د ملي پولیسو نږدې 145 تایید شویو موقیعتونه ته په مستقیمه توګه تیل رسوي. کله چې قراردادیانو دې موقیعتونه ته تیل ورسول، ملي پولیس تیل ذخیره کوي او د ملي پولیسو ولسوالیو او سیمیزو قطعو ته تیل توزیع کوي.

د 2013 په جنوری کې، سیګار د ملي اردو لپاره د CSTC-A اخیستلو شویو تیلو د محاسبې او نظارت په اړه راپور ورکړ، او د CSTC-A د فرمایش ورکولو، تسلمیدلو، او تیلو تادیاتو په بروسه کې نیمګړتیاوې وموندلې.

دې پلټنې د امریکا له لوري د ملي پولیسو لپاره د تیلو اخیستلو نظارت ارزونه کړې. په ځانګړې توګه، دا ارزونه یې کړې (1) تر هغې کچې چې C-JTSCC او CSTC د ملي پولیسو تیلو اخیستلو، رسولو، او مصرفولو لپاره نظارت برابر کړی؛ (2) د CSTC-A هڅې ترڅو د افغانستان حکومت ته مستقیمه توزیع برابره کړي او د ملي پولیسو لوجستیکي سپارلو څخه ملاتړ وکړي؛ او (3) د 2013 کال لپاره د CSTC-A د مرستې غوښتنې او له 2014 تر 2018 مالي کلونو اټکلونو لپاره اساس او ملاتړ.

**موندنې**

سیګار دا وموندل چې C-JTSCC او CSTC-A د ملي پولیسو تیلو اخیستلو لپاره محدود نظارت درلود. د اخیستلو هر اړخیزو موافقو کمزوری نظارت او سندونه او تیلو اخیستل د امریکا حکومت لپاره د لوړ قیمت قراردادیانو او پوښتنې وړ قیمتونو سبب شوي. په یو شمیر بیلګو کې، قراردادیانو د تیلو رسولو لپاره لوړ قیمتونه ټاکلي چې د اخیستلو هر اړخیز موافقو په اساس یې اجازه ندرلوده. د بیلګې په توګه، د 2012 له نومبر څخه تر دسمبر پورې، C-JTSCC د کابل ولایت لپاره له څلورو څخه د دریو ځمکنیو تیلو قراردادیانو لپاره تیلو قیمتونه تایید کړي چې پدې کې د ترانسپورت هغه قیمتونه دي چې د اخیستلو هر اړخیزو موافقو په اساس اجازې څخه لوړ دي. د دې لګښت ټول قیمت نږدې $520,000 امریکایي ډالرو وو. پردې برسیره، C-JTSCC د هوایي تیلو یوه قراردادي قیمتونه تایید کړي چې د 2010 له نومبر څخه د 2012 تر فبروری پورې پدې قیمتونو کې د افغانستان مالیې او نور فیسونه چې ټول نږدې $25,000 امریکایي ډالرو وو، شامل دي. د اخیستلو هر اړخیزې موافقې قراردادیانو ته اجازه نه ورکوي چې دا مالیې او فیسونه واخلي.

CSTC-A د فیدرال اخیستلو مقررات یا د C-JTSCC د اخیستلو هر اړخیزې موافقې لارښوونه چې د سیالی لپاره له دوو یا ډیرو قراردادیانو څخه کار اخلي په پام کې ندي نیولي. د بیلګې په توګه، د 2012 له نومبر څخه تر دسمبر پورې، CSTC-A د کابل په ولایت کې یې له 717 فرمایشونو څخه د ډیرو لپاره د ټیټ قیمت ځمکنیو تیلو قراردادیان نه وو غوره کړي، لکه څنګه چې د C-JTSCC او CSTC-A چارواکو سیګار ته ویلې، د ټیټ قیمت قراردادیان له مالیو او تعرفو څخه مستثنی ندي. CSTC-A د لوړ قیمت قراردادي څخه کار اخیستلو لپاره خپل دلیل ندی مستند کړی، لکه څنګه چې اړتیا ده. د لوړ قیمت قراردادي څخه کار اخیستل د دوو میاشتو په موده کې د نږدې $1 میلیونو امریکایي ډالرو اضافي لګښت سبب شوي. د ملي پولیسو تیلو فرمایشاتو او قراردادیانو رسولو څخه د CSTC-A محدود نظارت پایله دا وه چې د هلمند ولایت د پولیسو ولایتي قرارګاه د 28 میاشتو په موده کې، 24 ځله د خپلو موقیعتونو لپاره د ذخیره کولو له خپل ظرفیت څخه ډیر تیل فرمایش او تسلیم کړي، لکه څنګه چې پدې عکس 2.1 کې ښودل شوي. وروسته لدې چې CSTC-A چارواکو د تیلو په اضافي رسولو باندې شک وکړ او د احتمالي تقلب بیلګې وي، هغوی د 2012 په اکتوبر کې د تیلو رسول کم کړل. مګر، د 2012 تر دسمبر پورې، CSTC-A پرته لدې چې د شکمن تقلب تحقیق وکړي د هلمند پولیسو ولایتي قرارګاه لپاره یې د تیلو رسول تر 300,000 لیتره ډیر کړل. ترڅو چې C-JTSSC او CSTC-A د ملي پولیسو تیلو اخیستلو باندې فعال کنترولونه تطبیق نکړي او د ممکنه بد چلند تورونو تحقیق ونکړي، محدود ډاډ شتون لري چې د امریکا له مرستو څخه به ټاکل شویو موخو لپاره کار واخیستل شي.

عکس 2.1

**د هلمند PHQ میاشتیني د تیلو امرونه** (زرهاو)




CSTC-A د ملي پولیسو د تیلو لپاره د 2011 اکتوبر او د 2012 دسمبر ترمنځ، د افغانستان حکومت ته 26.8$ میلیونه امریکایي ډالرو مستقیمه مرسته ورکړې. مګر، د خطر اړینو ارزونو لپاره یې شواهد ندي برابر کړي، ترڅو دا وګوري چې د کورنیو چارو وزارت د ملي پولیسو تیلو اخیستلو لپاره د امریکا مرستو اداره کولو لپاره ظرفیت لري. د 2011 له اکتوبر څخه د 2012 تر اګست پورې، CSTC-A د افغانستان حکومت بودجې کې له 10.6$ میلیونو امریکایي ډالرو څخه 26.8$ میلیونه امریکایي ډالر مستقیمه برخه اخیستې، مګر داېي ندي ثابت کړي چې آیا له مرستو څخه د موخو لپاره کار اخیستل شوی. د 2012 په دسمبر کې، د امریکا دفاع وزارت یو شمیر ارزونو برسیره چې د کورنیو چارو وزارت نشی کولای د 2014 تر پایه د ایتلاف له ډیر ملاتړ څخه پرته خپل لوجیستکی ماموریت ترسره کړي، CSTC-A 16.2$ میلیونه اضافي امریکایي ډالر برابر کړي.

د 2012 تر اکتوبر پورې، CSTC-A نوي اړتیاوې جوړې کړې ترڅو د کورنیو چارو وزارت له لوري د امریکا مرستو لګولو کنترولونه او حساب ورکول شه کړي. مګر د سیګار ساحوي کار په وخت کې د دغو اړتیاوو اغیز ارزونه ونشوه ځکه چې د کورنیو چارو وزارت قرارداد نه وو وړاندې شوی ترڅو د ملي پولیسو د تیلو اخیستلو لپاره د 16.2$ میلیونو امریکایي ډالرو څخه کار اخیستل پیل شي. د CSTC-A له لوري په پردې باندې د یوې پاڼې معلوماتو وشودل چې د چاروکو په نظر یې د افغانستان ملي پولیسو تیلو لپاره مستقیمه مرسته د ضایعاتو، تقلب او ناوړې ګټې اخیستنې "لوړ خطر" دی. خو بیا هم د امریکا څواکونو روانو کمولو سره، د خطر کمولو له پلان څخه پرته، CSTC-A د 2014 مالي کال لپاره کورنیو چارو وزارت ته د ملي پولیسو تیلو لپاره 243$ میلیونه امریکایي ډالر تایید کړي.

د 2013 مالي کال لپاره CSTC-A د ملي پولیسو تیلو لپاره د 134.6$ میلیونو امریکایي ډالرو غوښتنه کړې وه. د غوښتنې لپاره او د ملي پولیسو راتلونکو تیلو لپاره د CSTC-A استدلال تر یوې کچې د تیلو تیرو فرمایشات په اساس دی. که څه هم CSTC-A د ملي پولیسو د شپږو کلونو لپاره تیل اخیستي دي، مګر د ملي پولیسو د وسایطو او تر کار لاندې جنراتورونو شمیرې په اړه دقیق معلومات نلري او د کورنیو چارو وزارت څخه یې د لګښت معلومات هم ندي ترلاسه کړي. پردې برسیره د CSTC-A چارواکو ونشو کولای د 2013 مالي کال خپلې غوښتنې ملاتړ وکړي. CSTC-A د ملي پولیسو د تیلو په تیرو فرمایشاتو او نورو خیالي غیر مستندو اسنادو تکیه کوي ترڅو د ملي پولیسو اړتیاوي محاسبه کړي.

سیګار اټکل کوي چې CSTC-A به 2013 مالي کال لپاره نږدې 94$ میلیونو امریکایي ډالرو مرسته ولري کله چې 2014 مالي کال پیل شي، او دا دې ته اشاره کوي چې د 2013 مالي کال ملي پولیسو تیلو په اټکل کې مبالغه شوې. پردې برسیره، د 2014 تر 2018 مالي کلونو لپاره ټولې بودجې اټکلونه کیدای شي ډیر وي، ځکه چې هغوی د ملي پولیسو د تیلو په تاریخي فرمایشاتو او تر پوښتنې لاندې رسولو په اساس دي. په روانو خطرونو برسیره، سیګار د ملي پولیسو تیلو په پروسه کې موندلي چې د مرستو ډیره برخه به د ضایعاتو، تقلب، او ناوړې ګټې اخیستنې خطر سره مخامخ شي که CSTC-A خپل پلان ترسره کړي او تر 2018 مالي کال پورې د ملي پولیسو تیلو لپاره افغانستان حکومت ته 1.4$ میلیونه امریکایي ډالرو مستقیمه مرسته ورکړي.

### سپارښتنې

سیګار اته سپارښتنې وړاندې کړې، دوې د عمومي قوماندان معاون ته، C-JTSCC، ترڅو د ملي پولیسو د تیلو په قیمتونو کې مناسبولای وګوري، او شپږ د عمومي قوماندان معاون ته، CSTC-A، تر څو د امریکا له مرستو څخه د ملي پولیسو تیلو اخیستلو نظارت، د CSTC-A د مستقیمو مرستو ستندرد عملیاتو طرزالعمونه، او د ملي پولیسو تیلو اخیستلو لپاره راتلونکي اټکلونه ښه کړي.

### د اداري نظرونه

سیګار د دې راپور مسودې په اړه له C-JTSCC او CSTCC څخه نظرونه ترلاسه کړي. C-JTSCC پخپل آدرس له دوو سپارښتنو سره موافقه کړې. CSTC-A پخپل آدرس له شپږو څخه له پنځو سپارښتنو سره موافقه کړې، مګر دایې ندي منلي چې ارزونو ته اړتیا ده ترڅو دا وکتل شي چې د ذخیرې له ظرفیت څخه ډیر تیل رسول کیږي. دواړو قوماندانیو تخنیکي نظرونه وړاندې کړل، چې سیګار په مناسبه توګه شامل کړي.

## پلټنه 3-14: د افغانستان ملي اردو فالتو سامانونه

### د افغانستان ملي اردو: په افغانستان کې امنیت سپارلو ګډه قوماندانی د وسایطو فالتو سامانونو موجودی شمیرې او اړتیاوو په اړه مهم معلومات نلري

له 2004 څخه تر 2013 پورې، CSTC-A د ملي اردو وسایطو ساتنې او ترمیم لپاره، نږدې 370$ میلیونو امریکایي ډالرو فالتو سامان اخیستي.

د لوجیستیک یوه دقیق او متحد سیستم ته اړتیا ترڅو د امنیتي عملیاتو لپاره تیاري لپاره فالتو سامان برابر او وسایط او تجهیزات وساتل شي. مګر د ملي اردو له لوجیستیکی ظرفیتونو څخه د CSTC-A د ملاتړ په اړه پوښتنې را پورته شوي. د بیلګې په توګه، د 2012 په اکتوبر کې، د آیساف قوماندان سلاکار او مرستې ټیم راپور ورکړی چې CSTC-A ونشو کولای

د افغانستان امنیتي ځواکونو لپاره د نږدې 230$ میلیونو امریکایي ډالرو په ارزښت فالتو سامانونو حساب ورکړي او ویلې چې د دغو سامانونو د نه حساب ورکولو له کبله، CSTC-A بیا د 138$ میلیونو امریکایي ډالرو نور فالتو سامانونو فرمایش ورکړی. دې ټیم موضوع سیګار ته راجع کړه او له سیګار څخه یې وغوښتل ترڅو دا موضوع نوره وڅیړي. د دې پلټنې موخې دا وې تر څو دا ارزونه وکړي (1) CSTC-A اټکلونه د ملي اردو وسایطو فالتو سامانونو لپاره د دقیقو اړتیاوو په اساس وو؛ او (2) CSTC-A په پوره توګه داخلي کنترولونه لري ترڅو د وسایطو فالتو سامانونو حساب وکړي او د ضایعاتو، تقلب او ناوړې ګټې اخیستنې مخه ونیسي.

**موندني**

CSTC-A له دقیقو معلوماتو پرته چې کومو سامانونو ته اړتیا ده او کوم شتون لري، د وسایطو لپاره فالتو سامانونو فرمایش ورکوي. CSTC-A په ملي اردو باندې تکیه کوي ترڅو د وسایطو شته سامانونو شمیر او د راتلونکو اړتیاوو اسنادونه وساتي ترڅو د فالتو سامانونو کموالی لرې کړي. مګر، ملي اردو په منظمه توګه د د شمیرلو معلوماتو نه نوي کوي ترڅو دا تعقیب کړي:

- کوم سامانونه په ګدام کې دي
- کوم سامانونه د ملي اردو قطعاتو له لوري فرمایش ورکړ شوي، او
- کله او چیرته باید دا سامانونه را ورسیږي.

ملي اردو په هیڅ یوه څلورو موقیعتونو کې په پوره دقیقه توګه اسنادونه ندي ساتلي، د لوجیستیک موادو برابرولو سیمیز مرکزونه (RLSC) او د مواد برابرولو مرکزِ دیپو (CSD)، چیرته چې سیګار د فالتو سامانونو شمیرل ترسره کړي. سیګار دا هم موندلې چې RLSC او CSD په منظمه توګه د افغانستان دفاع وزارت (MOD) فورمې نه نوي کوي ترڅو د هغو فالتو سامانونو اسنادونه وساتي چې تمه کیږي راورسیږي او د افغانستان دفاع وزارت د فرمان په اساس د ملي اردو قطعاتو ته توزیع شي. پر دې برسیره، لکه څنګه چې فالتو سامانونه رارسیږي، ملي اردو په منظمه توګه د فالتو سامانونو شمیره نه معلوموي. RLSC جنوب او CSD د ملي اردو وسایطو هغه فالتو سامانونه لري چې شمیرل شوي ندي. له دقیقو شمیرلو پرته، CSTC-A هغه معلومات نلري ترڅو د هغو فالتو سامانونو لپاره دلیل وړاندې کړي چې د RLSC او CSD لپاره یې اجازه ورکړ یا اخیستل شوي.

پردې برسیره، اوس له غوښتنې او کار اخیستلو معلوماتو پرته ملي اردو د وسایطو لپاره فالتو سامانونه فرمایش ورکوي. له 2011 څخه د 2013 تر اپریل پورې، CSTC-A د تایید شویو سامانونو شمیرې تعدیل کړي چې دوه ځلې یې د RLSC له لوري غوښتنه شوي، او د تایید شویو اړتیا وړ سامانونو شمیره یې له 3,843 څخه 576 کمه کړه. مګر، CSTC-A د 130$ میلیونو امریکایي ډالرو په ارزښت د تایید شویو 3,843 ډولونو په اساس سامانونو فرمایش ورکړی. پر دې برسیره، د CSTC-A چارواکو په وینا، هغوی دا اسناد نلري ترڅو دا وښیي چې د 3,843 ټوله شمیره څنګه منځ ته راغلي. پردې برسیره، CSTC-A دغو سامانونو فرمایش ورکړی پرته لدې چې پوه وي چې ملي اردو کوم سامانونه په ګدام کې لري ځکه چې د فالتو سامانونو شمیره مستند شوې نده.

CSTC-A دا توان لري چې هغه سامانونه چې له 2010 څخه تر 2012 پورې دننه افغانستان ته رواڼل شوي تعقیب کړي، مګر هغه اسناد نلري چې دا سامانونه ملي اردو ته


په جنوب کې د لوجستیکي موادو برابرولو سیمیز مرکز کې نه شمیرل شوي **وسایطو فالتو سامانونه.** (سیگار عکس)

سپارل شوي. سیگار وموندل چې CSTC-A نشو کولای هغه اسنادونه برابر کړي چې له 2010 څخه تر 2012 پورې د ملي اردو وسایطو لپاره فالتو سامانونه رسول شوي یا اسنادونه سپارل شوي. سیگار د دې وخت له فرمایشونو څخه په غیر منظمه توگه د ترانسپورټ کنټرول 68 شمیرو نمونه واخیستله او له CSTC-A څخه یې وغوښتل چې هغه اسنادونه برابر کړي چې د دغو اصلي ځای، ترانسپورټ او توزیع وښیي. CSTC-A وکولای شول ترڅو د ټولو 68 کنټرلو شمیرو اصلي ځای حساب ورکړي (100%) او د ترانسپورټ ځای لپاره د 58 حساب ورکړي (85%). مگر ملي اردو ته د سپارلو یووازې د اوو کنټرول شمیرو حساب یې ورکړی شوای (10%). پردې برسیره، CSTC-A ونشو کولای ترڅو ملي اردو ته د سپارلو له 68 څخه د هیڅ یوه کنټرول شمیرو سند تایید کړي. د CSTC-A چارواکو په وینا، له سیگار سره د 2013 جون یوې غونډې مرسته وکړه ترڅو د وسایطو فالتو سامانونو په موقیعتونو کې د معلوماتو نشتون مسله راپور شي او هغه اړین ملاتړ یې برابر کړ چې د حساب ورکولو ستونزه سمه کړي.

د 2013 په جون کې CSTC-A د وسایطو د فالتو سامانونو د کانټینرونو راتللو لپاره د نویو طرزالعملونو تطبیقولو پیل کړل. دې لپاره چې ملي اردو ته د مللکیت سپارل چټک شي او وکتل شي چې د ټولو وسایطو فالتو سامانونه تر هغه وخته له امریکا سره پاته کیږي چې د ملکیت سندونه سپارل کیږي، CSTC-A اوس پلان لري ترڅو د فالتو سامانونو هغه کانټینرونه چې راځي د امریکا د سپارلو ځای ته ولیږي وړاندې تر دې چې ملي اردو ته رسماً سپارل کیږي. پردې برسیره، CSTC-A هڅه کوي ترڅو د وسایطو فالتو سامانونه بیرته واخلي ترڅو ملي وکولای شي چې رسماً شمیرل او سپارل ترسره کړي. د CSTC-A چارواکو په وینا، د امریکا او افغانستان یو چارواکی به حاضر وي ترڅو په گډه شمیرل ترسره کړي او رسماً فالتو سامانونه ملي اردو ته وسپارل شي.

### سپارښتنې

دې لپاره ترڅو دا وکتل شي چې CSTC-A د دقیقو معلوماتو او اصلي اړتیاوو په اساس د وسایطو فالتو سامانونو فرمایش ورکوي، او دا چې د امریکا حکومت مخه ونیول شي ترڅو غیر ضرروي فالتو سامانونه وانخلي، سیگار سپارښتنه کوي چې د CSTC-A عمومي قوماندان او د وزارتونو مشورې ډله، (1) د غیر ضروري فالتو سامانونو اخیستل وځنډول شي ترڅو ملي اردو د سامانونو اړین شمیرل د افغانستان دفاع وزارت د 4.0 فرمان په اساس ترسره او تایید کړي (2) له ملي اردو څخه وغواړي چې د شمیرلو هغه راپور CSTC-A ته وړاندې کړي چې په سمه توگه د فالتو سامانونو غوښتنه او کار اخیستلو کچې معلوموي.

### د اداري نظرونه

سیگار له CSTC-A څخه د دې راپور مسودې په اړه رسمي نظرونه ترلاس کړل. CSTC-A له دواړو موافقو سره موافقه کړې او اضافي تخنیکي نظرونه یې برابر کړي، چې سیگار په مناسبه توگه شامل کړي.

## د 13-6 پلټنې اندیښنې په اړه مکتوب: له دښمن سره قرارداد کول

د 2013 په اگست 8 په می کې سیگار د 2013 د می 14 ریچارد ټي جینمن، د امریکا په دفاع وزارت کې د دفاع تدارکاتو او اخیستلو پالیسی ریس (DPAP) له لوري د یاددښت ځواب

ورکړ. جينمن ليکلي وو چې DPAP د سيګار يوې پلټنې له اوو سپارښتنو څخه له پنځو سره موافقه کړې چې موندلي وو د امريکا دفاع وزارت محدود ډاډ لري چې هغه قراردادیان چې دښمن له ډلو سره اړيکي لري پيژندل شوي او د هغوی قراردادونه ختم شوي، مګر سيګار د DPAP له نه منلو سره ستونزه درلوده ترڅو له هغې سپارښتنې سره موافقه وکړي چې له اصلي قراردادیانو څخه غواړي ترڅو تاييد کړي چې هغوی له دښمن سره فرعي قرادادونه نلري. DPAP ويلې دي چې د امريکا دفاع وزارت په دې اساس اطاعت ندی کړی چې د کلينګر – کوهن قانون د نوي تاييد اړتياوې منع کړي مګر که هغه اړتياوې په ځانګړي توګه د قانون له لوري تحميل شوي يا د تدارکاتو پاليسی دفتر ريس له لوري تاييد شوي. سيګار ويلې چې دا قانون ادارو ته اجازه ورکوي ترڅو د رسمي تاييد نوي اړتياوې خپرې کړي کله چې دا د ادارې د ريس له لوري په ليکلو تاييد شي، پدې حالت کې د دفاع وزير له لوري. پردې برسيره، دا استدلال يې هم کړی چې د رسمي تاييد اړتيا به د امريکا دفاع وزارت د قانون په اساس مکلفيتونو سره منظم وي چې قراردادونه يوواړې "مسولو" ډلو ته ورکړي.

## خبرتيا انديښنې په اړه مکتوب 13-2: په جنوب کې د کرنې پراختيا پروګرام کمزوري همغږی، ضايعات او اداره درلوده

د 2013 د سپتمبر په 6، سيګار دونالد سمپلر، د USAID د افغانستان او پاکستان دفتر چارو ريس لنډ مهاله معاون ته ليکلي. سيګار د هغه يادداښت په ځواب کې ليکلي چې USAID د سيګار په جنوب کې د کرنې پراختيا پروګرام (S-RAD) پروګرام د خبرتيا مکتوب په اړه ليږلی وو، چې د USAID له لوري تمويل او نظارت کيږي او نړيوالی سوکالی او پراختيا شرکت (IRD) يې تطبيقوي. يادداښت ويلې وو چې USAID د سيګار د نظارت، کار پلانونو، او د پروګرام تمويل شوي تجهيزات او موادو په اړه له موندنو سره موافق ندی.

سيکار ليکلي چې دا اداره د USAID د نظارت د مکلفيتونو د نظرونو په اړه ډيره انديښنه لري. سيګار ويلې چې د همکاری له موافقې کار اخيستل USAID له خپلو مکلفيتونو څخه نه خلاصوي ترڅو دا وګوري چې د امريکا مرستې په مناسبه توګه لګيږي او دا چې په حقيقت کې ښې پايلې لاسته رواړل کيږي. USAID استدلال کړی چې هغه نرمښت چې IRD ته ورکړ شوی د فيدرال مقرراتو په اساس اجازه لري. سيګار موافق دی، مګر ويلې چې داسې نرمښت نور خطر وړاندې کوي چې تطبيق کوونکي شريکان کيدای شي په هغو فعاليتونو بوخت شي چې د USAID له رسمي لارښوونو بل لوري ته ولاړ شي، هغه څه چې IRD منلي چې د S-RAD پروګرام په وخت کې منځ ته راغلی. سيګار د USAID له نورو ادعاګانو سره هم مخالفت کړی چې د S-RAD لپاره د فارم ترکتورونو، شمسي تختو، کرنی مواد، او اوبو ورکول پمپونو برابرولو په اړه وو.

## خبرتيا انديښنې په اړه مکتوب 13-1: جغرافيايي معلوماتو بانک د ځينو ساحو لپاره غلط معلومات لري

د 2013 د سپتمبر په 10، سيګار د افغانستان د زيربنا او امنيت کارتوګرافي سيستم (AISCS) په اړه ويليام همنيک، افغانستان لپاره د USAID ريس ته د 2013 جنوری خبرتيا مکتوب په اړه ليکلي. د خبرتيا مکتوب په ځواب کې، USAID له لوري IRD ته چې AISCS يې جوړ کړی، هدايت ورکړ شو ترڅو د معلومات بانک بيا کتنه وکړي.

د 2013 د مارچ په 9، USAID سیګار ته پایلې وړاندې کړې. د USAID مکتوب ویلې وو چې IRD وکولای شول له 42 ښوونځیو څخه د 41 موقیعتونه د هوایي عکسونو او ساح لیدنو راپورونو څخه پیدا کړي. مګر، سیګار لیکلي چې د هغو ډیرو ودانیو په اړه چې د خبرتیا پخپل مکتوب کې پیژندلي چې غیر دقیق او بې پایلې کوردیناتونه لري، دا اداره اوس هم د AISCS د دقیقوالي په اړه پوښتني لري. د جغرافیایي کشفولو ملي اداره (NGA)، چې له سیګار سره لمړني کارونه ترسره کړي، د IRD له ارزونې سره موافقه نده کړې. NGA د IRD له 41 څخه د 12 ښوونځیو د موقیعتونه بیا کتنې سره موافقه کړې. NGA اوس هم د پاتو 20 جغرافیایي کوردیناتونو سره موافق ندی.

## پدې ربع کې نوي پلټني اعلان شوي

پدې ربع کې سیګار د ټول سکتور په پلان شوي لړی نوري پلټني پیل کړې. دا پلټني په افغانستان کې د ځانګړې سکتور په اړه د امریکا حکومت بشپړ شویو، روانو، او پلان شویو پروژو پلټني کوي. دوې پلټني چې پدې ربع کې پیل شوي دا ارزونې به وکړي:
- د امریکا حکومت هڅې ترڅو د افغانستان روزنې سکتور ښه کړي.
- د امریکا حکومت له لوري تمویل شوي د افغان میرمنو نوښتونه

### د روزنې سکتور

سیګار یوه پلټنه د امریکا حکومت هڅو ترڅو د افغانستان روزنې سکتور سره مرسته وکړي او ښه کړي په اړه یوه پلټنه پیل کړي. دا پلټنه به په هغو پروژو او پروګرامونو باندې کار وکړي چې د امریکا حکومت ادارو له لورو پیل شوي ترڅو په افغانستان کې روزنې ته لاس رسی زیات او کیفیت ښه کړي. د دې پلټنې موخې دا دي چې (1) د امریکا حکومت له لوري تمویل شوي بشپړ شوي او روانې پروژې او پروګرامونه وپیژني چې روزنې ته لاس رسی ډیروي او د روزنې کیفیت ښه کوي او ارزونه وکړي چې تر کومې کچې هغوی خپلو تایید شویو موخو ته رسیدلي یا رسیږي؛ (2) ننګونې وپیژنې، که وي، چې دا پروژې ورسره مخامخ دي او دا آزموینه وکړي چې د امریکا حکومت ځنګه حل کړي دي؛ (3) ارزونه وکړي چې تر کومې کچې په بشپړ شویو او روانو پروژو کې پایلې لاسته راغلي، او پلان شوي پروژې د دوام وړ دي.

### د میرمنو نوښتونه

سیګار د امریکا حکومت له لوري تمویل شوي د افغان میرمنو نوښتونو یوه پلټنه پیل کړې ده. پلټنه به د امریکا حکومت په هغو پروګرامونو او نوښتونو باندې کار وکړي چې په افغانستان کې د میرمنو حقوق او ورسره چلند ښه کوي او هغه ننګونې چې د امریکا حکومت ادارې ورسره مخامخ دي چې په افغانستان کې د میرمنو ستونزې حلوي. له 2003 مالي کال څخه 2010 تر پورې، کانګرس د امریکا بهرنیو چارو وزارت او USAID ته $627 میلیونه امریکایي ډالر تخصیص کړي ترڅو په ځانګړې توګه د افغانستان میرمنو او انجونو لپاره د فعالیتونو ملاتړ وکړي. د 2010 په جولای کې، سیګار په 2008 او 2009 مالي کلونو کې د امریکا بهرنیو چارو وزارت او USAID له مرستو څخه د افغانستان میرمنو او انجونو فعالیتونو لپاره کار اخیستلو په اړه راپور ورکړی. د نورو شیانو ترڅنګ، دې اداري وموندل چې لکه ځنګه چې د افغانستان میرمنو اړتیاوو حلولو لپاره د مرستو بیل شوي تخصیصونه

**نوې پلټنې**
- د امریکا ترڅو د افغانستان سکتور سره مرسته وکړي او ښه کړي
- د امریکا ترڅو په افغانستان کې د میرمنو حقونه او ورسره چلند ښه کړي

له وخت سره زیات شوي، او کانګرس د امریکا بهرنیو چارو وزارت او USAID ته هدایت ورکړی ترڅو د مرستو کار اخیستلو په اړه راپور ورکړي، راپور ورکول بشپړ نه وو او دا روښانه نه وه چې له مرستو څخه به د افغانستان میرمنو ګټو لپاره څنګه کار واخیستل شي. دا پلټنه به (1) له 2011 مالي کال څخه به د امریکا حکومت هغه پروګرامونو او نوښتونو وپیژني چې په افغانستان کې د میرمنو حقوق او ورسره چلند ښه کوي؛ (2) ارزونه وکړي چې تر کومې کچې دا پروګرامونه او نوښتونه د امریکا حکومت له نورو ادارو سره همغږي شوي؛ (3) په افغانستان کې د میرمنو ستونزو حلولو په وړاندې ننګونې وپیژني او د دې ننګونو حلولو لپاره د امریکا هڅو ارزونه وکړي.

## مالي پلټنې

پدې ربع کې، سیګار د امریکا له لوري د افغانستان بیا رغونې دوو تمویل شویو قراردادونو یوه مالي پلټنه بشپړه کړې چې د چیچي مشورتي شرکت له لوري تطبیق شوی. سیګار دا پلټنه USAID ته لیږلې، چې د موندنو ارزونه کوي. سیګار به د پلټنې موندنې د راتلونکي ربع په پیل کې خپور کړي. تر اوسه، سیګار مالي پلټنو تر پوښتنې لاندې له $50.2 میلیونو امریکایي ډالرو څخه ډېر لګښتونه پیژندلي.

سیګار د امریکا بهرنیو چارو وزارت او USAID له لورو تمویل شویو قراردادونو، نغدو پیسو، او همکارۍ قراردادونو، 13 نویو پلټنو اعلان هم کړی چې ټول لګښتونه یې نږدې $843.7 میلیونه امریکایي ډالر دي، او لدغو سره د ټولو روانو پلټنو شمیره 25 رسیږي او لګښتونه یې له $2.2 میلیاردو امریکایي ډالرو څخه ډېر دي، لکه څنګه چې پدې جدول 2.1 کې ښودل شوي.

جدول 2.1

| **د سیګار مالي پلټنې پوښښ** (میلیونو ډالرونه) | |
|---|---|
| 12 بشپړې شوې پلټنې | $815 |
| 25 روانې پلټنې | $2,209 |
| **ټول** | **$3,024** |

یاددښتونه: شمیرې را ټولې شوي. پدې پوښښ کې د افغانستان د بیارغونې قراردادونو، نغدو پیسو، او همکارۍ قراردادونو اخیستونکو له لوري ترسره شوي لګښتونه شامل دي.

سرچینه: د سیګار پلټنو ریاست.

سیګار په 2012 کې د مالي پلټنو پروګرام وروسته لدې پیل کړ کله چې کانګرس او د نظارت ټولنې د قراردادونو او نغدو پیسو چې د بهرنیو عملیاتو ملاتړ لپاره ورکول کیږي د نظارت د واټنونو او د ډېریدونو پلټنو لګښتونو په اړه اندیښنه وښودله. سیګار په سیالۍ کې د محاسبې خپلواک شرکتونه غوره کړي ترڅو مالي پلټنې ترسره کړي او دا وګوري چې د پلټنې کار د امریکا حکومت ستندردونو په اساس ترسره شوي. مالي پلټنې د عمومي مفتیشینو له ټولنې همغږي کیږي ترڅو د مالي پلټنو پوښښ زیات شي او دوه ځلي کار مخنیوی وشي.

د سیګار مالي پلټنې څلور ځانګړې موخې لري:

- پدې اړه نظر ورکړي چې آیا د قرارداد لپاره د مرستې حساب ورکولو راپور په مناسبه توګه، ټولو موادو ته په پام سره، ترلاسه شویو عوایدو، ترسره شوي لګښتونو، د امریکا

---

## بشپړ شوې مالي پلټنه

- د سیګار مالي پلټنه 9-14: په افغانستان کې د USAID قانون حاکمیت پروژه او د USAID خدمات د پایلو تعقیبولو لپاره پروژې ترلاندې د پروګرام او پروژې دفتر: د چیچي مشورتي شرکت د لګښتونو پلټنه

---

**تر پوښتنې لاندې لګښتونه:** لګښتونه وکتل شول چې کیدای شي اجازه ونلري. پدې کې غیر مستحق لګښتونه (قانون، مقرراتو، قرارداد، نغدو پیسو، همکارۍ موافقې او نورو څخه سرغړونه، یا د مرستو غیر ضروري یا غیر مناسب لګښتونه) او غیر ملاتړ شوي لګښتونه (هغه چې مناسبو اسنادونو سره یې یا د پلټنې په وخت کې مناسب تایید سره یې ملاتړ نه وو شوی).

**د مرستې حساب ورکولو راپور:** د ځانګړې موخې مالي راپور چې پدې کې لاسته راوړل شوي عواید، ترسره شوي لګښتونه، او پاته بیلانس د وړاندې شوې قرارداد لپاره په مشخصه موده کې.

سرچینه: USAID، "Chapter 591 ADS: د USAID قراردادونو، اخیستونکو، او کوربه هیواد بنسټونو مالي پلټنې،" 7/31/2012.

حکومت له لوري په مستقیمه توګه مواد اخیستل شوي، او د پلټل شوي مودې بیلانس د قراداد له شرطونو او عموماً منل شویو محاسبې اصول یا د محاسبې له هر اړخیزو اساسونو څخه استازیتوب کوي.

- تر پلټنې لاندې بنسټ د قرارداد په اړه د کورنیو کنټرولونو ارزونه ترسره شي او په پوره توګه پوهه ترلاسه شي؛ د کنټرول خطر ارزونه وشي؛ د مهمو نیمګړتیاوو په اړه پشمول د موادو کورنې کنټرول نیمګړتیاوې وپیژندل شي او راپور ورکړ شي.
- آزموینې ترسره شي ترڅو دا وکتل شي چې آیا تر پلټنې لاندې بنسټ د موادو په اساس، د قرارداد اړتیاوو او اړوندو قوانینو او مقرراتو اطاعت کړی؛ او د قرارداد له شرطونو او اړوندو قوانینو او مقرراتو سره د موادو نه اطاعت وپیژندل شي او راپور ورکړ شي.
- وکتل شي او راپور ورکړ شي چې آیا تر پلټنې لاندې بنسټ په مناسبه توګه د سمون ګامون اخیستې ترڅو د تیرو کارونو موندنو او سپارښتنو لپاره د حل لار پیدا شي.

د نویو او روانو مالي پلټنو لست کیدای شي د دې راپور په C ضمیمه کې وموندل شي.

## تفتیشونه

پدې ربع کې، سیګار څلور تفتیشونه بشپړ کړي. بشپړو شویو پلټنو د آرچي ولسوالی پولیسو قرارګاه په خراب حالت کې، یو ناتمامه روغتون په ګردیز کې، په پروان ولایت کې د محکمې خونې ناکامه پروژه، او په ولایتي کې یو کلنیک چې ورڅخه کار نه وو اخیستل شوی، وموندل.

### تفتیشونو راپورونه خپاره شوي

### تفتیش 14-5: د آرچي ولسوالی پولیسو قرارګاه: زیاتې چټاسکې، د روانو اوبو نشتون او د کار نه وړ بریښنا سیستمونه ښیي چې تاسیسات ساتل شوي ندي.

د 2008 د مارچ په 4، د امریکا د انجنیرانو قول اردو، د افغانستان شمال-حوزې انجنیران (USACE-TAN)، سویز هیوادوال ګډ شرکت ته د $4.2 میلیونو امریکایي ډالرو پشمول د $708,331 امریکایي ډالرو د آرچي ولسوالی د پولیسو قرارګاه پروژې لپاره ثابت قیمت قرارداد وړاندې کړی ترڅو د ملي پولیسو لپاره په نهو ولسوالیو کې قرارګاوې جوړې کړي. USACE-TAN د 2009 د مارچ په 12 قرارداد تعدیل کړ ترڅو د آرچي ساختماني کار د ځواکونو خوندیتوب ګامونو څلورو لورو دیوالونه، د پهره داری برجونو، لمړنی او دویمې ننوتلو کنټرول لارې، د پهره داری ځای او پهره داری خونې پورې محدود کړ، چې دې کار دچ آرچي پروژه له $703,331 امریکایي ډالرو څخه $289,185 امریکایي ډالرو ته را ټیټه کړه. د دې تفتیش لپاره، مونږ ارزونه وکړه چې آیا (1) د قرارداد په اساس ساختماني کار بشپړ شوی او (2) له تاسیساتو څخه د موخو لپار کار اخیستل کیږي او ساتل کیږي.

> **بشپړ شوې تفتیشونه**
>
> - تفتیش 14-5: د آرچي ولسوالی پولیسو قرارګاه: ډیرې چټاسکې، روانو اوبو نشتون، بې کاره بریښنا سیستم دا ښیی چې تاسیسات ندي ساتل شوي
> - تفتیش 14-6: د ګردیز روغتون: له نیږدې دوو کلونو وروسته، د قراردادي کمزورې فعالیت له کبله ساختماني کارونه بشپړ شوي ندي، او قراردادي ته اضافي پیسې باید د USAID له لورې حل شي
> - تفتیش 14-7: د پروان محکمې کې د عدلې مرکز: کمزورې نظارت د پروژې ناکامی سبب شوی او عمل ته اړتیا ده ترڅو د امریکا حکومت ته د غیر ضروري لامل شو
> - تفتیش 14-10: ویلایتي روغتیا کلنیک: ودانۍ د ډیزاین ځانګړتیاو سره سمه نده جوړه شوې او هیڅ کله نده کارول شوې

**موندنې**

د ځواکونو خوندیتوب ګامونه، لکه د څلورو لورو دیوالونه او د پهره دارانو برجونه چې د 2008 مارچ قرارداد په اساس د USACE-TAN او سویز هیوادوال ګډ شرکت ترمنځ شوی وو، داسې معلومیدل چې ښه جوړ شوي وو. مګر، سیګار ونشو کولای دا معلومه کړي چې آیا دا د قرارداد اړتیاوو او اړوندو ساختماني ستندردونو په اساس جوړ شوي وو، ځکه چې د USACE چارواکو نشو کولای د ساختماني پروژې دوسیه، پشمول د هغه مهم اسنادونه لکه د قراداد تخنیکي ځانګړتیاوې او اړتیاوي پیدا کړي. پردې برسیره، USACE او CSTC-A د پروژې د لګښت په اړه توپیر لرونکي معلومات درلودل. پردې برسیره، پداسې حال کې چې نورې ودانۍ په ساحه کې جوړې شوې وې، پشمول د بارکونو، تشنابونو، د اوبو او سپټیک سیستمونو، نه USACE او نه افغان چارواکي پدې پوهیدل چې چا دا اضافې ودانۍ جوړې کړې، کله جوړې شوي او لګښت یې څومره وو.

سیګار وموندل چې د آرچي پولیسو قرارګاه په خراب حالت کې وه، چې نږدې 40 ملي پولیسو کارکوونکو په هغو تاسیساتو کې ژوند او کار کاوو چې ډیري چپاسکې یې درلودې او کیدای شي د روغتیا لپاره ډیر خطر وي، چپاسکو د دیوالونو دننه، د بارکونو په چتونو او شتنابونو کې وده کوله. پردې برسیره، تشنابونه نږدې د کار اخیستلو وړ نه وو ځکه چې د لاس مینځلو ځای شیردان ورک وو، شاورونه خراب وو، او روانو اوبو شتون ندرلود. پردې برسیره، اصلي جنریټر د دوو کلونو لپاره ترمیم ته اړتیا درلوده او پایله دا وه چې له یوه واړه جنریټر څخه هر شپه درې ساعتونو اساسې بریښنا لپاره کار اخیستل کیده.

که څه هم د آرچي ولسوالی پولیسو قرارګاه عملیات او ساتنه به د ساتنې د هغو 800$ میلیونو امریکایي ډالرو ساتنې قراردادونو څخه ترسره کیده چې USACE د 2010 په جولای کې وړاندې کړې او د هغو 829.1$ میلیونو امریکایي ډالرو له ځینو مرستو څخه چې NTM-A/CSTC-A د کورنیو چارو وزارت ته ورکړې، سیګار ونشو کولای دا پیدا کړي چې آیا د آرچي تاسیساتو عملیاتو او ساتنې لپاره مرستې تخصیص شوې او لګول شوي دي. د آرچي ولسوالی پولیسو چارواکو سیګار ته ویلې چې هغوی څو ځلې د هغوی د مراتبو سلسلې له لارې د ولایت پولیسو قوماندان څخه د ساتنې او ترمیم غوښتنه کړې، مګر



**د آرچي ولسوالی پولیسو قرارګاه** قوماندانی د نږدې 40 ملي پولیسو کارکوونکو د ژوند او کار تاسیساتو په دیوالونو او چتونو باندې خطرناکه چپاسکي لري. (سیګار عکس)

غوښتنه ترسره شوې نده. د 2013 اګست په پیلکې، افغان پولیس چارواکو سیګار ته ویلې چې هغه ستونزې چې دې ادارې د 2012 ساحې په تفتیش کې موندلي، نورې هم خرابې شوې. د بیلګې په توګه، د تاسیساتو اوبو څاه نور کار نه کوي، او اوس اړتیا ده ترڅو په اونی کې دوه ځلې ساحې ته اوبه په ټانکر کې رواړل شي.

**سپارښتني**

سیګار یوه سپارښتنه کوي: د NTM-A او CSTC-A د قوماندان معاون باید دا وګوري چې ولې د امریکا مستقیمي مرستې چې د کورنیو چارو وزارت ته د آرچي ولسوالی پولیسو قرارګاه د عملیاتو او ساتنې لپاره برابرې شوي، د تاسیساتو د ساتنې لپاره ورڅخه کار ندی اخیستل شوی.

**د ادارې نظرونه**

د سیګار سپارښتنې په ځواب کې، CSTC-A ګامونه پلان کړي چې ترسره کوي یې او د افغانستان له حکومت سره کار کوي ترڅو ورسره مرسته وکړي او د مناسبې بودجې جوړولو او مالي لارښوونې له لارې پخپلو پښو ودریږي. سیګار د CSTC-A لدغو ګامونو څخه رضایت ښودلی، اما ویلې چې یوه پریکړه باید وشي چې ولې لکه څنګه چې د ساحې چاروواکو له لوري غوښتنه شوي، د آرچې پولیسو قرارګاه عملیاتو او ساتنې لپاره یې د کورنیو چارو وزارت له څخه مرسته نده ترلاسه کړي.

## تفتیش 14-6: د ګردیز روغتون: له نږدې دوو کلونو وروسته، ساختماني کارونه ندي بشپړ شوي ځکه چې د قراردادي فعالیت کمزوری وو، او د قراردادي لپاره اضافي پیسې ورکول باید د USAID له لوري حل شي

د 2008 په جنوری کې، USAID د 57$ میلیونو کډوالو لپاره نړیوال سازمان (IOM) سره همکاری یوه موافقه وکړه ترڅو د روغتیا او روزنې تاسیساتو پروګرام تطبیق کړي. د پروګرام موخې دا وې ترڅو په ټول افغانستان پشمول د 100 بستریزه روغتون د پکتیا ولایت د ګردیز په ښار کې د روغتونونو او نرسي ودانیو جوړولو او روزنې مرکزونو له لارو د افغان وګړو لپاره روغتیا ته لاس رسی زیات کړي.

د 2010 په می کې، IOM د سید بلال سادات ساختمانی شرکت (SBSCC) ته چې یو افغان شرکت دی، د ګردیز نوي روغتون جوړولو لپاره د 13.5$ میلیونو امریکایي ډالرو یو قرارداد وړاندې کړ. د قراردادي د بشپړولو د 2011 د نومبر 24 اصلي نیټه، د 2013 جون 30 ته وغزول شوه او ارزښت یې 14.6$ میلیونو امریکایي ډالرو ته اضافه شو. د 2011 په اپریل کې، USAID د نږدې 97$ میلیونو امریکایي ډالرو یو قرارداد IRD ته ورکړ، ترڅو اوسنی قرارداد تعقیب کړي او د روانو او پلان شویو ډیزاین، ساختماني، او ساتنې پروژو پشمول د ګردیز روغتون لپاره د کیفیت ډاډ خپلواک خدمات برابر کړي. د 2013 اپریل په افغانستان کې د روغتیا خدماتو پلټنې په راپور کې، سیګار ویلې چې کیدای شي د افغانستان حکومت ونشي کولای له بشپړیدلو وروسته د ګردیز روغتون ساتنه وکړي او د روغتنو د عملیاتو او ساتنې کلني لګښتونو کیدای شي د اوسنې روغتون چې نوی روغتون یې ځای نیسي د کلني عملیاتو لګښتونو پنځه برابره شي.

# د سیګار نظارت **فعالیتونه**

سیګار د 2012 په نومبر 25 کې خپل تفتیش ترسره کړی، او دا ارزونه یې کړې (1) ترهغې کچې چې ساختماني کار بشپړ شوی، او (2) آیا مناسب نظارت برابر شوی ترڅو دا وکتل شي چې د همکاری موافقه او قرارداد شرایط پوره شوي.

## موندني



**د سیګار مفتشین د ګردیز** په روغتون کې د هغه ساختماني کار آزموینه کوي چې اوس هم روان دی. (سیګار عکس)

په ګردیز کې د نوي 100 بستریز روغتون جوړول اوس تر اصلي مهال ویش 23 میاشتې شاته دي. د 2011 په مارچ کې، د USAID عمومي مفتش دفتر راپور ورکړی هغه تاسیسات چې د روغتیا او روزنې تاسیساتو پروګرام تر لاندې جوړېږي، پشمول د ګردیز روغتون، تر مهال ویش زیات شاته دي. د ساختماني کار په وخت کې، د 2013 جون تر 30 پورې، IOM د ساختماني قراردادي موده پنځه ځلې غزولې، او کله چې د 2013 د اکتوبر په 31 کې د شپږم ځل لپاره د غزولو وړاندیز وشو، IOM د فعالیت ناکامی لپاره قرارداد ختم کړ. د USAID په وینا، د تاسیساتو لرې موقیعت او فعال یاغیتوب تر ډېرې کچې د ګردیز روغتون د ساختماني کارونو د بشپړلو مخه نیولې. USAID د پروژې بشپړولو لپاره د IOM قرارداد د 2013 د دسمبر تر 31 پورې تمدید کړی. څکه چې د تفتیش په وخت کې تاسیسات تر ډېرې کچې بشپړ نه وو، سیګار ونشو کولای په پوره توګه د ساختانمي کارونو کیفیت ارزونه وکړي.

سیګار دا هم موندلي چې IOM په کافي اندازه کورني کنترولونه ندرلودل ترڅو SBSCC ته د لږ تر لږه $507,000 امریکایي ډالرو اضافي پیسې پیدا کړي، چې باید د امریکا حکومت ته بیرته ورکړ شي. په یوه بیلګه کې، سیګار موندلي چې IOM قراردادي ته یې د 600 ګیلونو ډیزل لپاره $300,000 امریکایي ډالر ورکړي چې د هر ګیلن قیمت $500 امریکایی ډالر کیږي. د IOM چارواکو په وینا، په افغانستان کې د ډیزلو تیلو لپاره د مارکیټ قیمت باید له $5.00 امریکایي ډالرو څخه زیات نشي. په پایله کې، له مناسب بل سره، د تیلو لګښت باید له $3,000 امریکایي ډالرو څخه نه وای اضافه شوی. په بله بیلګه کې، IOM د حرارت اتومات کنترول لپاره $220,000 امریکایي ډالر ورکړي چې قیمت یې باید د $2,000 او $10,000 امریکایي ډالرو ترمنځ وي. IOM ونشو کولای چې د هیڅ یوه لپاره د قراردادي بل وړاندې کړي. USAID دا اضافي تادیات ندي پیدا کړي او دې غیر ضروري لګښتونو لپاره یې IOM ته بیرته پیسې ورکړي.

## سپارښتني

سیګار سپارښتنه کوي چې د USAID ماموریت ریس (1) له IOM څخه د ډیزل تیلو او حرارت کنترول وسیلې لپاره د $507,000 امریکایي ډالرو اضافی تادیاتو بیرته غوښتنه وکړي؛ او (2) د ګردیز روغتون د اړوندو ساختماني کارونو لګښت دقیقه مالي پلټنه وکړي او دا وګوري چې آیا نور اضافي تادیات هم شته چې باید د امریکاحکومت ته بیرته ورکړ شي.

## د اداري نظرونه

USAID له دویمې سپارښتنې سره موافقه کړې، او ویلي چې غواړي د دې فعالیت په اړه د لګښتونو مالي پلټنه تر سره کړي. USAID ویلي دي چې د دې پلټنې له پایلې وروسته، دا به له قراردادي څخه که مناسب وي د سیګار لمړی سپارښتنې په اساس تادیات بیرته لاسته راوړي.

## تفتیش 14-7: د پروان محکمې کې د عدلې مرکز: کمزوری نظارت د پروژې ناکامی سبب شوی او عمل ته اړتیا ده ترڅو د امریکا حکومت ته د غیر ضروري لامل شو

د 2010 تر دسمبر امریکا بهرنیو چارو وزارت نړیوال مخدره توکو او قانون پلې کوونکو چارو بیرو (INL) او د امریکا دفاع وزارت د ادارو ترمنځ ګډ دندې ځواک – 435 (CJIATF-435)، موافقه کړې ترڅو په پروان ولایت کې د پروان عدلیې مرکز جوړول لپاره 10$ میلیونه امریکایي ډالر برابر کړي. د 2011 د جون په 13، د بګرام سیمیز قرارداد کولو مرکز (BRCC)، CLC ساختماني شرکت ته د 2.38$ میلیونو امریکایي ډالرو ثابت قیمت قرارداد ورکړ ترڅو د عدلیې مرکز محکمې خونه جوړه کړي، چې د دي تاسیساتو د 11 ودانیو مرکزي ودانی ده. وروسته لدې چې د 2011 د جولای په 16 د اجراتو مکتوب وړاندې شو، د پروژې بشپړولو لپاره قراردادي ته 155 ورځې ورکړ شوې. د 2011 د نومبر په 11، قرارداد تعدیل شو ترڅو د محکمې خونې چت لوړوالی زیات شي، او د قرارداد ارزښت یې 2.67$ میلیونو امریکایي ډالرو ته زیات کړ.

دې تفتیش دا ارزونې کړي (1) آیا د محکمې خونې ساختماني کارونه د قرارداد اړتیاوو او اړوندو ساختماني ستندردونو په اساس بشپړ شوي او (2) او د پروان ولایت د عدلیې مرکز څخه د امریکا حکومت د ساختماني قرارداد مدیریت.

### موندني

د پروان عدلیې مرکز د محکمې خونې ساختماني کار بشپړ شوی ندی او ساختماني کار چې تر اوسه ترسره شوی، کمزوری دی. د بیلګې په توګه، د 2013 د می په تفتیش کې، سیګار په کانکریت کې یو شمیر درزونه، د ګول سیخونو کې د کانکریټ ډکولو بشپړ نه وو او سیخونه د ویلډنګ په ځای په سیمونو تړل شوي وو، چې کیدای شي په ودانی کې ستونزه رامنځ ته کړي. د 2012 په جنوری کې، INL او د امریکا دفاع وزارت CJIATF-435، چې دواړو پروژه تمویل کړي، تفتیش ترسره کړی او په ساختماني کارونو کې ستونزي، پشمول د بې کیفیته ساختماني مواد موندلي. د دغو تفتیشونو په اساس، د 2012 د جنوری په منځ کې، د امریکا دفاع وزارت BRCC د کار درولو لپاره CLC صادر کړ. لدې وروسته، د 2012 په مارچ کې، د امریکا د انجنیرانو قول اردو یو تفتیش ترسره کړی او د قرارداد فسخه کولو او د محکمې خونې بیرته داوطلبی سپارښتنه یې کړې.

له ساختماني پروژې څخه د CJIATF-435 نظارت ترسره کول د اړتیا په اساس نه وو. پروژه تر مهال ویش ډیر ژر شاته پاته شوه او سیګار داسې شواهد ندي پیدا کړي چې د پروژې د قراداد کولو افسر استازې (COR) په هره میاشت کې ارزونه ترسره کړې وي یا لکه څنګه چې اړتیا ده د BRCC قرارداد کولو افسر ته یې راپور وړاندې کړی وي. په حقیقت کې، COR چې په عسکري کې د ساختماني انجنیر آمر تجربه لري، سیګار ته ویلې چې هغه د بې تجربګی احساس کاوو ترڅو دا وګوري چې آیا قراردادي خپل فعالیت د قرارداد په اساس ترسره کول.


**د پروان عدلي مرکز کې لویدلو خطر:**
ویلډینګ په ځای له ویرونوځخه کار اخیستل شوی. (سیګار عکس)

د 2013 په جون کې، BRCC خبرتیا CLC ته ورکړي چې د عدلي مرکز محکمې خونې قرارداد د آسانتیا لپاره فسخه شوی، چې د امریکا حکومت ته له دلیل څخه پرته د فسخه کولو حق ورکوي. په هغه وخت کې، CLC ته $396,000 امریکایي ډالر تادیه شوي. څکه چې د غلطی لپاره نه مګر د آسانتیا لپاره قرارداد فسخه شوی، CLC کولای شول د قرارداد پاتې پیسو یا نږدې د $2.2 میلیونو امریکایي ډالرو غوښتنه وکړي. د دې راپور مسودې د آسانتیا لپاه د فسخې پریکړې بیا کتنې او هغه ګام ترڅو د قراردادي ناکامی حل کړي ترڅو پروژه د قرارداد د شرطونو په اساس بشپړ کړي، سپارښتنه کړې. د 2013 د اکتوبر په 3، د CENTCOM جنګ ساحې ملاتړ قرارداد کولو ګډه قوماندانی د آسانتیا لپاره د قرارداد ختمول فسخه کړل او قرارداد یې د غلطی لپاره ختم کړ. سیګار فکر کوي چې دا عمل د سپارښتنې موخې پوره کوي او څکه یې دا سپارښتنه د پای له راپور څخه لرې کړ.

### سپارښتني

سیګار سپارښتنه کوي چې د امریکا مرکزي قوماندانی، قوماندان، او د امریکا د بهرنیو چارو وزیر د کمزوري نظارت دلیللونه پیدا کړي او هغې پروسې تاسیس کړي چې دا ستونزه تکرار نشي.

### د اداري نظرونه

سیګار له INL او د CENTCOM جنګ ساحې ملاتړ قراداد کولو ګډې قوماندانی (C-JTSCC) څخه نظرونه لاسته روارړي. INL او C-JTSCC له سپارښتنې سره موافقه کړې ترڅو نظارت قوي کړي او هغه ګامونه یې تشریح کړي چې دوی یې د سپارښتنې تطبیقولو لپاره اخلي.

## تفتیش 14-10: ویلایتي روغتیا کلنیک: ودانی د ډیزاین ځانګړتیاو سره سمه نده جوړه شوې او هیڅ کله نده کارول شوې

د 2011 د فبروری په 1، د امریکا په څواکونو کې د کابل دندې ګډ څواک، د بنیاد وطن لمیتد ساختماني شکرت ته د $194,572 امریکایي ډالرو د قوماندان د بیړني څواب پروګرام (CERP) قرارداد ورکړ. قرارداد د 180 ورځو فعالیت غوښتنه کوله ترڅو د کابل ولایت، ولایتي په کلې کې د روغتیا یو نوی کلنیک جوړ کړي، چې یو پوړیزه درې ودانی، د روغتیا کلنیک 11 اطاقونه؛ محافظینو برج؛ او یو تشناب ولري.

د دې تفتیش لپاره سیګار ارزونه کړې چې آیا (1) ساختماني کارونه د قرارد اړتیاوو او اړوندو ساختماني ستندردونو په اساس بشپړ شوي، او (2) له تاسیساتو څخه د موخو لپاره کار اخیستل کیږي او ساتنه یې کیږي.

### موندني

د سیګار تفتیشونو موندل چې د ولایتي کلنیک له دریو ودانیو څخه هیڅ یو یې هم د ډیزاین ځانګړتیاوو په اساس نه وو جوړ شوي. د بیلګې په توګه، تشناب د یوه اطاق په څیر جوړ شوی وو چې څلور واړه تشنابونه یې درلودل، چې باید دوه جلا اطاقونه وای او په هر یوه کې دوه تشنابونه وای، چې کیدای شو په عین وخت کې نارینه او ښځې ورڅخه



**د ولایتي روغتیا په کلنیک** کې ودانۍ د ډیزاین خانګړتیاوو په اساس جوړې شوې نه وي او روغتیا کارکوونکي نه لیدل کیدل. (سیګار عکس)

کار واخلي. پردې برسیره، د 120 کیلو واټو جنریټر او د اوبو دوه بایلرونه ورک وو، او ساختماني پروژې له دوسیې څخه مهم اسنادونه، پشمول د قرارداد له ځانګړتیاوو څخه د توپیر تایید او د پروژې نظارت اسنادونه ورک وو سیګار په تیر کې د CERP د پروژې ورک شویو اسنادونو ستونزې په اړه راپور ورکړی وو او پداسې حال کې چې د پروژې د حساب ورکولو په برخه کې پرمختګونه شوي، مګر لدې پروژې څخه ورک شوي اسنادونه اوس هم ستونزې ته اشاره کوي.

سیګار دا هم وموندل چې کلنیک خالي وو ورڅخه هیڅ کار نه وو اخیستل شوی. د کابل دندې ګډ ځواک او د افغانستان عامې ورغتیا وزارت یوه موافقه لاسلیک کړه ترڅو د افغانستان حکومت ته د رسمي سپارلو تر وخت پورې د عامې روغتیا وزرات کلنیک ته کارکوونکي استخدام کړي او تجهیز یې کړي. مګر، د عامې ورغتیا وزارت چارواکي سیګار ته ویلي چې هغه له یوې لاسلیک شوي شته موافقې څخه خبر نه وو. پردې برسیره، چارواکو ویلي چې کلنیک د عامې روغتیا وزارت د عملیاتو او ساتنې په پروګرام کې شامل نه وو ځکه چې د امریکا حکومت ونشو کولای د دې وزارت پالیسی او پلان کولو ریاست سره همغږي وکړي او تاسیسات یې رسماً د افغانستان حکومت ته سپارلي ندي. وروسته لدې چې ساختماني کار بشپړ شوی، د پروژې دوسیه کې د افغانستان حکومت ته د پروژې د سپارلو اسنادونه نشته.

### سپارښتني

سیګار یو شمیر سپارښتني کړي ترڅو لدې تفتیش سره موندل شوي ستونزي حل کړي.

### د ادارې نظرونه

په هغه وخت کې چې دا راپور مطبوعاتو ولاړ، ادارو د دې راپور مسودې په اړه خپلو نظرونه بشپړ کول. د پلټنې پای راپور، پشمول د ادارې نظرونه او پر وړاندې یې د سیګار ځواب، کیدای شي د سیګار په ویب پاڼه www.sigar.mil کې وموندل شي.

## د سیګار سپارښتنو دریځ

د 1978 عمومي مفتش قانون، له سیګار څخه غواړي ترڅو د خپلو سپارښتنو دریځ په اړه راپور و رکړي. پدې ربع کې، سیګار هغه درې سپارښتني چې په 13-1 د کندز ملي اردو ګارنیزیون په تفتیش کې شامل وو، تړلي. له 2009 څخه د 2013 تر سپتمبر پورې، سیګار د پلټنو، خبرتیا، او تفتیش 101 راپورونه خپاره کړي او 335 سپارښتني یې کړي ترڅو مرستې بیرته لاسته راړل شي، د ادارې نظارت ښه شي او د پروګرام اغیز زیات شي. سیګار د دغو سپارښتنو نږدې 62% څخه زیات تړلي دي. عموماً د سپارښتنو تړل د سیګار په ارزونې دا معنی لري چې پلټل شوې اداره یا سپارښتنه تطبیق کړې یا یې په مناسبه توګه ستونزه حل کړې. په ځینو قضیو کې، یوه تړل شوې سپارښتنه د پلټنې په راتلونکو کارونه کې کتل کیږي.

د 1978 عمومي مفتش قانون، لکه څنګه چې تعدیل شوی، دا غوښتنه هم کوي ترڅو سیګار د تیر راپور مهمو سپارښتنو په اړه راپور ورکړي چې په اړه یې د سمون ګامونه ندې اخیستل شوي. پدې راپور کې، سیګار په 39 پلټنو او تفتیشونو کې د سپارښتنو په اړوند د ادارې کارونو نظارت ته دوام ورکړ.

د پلټنو دوه راپورونه شته چې له 12 میاشتو څخه زاړه دي او د پریکړې په تمه دي. سیګار اوس د دواړو راپورونو لپاره د اداري وروستي فعالیت بیا کتنه کوي، چې کیدای شي سیګار ته اجازه ورکړي ترڅو د سپارښتنو راپور تړل په پام کې ونیسي. پلټنه 11-13، په افغانستان کې د امریکا په مرستو باندې د ادارو تر منځ محدود او کمه همغږي د امریکا هڅې له ستونزې سره مخ کړي ترڅو د افغانستان مالي سکتور ته پراختیا ورکړي او د امریکا نغدې پیسې خوندي کړي، دا د 2011 جولای په 20 خپره شوې. دې پلټنې چې د سیګار په تیر ربع په راپور کې ورباندې خبرې شوې، څلور سپارښتنې لري. یوه سپارښتنه د امریکا سفیر لپاره وه ترڅو د مالي سکتور پراختیا پروګرام په اړه د ادارو ترمنځ همغږي ښه کړي؛ بله د امریکا دفاع او بهرنیو چارو وزیرانو لپاره وه ترڅو د افغانستان په اقتصاد کې د امریکا مرستو بهیر نظارت قوي کړي. پلټنې راپور 12-12، چې سرلیک یې د افغانستان 2011 مالي کال زیر بنا مرستو پروژې تر مهال ویش شاته دي او د ساتنې مناسب پلان نلري د 2012 جولای په 30 خپور شوی. پدې پلټنه کې نهه سپارښتنې شاملې دي ترڅو ګډې پریکړې اخیستل، همغږي، او د امریکا حکومت هغو ادارو ترمنځ نظارت ښه کړي چې د افغانستان زیر بنا مرستو پروژې تطبیقوی. دا سپارښتنې د امریکا کانګرس د خبرتیا او راپورونو پر وخت تطبیقولو، او د تخصیص شویو مرستو اخیستل او سپارلو په اړه هم وي.

د پنځو نورو پلټنو او تفتیشونو راپورونو لپاره چې اوس هم 12 میاشتو لپاره پرانیستي دي، سیګار په نظر سپارښتنې حل شوي او سیګار په تمه دی ترڅو موافقه شوي حلولو ګامونه عملي شي. پدې راپورونو باندې د سیګار تیر ربع راپور کې خبرې شوي.

## ځانګړې پروژې

د راپور ورکولو پدې موده کې، د سیګار ځانګړو پروژو دفتر په افغانستان کې له فساد سره مبارزې لپاره د امریکا حکومت یوه ستراتیژیک پلان او میکانیزم نشتون په اړه یو راپور خپور کړی. د ځانګړو پروژو دفتر د امریکا بهرنیو او دفاع وزارتونو او USAID پلانونو په اړه هم معلومات کړي ترڅو د ایتلاف ځواکونو له کمیدلو وروسته، په افغانستان کې د امریکا له لوري تمویل شوي بیارغونې باندې مناسب نظارت شتون ولري.

### ځانګړې پروژه 13-9: د امریکا فساد ضد هڅې: په افغانستان کې له فساد سره مبارزې لپاره یوه ستراتیژیک پلان ته اړتیا ده ترڅو پرمختګ تعقیب شي

د 2010 په اګست کې، سیګار راپور ورکړی چې امریکا افغانستان ته له 50$ میلیاردو امریکایي ډالرو څخه زیات بیارغونې مرسته برابره کړې، د فساد سره مبارزې د یوې هر اړخیزې ستراتیژۍ ګټې څخه پرته او دا چې د امریکا فساد ضد هڅو تر ډیرې کچې د افغانستان مهمو بنسټونو لپاره کمه مرسته برابره کړې. له هغه وخت څخه، د افغانستان بیا رغونې لپاره 46$ میلیارده اضافي امریکایي ډالر تخصیص شوي دي.

دا بیا کتنه دې لپاره پیل شوې ترڅو د 2010 راپور موندنې تعقیب شي، په ځانګړې توګه د امریکا بهرنیو چارو وزارت د فساد ضد یوې هر اړخیزې ستراتیژۍ تاسیسول او دا چې په افغانستان کې د امریکا فساد ضد موخو رسیدلو د پرمختګ ارزونه وشي. موخې دا وي

**بشپړ شویو ځانګړو پروژو راپورونه**

- ځانګړې پروژه 13-9: فساد ضد هڅې: په افغانستان کې فساد سره مبارزې لپاره یوه ستراتیژیک پلان او میکانیزم ته اړتیا ده ترڅو پرمختګ تعقیب شي
- ځانګړې پروژه 14-4: د نظارت لاس رسي معلومات

(1) په افغانستان کې د فساد کمولو لپاره د امریکا ستراتیژیک موخې وپیژندل شي، او (2) او د دغو موخو په وړاندې د امریکا ادارو ټولیز پرمختګ ارزونه وشي.

**موندنې**

په افغانستان کې د امریکا فساد ضد فعالیتونه د امریکا یوې هر اړخیزې ستراتیژۍ یا اړوند لارښود له لورې یې لارښونه نه کیږي، چې د امریکا هڅو لپاره واضح موخې ولري او فساد سره مبارزې او حساب ورکولو زیاتولو لپاره د افغانستان حکومت وړتیا زیاته کړي. د امریکا بهرنیو چارو وزارت د افغانستان لپاره د امریکا 2010 فساد ضد ستراتیژۍ مسوده هیڅ بشپړه کړې نده او د ادارې چارواکو په وینا، د ستراتیژۍ مسوده او تطبیقولو اړوند پلان یې نور تر کار لاندې ندي. د فساد ضد یوې ځانګړې او اړوندې ستراتیژۍ په نه شتون کې، د ادارې چارواکو خبر را کړی چې دوه اسنادونه د هغوی فساد ضد اوسنیو هڅو لارښوونه کوي: د توکیو د ګډو حساب ورکولو کاري چوکاټ او د افغانستان لپاره د امریکا ملکی-عسکري ستراتیژیک کاري چوکاټ. مګر، سیګار موندلې چې دواړه اسنادونه هغه ځانګړې موخې نلري ترڅو د فساد ضد پایلې ورسره اندازه شي او د امریکا حکومت وکولای شي خپل پرمختګ ورسره اندازه کړي.

لکه څنګه چې په افغانستان کې د امریکا عسکري او ملکي شتون کمیږي، د امریکا ادارې پلان لري ترڅو هغه پروګرامونه او فعالیتونه تطبیق کړي چې فساد سره مبارزې لپاره د افغانستان حکومت حساب ورکول او وړتیا زیاتوي. د دې پروګرامونو او فعالیتونو نظارت لپاره، په کابل کې د امریکا سفارت لوړ پوړو چارواکو هڅه کړې ترڅو د فساد ضد هغو کاري ډلو له لارو چې په 2012 کې تاسیس شوي د ادارو بیلا بیل فساد ضد پروګرامونه او اړوندې هڅې همغږې کړي. دا کاري ډلې د افغانستان د بنسټیزې وړتیا جوړولو، مالي مقررات او عامه مالي مدیریت ښه کولو، او د عواید ټولولو زیاتولو پراخو موخو تر لاندې د ادارو فعالیتونه همغږي کوي. مګر، دا ډلې د فساد ضد پراخو موخو سره د خپلو پروګرامونو منځنی او اوږدې مودې پرمختګونه نه اندازه کوي. په پایله کې، د امریکا بهرنیو چارو وزارت او د کابل سفارت اوس هم نشی کولای د افغانستان حکومت د وړتیا او فساد سره مبارزې لپاره د امریکا حکومت پرمختګ ارزونه وکړي.

**سپارښتنې**

سیګار سپارښتنه کړې چې د بهرنیو چارو وزیر: (1) په افغانستان کې د فساد ضد هڅو لپاره یوه هر اړخیزه او همغږې شوې ستراتیژۍ، پشمول د موخو او اندازې وړ پایلې، جوړه او تایید کړي؛ (2) د فساد ضد موخو تطبیقولو لپاره یو نوی عملیاتي پلان جوړ کړي چې د دغو موخو رسیدلو لپاره نښې او مهال ویښ ولري او د اړتیا وړ مرستو او کارکوونکو سرچینو حساب وکړي.

د دې راپور په ځواب کې، د امریکا بهرنیو چارو وزارت د پایلو اندازه کولو لپاره د روښانو موخو او نښو تاسیسولو اهمیت سره موافقه کړې. پردې برسیره، زمونږ د موندنو پایلو له کبله، د امریکا بهرنیو چارو وزارت د فساد ضد په نښه شوي موخې، نښې او پلانونه جوړوي ترڅو لدغو سره د امریکا هڅې او سرچینې توزیع او ارزونه وشي.

### ځانګړې پروژه 14-4: د نظارت لاس رسي معلومات

د 2013 اکتوبر په 10، سیګار د امریکا د امریکا بهرنیو او دفاع وزیرانو او USAID ریس ته لیکلي ترڅو د هغوی پلانونو په اړه معلومات لاسته راوړي ترڅو د ایتلاف ځواکونو له کمیدلو وروسته په افغانستان کې د امریکا له لوري تمویل شوې بیارغونې پروژې مناسب نظارت ترسره شي. د امریکا اردو چارواکو سیګار ته خبر ورکړی چې هغوی کولای شي د یوه پرمختللي روغتیا تاسیساتو شاوخوا کې ملکي کارکوونکو لپاره تر یوه ساعت پورې دواړو لورو لاس رسی برابر کړي او کیدای شي د نظارت لاس رسي لدغو ساحو څخه دباندې بیارغونو ساحو لیدنې غوښتنه به رد شي. د نورو معلوماتو لپاره د ربع مهمې خبرې په 46 او 47 پاڼو کې وګورئ.

# نظارت لاس رسي ننګونې

له هغه وخت څخه چې ځانګړی عمومي مفتش جان اف ساپکو یو کلا وړاندې تعین شو، سیګار د ایتلاف ځواکونو کمیدلو په اړه اندیښنه درلوده ترڅو په افغانستان کې د امریکا له لورې تمویل شوې بیارغونې هڅې مناسب نظارت ترسره شي.

د سیګار کارکوونکې له وړاندې ستونزې تجربه کړې ترڅو د جنګ ساحو ته د سفر کولو لپاره عسکري ګزمه لاسته راوړي. د بیلګې په توګه، د دې کال په پیل کې، سیګار د افغانستان په شمال کې د 72$ میلیونو امریکایي ډالرو په ارزښت زیربنا پروژو څخه لیدنه نشوه کولای ځکه چې دا په هغه ځای کې دي چې د امریکا ملکي کارکوونکي نشی کولای هلته ورشي. د امریکا اردو چارواکو سیګار ته ویلي چې په راتلونکې کې هغوی یووازې کولای شي ملکیانو ته د یوه پرمختللي روغتیایي تاسیساتو شاوخوا یوه ساعت کې لاس رسی برابر کړې. که څه هم استثناوې به شتون ولرې، مګر د بیارغونې ساحو لپاره ډېری غوښتنې د دغو نظارت لاس رسي ساحو څخه بهر کیدای شي رد شي. په ورته توګه، د امریکا بهرنیو چارو وزارت سیګار ته خبرداری ورکړی چې د امریکا دفاع وزارت مرسته څخه پرته او په بیړني روغتیایي ملاتړ برابرولو باندې محدودیتونو له کبله د هغوی توان د بیا رغونې ساحو رسیدلو لپاره به ډېر محدود شي.

سیګار باور لرې چې په نظارت باندې دا محدودیت به د امریکا او ایتلاف ځواکونو پایګاوو تړلو سره لاهم خراب شي. که څه هم دا یو ستونزمن کار دی چې په افغانستان کې د امریکا راتلونکي شتون باندې وړاندوینه وشي، مګر کیدای شي د سپارلو په پای کې به د افغانستان له 21% څخه ډېر په د امریکا ملکي نظارت کارکوونکو لپاره د لاس رسي وړ نه وي، دا له 2009 څخه 47% کموالی دی.

د امریکا اردو او ملکي چارواکي زیات کار کوي ترڅو نورې لارې پیدا کړي او د امریکا مالیې ورکوونکو پانګونه خوندي کړي. د بیلګې په توګه، په افغانستان کې د USAID ماموریت پدې لټه کې دی ترڅو د نظارت او بیارغونې ساحو څخه لیدنې مرستې لپاره له دریم ګړو څخه کار واخلي. پردې برسیره، د امریکا بهرنیو چارو وزارت کارکوونکي پدې فکر دي ترڅو د نظارت لاس رسي لپاره بیړنی روغتیا او امنیتي ځواکونه د نظارت لاس رسي ساحو ته نږدې ځای په ځای کړي.

دې لپاره چې له امریکا سره مرسته وشي ترڅو دې ننګونو لپاره چمتو شي، سیګار به پلټنې ترسره کړي او نور نوښتونه به پیل کړي ترڅو په افغانستان کې د محدود نظارت پایلو آزموینه وکړي. سیګار د امریکا بهرنیو چارو او دفاع وزیرانو او د USAID ریس ته لیکلي ترڅو په افغانستان کې د امریکا له لورې تمویل شویو بیارغونې لپاره د مناسب نظارت ترسره کولو لپاره د هغوی پلانونو په اړه معلومات وکړي. سیګار دا پلان هم لرې ترڅو په راتلونکو میاشتو کې د نظارت او تطبیق کوونکو ادارو، غیر حکومتي سازمانونو، او نورو یوه غونډه جوړه کړي، ترڅو د دریم ګړیو د نظارت، لرو پرتو سیمو نظارت، او د عنعنوي نظارت په ځای د نورو لارو په شو کارونو باندې خبرې وکړي.

## په افغانستان کې د نظارت لاس رسي کميدل 2009-2014

### نظارت لاس رسی 2009




### نظارت لاس رسی 2011




### نظارت لاس رسی 2013




### نظارت لاس رسی 2014




سرچينې: د امريکا معلوماتو مرکز، 9/25/2013، د 2009، 2011، او 2013 کلونو لپاره د خلاصو سيشنونو او روغتيايي تاسيساتو په اساس، او د سيکار د 2014 د خلاصو ستيشنونو او روغتيايي تاسيساتو په اساس دي. د نظارت لاس رسي تخميني ساحې د نښه ممکنه حالتونو په اساس د لاس رسي استازيتوب کوي او د اراضي، هوا، او امنيتي شرطونو محدوديتونه پدې کې نه راځي.

## تحقیقونه

پدې ربع کې، سیګار تحقیقونو پایله د 63$ میلیونو امریکایي ډالرو چې په تقلب لاسته رواړل شوي وي کنګل شوي، له 1.5$ میلیونو امریکایي ډالرو څخه زیات خوندي شوي، 344,000$ امریکایي ډالر بیرته لاسته رواړل شوي، او 10,000$ امریکایي ډالر سپمول شوي دي. په امریکا کې، سیګار تحقیقونه د دوو نیولو، دریو بندي کولو، له 95,000$ امریکایي ډالرو څخه زیات جریمې او بیرته لاسته راوړنې حکم، دوو تورونو، یو جرمي معلومات، یو جرمي شکایت، او څلورو جرمي اعترافونو سبب شوي. په افغانستان کې، پنځه افغان وګړي د سیګار له تحقیقونو وروسته نیول شوي.

د راپور ورکولو پدې موده کې، سیګار 64 نوي قضیې پیل کړي او 47 یې تړلي، چې دا د فعالو تحقیقونو شمیره 306 ته رسوي، لدغو څخه سیګار د 249 مشره اداره وه، لکه څنګه چې پدې عکس 2.2 کې ښودل شوي. سیګار 14 انفرادي کسان او 17 شرکتونه تعلیق او بندیز ته هم راجع کړي، چې دا کار په افغانستان او امریکا کې د هغو شواهدو په اساس وو چې د دې اداري تحقیقونو یوې برخه کې راټول شوي وو.

### 63$ میلیونه امریکایي ډالرو په تقلبه سره لاسته رواړل شوي جرمي پیسې کنګل شوي

په افغانستان کې د فساد په اړه د سیګار تحقیق، د لمړي ځل لپاره دې سبب شوی چې د امریکا حکومت هڅه وکړي ترڅو هغې پیسې ضبط کړي چې د یوه افغان قراردادي د بانک په حساب کې وي. د امریکا عدلیې وزارت په وروستیومیاشتو کې 63$ میلیونه امریکایي ډالر چې په تقلب سره لاسته رواړل شوي وي جرمي پیسې چې په افغانستان، د امریکا او بهرنیو نورو اړوندو بانکی حسابونو کې وي، کنګل کړي. د بانک دا حسابونه د حکمت الله شادمان وو، د افغانستان ترانسپورت یو قراردادي، هغه پدې تورن دی چې د امریکا حکومت څخه له 77$ میلیونو امریکایي ډالرو څخه زیات په تقلب لاسته رواړي ځکه چې هغه د امریکا اردو لپاره موادو رسول قیمت یې پورته کاوو.

سیګار وموندل چې د 2010 نومبر څخه د 2012 تر مارچ پورې، حکمت الله توطیه جوړه کړې وه ترڅو د امریکا اردو موادو ترانسپورت کولو لپاره غیر قانوني پیسې لاسته راوړي. د امریکا اردو لپاره د موادو بیا برابرول قراردادونه لړ تر لړه 5,421 ترانسپورت کولو ماموریتونه وو چې ارزښت یې 77,920,605$ میلیونه امریکایي ډالرو وو. حکمت الله پدې تورن دی چې د قرارداد لاسته راوړلو لپاره یې رشوت او غیر قانوني پیسې ورکړې او د قرارداد داوطلبی باندې یې اغیز کړی.

د امریکا یوه قاضي د 77$ میلیونو امریکایي ډالرو چې د حکمت الله په حسابونو کې په افغانستان نړیوال بانک کې ساتل شوې وې د ضبطولو حکم صادر کړ. د ضبطولو حکم د افغانستان حکومت ته د فساد په وړاندې د ملګرو ملتونو کنوانسیون په اساس، د دوه اړخیزې قانوني مرستې غوښتنې په توګه لیږل شوی. پردې برسیره، قاضي د نیولو حکم هم صادر کړ د ملکیت ضبطولو او د شخص په وړاندې دعوا اقامې څخه توپیر لري، دا یې د افغانستان حکومت ته ولیږل او د حسابونو کنګل کولو غوښتنه یې وکړه. د امریکا غوښتنې په ځواک کې د افغانستان لوی څارنوال دفتر په هدایت، د افغانستان نړیوال بانک دوه حسابونه کنګل کړل. مګر، د 2013 په اپریل کې، امریکا پوه شوه چې د افغانستان نړیوال بانک په حسابونو کنګل لري شوی او حکمت الله پیسې لدې بانک څخه د الفلاح بانک

عکس 2.2

**د سکار پلټنې: د سپتمبر 2013 راهیسې د خلاصو پلټنو شمیره**




سرچینه: د سګار د پلټنو ریاست، 10/10/2013.

او امارات NBD بانکونو ته په متحده عربي اماراتو کې انتقال کړي. د 2013 په مې کې، د امریکا عدلیې وزارت یو تعدیل او تایید شوی شکایت له افغانستان نړیوال بانک څخه د لیږل شویو ملکیتونو ضبطولو شکایت وړاندې کړ، او د امریکا د حوزې محکمې، د کولمبیا په حوزه کې، د اړوندو بانکونو په حسابونو کې د ملکیت ضبطولوحکم صادر کړ.

## د امریکا یو سرپرک مشر او د امریکا یوه عسکر د تیلو د غلا په توطیې اعتراف کړی

د 2013 د اګست په 29، سرپرک مشر بلال عبدالله د امریکا د کنټکي لویدیځې حوزې په محکمه کې د رشوت او رشوت ورکولو توطیې په تورونو اعتراف کړی، پداسې حال کې چې د 2013 سپتمبر په 5، ستیفني شاربانو د امریکا د دینور حوزې په محکمه کې په ورته تورونو اعتراف کړی. د امریکا په اردو کې د عبدالله او شاربانو، پخوانی متخصص جرمي اعترافونه سره د محاکمه کولو شمیره پنځو ته رسیږي چې د سیګار هغو تحقیقونو پایله وه چې په افغانستان کې د مخکنی عملیاتي پایګاه فینتي کې د تیلو غلا په اړه ترسره شوي وو. تحقیق وښودل چې عبدالله، شاربانو، بریدمن کرستوفر ویور، او جاناسن هایټاور، یوه پخواني قراردادي، ټولو له افغان وګړو سره توطیه جوړه کړې ترڅو ورسره مرسته وکړي او د نغدو پیسو په بدل کې له پایګاه څخه تیلو غلا کړي.

د تحقیق په سر کې، د شکمنو ایمیلونو او ټولنیزو مطبوعاتو حسابونو لپاره د تلاشی 13 حکمونه تر سره شوي. د محتویاتو له ارزونو وروسته، د سیګار، د فیدرال تحقیق بیرو (FBI)، د امریکا اردو جرمي تحقیق قوماندانۍ (CID)، او د دفاع جرمي تحقیق خدمات (DCIS) استازو هغه ممکنه دلیل جوړ کړ ترڅو د په کالارادو او تکزاس کې د ویور او شاربانو او هایټاور په کورونو کې د تلاشی حکم او ترسره کول لاسته راوړي. د تلاشیو په وختونو کې، ویور، شاربانو او هایټاور ټولو منلي چې د افغان امریکن آرمي سرویسز له یوه افغان استازې سره یې د فینتي مخکنی عملیاتي پایګاه څخه د تیلو غلا کولو آسانتیا لپاره توطیه جوړه کړې. ویور او هایټاور ویلې چې سرپرک مشر بلال عبدالله هم پدې توطیې کې لاس درلود. کله چې سیګار د 2012 په جون کې له عبداله سره مرکه وکړه، هغه منلي چې له افغان قراردادي څخه یې 50,000$ امریکایي ډالرو رشوت لاسته رواړی. ویور او هایټاور له وړاندې محاکمه شوي. د عبداله بندی کول به د 2014 په مې کې ترسره شي.

## د امریکا میسسیپي د جنوب حوزې په محکمه کې بندي شو ترڅو درې میاشتې

د 2013 د اګست په 15، کریستوفر برادشو د امریکا د په بند کې تیرې کړي او درې کلونو تر لارښوني لاندې له بند څخه وروسته تیرې کړي. براد شو په جون کې د بریښنا توطیې په یوه تور او له حکومت څخه د ملکیت غلا په یوه تور د جرم اعتراف کړی. د هغه له بند څخه وروسته درې میاشتې به تر بریښنایي څارنې لاندې وي، دا به دوه ځلې یو بل څخه وروسته ترسره شي. هغه ته دا حکم هم شوی چې 32,300$ امریکایي ډالر بیرته تادیه کړي، 7,500$ امریکایي ډالر جریمه ورکړي او 200$ امریکایي ډالرو د ځانګړې ارزونې لپاره ورکړي.

د اردو احتیاط یوه کارکونکي چې د سلیرنو په مخکنی عملیاتي پایګاه کې د 2010 له اپریل څخه د 2011 تر مارچ پورې، مالي افسر وو، برادشو له خپل مقام څخه کار اخیستلی ترڅو د خپل او دوو توطیه کوونکو اردو کریډیت کارتونو کې نغدو پیسو ارزښت ډیر کړي.

براد شو نږدې $32,300 امریکایي ډالر ارزښت کریډیت کارتونو کې اضافه کړي، مګر دغه معاملات یې د معاملاتو په ورځني راپور کې ثبت کړي ندي، چې د بریښنا له لارې له افغانستان څخه هره ورځ د باستون فیډرال ریزرو بانک ته وړاندې شوي.

براد شو ته امر وشو ترڅو د 2013 نومبر تر 15 پورې چارواکو ته ځان وسپاري.

## د تحقیق په پایله کې $1.5 میلیونه امریکایي ډالر خوندي شوي

د 2013 په جولای کې، سیګار د تورونو په اړه یو تحقیق پیل کړ چې د افغانستان ترانسپورټ یوه شرکت، کویک لوجستیک ترانسپورټیشن، په کمپ فینیکس کې د وچو او درنو کارګو لپاره غلط ترانسپورټي حرکتونه وړاندې کړي وو. لمړنیو تورونو ښودلې چې 120 تقلبي حرکتونه چې ارزښت یې نږدې $450,000 امریکایي ډالر دی، شکمن وو، مګر اضافي تحقیق تر 421 تقلبي حرکتونه پیژندلي چې ټول ارزښت یې $1.5 میلیونه امریکایي ډالر وو. په کمپ فینیکس کې د عمومي قراداد کولو ملاتړ مرکز د حرکتونو لپاره تادیات رد کړي او کویک لوجستیک ترانسپورټیشن ته یې خبر ورکړی چې کیدای شي قرارداد یې ختم شي.

## د غلا شویو تجهیزاتو بیرته لاسته راوړل $300,000 امریکایي ډالرو سپمولي

سیګار مرسته کړې ترڅو درې جنراتورونه چې ارزښت یې $302,510 امریکایي ډالرو وو بیرته لاسته راوړي. سیګار خپل تحقیق وروسته لدې پیل کړ کله چې یې معلومات لاسته راوړل چې د یوه افغان ساختماني شرکت کار کوونکي په کمپ لیدرنیک کې له عسکري ساحو څخه ساختماني مواد، زړې اوسپنې، او کانتینرونه غلا کول او دا مواد یې نورو قراردادیانو ته خرڅول. د 2012 په جون کې د کمپ لیدرنیک له څلورمې درجې موادو څخه د پنځو جنراتورونو غلا راپور ورکړ شوی او زیکرالله شهیم، له 77 ساختماني شرکت سره یو ژباړنکی د اصلي شکمن په توګه وپیژندل شو. د سیګار یوه ځانګړي استازي او د افغانستان لوی څارنوال دفتر له شهیم سره مرکه وکړه. هغه دا منلي چې جنراتورونه یې غلا کړي او درې یې د زړو اوسپنو یوه سیمیز دکاندار ته پلورلي.

وروسته بیا د زړو اوسپنو دکاندار دا درې جنراتورونه یوه سیمیزه قراردادي ته پلورلي، هغه بیا بلک ووډ ساختماني شرکت ته پلورلي. دې شرکت بیا د 2012 په جولای کې کمپ لیدرنیک ته 19 جنراتورونه پلورلي. وروسته بیا شمیرلو ښکاره کړې چې پدغو جنراتورونو کې هغه درې جنراتورونه چې غلا شوي راپور ورکړ شوي وو، شامل وو. د افغانستان لوی څارنوال دفتر شهیم ونیو او له ضمانت پرته یې په لشکر ګاه کې بندي کړ. هغه هلته د محکمې په تمه دی. د افغانستان لوی څارنوال دفتر اوس هم د زړو اوسپنو دکاندار په لټه کې دی. د 2013 د سپتمبر په 16، د امریکا اردو اداري د 2018 مارچ تر 7 پورې، شهیم د امریکا حکومت سره له قرارداد کولو بند کړ.

## یو افغان وګړی ونیول شو او د $42,000 امریکایي ډالرو غلا شوي لرګي بیرته لاسته راوړل شول

د 2013 د جولای په 9، د سیګار او افغان قانون پلي کولو استازو چې د بګرام په هوایي ډګر کې یې تحقیق کاوو، یو افغان لاری ډریور ولید چې د نږدې $41,640 امریکایي ډالرو لرګي

يې د ساختماني موادو برابرولو له ساحې څخه بارول. د لارۍ ډرېور بيا د بګرام هوايي ډګر
د وتلو کنترول دروازې کې د لرګيو لپاره د ټرانسپورټ حرکت تقلبي غوښتنه وړاندې کړې.
کله چې استازو هغه ودروو او پوښتنه يې ورڅخه وکړه، ډرېور ادعا وکړه چې يوه ناپېژندل
شوي افغان له هوايي ډګر څخه بهر کرايه کړې ترڅو لارۍ بګرام هوايي ډګر ته دننه يوسي،
مواد بار کړي، او لارۍ بېرته هغه ته يوسي. ډرېور وويل چې هغه دا کار څو ځلې په تير کې
کړی او هر ځلې هغه ته 2,000 افغانۍ (نږدې 35$) ورکړ شوي.

افغان څارنوال او تحقيق کوونکی چې له سيګار سره يې کار کاوو هڅه وکړه ترڅو د لارۍ
ډرېور سره د بګرام هوايي ډګر څخه بهر د ساتلو ځای ته ولاړ شي، چيرته چې هغه ويلې
وو هغه د لارۍ له خاوند سره ليدلي. مګر، سيګار دا عمليات هغه وخت وځنډول کله چې
د بګرام هوايي ډګر تر غير مستقيم اور لاندې راغی، او دې کار د لارۍ خاوند ته اجازه ورکړه
چې وړاندې تر دې چې سيګار استازي هغه ونيسي، له ساحې څخه ولاړ. د افغانستان لوی
څارنوال دفتر او افغان ملي پوليسو وروسته د لارۍ ډرېور ونيو. هغه لارۍ چې غلا شوي لرګي
پکې بار وو ضبط شوه او اوس د بګرام هوايي ډګر ساتلو په ساحه کې ساتل شوی. سيګار به
د پروان په ولايت کې لوی څارنوال له دفتر سره پدغه تحقيق کار کولو ته دوام ورکړي.

## د ټينيسي يوه جوړه د امريکا دفاع وزارت له يوه فرعي قراردادي څخه د 6.9$ ميليونه امريکايي ډالرو ګټې اخيستلو لپاره محاکمه کيږي

د فيدرال يوه لويه جوري د بريښنا تقلب او زيات بريښنايي تقلب د توطيو په تورونو په
هغې توطيې کې که کيت جانسن او اجلا جانسن محاکمه کوي چې غوښتل يې د غير قانوني
پيسو اخيستلو او نورو نومونو په کار اخيستلو د اردو له يوه فرعي قراردادي څخه 6.9$
ميليونه امريکايي ډالر واخلي. د محاکمې په اساس، متاهله جوړه، چې دواړه د ټينيسي له
ماريويل څخه دي، د توطيې د دغو پيسو يوې برخې څخه په نورو شيانو کې يو شمير قيمتي
موټرونه او تر 191,000$ امريکايي ډالرو څخه زيات زيورات اخيستي.

سيګار، DCIS، FBI، او د اردو CID يو تحقيق وروسته لدې پرانيست کله چې د اردو
CID راپور تور لګولی وو چې کيت جانسن، د امريکا يو قراردادي پروګرام مدير، او د کورنۍ
غړي يې د قراداد مواد اخلي او په داوطلبۍ کې لاسوهنه کوي ترڅو قراردادونه هغه شرکت
ته ورکړي چې د انجلا جانسن له او بل خپلوان يې خاوندان دي او اداره کيږي. کيت جانسن
باندې تور دی چې هغه له خپلې ميرمن څخه وغوښتل چې بل جلا شرکت جوړ کړي او
بيايې هغه د سوداګرۍ مدير په توګه وټاکله. راپور دا تور هم لګوي چې د جانسن جوړې
نږدې ملګرو نور شرکتونه تاسيس کړي ترڅو کيت جانسن وکولای شي قراردادونه هغوی ته
را وګرځوي. د راپور په اساس ملګرو بيا کيت جانسن ته د شل شرکت له لارې چې د جانسن
خپلوانو په نوم اداره کيږي غير قانوني پيسې ورکولې.

## د امريکا دفاع وزارت قراردادي د امريکا قوي شي

د 2013 د اګست په 7، د امريکا دفاع وزارت يو پخوانی قراردادي، لاويت دامينيک د امريکا د
نور کارولينا ختيځې حوزې په محکمه کې حاضر شو او د دريو کلونو لاربښوونې لاندې ضمانت
په اساس بندي شو، 500$ امريکايي ډالر جريمه شو او 3,239$ امريکايي ډالر بيرته تاديه شول.

د سیګار له یوه تحقیق وروسته، دامینیک د 2012 په نومبر کې د امریکا حکومت مرستو غلا کولو تور په جرم اعتراف کړی. پداسې حال کې چې په افغانستان کې یې کار کاوو، دامینیک د امریکا له حکومت څخه پدې توګه تقلب کړی چې د امریکا د سره صلیب د نورد کارولینا، فایتیویل دفتر ته یې تیلفون کړی او غلطه ادعا یې کړې چې د هغې ورور د ویسکانسن په میلواکي کې مړ شوی. د امریکا سره صلیب بیا د مرګ دا غلطه ادعا افغانستان ته لیږلې، دامینیک لدې څخه ګټه اخیستې ترڅو له وړاندې د رخصتی پیسې او د سفر مرستې واخلي او د درواغو جنازې که برخه واخلي. د ادعا لګښتونه په تقلب سره د امریکا حکومت ته بل شوي.

## د امریکا بهرنیو چارو وزارت یو پخوانی قراردادي بندي شو

د 2013 د سپتمبر په 19، د دیلاویر په حوزه کې، کینیت مایکل بروپهي، د امریکا بهرنیو چارو وزارت یو پخوانی قراردادي، د خپلې محاکمه د عامه چارواکې له لوري د غیر قانوني پیسیو اخیستلو په جرم اعتراف کړی. محکمې د اعتراف موافقه منلې او سپارښتنه کړې چې بروپهي شپږ میاشتې بندي شي، شپږ میاشتې تر لاروښوونې لاندې له بند څخه وروسته، او $30,000 امریکایي ډالر بیرته تادیه کړي، چې دا د هغه له غیر قانوني اخیستل شویو پیسو سره برابرې دي. پردې برسیره، له بروپهي څخه $5,500 امریکایي ډالر ضبط شوي او سیګار ساتلي او لکه څنګه چې محکمې حکم کړی د بیرته تادیې یوه برخه ورکړې.

په کابل کې د امریکا سفارت د 2009 له می څخه د 2010 تر نومبر، بروپهي استخدام کړی وو ترڅو د نورو کارونو ترڅنګ د بندیخانې د بیارغونې قراداد مدیریت وکړي. بروپهی له هغه افغاني شرکت څخه $30,000 امریکایي ډالر اخیستي چې هغه د بندي خانې قراردادونو په اړه اداره کاوو. د راپور په اساس افغان قراردادي له بروپهي څخه مرسته غوښتې ترڅو د USACE قرارداد ختمولو په وړاندې محاکمې سره مرسته وکړي. بروپهي شخصاً د USACE یوه چارواکې سره خبري کړي، د هغو اسنادونو په لکیلو کې یې مرسته کړې چې USACE ته وړاندې کیدل، او USACE سره د افغاني شرکت اړیکو لپاره یې عمومي مشوره برابره کړې. پردې برسیره، بروپهي په پیل کې فیدرال چارواکو ته د غیر قانوني پیسو په اړه غلط راپور ورکړی.

د 2013 د اپریل په 29، د امریکا بهرنیو چارو وزارت، د امریکا حکومت سره د بروپهي نور قرارداد کول وځنډول. د پای بندیز اوس د بروپهي د جرمي محاکمې په اساس په تمه دی.

## افغان قراردادي د پلچکونو تر لاندې د ځالیو په نه نصبولو نیول شوی

د 2013 د جولای په 22، بسم الل احمدزی، د مونیب وروڼو ساختماي شرکت ریس، په کابل کې د لوی څارنول دفتر له لوري د تقلب په تورونو ونیول شو. د سیګار او افغانستان لوی څارنوال دفتر له لورو یوه تحقیق دې پایلې ته رسیدلی چې د مونیب وروڼو ساختماني شرکت د امریکا حکومت ته تقلبي اسنادونه وړاندې کړي او ادعا یې کړې چې د غزني په ولایت کې د یوه مهم سړک په اوږدو کې د پلچکونو لاندې ځالی نصب کړي دي. د ځالیو سیستم دې لپاره وو چې د یاغیانو له لوري د پلچکونو لاندې د چاودیدونکو توکو کیښودلو مخه ونیسي. سیګار تایید کړې چې د ځالیو هغه سیستم چې د مونیب وروڼو ساختماني

شرکت یې په اړه بل جوړ کړی وو، هیڅ نه وو نصب شوي او سیګار ویلې چې دې کار یوه ساحه جوړه کړه چې یاغیانو د امریکا ځواکونو وژلو لپاره چاودیدونکي توکي ایښې.

## د امریکا یو کارکوونکی د غیر قانوني پیسو اخیستلو او بریښنایي تقلب

لپاره د 2013 اګست په 22 بندي شو، ایلتون موریس مککیب III د 10 میاشتو لپاره وروسته لدې بندي شو چې هغه د بریښنایي تقلب او غیر قانوني پیسو اخیستلو په تور مجرم وګڼل شو. د بند مودې بشپړولو وروسته به مککیب د دوو کلونو لپاره تر لارښوونې لاندې آزادی تیره کړي. د لویزیانا د ختیځې حوزې قاضي پر هغه باندې د 60,000$ امریکایي ډالرو مدني بیرته تادیه کول او 100$ امریکایي ډالرو ځانګړې ارزونې لپاره هم تحمیل کړې.

د 2009 له جون څخه تر دسمبر پورې، مکیب په افغانستان کې د یوه امریکایي شرکت لپاره کار کاوو، پداسې حال کې چې د لاس انجلس په سلیدل کې یې خپل هستوګنه ساتلې وه. پدې وخت کې، مککیب ته دنده ورکړ شوه ترڅو د کندهار هوایي ډګر لپاره د ساختماني پروژو څلور فرعي قرادادونه تیار کړي، پشمول د یوه فرعي قرارداد ترڅو د رنوي او هنګرونو ترمنځ یوه پرده جوړه کړي.

مکیب د پردې فرعي قرارداد د 3.2$ میلیونو امریکایي ډالرو په ارزښت وړاندې کړ. په هغه وخت کې هغه له فرعي قراردادي څخه لکه څنګه چې هغه ویلې د 60,000$ امریکایي ډالرو "پور" غوښتنه کړې. که څه هم مککیب دې پیسو ته پور ویلې، هغه او فرعي قراردادي د بیا تادیه کولو یا ټکټانه شرایط تاسیس کړي نه وو. د 2009 د جولای په 18، فرعي قرادادي مککیب ته 7,000$ نغد امریکایی ډالر ورکړې. د 2009 د جولای په 22، فرعي قرادادي د لبنان له بیروت څخه نور 53,000$ امریکایي ډالر د بریښنایي سپارلو له لارې د لویزیانا بانک د مککیب میرمنې حساب ته لیږلي. د بانک سپارلو فورمې ویلې چې دا پیسې "د مککیب له میرمن څخه د موټر اخیستلو لپاره وې."

مکیب د 2012 په دسمبر کې د هغه د لویزیانا په کور کې د سیګار، DCIS، FBI، اردو CID، او هوایي ځواکونو ځانګړو تحقیقونو دفتر استازو له لوري ونیول شو. هغه د 2013 په می کې د امریکا په وړاندې د جرم ترسره کولو توطیې باندې اعتراف وکړ.

## درې افغان وګړي د د وهلو او غلا لپاره نیول شوي

د 2013 جولای په 19، د افغانستان لوی څارنوال دفتر د بګرام په هوایي ډګر کې غلا په اړه د سیګار له تحقیق څخه وروسته درې افغانان ونیول. دری افغانان، ضمیر شاه، خان زرین، او روح الله، باندې تور دی چې هغوی هغه افغان لاری ډریو څخه پیسې اخیستي او وهلی کله چې د جولای په 18 د بګرام هوایي ډګر ته د ننوتلو په وخت کې هغوی ته رشوت نه ورکاوو.

دغو کسانو د نصیب قریشي ساختماني شرکت لپاره کار کاوو، هغه قراردادي وو ترڅو کارکوونکي برابر کړي او له هغو لاری ډریورانو څخه اسنادونه راټول کړي چې بګرام هوایي ډګر دروازې سره ننوتلو په تمه وو. هغوی د "جنجال کوونکو" په نوم پیژندل شوي وو، او له ډریورانو څخه یې چې بګرام هوایي ډګر ته په نهم "آرام کولو" پارکینګ ساحه کې پایګاه ته نږدې د ننوتلو په تمه وو اسنادونه ټولول. جنجاک کوونکو بیا اسنادونه هغو عسکري کارکوونکو ته ورکول چې د بګرام هوایي ډګر ننوتلو کنترول ځای کې ګمارل شوي وو.



**د سیګار استازي** د افغانستان او ازبکستان سرحدي بندر ته نږدې کیږي. (سیګار عکس)



**سیګار استازی** په افغانستان کې د انداخت په ساحه کې. (سیګار عکس)

د شرکت قرارداد په ځانګړي توګه دا وايي چې جنجال کوونکي باید د رشوت غوښتنه ونکړي. مګر، د سیګار تحقیق وموندل چې د لارۍ ډریورانو نشو کولای پرته لدې چې نصیب قریشي ساختماني شرکت ته رشوت ورکړي، د بګرام هوایي ډګر ته ننوځي. د راپور په اساس، جنجال کوونکو ډریورانو ته ویل چې هرځومره چې پیسې ډیرې ورکړي، دومره به هغوی ته ژر اجازه ورکړ شي ترڅو هوایي ډګر ته ننوځي. په عین وخت کې، هغو ډریورانو چې رشوت نه ورکاوو د بګرام هوایي ډګر دباندې هرځل د 30 ورځو لپاره په تمه پاته کیدل.

سیګار او د افغانستان لوی څارنوال تحقیق کوونکي د جولای 18 وهلو له پیښې وروسته له جنجال کوونکو څخه پوښتنې وکړې. استازي پدې وپوهیدل چې محمد نذیر د نصیب قریشي ساختماني شرکت خاوندورو، په ساحه کې د جنجال کوونکو مشر وو او د رشوت اخیستلو اصلي کس وو. د جولای په 27، د لوی څارنوال دفتر محمد نذیر د مصاحبه او نیولو لپاره را وغوښت. تحقیق دوام لري.

## تحقیق په پایله کې $10,000 امریکایي ډالرو سپمول شوي

سیګار له تورونو وروسته تحقیق پیل کړ چې د 2013 په مارچ کې د خلیل رحیمي ساختماني شرکت د فینتي مخکني پایګاه کې د 2011 روزنې ودانۍ جوړولو پای تادیاتو لپاره د نږدې $10,000 امریکایي ډالرو غلط بل وړاندې کړی. د فینتي سیمیز قرارداد په مرکز کې د ساختماني کارونو سلاکار، چیرته چې بل وړاندې شوی، له تاسیساتو څخه لیدنه وکړه. هغه وموندل چې تاسیسات بشپړ شوي نه وو او هغه کار چې ترسره شوی وو، د منلو وړ نه وو. سیګار د ساختماني کارونو په وخت کې په کمپ دفمن کې د کمپ قوماندان سره مرکه کړې وه. هغې راپور ورکړ چې د خلیل رحیمي ساختماني شرکت لپاره یې یو بل د 2011 په جولای کې امضا کړی چې د 2011 جون ترسره شوی کار تر پوښښ لاندې نیسي. مګر هغې ویلې چې د خلیل رحیمي ساختماني شرکت پای تادیاتو لپاره یې بل ندی لاسلیک کړی او په سند باندې د هغې لاسلیک جعلي دی.

د 2013 په جولای کې، د قوماندان مرستندوی حقوقي مشاور ویلې چې د پای تادیاتو لپاره د خلیل رحیمي ساختماني شرکت غوښتنه د سیګار تحقیق په اساس رد شوې. حقوقي مشاور دا راپور هم ورکړی چې د قراردادي په وړاندې د $11,308 امریکایي ډالرو دعوا پیل شوې.

د خلیل رحیمي ساختماني شرکت چارواکي د مرکې لپاره حاضر نه وو ځکه چې هغوی اوس په پاکستان کې دي.

## تعلیقونه او بندیزونه

پدې ربع کې د سیګار تعلیقونو او بندیز پروګرام 14 انفرادي کسان او 17 شرکتونه تعلیق یا بندیز ته د هغو شواهدو په اساس راجع کړي چې سیګار په افغانستان او امریکا کې د تحقیقونه ترسره کولو برخې په ترځ کې ټول کړي دي. لدغو 31 قراردادیانو څخه، 13 انفرادي کسان او اوه شرکتونه د بندیز لپاره د هغو تورونو په اساس راجع شوي چې د $174,687,292 میلیونو امریکایي ډالرو په ارزښت قراردادونو کې هغوی په تقلب او نه فعالیت کولو کې لاس درلود. او نور 10 انفرادي کسان د هغو تورونو په اساس تعلیق ته راجع شوې چې هغوی د ترانسپورت فرمایشاتو اخیستلو کې چې ارزښت یې $77,920,605 میلیونه امریکایي ډالرو وو په غیر قانوني پیسو اخیستلو او بریښنایي تقلب کې لاس درلود.

عکس 2.3

**د سګار پلټنې: د معطلۍ او کار څخه ایستنې لپاره متراکمه حوالې،
Q4 FY 2013–Q2 FY 2011**




سرچینه: د سګار د پلټنو ریاست، 10/3/2013.

له 2008 څخه، سیګار 358 راجع کول ترسره کړي، 196 انفرادي کسان او 150 شرکتونه د تعلیق او بندیز لپاره، لکه څنګه چې پدې عکس 2.3 کې ښودل شوي. د 2013 د سپتمبر په پای کې، د تعلیق او بندیز لپاره د سیګار هڅې ترڅو په افغانستان کې د تقلب، فساد او کمزوري فعالیت لپاره حل لار پیدا کړي، پایله دا وه ترڅو د امریکا له لوري تمویل شویو پروژو کې بوخت انفرادي کسانو او شرکتونو د 61 تعلیقونو او 94 پای بندیزونه سبب شي.

د تعلیق او بندیز هغه ګامونه چې د امریکا ادارو له لوري د شرکتونو او انفرادي کسانو په وړاندې اخیستل کیږي چې د فیدرال له قراردادونو او مرستو څخه یې محروم کې څکه چې خراب چلند یې کړی، دا هغې مهمې وسیلې دي ترڅو ادارې وګوري چې یووازې مسولو بنسټونو ته قراردادونه ورکړي. د سیګار پروګرام په افغانستان کې د امریکا د بیرني قرارداد کولو چاپیریال پالیسی په وړاندې د دریو ننګونو لپاره حل لار پیدا کوي: د چټک عمل اړتیا، په افغان وګړو او شرکتونو باندې د امریکا محدود قانوني صلاحیت، او د ارزونې هغې ننګونې چې له ډیرو فرعي قراردادیانو څخه کار اخیستل کیږي. سیګار په افغانستان او امریکا کې له معلوماتي او تحقیقي سرچینو څخه په نوښتي کار اخیستلو سره په هغو لارو پسې ګرځي ترڅو د دغو ننګونو لپاره د امریکا حکومت څوابونه زیات کړي.

سیګار د بشپړ شویو تحقیقونو په اساس د تعلیقونو او بندیزونو راجع کول ترسره کوي. په ډیرو قضیو کې، د سیګار راجع کول هغه وخت منځ ته راځي کله چې د قرارداد کولو دفتر له لوري د جرمي محاکمه کولو او سمون ګام امکان نه وي. څکه نو تعلیق او بندیز د قراردادي د خراب چلند لپاره د سمون اصلي ګامونه دي. کله چې ادارو ته راجع کول ترسره کوي، سیګار د ادارو د تعلیق او بندیز پریکړې لپاره اساس او هغه اړین اسناد برابروي چې اداره ورته اړتیا لري ترڅو د پریکړې ملاتړ وشي که د قراردادي له لوري پریکړې نه منلو

مسله شتون ولري. په افغانستان کې د قراداد کولو د چاپیریال بدلیدونکی ماهیت او د قراردادي خراب چلند شواهد، او/یا کمزوري فعالیت شتون په اساس، ځینې وختونه سیګار دا ضروري ګڼلې ترڅو انفرادي کسان یا شرکتونه ډیری وختونه د ادارو د تعلیق او بندیز چارواکو غور لپاره راجع کړي.

په افغانستان کې د قرارداد کولو چاپیریال په ځواب کې په 2011 کې سیګار د تعلیق او بندیز لپاره خپل ټینګار زیات کړ. د تعلیق او بندیز لپاره د سیګار 358 راجع کولو څخه، 322 د 2011 له دویم ربع څخه ترسره شوي. د 2012 له جون د 2013 سپتمبر په 15 میاشتو کې، سیګار د تعلیق او بندیز خپل پروګرام چټک کړی، او 184 انفرادي کسان او شرکتونو یې له قرارداد کولو څخه ایستلو لپاره د ادارو تعلیق او بندیز چارواکو ته راجع کړي. پدغه موده کې د سیګار راجع کول د $417,934,161 میلیونو امریکایي ډالرو بیارغونې قرارداد کولو برخې څخه د غلا، تقلب، کمزوري فعالیت، یاغیاتو ته مالي ملاتړ او خرابې اداري تورونو استازیتوب کوي.

## اردو د تقلب لپاره د ستیت کورپس شرکت بندیز وړاندیز کوي

د 2013 د اګست په 28، اردو حکومت ته د تقلبي غلط استازیتوب لپاره د ستیت کورپس شرکت بندیز وړاندیز کړی، دا د هغه قرارداد په اړه وو چې دې شرکت غوښتل دوه قراردادونه لاسته راوړي ترڅو د شمال ختیځ بریښنا سیستم (NEPS) او جنوب ختیځ بریښنا سیستم (SEPS) چې په افغانستان کې حوړیږي، لپاره بریښنا سیستمونه، د بریښنا لیږید لینونه او فرعي ستیشنونه نصب کړي دې قراردادونو چې ټول ارزښت یې $172,904,500 میلیونه امریکایي ډالر وو، د تجربه لرونکو قراردادیانو غوښتنه کوله چې د لوړ ولتاژ بریښنایي کارونو تجربه او په تیر کې د حکومت وړاندې شوي قراردادونو کې د رضایت وړ فعالیت تاریخچه ولري.

د سیګار، د اردو د تدارکاتو تقلب ځانګې او USACE له لوري تحقیقونو، او په جزییاتو سره یو شکایت د سیګار مستقیم تیلفون ته، د هغو تورونو سبب شول چې ستیت شرکت د لوړ ولتاژ بریښنایي کار تجربې استازیتوب د بل شرکت فعالیت تاریخ په اساس کړی دی. تحقیقونو دا هم وموندل چې ستیت شرکت په اوو نورو بیا رغونو قراردادونو کې چې د USACE له لوري وړاندې شوي هم د تجربې غلط استازیتوب کړی، او دې کار د دې شرکت توان تر پوښتنې لاندې راوړی ترڅو د NEPS او SEPS قراردادونه د اړتیا په اساس بشپړ کړي. پدې اړه د بندیز پای پریکړه اوس له اردو سره په تمه ده.

## د نیو رایډرز ساختماني شرکت، میوند انصانولا ایلیاس او درې نورو اړوندو شرکتونو بندیز

د 2013 د سپتمبر په 6، د سیګار تعلیق او بندیز راجع کولو پروګرام په پایله کې، اردو، د نیو رایډرز ساختماني شرکت، میوند انصانولا ایلیاس او درې نورو اړوندو شرکتونو باندې بندیز ولګاوو. اردو دا کار په هغه بنسټ کړی چې د نیو رایډرز ساختماني شرکت د 2012 په می کې د امریکا حکومت سره د قرارداد په اساس ونشو کولای 23,302.25 متر مکعب جغل د سلیرنو مخکنی پایګاه ته ورسوي.

د سیګار له لوري بل تحقیق وموندل چې د قرارداد نه ترسره کولو برسیره، دې شرکت داوطلبي قیمت هم ډېر کم وو ترڅو قرارداد لاسته راوړي، رسول شوی جغل په سمه توګه اندازه شوی نه وو، هڅه یې وکړه ترڅو له وړاندې کولو وروسته د قرارداد قیمت د مارکیټ له قیمت څخه پورته جوړ کړي او ډیره ګټه لاسته راوړي، او له حکومت څخه یې د غیر ملاتړ کوونکو او بې اړوندو لاری کرایه کولو لګښتونه اخیستل.

د دې تورونو په اړه د سیګار تحقیق په اساس، اردو په نیو رایډرز ساختماني شرکت، ایلیاس او دریو نورو اړوندو شرکتونو باندې د 48 میاشتو لپاره بندیز وضع کړ.

## د لقمان انجنیري ساختماني شرکت، غازي ګل او خان وزیر شرکتونو باندې بندیز

د 2013 سپتمبر په 4، د سیګار د راجع کولو په ا ساس، اردو د لقمان انجنیري ساختماني شرکت او د شرکت دوه افسران، غازي ګل او خان وزیر شرکتونه حکومت سره له قراداد کولو بند کړي. اردو دا ګام اخیستی ځکه چې شرکت ونشو کولای ترڅو د 2009 په دسمبر کې، د قوماندان بیړني غبرګون پروګرام (CERP) پروژې لپاره چې د جلال آباد ډیریدونکي نفوس لپاره د 4.35 کیلومتره سړک جوړیدو لپاره $796,903.60 امریکایي ډالر اضافي تادیات بیرته تادیه کړي. د حکومت په یو شمیر هڅو برسیره ترڅو د دې مرستو بیرته تادیات لاسته راوړي، لقمان انجنیري شرکت ونشو کولای دا پیسي بیرته تادیه کړي او د دې اضافي پیسو پټولو لپاره یې تحقیق کوونکو ته غلط راپورونه ورکړي. د سیګار وړاندې شویو شواهدو په اساس، د لقمان انجنیري ساختماني شرکت، غازي ګل او خان وزیر شرکتونو باندې د 60 میاشتو لپاره بندیز وضع شو.

## د نوید بصیر ساختماني شرکت، نویدالله متون، او وحیدالل متون او دوو نورو اړوند ګډو فعالیتونو شرکتونو باندې بندیز

د 2013 د سپتمبر په 4، د سیګار راجع کولو په پایله کې، اردو د نوید بصیر ساختماني شرکت نویدالله متون، او وحیدالله متون او دوو نورو اړوندو ګډو فعالیتونو شرکتونو باندې، USACE چارواکي ته د نورو قراردادونو ورکولو لپاره د رشوت ورکولو هڅې لپاره بندیز وضع کړ. د USACE قرارداد کولو افسر بیا وروسته د رشوت هڅه د قانون پلي کوونکو ته راپور ورکړ او دا کار د جرمي تحقیق سبب ګرځیدلی. د 2012 سپتمبر په 23، دسیګار او ICCTF خفیه استازو له نویدالله متون او وحیدالله متون سره په کمپ ایګر کې ولیدل، چیرته چې هغوی ته د $5,000 امریکایي ډالرو سلو ډالرونو بیلونه د نوید بصیر ساختماني شرکت په استازیتوب ورکړ شول. دواړه کسان بیا وروسته ونیو ل شول او د رشوت ورکولو تور ورباندې وضع شو. د دې شواهدو پایله کې، په ټولو باندې امریکا حکومت سره له قرارداد کولو د 90 میاشتو مودې لپاره بندیز وضع شو.

## د یوه قراردادي له لورې د غیر قانوني استازیتوب لپاره د هوایي ځواکونو یوه افسر تعلیق

د سیګار، DCIS، FBI او امریکا هوایي ځواکونو د ترسره شوي تحقیق په پایله کې، د امریکا هوایي ځواک، د هوایي ځواک د احتیاط یو پخوانی تورن، ادم جیف جولیاس پودینز او

د هغه شرکت، پیس ترو بزنس ایل ایل سي، د 2013 د سپتمبر په 17، تعلیق کړل. له تعلیق څخه وروسته د 2013 د اګست په 21، پودینز د قصدي استازیتوب غیر قانوني فعالیتونو په تورونو ونیول شو. په پودینز باندې تور دی چې هغه د بوټونو له یوه افغان قراردادي څخه د 247,993$ امریکایي ډالرو په ارزښت کار او پیسي منلي، سره لدې چې هغه ته د هوایي ځواکونو چارواکو له لوري خبر ورکړ شوي وو چې هغه د 2011 له دسمبر څخه د 2012 تر دسمبر پورې، شرکت ته د بیا رغونې قرارداد ورانديې کولو برخه اخیستلو له کبله، د تل لپاره له استازیتوب څخه بند شوی. په پودینز باندې دا تور هم دی چې هغه د هوایي ځواکونو د خپل احتیاط پیژند پاڼې څخه کار اخیستی ترڅو د دغه شرکت استازي کمپ ایګر او د امریکا حکومت نورو موقیعتونه ته یوسي. په پایله کې په افغانستان کې د امریکا ځواکونو مکتوب صادر کړ او هغه یې په افغانستان کې له ټولو تاسیساتو څخه بند کړ. د پودینز جرمي قضیه اوس د آیووا شمالي حوزې محکمې کې په تمه ده.

## د سیګار بودجه

کانګرس د 2013 په مالي کال کې د 2013 ټول کال دوامدرو تخصیصونو قانون (Pub. L. No. 113-6) د سیګار دعملیاتو او لګښتونو لپاره 49.9$ میلیونه امریکایي ډالرو تخصیص کړي. د سیګار د 2013 مالي کال بودجه بیا د ضبطولو د تطبیق په اساس د بودجې د ادارې او هدایت دفتر په اساس 48.0$ میلیونو امریکایي ډالرو ته کمه شوه. بودجه د سیګار د نظارت فعالیتونو او د سیګار د پنځو ریاستونو کارونو ملاتړ کوي: (1) پلټنو او تفتیشونو، (2) ځانګړې پروژې، (3) تحقیقونه، (4) اداره او ملاتړ، (5) معلوماتو اداره.

## سیګار کارکوونکي

کانګرس ته د پای راپور څخه وروسته، سیګار د خپلو کارکوونکو شمیرې باندې پنځه نور اضافه کړي، چې په 2013 مالي کال کې د ټولو کارکوونکو شمیره 193 فیدرال کارکوونکو ته رسوي. په 2013 مالي کال کې، سیګار ته رسمي اجازه ورکړ شوې ترڅو په افغانستان کې د دندو 57 خالي بستونه ډک کړي. پدې ربع کې، سیګار د امریکا کابل سفارت کې 37 رسمي کې 13 رسمي کارکوونکي درلودل. کې په ټول هیواد د سیګار کارکوونکي په شپږو موقیعتونو کې، پشمول د کندهار او بګرام هوایي ډګرونو، مزارشریف، کمپ لیدرنیک، USFOR-A قرارګاه په کابل کې، او په هرات کې د امریکا په قونسلګری کې میشت وو. سیګار درې سیمیز افغانان د کابل په خپل دفتر که په دنده ګمارلي ترڅو له تحقیقونو او پلټنو سره مرسته وکړي. پردې برسیره، سیګار د خپل کارونو ملاتړ لپاره په افغانستان کې د لنډ وخت لپاره اجیر کارکوونکي په دنده ګماري. پدې ربع کې، سیګار په افغانستان کې 15 اجیر کارکوونکي د 282 ورځو لپاره درلودل.




**د سیگار تحقیق ګوري** کوونکي په تحقیقونو کې د عمومي مفتش له معاون سره د امریکا کابل سفارت د دګلاس دومین په مرکز کې ګور. (سیګار عکس)

”د امریکا متحده ایالات د یو موټي، باثباته، پرمختللي افغانستان په شتون ټینګ باور لري داسي یو افغانستان چه خپلواک وي، او د ملي حاکمیت او خلکو درناوی یې وشي، او د ټاکنو په لړ کې د خلکو د ریښتني غږ د اوریدو وروسته د چارو اساسي مسولیت پرغاړه واخلي.“

—د بهرنیو چارو وزیر جان کیري

سرچینه: د بهرنیو چارو وزارت، د افغان ولسمشر حامد کرزي سره د لیدنې وروسته ګډه مطبوعاتي اعلامیه. 12 اکتوبر 2013.

# 3
## د بیارغونې
## تازه حالات



# د بیارغونې تازه حالتو منځپانګې


| | |
|---|---|
| عمومي کتنه | 63 |
| د بسپنو وضعیت | 66 |
| امنیت | 80 |
| حکومتداري | 108 |
| اقتصادي او ټولنیزه پراختیا | 144 |


**تصویر په تیره پاڼه کې**

د امریکا متحده ایالات د امریکا بحري سرتیري په سویلي افغانستان کې د 2013 کال د اګست په میاشت کې د الوتکې له طریقه پر خلکو معلوماتي پاڼې غورځوي چې په اساس یې د مخالیفینو سره د عامو خلکو د ملاتړ د کمولو هڅه شوې. (د DOD انځور)

# عمومي کتنه

3 برخه د افغانستان د بیارغونې په تړاو لومړیتوبونه، ننګونې او بشپړتیاوې وړاندې کوي څو د پلټنې لپاره یې زمینه برابره کړي. په حاشیو کې له دغو هڅو سره د سیګار د هغو تړلو پلټنو پیژندنه شویده چې بشپړې شویدې او یا روانې دي.

سیګار په دغه برخه کې معلومات له 181-110 عامه قانون سره په تطابق کې وړاندې کوي، په دې قانون کې حکم شوی دی چې کانګرس ته د افغانستان د بیارغونې په تړاو د سیګار په چمتو کیدونکې دری میاشتنې رپوټ کې د نورو مواردو برسیره لاندنې مسایل شامل دي:

- د ځانګړیو شویو بسپنو ژمنه او لګول
- د متحده ایالاتو د حکومت د قراردادونو، بسپنو ، پریکړو او نورو میکانیزمونو په اړه توضیحات
- د متحده ایالاتو د حکومت د اداراتو له لوري بسپنه شوې پروژو ته د نړیوالو اداراتو او بهرنیو هیوادونو له لوري چمتو شوې مرستې.

## موضوعات

په دغه برخه کې څلور نورې فرعې برخې شاملې دي: د مرستو حالت، امنیت، حکومتداري او اقتصادي او ټولنیزه پراختیا.

د **بسپنو وضعیت** په برخه کې د افغانستان د بیارغونې په ډګر کې ځانګړې شویو، ژمنه شویو او لګول شویو پیسو توضیحات راغلي دي چې د متحده ایالاتو او نړیوالو مرستې پکې شامل دي.

د دریو نورو فرعي برخو تنظیمول د لومړیتوب ورکولو او عملي کولو د پلان هغه درې ستنې توضیح کوي چې په 2010 کال کې په یوه نړیوال کانفرانس کې وده ورکړل شوه او افغان حکومت یې اعلان وکړ.

د **امنیت** فرعي برخه کې د متحده ایالاتو هغه هڅې چې غواړي افغان ملي امنیتي ځواکونه ( اردو او پولیس ) پیاوړي کړي روښانه شویدي. همداشان له خصوصي امنیتي شرکتونو سره د قراردادونو پای ته رسول او د نشه اي توکو د قاچاق پروړاندې مبارزه هم پکې شامل دي.

د **حکومتداري** په برخه کې د افغان حکومت هغه پرمختګونه تر غور لاندې راغلي دي چې د ظرفیت جوړونو له لارې یې د ښې حکومتدارۍ لپاره تر سره کړیدي، د قانون د حاکمیت لومړیتوب او د بشري حقونو رعایت یې هم یوه برخه ده. په دې فرعي برخه کې همداشان د بیایوځای کیدلو او پخلاینې پروسه هم روښانه شویده، په بیلابیلو ولایتونو کې د افغان حکومت د ولکې کچه او له فساد سره د مبارزې لومړیتوبونه هم پکې څیړل شویدي.

د **اقتصادي او ټولنیزې پراختیا** په برخه کې د انرژۍ، کان کیندنې او روغتیا په ډګر کې د بیارغونیزو هڅو جاج اخیستل شویدی. او د اقتصادی حالت او په مالی مقرارتو کښې د پرمختیا، په هر مالی کال کښې د تر لاسه شوی پایښت او ثبات او د ضروری چوپړیزو خدماتو په وړاندی کولو کښې د تر لاسه شوو پرمختیاو په اړه کار او ډیری تمرکز کوی.

## تګلاره/میتودولوژي

په 3 برخه کې د متحده ایالاتو د اداراتو او آزادو سرچینو معلومات راغونډ شویدي. سرچینې یې په پایلیکونو او یا له شکلونو او جدولونو سره په راغلو توضیحاتو کې په ګوته شویدي، له دې چې بیلابیلې ادارې معلومات برابروي نو کیدی شي چې شمیرې سره په ټکر کې وي یا توپیر ولري. سیګار له خپلو پلټنو او څیړنو پرته نور معلومات نه تاییدوي. د نورو سرچینو معلومات د سیګار د دریځ منعکس کونکي ندي. په دې ربع کې د سیګار د څیړنو او پلټنو د جزییاتو لپاره 2 برخه وګورئ.

## د معلوماتو غوښتل

د معلوماتو غوښتنه د پوښتنو یوه لړۍ ده چې د متحده ایالاتو د ادارو څخه د بیا رغونې په پروګرامونو، او د افغانستان په چارو کې د هغوی د ګډون یا ورکړو په اړه ترې شوې دي. په تر ټولو وروستۍ معلومات غوښتنې کې د متحده ایالاتو یو شمیر اداراتو ګډون کړی وو چې په هغو کې د بهرنیو چارو وزارت، دفاع وزارت، د ترانسپورت وزارت ، د خزانې وزارت او د متحده ایالاتو د نړیوالې پراختیا ادارې برخه درلوده. ځواب ورکونکو اداراتو د دغې برخې په تړاو یو لومړنی پیښلیک ترلاسه کړیدی. له دې سره دوی توانیدلي دي چې په دې ربع کې د چمتو شویو ځانګړیو معلوماتو په اړه تبصره وکړي او تایید یې کړي.

## د ازاد منابعو څیړنه

د ازادو منابعو څیړنه پر وروستنیو او د وګړنیزو منابعو، چې د ډېر باور وړ دي، ولاړه ده. په سرچینو کې د متحده ایالاتو هغه ادارې هم شاملې دي چې په معلومات غوښتنې کې شاملې دي. په هغو کې نړیوال سوله ساتي ځواکونه، ملګري ملتونه (او تړلي برخې)، د پیسو نړیوال صندوق، نړیوال بانک، افغان وزارتونه او نور حکومتي ادارې شامل وو.

## د معلوماتو شرايط او ګرافيکو باندې پوهاوی

ټولو شکلونو او جدولونو د دغو دريو مياشتو د اسنادو رپوټ وړاندې کړ؛ استثنا هغه چې په سرليکونو او يادښتونو کې پېژندل شوي.

### بار چارټونه

دا رپوټ ډېرى فنډونه او پروژې رااخلي، چې ارزښت يې له ميلونو نه تر بيلونو ډالرو ته رسېږي. د دغو شميرو د سمې ګرافيکي توضيح د چمتو کولو په موخه، ځينې بارګرافونه له يوې قطع شوې برخې سره تر سترګو کيږي (موجب کرښې) او په هغو کې د صفر او يوې لوړې شميرې تر مينځ بدلون په ګوته کوي.




پټه چارټ سره
د ماتی ميچنې




پټه چارټ سره
د ماتی ميچنې

### د پانګونې نښانه ګر

د پانګونې نښانه ګر، چې په متن کې راغلی، انفرادي پانګې ښيي. د بسپنې اداره کوونکې مسوله اداره د بسپنې تر نوموونو لاندې په تان باکس کې لست شويده.




### د مليون او بليون واحدونه

خرنګه چې دا رپوټ په ميليون او بيليون ډالرو دی؛ نو اړينه ده، چې د ميليون او بيليون، دوه مقياسي واحدونو ترمنځ توپير وښوول شي. په ميليارد رپوټ شوي ډالر په نيلي رنګ په نښه شويدي او په ميليون رپوټ شوي ډالر په شنه رنګ په نښه شويدي.



پائی چارټ
په بليارډو کې دي



پائی چارټ
په مليون کې دي

### کليزه (جنتري) او لمريز کلونه

په افغانستان کې د هجري لمريز کليزه دود ده چې د عيسوي تاريخ له 622 ميلادي کال څخه را پيليږي. سيګار هجري لمريز کلونه په معادل عيسوي کلونو اړوي. روان افغان مالي کال 1392 دی. دغه کال د 2013 کال د مارچ په 21 پيل شوی دی او د 2014 کال د مارچ په 20 پای ته رسيږي. د افغان حکومت مالي کال د 2012 کال د دسمبر له 21 تر د 2013 کال د دسمبر تر 20 پورې دی.

# د بسپنو د وضعیت منځپانګې


د افغانستان بیارغونې لپاره د متحده ایالاتو وجهي صندوق 68

د افغانستان ملي امنیتي ځواکونو فنډ 70

د ASFF بودجې فعالیتونه 71

د قوماندان د بیړني غبرګون پروګرام 72

د افغانستان د زیربنا فنډ 73

د ثبات او سوداګریزو فعالیتو لپاره عملیاتي ځواک 74

د DOD مخدره توکو څخه مخنیوی د مخدره توکو سره مبارزې فعالیتونه 75

د اقتصادي ملاتړ فنډ 76

د مخدره توکو نړیوال کنترول او د قانون حاکمیت 77

د افغانستان د بیارغونې لپاره نړیوال وجهي صندوق 78

# د بسپنو وضعیت

د سیګار د قانوني ماموریت د تر سره کولو لپاره، دا برخه د افغانستان د بیا رغوني فعالیتونو لپاره د امریکا د تخصیص شویو، ژمنه شویو، او تادیه شویو فنډونو په اړه توضیحات ورکوي. د 2013 کال د سپټمبر 30 پورې، له 2002 مالي کال څخه امریکا د افغانستان سره د مرستي او بیا رغوني لپاره نږدې 96.60 میلیارده امریکایي ډالر تخصیص ورکړي دي. دا ټولې پیسې په لاندې توګه ټاکل شوې دي:

- $54.30 ملیارد ډالر د امنیت لپاره
- $24.71 ملیارد ډالر د حکومتداري او پراختیا لپاره
- $6.93 میلیارد ډالر د مخدره توکو سره د مبارزې د هڅو لپاره
- $2.67 ملیارد ډالر د بشري حقوقو لپاره
- $7.99 میلیارد ډالر د عملیاتو او نظارت لپاره

شکل 3.1 د امریکا هغه مهم فنډونه ښیي چې پدغو هڅو کې برخه اخلي.

شکل 3.1

**متحده ایالات هغه بسپنې کوم چې د افغانستان د بیا رغونې ملاتړ کوي** (بلیارده $)




یادښتونه: دلته لمرې غونډې لیکلې شوي دي.

[a] مختلفه اژانسئ لکه د انصاف وزارت، د خارجه امورو وزارت، د دفاع وزارت، یو ایس ایډ، خزانه، یو ایس ډي ای، ډي اي ای، بی بی جی او سګار .

سرچینې: د دفاع وزارت له اړخه د سګار ډیټا کالونو ته ځوابونه، 10/23/2013، 10/9/2013، 9/30/2013، 10/22/2012، 10/14/2009، او 10/1/2009: د ریاست له اړخه د سګار کالونو ته ځوابونه، 10/18/2013، 7/2/2013، 6/27/2013، 10/5/2012 او 6/27/2012: د سګار کالونو ته د خزانې ځوابونه، 10/4/2013: د سګار کالونو ته د او ایم بي ځوابونه، 7/19/2013 او 1/4/2013: د سګار کالونو ته د یو ایس ایډ ځوابونه، 10/10/2013، 10/15/2010، 1/15/2010، او 10/9/2009: د سګار ډیټا کالونو ته د انصاف د وزارت ځوابونه، 7/7/2009: د سګار ډیټا کالونو ته د یو ایس ډي ای ځواب، 4/2009: P.L. 113-6، 3/26/2013؛ P.L. 112-74، 12/23/2011؛ P.L. 112-10، 4/15/2011؛ P.L. 111-212، 10/29/2010؛ P.L. 111-118، 12/19/2009؛ مالي کال 2010 د دفاع تشریحی بیانیه.

**ASFF:** د افغانستان د امنیتي ځواکونو فنډ
**CERP:** د قومندان د بیړني غبرګون پروګرام
**AIF:** د افغانستان د زیر بنا فنډ
**TFBSO:** د ثبات او سوداګرۍ عملیاتو لپاره کاري ځواک
**DOD CN:** د امریکا دفاع وزارت د مخدره توکو سره مبارزې او د مخدره توکو د محوې فعالیتونه
**ESF:** د اقتصادي ملاتړ وجهي صندوق
**INCLE:** نړیوال مخدره توکو کنټرول او د قانون حاکمیت
**نور:** نور مالي تمویل

## د افغانستان بیا رغونې لپاره د متحده ایالاتو مرستې

د 2013 کال د سپتمبر تر 30 پورې، د افغانستان د سوکالی او بیارغونې سره د مجموعي ترسره شوو مرستو مجموعه تقریبا هغه ډول چې په شکل 3.2 کې ښودل شوې $96.60 میلیارد ډالرو ته رسیږي. دا ټولې پیسې د بیارغونې پر پنځو لویو پانګونو ویشل کیدای شي. امنیت، حکومتداري او پراختیا، د مخدره توکو پر وړاندې مبارزه، بشري مرسته، او بلاخره څارنه او عملیات. د متحدو ایالتو د ځانګړو شویو مرستو په اړه د بشپړومعلوماتو لپاره د ب ضمیمه وګورئ.

ولسمشر اوباما د 2013 کال د اپریل په 10 مه د 2014 کال مالي بودجې پروپوزل وړاندې کړ. په یاد پروپوزل کې د افغانستان د سوکالی او بیارغونې لپاره د 12 میلیارد ډالرو اضافي غوښتنه مطرح شوې چې باید د نظارت کړل شوو بیارغونیزو چارو لپاره وکارول شي- دغه مرسته د 2013 مالي کال د تخصیص په نسبت 23% زیاتوالی ښایي.[20] د 2013 مالي کال په پای کې لا هم کانګرس د 2014 مالي کال بودجه نه وه تصویب کړې او نه یې هم د 2014 کال لپاره د امریکا حکومت لخوا د کارول کیدونکو مرستو په موخه کومه اړونده لایحه




**د متحده ایالاتو اوه لوي فنډونو ته چمتو کړی شوی مقدار نږدې 84.5% (تر $81.60 میلیارد ډالره) د 2002 مالي کال راپدیخوا د امریکا متحده ایالاتو د افغانستان د بیارغونې سره ترسره کړی شوي مرستې جوړوي. د دغه پیسو څخه، تر 85.1% (تر $69.47 میلیارد ډالره) یې منل شوې، او تر 74.6% (نږدې $60.89 میلیارد ډالره) یې مصرف کړل شوي دي. لاندي پاڼې د دې مرستو په اړه لا زیات اضافي معلومات وړاندې کوي.**

شکل 3.2

**د سپتمبر 30، 2013 راهیسې، د بسپنې کټیګورۍ له اړخه مجموعي اختصاص** (بلیارده $)




یادښتونه: دلته لمرې غونډې لیکلې شوي دي. د دفاع وزارت 1 بلیارده ډالرې د مالي کار ASFF 2011 څخه بیا منلي. دي د دفاع وزارت 1 بلیارده ډالرې د مالي کار ASFF 2012 څخه بیا منلي. دي P.L. 113-6 یو بلیارده ډالرې دمالي کال ASFF 2012 څخه ایستلې دي. د دفاع وزارت د مالي کال AIF 2011 څخه 101 ملیون ډالرې مالي کال ESF 2011 ته انتقال کړي تاکې د هغه ساختمانئ پروژې بسپنه وکړي کومې چې د یو ایس اېډ څخه پلي شوي.

سرچینې: د دفاع وزارت له اړخه د سګار ډیټا کالونو ته ځوابونه، 10/23/2013، 10/9/2013، 9/30/2013، 10/22/2012، 10/14/2009، او 10/1/2009: د ریاست له اړخه د سګار کالونو ته ځوابونه، 10/18/2013، 7/2/2013، 6/27/2013، 10/5/2012 او 6/27/2012: د سګار کالونو ته د خزانې ځوابونه، 10/4/2013: د سګار کالونو ته د او ایم بي ځوابونه، 7/19/2013 او 1/4/2013: د سګار کالونو ته د یو ایس اېډ ځوابونه، 10/10/2013، 10/15/2010، 1/15/2010، او 10/9/2009: د سګار ډیټا کالونو ته د انصاف د وزارت ځوابونه، 7/7/2009: د سګار ډیټا کالونو ته د یو ایس ډي ای ځواب، 4/2009: P.L. 113-6، 3/26/2013؛ P.L. 112-74، 12/23/2011؛ P.L. 112-10، 4/15/2011؛ P.L. 111-212، 10/29/2010؛ P.L. 111-118، 12/19/2009: مالي کال 2010 د دفاع تشریحی بیانیه.

تصویب کړي.[21] د مالي بې ثباتي ترځنګ بیا هم د بیارغونې د 7 سترو پروژو څخه د 5 لپاره د راتلونکو 2 کلونو لپاره مرستې تخصیص کړل شوي دي، او د ټولټال 7.95 میلیارد ډالرو تخصیص کړل شوو د جمع څخه د 14/2013 مالي کال لپاره د 7.27 ملیارد ډالره لا هم نه دي منل شوي، دا هرڅه په جدول 3.0 کې ښودل شوي دي.

د 2013 کال د سپتمبر تر 30 پورې، د افغانستان د بیارغونې لپاره په 2013 مالي کال کې نږدې 9.78 ملیارد ډالره تخصیص کړل شوي دي، لکه څنګه چې په شکل 3.3 کې ښودل شوي. د دغه مجموعه ډیری برخه یعني $5.13 میلیارد ډالره د افغان ملي امنیتي ځواکونو (ANSF) د تجهیز، تربیه او پایښت په منظور ځانګړي کړل شوي دي.[22] د ANSF په ملاتړ، اټکل کیږي چې افغان امنیتي ځواکونه تر 2015 کال پورې بشپړ امنیتي مسولیت په غاړه واخلي؛ البته دا پداسې حال کې ده چې ترهغه مهاله چې افغانستان هغه ټاکل شوو موخو ته رسیږي چې د ټوکیو په دوه اړخیز کاري چوکاټ کې ورته تعین کړل شوي دي، تر هغه مهال باید د انتقال په لسیزه کې د ناټو لخوا د افغان امنیتي ځواکونو د روزنې، تجهیز، او سلامشورې ته اړتیا لري او همدا ډول د امریکا او افغانستان نړیوالو ملګرو مالي مرستو ته اړتیا لري.[23]

جدول 3.0

**د 2013 تخصیصات او منل شوي تعهدات، د 2013 کال د سپتمبر د 30 سره سم،** [a]

(میلیون ډالر)

| | تخصیصات | منل شوي مرستې |
|---|---|---|
| ASFF | $5,124 | $625 |
| AIF | $325 | $0 |
| ESF | $307 | $43 |
| INCLE | $1,623 | $0 |
| **ټولټا** | **$7,949** | **$675** |
| **چې باید تعهد کړل شي** | | **$7,274** |

یادونې: شمیرې ګردې شوي دي.

[a] ASFF او AIF معلومات تر 8/31/2013 پورې، څخه چې د تر 9/30/2013 معلومات په اختیار کې نه ول کله چې دا راپور مطبوعاتو ته ورکول کیده.

سرچینې: DOD، د سیګار د معلوماتو غوښتنې ته ځواب، 10/23/2013، 10/9/2013 او 9/30/2013؛ USAID، د سیګار د معلوماتو غوښتنې ته ځواب، 10/10/2013؛ State، د سیګار د معلوماتو غوښتنې ته ځواب، 10/18/2013؛ 3/26/2013، P.L. 113-6.

شکل 3.3

**دا اختصاص د مالي کال، اندازې او کټیګورۍ په بنیاد دي** (بلیارده $)




یادښتونه: دلته لمرې غونډې لیکلې شوي دي. د دفاع وزارت 1 بلیارده ډالرې د مالي کار 2011 ASFF څخه بیا منلې. دې د دفاع وزارت 1 بلیارده ډالرې د مالي کار 2012 ASFF څخه بیا منلې. دې P.L. 113-6 یو بلیارده ډالرې دمالي کال 2012 ASFF څخه ایستلې دي. د دفاع وزارت د مالي کال 2011 AIF څخه 101 ملیون ډالرې مالي کال 2011 ESF ته انتقال کړې تاکې د هغه ساختمانئ پروژې بسپنه وکړې کومې چې د یو ایس ایډ څخه پلې شوې.

سرچینې: د دفاع وزارت له اړخه د سګار ډیټا کالونو ته ځوابونه، 10/23/2013، 10/9/2013، 9/30/2013، 10/22/2012، 10/14/2009، او 10/1/2009: د ریاست له اړخه د سګار کالونو ته ځوابونه، 10/18/2013، 7/2/2013، 6/27/2013، 10/5/2012 او 6/27/2012: د سګار کالونو ته د خزانې ځوابونه، 10/4/2013: د سګار کالونو ته د او ایم بي ځوابونه، 7/19/2013 او 1/4/2013: د سګار کالونو ته د یو ایس ایډ ځوابونه، 10/10/2013، 10/15/2010، 1/15/2010، او 10/9/2009: د سګار ډیټا کالونو ته د انصاف د وزارت ځوابونه، 7/7/2009: د سګار ډیټا کالونو ته د یو ایس ډې ای ځواب، 4/2009: P.L. 113-6، 3/26/2013؛ P.L. 112-74، 12/23/2011؛ P.L. 112-10، 4/15/2011؛ P.L. 111-212، 10/29/2010؛ P.L. 111-118، 12/19/2009: مالي کال 2010 د دفاع تشریحی بیانیه.

## د افغانستان د امنيتي ځواکونو بوديجه

د امريکا کانګرس د افغان ملي امنيتي ځواکونو وجهي صندوق (ASFF) افغان امنيتي ځواکونو (ANSF) د تجهيز، اکمالاتو، خدماتو، او روزنې په موخه رامنځ ته کړ، همدا ډول د اسانتيا او زيربنا ترميم، او بيا رغونې د سهولتونو په موخه.[24] د ANSF د جوړونې لپاره لومړنی مسؤل سازمان د ناټو د افغانستان لپاره د روزنې ماموريت /ګډ امنيتي ليږد قومنداني افغانستان.[25]

د ادغام او اضافي دوام د تخصيصاتو قانون، 2013، د ASFF لپاره په 2013 مالي کال کې $5.12 ميليارد ډالر مرسته تخصيص کړه چې پدې سره مجموعي ترسره شوې مرسته $52.78 ميليارد ډالرو ته اوچته شوې ده.[26] د 2013 کال د اګست تر 31 پورې، د ASFF نږدې $46.99 ميليارد ډالر منل شوې وو، چې د هغه جمله $43.54 ميليارد ډالره لګول شوې دي.[27] شکل 3.4 د ASFF لپاره د مالي کال په اساس د ځانګړو کړل شوو مرسته ښکارندوی کوي.

د امريکا دفاع وزارت راپور ورکړی چې جمع شوې ژمنې د 2013 د اګست تر 31 پورې، نږدې $1.63 ميليارد امريکايي ډالر د 2013 د جون تر 30 پورې د جمع شوې ژمنو څخه ډېر شوې. د 2013 کال د اګست تر 31 پورې مجموعي لګول شوې مرستې د 2013 کال د جون د 30 پورې په تناسب $1.80 ميليارد ډالره ډيرې شوې دي.[28] شکل 3.5 په مقايسوي ډول د ASFF د موجوده، منل شوو، او لګول شوو مرستو ښکارندوی کوي.




### د ASFF وجهي صندوق ترمينالوژي

د امريکا دفاع وزارت د ASFF وجهي صندوق لپاره د تخصيص، منل او مصرف کړل شوو راپور ورکړی.

**تخصيصات:** د تعهداتو لپاره موجوده پيسې

**منل شوې:** د پيسو د ورکولو تعهدات

**مصارفات:** پيسې چې مصرف کړل شوې

سرچينه: DOD، د سيګار د معلوماتو غوښتنې ته ځواب، 4/13/2010.

شکل 3.4

**د ASFF له اړخه اختصاص شوې بسپنې د مالي کال په ترتيب** (بليارده ډالرې)




شکل 3.5

**د ASFF بسپنې، مجموعي موازنې** (بليارده ډالرې)




يادښتونه: دلته لمرې غونډې ليکلې شوي دي. د 9/30/2013 پورې د ASFF ډيټا موجود نه وه کله چې دا راپور.

[a] الف دفاع وزارت 1 بلياړده ډالرې د مالي کار 2011 ASFF څخه بيا منلي دي.

[b] ب د دفاع وزارت 1 بلياړده ډالرې د مالي کار 2012 ASFF څخه بيا منلي دي P.L.113-6.

سرچينې: د دفاع وزارت څخه د سګار ډيټا کال ته ځوابونه، 10/09/2013 او 7/22/2013؛ P.L. 113-6، 3/26/2013.

## د افغان امنيتي ځواکونو د بودجې فعاليتونه

د امريکا دفاع وزارت په ASFF کې د بودجې د فعاليتونو درېو ډلو ته فنډونه ورکوي:

- دفاعی ځواکونه (د افغانستان ملی اردو)
- کورنيو چارو ځواک (د افغانستان ملی پوليس)
- اړوند فعاليتونه (ابتدايي زنداني عمليات)

د هربودجې فعاليتي ګروپ لپاره بودجه بيا په خپل وار سره په ځلورو فرعي فعاليتي ګروپونو باندي ويشل شوي ده: زيربنا، تجهيزات او ترانسپورت، روزنه او عمليات، او ساتنه.[29]

د 2013 کال د اګست تر 31 پورې د امريکا دفاع وزارت د ANSF نوښتونو په برخه کې تر 43.54$ ميليارد ډالر لګولي دي. د دغه مقدار پيسو څخه، 29.11$ ميليارد ډالره په افغان ملي اردو، نږدې 14.10$ ميليارد ډالره په افغان ملي پوليسو باندې؛ او پاتې 0.33$ مليارد ډالره په نورو اړوندو چارو باندې لګول شوي دي.[30]

لکه څرنګه چې په شکل 3.6 کې ښودل شوي، چې په افغان ملي اردو باندې د لګول شوو ډيرې برخه يعني نږدې 11.20$ ميليارد ډالره د هغوی په تجهيزاتو او ترانسپورت مصرف شوي ده. په افغان ملي پوليسو د لګول شوو ډيرې برخه، نږدې 4.87$ مليارد ډالره هغه ډول چې په شکل 3.7 کې ښودل شوي د هغوی په پايښت او ثبات باندې لګول شوي.[31]

شکل 3.6

**د زير فعاليتي ډلې اړخه د ANA لپاره د ASFF د پيسو تاديی، مالي کال 2005 -اګست 31، 2013** (بليارده ډالري)




يادښتونه: دلته لمړي غونډي ليکلې شوي دي. د 9/30/2013 پورې د ASFF ډيټا موجود نه وه کله چې دا راپور مطبوعاتو ته ولاړو.

سرچيني: د دفاع وزارت له اړخه د سکار ډيټا کالونو ته خوابونه، 10/09/2013.

شکل 3.7

**د ANP لپاره د ASFF تاديی د زير فعاليتي ډلې له اړخه مالي کال 2005 - اګست 31، 2013** (بليارده ډالري)




يادښتونه: دلته لمړي غونډي ليکلې شوي دي. د 9/30/2013 پورې د ASFF ډيټا موجود نه وه کله چې دا راپور مطبوعاتو ته ولاړو.

سرچيني: د دفاع وزارت له اړخه د سکار ډيټا کالونو ته خوابونه، 10/09/2013.

**د بودجوي فعاليتونو ګروپونه:** کتګوريانې هر تخصيص دننه او يا هم د هغه مالي حساب چې د اړونده موخو، پروژو،او يا هم د تخصيص فعاليت په ګوته کوي

**فرعي فعاليتي ګروپونه:** حسابې ګروپونو ويش په مالي سيمو باندې د تعهد کړل شوو مرستو مصارف په ډاګه کوي

سرچيني: د امريکا دفاع وزارت، "7110.1-M منول د دفاع وزارت د بودجوي لاربښود منول"، چې په 9/28/2009 لاس رسی ورته شوی دی؛ د بحري ځواکونو رياست، "د روغتيايی اسانتيا مدير لاسی کتاب"، 5 پاڼه، چې په 10/2/2009 باندې لاس رسی ورته شوی دی.




**د CERP د وجهي صندوق ترمینالوژي**

د امریکا دفاع وزارت د CERP وجهي صندوق تخصیصات، منل شوي او مصرف کړل شوي مرستې راپور ورکړې.

**تخصیصات:** د تعهداتو لپاره موجوده پیسې

**منل شوي:** د پیسو د ورکولو تعهدات

**مصارفات:** پیسې چې مصرف کړل شوي

سرچینه: DOD، د سیګار د معلوماتو غوښتنې ته ځواب، 4/14/2010.

## د قوماندان بیړني ځواب پروګرام

د قوماندان بیړني ځواب پروګرام (CERP) په افغانستان کې د متحده ایالاتو قوماندانان په دې توانوي چې د هغو پروګرامونو په ملاتړ کولو سره چې د سیمه ایزې ابادۍ سمدستي مرسته وکړي، د خپل مسوولیت په برخو کې بیړنیو بشري مرستو او د بیا رغونې غوښتنو ته ځواب ووایي. تر دې پروګرام لاندې پانګونه ورو پروژو ته ځانګړې شوې ده، چې لګښت یې تر $500,000 ډالرو کم دی.[32] پروژو ته، چې لګښت یې تر $1 میلون ډالره تېرې کوي، اجازه ورکړل شوې ده؛ خو دا د متحده ایالتو د مرکزي قوماندې د قوماندان تصویب غواړي له 5 میلیونو ډالرو څخه زیاتې پروژې د دفاع وزیر د معاون لخوا تایید ته اړتیا لري. د CERP تمویل کړل شوي پروژې ممکن تر $20 میلیون ډالرو تجاوز ونکړي.[33]

د ادغام او اضافي تداوم د تخصیصاتو قانون 2013، د CERP لپاره په 2013 مالي کال کې $200 میلیون ډالره تخصیص کړې چې پدې سره د ټولو مرسته شوو مجموعه $3.64 میلیارد ډالرو ته رسیږي.[34] چې د دغه مقدار څخه د امریکا د دفاع وزارت د راپور پر اساس نږدې $2.29 ملیارد ډالره منل شوي، چې د 2013 کال د اګست تر 31 پورې یې نږدې $2.22 میلیارد ډالره مصرف کړل شوي دي.[35] شکل 3.8 د مالي کال په اساس د CERP لپاره تخصیصات ښیځ او شکل 3.9 په مقایسوي ډول د CERP پروژو لپاره د تخصیص، منل شوو او مصرف شوو ارقامو ښکارندوی کوي.

شکل 3.8

**د مالي کال په بنیاد د CERP اختصاصونه**

(ملیونه ډالري)




شکل 3.9

**وجوه CERP، مقایسه مجموعه انباشته**

($ میلیارد ها)




یادښتونه: دلته لمرې غونډې لیکلې شوي دي. په ډیټا کی کیدای شي چې د اژانسو ترمینځه انتقال شامل وي. د 9/30/2013 پورې د CERP ډیټا موجود نه وه کله چې دا راپور مطبوعاتو ته ولاړو.

سرچینې: د دفاع وزارت له اړخه د سګار ډیټا کالونو ته ځوابونه، 10/23/2013 او 7/22/2013: د OMB له اړخه د سګار ډیټا کالونو ته ځواب، 1/4/2013؛ P.L. 113-6، 3/26/2013؛ P.L. 112-74، 12/23/2011؛ P.L. 112-10، 4/15/2011.

## د افغانستان د زیربنا فنډ

د Ike Skelton ملي دفاع قانون د 2011 مالي کال لپاره د لوړ — لومړیتوب، لوی مقیاس زیربنای پروژو ته د ورکړې لپاره د افغانستان زیربنا فنډ (AIF) جوړ کړی، چې د متحده ایالاتو ملکي — نظامي هڅه ملاتړوي. د کانګرس غوښتنه ده چې د AIF لخوا تمویل شوي پروژې به د امریکا د دفاع او بهرنیو چارو وزارتونو لخوا په ګډه غوره او اداره کیږي. له دیرشو ورځو څخه وړاندې چې د AIF یوې پروژې ته د فنډ ژمنه او تادیه کیږي، د امریکا او بهرنیو چارو وزیران باید کانګرس د وړاندیز شوي پروژې له جزییاتو څخه خبر کړي، پشمول د ساتنې پلان او دا چې دا پروژه څنګه په افغانستان کې د یاغیانو سره د مبارزې د ستراتیژۍ ملاتړ کوي.[36]

د ادغام او اضافي تداوم د تخصیصاتو قانون 2013، د AIF لپاره په 2013 مالي کال کې $325 میلیون ډالره تخصیص کړي چې پدې سره د ټولو مرسته شوو مجموعه $1.02 میلیارد ډالرو ته رسیږي.[37] پدغه ارقامو کې د 2011 مالي کال لپاره د AIF هغه $101 میلیون ډالره نه دي شامل کوم چې د 2011 مالي کال د اقتصادي ملاتړ وجهي صندوق ته چې د USAID لخوا د زیربنایي پروژو د پرمختګ لپاره کارول کیږي، لیږدول شوي وې. د 2013 کال د اګست تر 31 پورې، د AIF ټولټال $548.35 میلیون ډالره منل شوي، چې د هغه څخه له $163.34 میلیون ډالرو ډیر مصرف کړل شوي دي.[38] شکل 3.10 د مالي کال په اساس د AIF لپاره تخصیصات ښیئ او شکل 3.11 په مقایسوي ډول د AIF پروژو لپاره د تخصیص، منل شوو او مصرف شوو ارقامو ښکارندوی کوي.




**د AIF وجهي صندوق ترمینالوژي**

د دفاع وزارت AIF وجهي صندوق لپاره د تخصیصاتو، منل شوو او مصرف شوو مرستو راپور ورکړ.

**تخصیصات:** د تعهداتو لپاره موجوده پیسې

**منل شوي:** د پیسو د ورکولو تعهدات

**مصارفات:** پیسې چې مصرف کړل شوي

سرچینه: DOD، د سیګار د معلوماتو غوښتنې ته ځواب، 4/13/2012.

شکل 3.10

**د AIF اختصاص د مالي کال په بنیاد**

(ملیون ډالري)




شکل 3.11

**د AIF بسپنې، مجموعي موازنې**

(ملیون ډالري)




یادښتونه: دلته لمرې غونډې لیکلې شوي دي. نوې ډېټا کومه چې د 6/30/2013 راپور شوې ډېټا په مقابل کې د لاندینی ژمنې عکس په پایلې کې رامخکې شوې. د 9/30/2013 پورې دAIFs ډېټا موجود نه وه کله چې دا راپور مطبوعاتو ته ولاړو.

[a] د مالي کال 2011 په عکس کې 101 ملیون ډالرو انتقال شامل نه دې کوم چې د AIF پروژې ترسره کولو لپاره یو ایس ایډ ته انتقال شوې و.

سرچینې: DFAS، "AR(M) 1002 اختصاص هویت کوم چې د مالي کال پروګرام او لاندیني اکاونټونو څخه دې" 9/17/2013: د دفاع د وزارت له اړخه د سګار ډېټا کال ته ځواب، 7/22/2013؛ P.L. 113-6، 3/26/2013؛ P.L. 112-74، 12/23/2011؛ P.L. 112-10، 4/15/2011.

## د سوداګریزو او ثبات او پایښت عملیاتو لپاره کاري ځواک

په 2010 کال کې د سوداګریزو او ثبات او پایښت عملیاتو لپاره کاري ځواک (TFBSO) په افغانستان کې د بې کارۍ د کچې د کمولو، افغانانو لپاره د اقتصادي فرصتونو د رامنځ ته کولو او همدا ډول د اقتصادي لاملونو د رامنځ ته شوي تاوتریخوالي سره د مبارزې له لارې د افغانستان د ثبات په موخه خپل فعالیت پدې هیواد کې پیل کړ. د TFBSO پروژو کې خصوصي پانګونه، صنعتي پرمختګ، بانک داري او د مالي سیستم وده، کرهنیزه تنوع او بیا راپیدا کول، او د بریښنا پرمختګ شامل دي.[39]

TFBSO د تمویل دوه جلا برخې لري. د ملي دفاع د صلاحیتونو په قانون کې د TFBSO د مرستو څخه یوازې د هغه فعالیتونو لپاره کار اخیستل کیدای شي چې د په مستقیم ډول د افغانستان د بیارغونې سره تړاو ولري. هغه مرسته چې TFBSO یې د عملیاتو او حفظ او مراقبت او پوځ څخه ترلاسه کوي د امریکا د متحده ایالاتو د اجناسو، ملکي کارکوونکو، سفر، امنیت او نورو عملیاتي او اپراتیفي لګښتونو لپاره کارول کیږي.

د 2013 کال د سپتمبر تر 30 پورې، TFBSO نږدې 137.40$ میلیون ډالر د 2013 مالي کال لپاره تخصیص کړل، چې پدې سره د دغه عملیاتي ځواک لپاره د ټولو تخصیص کړل شوو مرستو مجموعه 692.15$ میلیون ډالرو ته رسیږي.[40] چې د دغه مجموعه څخه نږدې 658.38$ میلیون ډالره منل شوي او 480.17$ میلیون ډالره مصرف کړل شوي دي.[41] شکل 3.12 د مالي کال په اساس د TFBSO پروژو لپاره تخصیصات ښیي او شکل 3.13 د TFBSO پروژو لپاره په مقایسوي ډول د موجودو، منل شوو او مصرف شوو مرستو ښکارندوی کوي.




### د TFBSO وجهي صندوق ترمینالوژي

د دفاع وزارت TFBSO وجهي صندوق لپاره د تخصیصاتو، منل شوو او مصرف شوو مرستو راپور ورکړ.

**تخصیصات:** د تعهداتو لپاره موجوده پیسې

**منل شوي:** د پیسو د ورکولو تعهدات

**مصارفات:** پیسې چې مصرف کړل شوي

سرچینه: DOD، د سیکار د معلوماتو غوښتنې ته ځواب، 4/13/2010.

شکل 3.12

**د مالي کال په بنیاد د TFBSO اختصاصونه**

(ملیونه ډالرې)




شکل 3.13

**د TBSO بسپنې، مجموعي موازنې**

(ملیونه ډالرې)




یادښتونه: دلته لمري غونډي لیکلي شوي دي. NDAA = د ملي دفاع د واک قانون. د NDAA بسپنې د هغه فعالیتونو د ادا کولو لپاره کاریږي کوم چې د افغانستان د بیا رغونې سره مستقیماً تړون لرې. OMA = د عملیاتو او سمونې اردو. د OMA فنډونه د امریکایی شتمنو د تلفاتو لپاره، د ښارې کارکوونکو، سفر، امنیت او نورو عملیاتو د خرچو لپاره کاریږي.

سرچینې: د دفاع وزارت له اړخه د سکار ډیټا کالونو ځوابونه، 10/1/2013، 7/3/2013 او 10/4/2011؛ P.L. 113-6، 3/26/2013؛ P.L. 112-74، 12/23/2011؛ P.L. 112-10، 4/15/2011.




**د DOD CN وجهي صندوق ترمینالوژي**

د دفاع وزارت DOD CN وجهي صندوق لپاره د تخصیصاتو، منل شوو او مصرف شوو مرستو راپور ورکړ.

**تخصیصات:** د تعهداتو لپاره موجوده پیسې

**منل شوي:** د پیسو د ورکولو تعهدات

**مصارفات:** پیسې چې مصرف کړل شوي

سرچینه: DOD، د سیګار د معلوماتو غوښتنې ته ځواب، 4/13/2010.

## د امریکا د دفاع وزارت د مخدره توکو د مخنیوی او مخدره توکو سره د مبارزې فعالیتونه

د امریکا دفاع وزارت د مخدره توکو مخنیوی او مخدره توکو سره د مبارزې وجهي صندوق (DOD CN) د مخدره توکو د قاچاق او اړوندو فعالیتونو سره د مبارزې له لارې له افغانستان د ټیکاو سره مرسته کوي. د امریکا د دفاع وزارت له DOD CN څخه کار اخلي ترڅو د مخدره توکو د قاچاق پر وړاندې د اردو د عملیاتو ملاتړ وکړي؛ د افغانستان د مخنیوی عملیات پراخ کړي؛ او د افغانستان د قانون پلي کوونکو ادارو ظرفیت زیات کړي، او پدې کې د افغانستان سرحدي پولیسو لپاره د تخصیصي روزنې، تجهیزات، او تاسیسات برابرول شامل دي.[42]

د DOD CN فنډونه د اردو ټولو خدماتو ته د یوې بودجې په توګه د کانګرس لخوا تخصیص ورکول کیږي. د امریکا دفاع وزارت د مخدره توکو سره د مبارزې د سپارلو له مرکزي حساب (CTA) څخه د اردو د خدماتو او د دفاع ادارو ته فنډونه بیرته پروګراموي چې د فنډونو ژمنې او سپارل تعقیبوي. د هر مالي کال لپاره د امریکا دفاع وزارت د افغانستان لپاره د DOD CN د حسابونو په اړه د یو لګښت په توګه راپور ورکړی.[43]

د 2013 کال د سپتمبر تر 30 پورې، د امریکا دفاع وزارت راپور ورکړی چې DOD CN د افغانستان لپاره په 2013 مالي کال کې $307.36 میلیون ډالره ترلاسه کړي، چې پدې سره د 2004 کال راپدې خوا د DOD CN سره د ترسره شوو مرستو کچې $2.62 میلیارد ته رسیږي.[44] شکل 3.14 د مالي کال په اساس د DOD CN لپاره تخصیصات ښیې، او په مقایسوي ډول د شکل 3.15 دغه برخې لپاره د تخصیص کړل شوو، او نظامي خدماتو او دفاعي اداراتو ته د لیږدول شوو مرستو شکارندوی کوي. پدې ربع کې، د 14/2013 مالي کال لپاره د نامنل شوي

شکل 3.14

**د مالي کال په بنیاد د دفاع وزارت اختصاصونه**

(ملیونه ډالرې)




شکل 3.15

**د دفاع د وزارت بسپنې، مجموعي موازنې**

(بلیارده ډالرې)




یادښتونه: دلته لمرې غونډې لیکلې شوي دي. تازه ډیټا کومه چې د مالي کال 2013 لپاره په ټیټې اختصاص شوې شمیرې کې او د مالي کال 2012 لپاره د تیر سه ماهي په مقابل کې په لوړې اختصاصی شمیرې کې مخې ته راغلې.

[a] الف د دفاع وزارت ټولې بسپنې د عسکري خدمتونو او د حکومت د اژانسو ته د ژمنو او تادیو لپاره بیا پروګرام کړي.

[b] په درې میاشتو کې، هغه بسپنې کومې چې عسکري خدمتونو او د دفاع اژانسو ته ورکړې شوي وي، هغه د دفاع وزارت مرکزي اکاونټ ته د په مالي کال 2014 کې د بیا تقسیمولو لپاره واپس کړې شوي دي.

سرچینې: د سګار ډیټا کال ته د دفاع وزارت ځوابونه، 9/30/2013 او 7/1/2013.

مرستي چې وړاندي د DOD CN وجهي صندوق ته نظامي فعالیتونو او دفاعي ادارتو ته لیږدول شوي وي، بیرته CTA ته په 2014 مالي کال کې د کارونې په منظور بیرته انتقال کړل شوې.

## د اقتصادي ملاتړ بودیجه

د اقتصادي مرستو فنډ (ESF) پروګرام بېلابېلو هیوادونو ته د اقتصادي، سیاسي او امنیتي غوښتنو له مخې د اوږمهالو او لنډمهالو سفرونو د برابرولو په موخه د متحد ایالتونو له ګټو سره مرسته وکړه. د ESF پروګرامونه د تروریزم پر وړاندې د پروګرامونو ملاتړ کوي؛ ملي اقتصادونه ځوکمن کوي؛ او د لا ډیر شفاف او حساب ورکوونکي حکومت لپاره د اغیزمن، د لاس رسي وړ، او خپلواک قانوني سیستم د پراختیا لپاره مرسته کوي.[45]

د ESF لپاره تر $1.62 میلیارد ډالرو زیاتې مرستې د 2013 کال لپاره منظورې شوې وې، چې پدې سره د ESF د ترسره شوو مرستو کچې په مجموعي ډول تر $16.67 میلیارد ډالرو زیاتیږي. د دغه شمیر مرستو څخه، نږدې $14.67 میلیارد ډالره منل شوې، چې د هغه جمع څخه $11.17 میلیارد ډالره مصرف کړل شوې.[46] شکل 3.16 د مالي کال په اساس د ESF لپاره د ځانګړو کړل شوو مرستو ښکارندوی کوي.

USAID راپور ورکړی چې د 2013 تر سپتمبر تر 30 پورې ډیریدونکې ژمنې، د 2013 د جون تر 30 پورې پر ډیریدونکو ژمنو باندې نږدې $75.11 میلیون امریکايي ډالر زیات شوي. د 2013 کال د سپتمبر تر 30 پورې، د مجموعي لګول شوو مرستو کچې د 2013 کال د جون د 30 په نسبت $245.02 میلیون ډالر زیات شوي.[47] شکل 3.17 د ESF د پروګرامونو لپاره د مالي کال په اساس د ځانګړو کړل شوو، منل شوو، او لګول شوو مرستو ښکارندوی کوي.




### د ESF وجهي صندوق ترمينالوژي

د دفاع وزارت ESF وجهي صندوق لپاره د تخصیصاتو، منل شوو او مصرف شوو مرستو راپور ورکړ.

**تخصیصات:** د تعهداتو لپاره موجوده پیسې

**منل شوي:** د پیسو د ورکولو تعهدات

**مصارفات:** پیسې چې مصرف کړل شوي

سرچینه: USAID، د سیګار د معلوماتو غوښتنې ته ځواب، 4/15/2010.

شکل 3.16

**د مالي کال په بنیاد د ESF اختصاصونه**

(بلیارده ډالرې)




شکل 3.17

**د ESF بسپنې، مجموعي موازنه**

(بلیارده ډالرې)




یادښتونه: دلته لمړي غونډې لیکلي شوي دي. د مالي کال 2011 په شمیرو کې هغه 101 میلیون ډالري شامل دي کومې چې د افغانستان ساختمانئ بسپنې څخه ESF ته ورکړي شوي وي.

سرچینې: د سګار ډیټا کال ته د یو ایس ایډ ځواب، 10/10/2013 او 7/17/2013: د سګار ډیټا کال ته د ریاست ځواب، 6/27/2013.

## د مخدره توکو نړيوال کنترول او د قانون پلي کول

د متحده ايالاتو د نړيوال مخدره توکو او د قانون پلي کولو چارو بيورو (INL) د قانون د حاکميت د پراختيا ورکولو او د مخدره توکو له توليد سره د مبارزې او قاچاق يو حساب اداره کوي، چې د نړيوال مخدره توکو کنترول او د قانون پلي کولو (INCLE) د حساب په نوم دی. INCLE د INL د څو پروګرامونو، پشمول د پوليسو، مخدره توکو سره مبارزې، او د قانون حاکميت او عدالت ملاتړ کوي.[48]

د امريکا بهرنيو چارو وزارت راپور ورکړی، چې د ادغام او اضافي تداوم تخصيصاتو قانون 2013، د INCLE لپاره 568.81$ ميليون ډالره تخصيص کړي چې پدې سره د مجموعي ځانګړو کړل شوو مرستو کچې 4.18$ ميليارد ډالره ته رسيږي. د دغه شميره مرستو څخه، 3.53$ ميليارد ډالره منل شوي، چې د هغه جمع څخه 2.79$ ميليارد ډالره مصرف شوي دي.[49] شکل 3.18 لپاره د مالي کال په اساس د INCLE تخصيصات ښيي.

د امريکا د بهرنيو چارو وزارت په وينا، د 2013 کال د سپتمبر د 30 سره سم، د 2013 کال د جون د 30 په تناسب د منل شوو مرستو مجموعه 62.97$ ميليون ډالره زياته کړل شوې ده. د 2013 کال د سپتمبر تر 30 پورې، د مجموعي مصرف کړل شوو مجموعه د 2013 مالي کال د جون د 30 په نسبت 95.86$ ميليون ډالره زيات شوي.[50] شکل 3.19 د INCLE په مقايسوي ډول د تخصيص شوو، منل شوو او لګول شوو مرستو ښکارندوی کوي.

شکل 3.18

**د مالي کال په بنياد د INCLE اختصاصونه**

(مليونه ډالرې)




شکل 3.19

**د INCLE بسپنې، مجموعي موازنې**

(بليارده ډالرې)




يادښتونه: دلته لمرې غونډې ليکلې شوي دي. په دې ډيټا کې کيدای شي چې د اژانسو ترمينځه شوي انتقالونه شامل وي. دا تازه ډيټا د مالي کال 2012 لپاره د لوړ اختصاصي شميرې په پايلې کې ده.

سرچينې: د سګار ډيټا کال ته د رياست ځواب، 10/18/2013 او 7/15/2013.




### د INL وجهي صندوق ترمينالوژي

د دفاع وزارت INL وجهي صندوق لپاره د تخصيصاتو، منل شوو او مصرف شوو مرستو راپور ورکړ.

**تخصيصات:** د تعهداتو لپاره موجوده پيسې

**منل شوي:** د پيسو د ورکولو تعهدات

**مصارفات:** پيسې چې مصرف کړل شوي

سرچينه: د سيګار د 4/9/2010 معلوماتي غوښتنې ته د بهرنيو چارو وزارت ځواب.

## د افغانستان لپاره د بیا رغونې نړیواله مرسته

د امریکا د متحده ایالاتو د مرستو برسیره، نړیواله ټولنه د افغانستان د بیارغونې او هوساینې په برخه کې په پراخه کچې د پام وړ مرستې ترسره کړي دي. لکه څرنګه چې د افغانستان د بیارغونې لپاره د ځانګړي عمومي پلټونکي په تیرو راپورونه کې هم راغلي وو، د افغانستان سره د ترسره کیدونکي ډیری نړیوالې مرستې د باوري فنډونو له لارې سمبال او اداره کیږي. د باوري پانګو له لیارې چمتو شوي اعانې یوځای شوي او وروسته د بیارغونې کړنو باندې لګول شوي. د باوري فنډ د ډلې څخه دوه لوی فنډونه د افغانستان د بیارغونې باوري فنډ (ARTF) او د افغانستان لپاره د قانون او نظم باوري فنډ (LOTFA) دي.[51]

## د افغانستان د بیارغنیز باوري فنډ ته مشارکت

د افغانستان عملیاتي او پرمختګ بودیجو ته د نړیوالو مرستو خورا لوی سهم د ARTF له لیارې راځي. د نړیوال بانک د راپور په اساس، د 2002 کال څخه بیا د 2013 کال د سپتمبر تر 22 پورې 33 ډونرانو د افغانستان سره د 6.92$ میلیارد ډالرو مرستو تعهد کړی چې د هغه ډلې یې تر 6.52$ میلیارد ډالره ورکړل شوي دي.[52] د نړیوال بانک په وینا، مرسته کوونکو د 1392 افغان مالي کال چې د 21 دسمبر 2012 څخه بیا تر 2013 د دسمبر تر 20 سره سمون لري د ARTF سره د 804.52$ میلیون ډالرو مرستو تعهد کړی دی.[53] شکل 3.20 د 1392 افغان مالي کال لپاره د ARTF ته د 10 لوی ډونرانو ښکارندوی کوي.

شکل 3.20

**ARTF له اړخه د مالي کال 1392 لپاره اعانه، د سپتمبر 22، 2013 راهیسي د ورکوونکو له اړخه** (ملیون ډالري)




یادښتونه: دلته لمړي غونډي لیکلي شوي دي. مالي کال 1392 = 12/21/2012–12/20/2013.

سرچینې: نړیواله بانک، "ARTF: د سپتمبر 22، 2013 راهیسې په مالي حالت د منتظم راپور (د مالي کال د نهمي میاشب په پای کې 1392)"، p. 1.

د 2013 کال د سپتمبر تر 22 پورې، د امریکا متحده ایالاتو تر $1.96 میلیارد ډالرو د ډیرو تعهد کړی چې د هغه جمع څخه یې 2002 کال راپدیخوا $1.74 میلیارد ډالره ورکړي دي.[54] د امریکا متحده ایالات او بریتانیا د ARTF سره دوه مخکښ مرسته کوونکي هیوادونه دي چې په ټولیزه توګه هغه ډول چې په شکل 3.21. کې ښودل شوي 46% مرسته ترسره کړې.

د ARTF سره مالي تعهدات په دوو مالي چینلونو باندي ویشل شوي دي — بیرته راګرځیدونکي لګښت (RC) کړکۍ او د پانګونې کړکۍ.[55] د 2013 کال د سپتمبر د 22 سره سم، د نړیوال بانک په وینا، د ARTF نږدې $2.88 میلیارد ډالره مرسته د افغانستان حکومت لخوا د RC کړکۍ لخوا د بیرته راګرځیدونکو لګښتونو لکه د ملکي کارکوونکو د معاشاتو د ورکړې په برخه کې لګول شوي.[56] د RC کړکۍ افغان حکومت عملیاتي مصارفو لپاره کارول کیږي ځکه د دولت عایدات لا تراوسه د دغه مصارفو د پوره کولو لپاره کافی نه دي. ترڅو دا وکتل شي چې د روانو لګښتونو کړکۍ په پوره اندازه مرستې ترلاسه کوي، کیدای شي ARTF ته مرسته کوونکي هیوادونه له نیمې څخه ډیره برخه اخیستنه د پام وړ پروژو لپاره و نه "غواړي" (په نښه نکړي).[57]

د پانګونې وینډو د پرمختیایي پروګرامونو لګښتونه حمایه کوي. د 2013 د سپتمبر تر 22 پورې، د نړیوال بانک په وینا، د پانګونې د کړکۍ له لارې له $2.97 میلیاردو ډالرو څخه ډیرو ژمنه شوې ده، لدغه څخه نږدې $2.14 میلیارده ډالر تادیه شوې دي. نړیوال بانک د 20 فعالو پروژو راپور ورکړی چې په مجموعي ډول یې ارزښت $1.79 میلیارد ډالره دی، چې د هغه جمع یې $962.70 میلیون ډالره مصرف کړل شوي دي.[58]

شکل 3.21

**د مرسته کوونکو اړخه ورکړې شوي د ARTF بسپنې کال 1381 (2002) – سپتمبر 22، 2013** (په سلو کې)

**ټوټال تادیه شوې:** 6.5 بلیارده ډالرې




یادښتونه: دلته لمرې غونډې لیکلې شوي دي. EC/EU = اروپایی کمیشن/اروپایی اتحاد. په نورو هیوادونو کې 28 مرسته کووکي هیوادونه شامل دي.

سرچینې: نړیواله بانک، "ARTF: د سپتمبر 22، 2013 راهیسې په مالي حالت د منتظم راپور (د مالي کال د نهمې میاشپ په پای کې)،" p. 5.

## د افغانستان لپاره د قانون او نظم باوري فنډ ته مرستې

د ملګرو ملتونو پرمختیایي پروګرام (UNDP) د افغان ملي پولیسو د معاشاتو د ورکړې چارې د پرمخ بیولو لپاره LOTFA اداره کوي او همدا ډول د افغان کورنیو چارو وزارت د ظرفیتونو د ارتقا په برخه کې فعالیت کوي.[59] د 2002 کال راپدیخوا مرسته کوونکو د LOTFA سره د $3.38 میلیارد ډالرو مرستو تعهد کړی، او د تازه ارقامو په اساس د دغه جمع څخه یې $3.06 ورکړل شوې دي،[60] د LOTFA شپږم فاز په جنورې 1 کال 2011 کې پیل شوو. د 2013 کال د مارچ په 20، د UNDP-LOTFA رهبرې کمیټې د شپږم فاز موده وغزوله او د هغه د پای نیټه یې د 2013 کال د مارچ د 31 څخه د 2013 کال دسمبر 31 ته وغزوله. د شپږم فاز د شروع څخه پدې 30 میاشتو کې، UNDP د LOTFA څخه افغان حکومت ته افغان ملي پولیسو، د مرکزي زندانونو ریاست کارکوونکو ته $1.26 میلیارد ډالره لیږدولي او د اضافي $27.86 میلیون ډالر یې د LOTFA اړوند د ظرفیتونو د ارتقا فعالیتونو ته ورکړې دي.[61] د 2013 د جون تر 30 پورې، مرسته کوونکو هیوادونو د LOTFA د شپږمې دورې لپاره له $1.85 میلیاردو امریکایي ډالرو څخه ډیره ژمنه کړې ده. لدغو پیسو څخه، امریکا نږدې $859.37 میلیون ډالر ژمنه کړې ده، او جاپان له $614.76 میلیونو امریکایی ډالرو څخه ډیره ژمنه کړې ده. د دوی مشترک تعهدات د LOTFA شپږم فاز د مجموعي تعهداتو نږدې 80% برخه جوړوي. د امریکا متحده ایالاتو د LOTFA د تاسیس څخه راپدیخوا د هغه سره نږدې $1.12 میلیارد ډالره مرسته کړې ده.[62] شکل 3.22 د 2002 کال راپدیخوا د ترلاسه شوو معلوماتو په اساس د 4 سترو مرسته کوونکو ښکارندوی کوي.

شکل 3.22

**د کال 2002 راهیسې LOTFA ته د مرسته کوونکو اعانې، د جون 30، 2013 راهیسې** (په سلو کې)

**ټوټال تادیه شوې:** 3.1 بلیارده ډالرې




یادښتونه: دلته لمرې غونډې لیکلې شوي دي. EU = اروپایی اتحاد. په نور هیوادونو کې 18 مرسته کوونکي هیوادونه شامل دي.

سرچینې: د UNDP، د "LOFTA خلورم فیز سه ماهي انکشافي راپور Q2/2013" 8/11/2013، p. 66؛ د سګار له اړخه د UNDP سه ماهي او د LOFTA د کلني راپور جایزه، 10/21/2013.

# د امنیت منځپانګې


د دې ربعې کلیدي مسایل او پیښې 81

د امنیت چاپیریال 86

په افغانستان کې د متحده ایالاتو
او ایتلاف ځواکونه 87

د ANSF (افغان ملي امنیتي ځواک) پیاوړتیا 87

افغان سیمه ایز پولیس 88

د افغان عامه محافظت ځواک 89

د ANSF ارزیابي 89

د دفاع او کورنیو چارو وزارتونو ارزیابي 91

افغان ملي اردو 92

افغان ملي پولیس 97

د ANSF طبي/روغتیایی پاملرنه 101

د ناچاودلي مهماتو لرې کول 101

د تریاکو ضد 102

# امنيت

تر د 31 اګست 2013 پورې د متحده ایالاتو کانګریس د افغان ملي امنيتي ځواکونو (ANSF) ملاتړ لپاره نږدې 54.3 مليارد ډالر مختص کړي. د دې بسپنو ډیری یې (52.8 مليارد ډالر) د افغانستان امنيتي ځواکونو بسپنې (ASFF) له لارې تخصيص کړې او د امنيتي لیږد ګډې قوماندې - افغانستان (CSTC-A) ته چمتو کړی شوي. موخه یې دا ده ترڅو د افغانستان ملي امنيتي ځواکونه جوړ، روزنه، او دوام ورکړي، چې د افغانستان له ملي اردو (ANA) او د افغانستان له ملي پولیسو (ANP) څخه ترکیب شوي. د ASFF لپاره مختص شوي 52.8 مليارد ډالرو څخه شاوخوا 47.0 مليارد ډالر تضمين او 43.5 مليارد ډالر تر اګست 31، کال 2013 پورې مصرف شوي.[63]

دا برخه د ANSF او د دفاع او کورنيو چارو د وزارتونو په ارزونې باندې خبرې کوي؛ او د امریکا له مرستو څخه د ANSF د جوړولو، تجهيز کولو، روزلو، او دوام لپاره د کار اخيستلو لنډيز وړاندې کوي؛ او په افغانستان کې د غير قانوني مخدره توکو د کرهنې او تجارت په وړاندې د مبارزې د هڅو په اړه تازه معلومات وړاندې کوي. دا برخه د 2014 په پای کې د افغانستان په مشرۍ د امنيت سپارلو ننګونو باندې هم خبرې کوي.

## د دې ربعې کلیدي مسایل او پیښې

د دې ربعې کليدي مسايلو او پيښو کې د ANSF تلفاتو په اړه د متحده ایالاتو او افغان اندیښنې، د متحده ایالاتو افغان دوه اړخيز ازمايشي امنيتي تړون، د نوي افغان کورنيو چارو وزير ګمارل، د کندز ولایت څخه د الماني ځواکونو وتل، د افغان په رهبرۍ امنيتي لیږد ته دوام، د متحده ایالاتو خورا اخرني ملکي - نظامي ستراتيژۍ کاري چوکاټ خپرول، او د ANSF چمتووالي ارزونې لپاره د نوې پروسې پلي کول شامل دي.

### د ANSF تلفات او اندیښنه

پدې ربعه کې د متحده ایالاتو او افغان لوړو چارواکو د ANSF لوړ شمير تلفاتو او په ځواکونو یې اغیزې په اړه خپلو اندیښنو بیانولو ته دوام ورکړ. د سپتمبر 2013 په یوې رسنه ايي مرکه کې، د نړیوال امنيت مرستندويه ځواک (ISAF) قوماندان، جنرال جوزف ډانفورډ، په نښه کړل، "چې زه راضي نه يم چې دا تلفات د زغم وړ دي."[64] د خبري مقالې په وینا، جنرال جوزف ډانفورډ وویل ANSF خورا ډير وګړي له لاسه ورکوي او شاید اړتیا ولري چې ترپنځه کلونو پورې ملاتړ شي مخکې له دې چې پخپله وکولی شي جګړه پرمخ ويسي.[65]

برسیره پردې، د رسنیو راپورونو په وینا، د افغانستان نوي کورنیو چارو وزارت وزیر عمر داودزي، د سپتمبر 2 په خپله وینا کې وویل، "د دې کال (اسلامي تقویم) په تیرو شپږو میاشتو کې 1,792 افغان پولیسو خپل ژوند له لاسه ورکړی او څه دبره 2,700 ټپیان شوي." [66] د تیرې ربعې یوه مطبوعاتي لنډیز په جریان کې، جنرال ډانفورډ وویل، "افغان تلفات زما د لوړو اندیښنو څخه دي،" او په نښه یې کړه چې ANSF "په ځینې حالتونو کې د یوې اونۍ په عمل کې 100 یا 120 تلفات درلودل." [67]

په افغانستان کې د امنیت او ثبات په وړاندې پرمختګ باندې د دفاع وزارت (DOD) د جولای 2013 راپور وایی، ANSF د هغې د 352,000 پرسونل پای ځواک هدف ته نږدې دی او "تقریبا ټول عملیات په خپلواکه توګه پرمخ وړي" چې د ISAF د ټیټو تلفاتو پایلې رامنځته کوي.[68] په هرصورت، نوموړی راپور له 2010 راهیسې په عمل کې د ANSF د مړینې شمیر ډیریدل هم ښیې. په مارچ 2013 کې (د DOD راپور کې موجود اخرنۍ نیټه)، له 300 څخه ډیر ANSF وژل شوي. DOD په نښه کړې چې د ANSF تلفات د ISAF عملیاتي راپور ورکوونې پربنسټ دي، کوم چې "تمه کیږي د ANSF تلفاتو واقعیی شمیر وړاندې کړي." [69]

پدې ربعه کې، سیګار د ANSF تلفاتو تازه معلوماتو غوښتنه کړې، په هرصورت، د متحده ایالاتو د مرکزي قوماندې (CENTCOM) چمتو کړی شوي ځواب محرم و.[70] DOD په تیرو راپورونو کې د افغان تلفاتو روند راپور ورکړی مګر د افغان تلفاتو دقیق شمیر نه راپور کوي.

په افغانستان د هغې د سپتمبر 2013 راپور کې، د ملګرو ملتونو (UN) عمومي منشي په نښه کړې چې "د / د تلفاتو شمیر کې د پام وړ ډیروالی راغلی." [71] د عمومي منشي په وینا، د دې کال په دوهمه ربعه کې له 3,500 څخه ډیر افغان نظامي پرسونل یا ټپي شوي او یا وژل شوي دي. MOI راپور ورکړی چې د می نیم او جون نیم ترمنځ د 299 ANP پرسونل وژل شوي چې په 2012 کال ورته دوره کې 22% ډیروالی دی. عمومي منشي دا هم وویل چې داخلي بریدونه لاهم ستونزه وه. د می 16 او اګست 15 ترمنځ دوه ورته بریدونه د ایتلاف ځواکونو پروړاندې کندهار او پکتیکا کې و، د کومو مسؤلیت چې طالبانو پرغاړه واخیست، او پنځه بریدونه چې افغان ځواکونه کې دخیل و په هرات، هلمند او کنړ ولایتونو کې و.[72]

عمومي منشي د لوی — معیار غیرمجاز غیرحاضریو سره روانې ستونزې هم په نښه کړې ډیری یې په ANA کې د ټولو عللو څخه، اندیښنې سره، چې په میاشت کې د 2.4% څخه لوړ.[73] د CSTC-A څخه خورا اخرنې شمیرو مطابق، په اګست 2013 کې، د ANA 2.4% او د ANP 1.5% و. له سپتمبر 2011 څخه تر اګست 2013 پورې، د ANA میاشتنی نرخ 2.5% اوسط شوی، مګر په جنوري 2013 کې 4.1% ته لوړ شوی؛ ANP 1.3% اوسط شوی خو په اکتوبر 2011 کې 1.9% لوړوالي ته رسیدلی او بیا په جولای 2013 کې.[74]

پرته د رخصتۍ څخه د ANA پرسونل غیرحاضري (AWOL) هم یوه ستونزه وه. د CSTC-A په وینا، 8,797 پرسونل یا د ANA 5.3% سلنه په اګست 2013 کې د خپلو خورا اخرني حاضرۍ پرمهال AWOL و.[75] که څه هم سیګار هم د ANP هغه پرسونل د شمیر غوښتنه وکړه چې AWOL و، CSTC-A دغه معلومات چمتو نکړل.

## دوه اړخيزه امنيتي موافقه



**د بهرنيو چارو وزير** کيري د ولس مشر کرزي سره په BSA، په اکتوبر 12، 2013 په کابل کې د ولسمشرۍ ماڼۍ کې مطبوعاتي کنفرانس په لاره اچوي. (د حکومت عکس)

په اکتوبر 11، د بهرنيو چارو وزير جان کيري د ولس مشر کرزي سره په کابل کې د دوه اړخيز امنيتي تړون (BSA) په اړه مزاکراتو لپاره ملاقات وکړ ترڅو د متحده ايالاتو ځواکونو رول او دريځ وټاکي چې په 2014 کې د هغوی جنګي ماموريت پای ته رسيدو وروسته به پاتی کيږي. د بهرنيو چارو وزارت په وينا، دواړه خواوو تړون پورې اړوند اندونه او انديښنې سره شريکې کړې. د اکتوبر 12 ګډ مطبوعاتي کنفرانس کې، ولس مشر کرزي وويل چې هغه او وزير جان کيري موافق دي چې متحده ايالات به تروريزم ضد عمليات پخپله پرمخ نه بيايي مګر دا چې افغان ځواکونو سره، په کورونو د تعرض څخه د افغان وګړو خونديتوب لپاره ليکلی تضمين به چمتو کړي، او په روښانه توګه ژمنه چې د ملت حاکميت ته احترام وکړي. په هرصورت، ولس مشر کرزي وويل ايا افغانستان به د متحده ايالاتو دا غوښتنه ومني چې د متحده ايالاتو سرتيري د متحده ايالاتو نظامي محکمو قضاوت پراساس پاتې شي او نه د افغان محکمو پراساس، دا به د لوی جرګې په واسطه پريکړه شي چې د نومبر په پای کې به راوبلل شي. که چيرې لويه جرګه د متحده ايالاتو سرتيرو لپاره مصؤنيت تصويب کړي، نو نوموړی تړون به بيا د افغانستان پارلمان ته د تصويب لپاره وليږدول شي.[76] متحده ايالاتو او افغانستان په BSA له 15 نومبر 2012 راهيسې مزاکرات کول.[77]

د اکتوبر په يوې مطبوعاتي مرکه کې، ولس مشر اوباما وويل چې هغه ترجيح ورکوي ANSF د افغانستان امنيتي اړتياوې اداره کړي، مګر پيژندل شوي چې دوی لاتراوسه چمتو ندي بشپړ مسؤليت په غاړه واخلي. د رسنيو وينا پراساس، هغه به د روزنې او مشاورت په ظرفيت کې د ځينې سرتيرو پاتې کيدل ملاحظه کړي، مګر باور لري چې BSA ته اړتيا ده ترڅو د متحده ايالاتو هغه سرتيرو لپاره چې دلته پاتې کيږي د خونديتوب څخه اطميينان لاسته راشي.[78]

په تيرو ويناو کې، ولس مشر کرزي په نښه کړې چې هغه اميد لري د 2014 په پای کې د نړيوال ځواکونو وتلو وروسته د متحده ايالاتو ځواکونه په افغانستان کې پاتې شي. هغه ويلي چې هرډول معامله بايد "د افغانستان ملي ګټې خونديي وساتي."[79]

## د کورنيو چارو نوی وزير

د رسنيو په وينا په سپتمبر 1، 2013، ولس مشر کرزي عمر داودزی د کورنيو چارو نوي وزير په توګه ونوماو؛ داودزی په سپتمبر 25 په رسمي توګه وګمارل شو.[80] داودزی، په پاکستان کې د افغانستان پخوانی سفير و، چې د غلام مجتبی پتنګ ځای ناستی شو، چاچې د ګمارنې يو کال څخه کمه موده کې د امنيتي اوضاع ودې کې پاتې راتلو لپاره د افغانستان پارلمان کې د باور رايی لاسته رانه وړه.[81]

## الماني ځواکونو کندز پريښود

د المان يوې رسنۍ راپور په وينا، الماني ځواکونو د اکتوبر 6 په مراسمو کې د خپل بيز (مرکز) قومانده افغان ځواکونو ته وسپارله چې د المان دفاع او بهرنيو چارو وزيرانو پکې ګډون کړی و. تمه کيږي چې په کندز کې ټول 900 الماني سرتيري د اکتوبر ترپای پورې وځي.[82] المان د افغانستان نهه شمالي ولايتونو کې د امنيت لپاره رهبري کونکی ملت و.

تر د اګست 1 پورې 4,400 الماني سرتيرو په افغانستان کې خدمات ترسره کول.[83] د الماني مطبوعاتو په وينا، د الماني ځواکونو وتلو وروسته امنيتي چاپيريال په اړه د کندز ډيرى اوسيدونکي انديښمن دي.[84]

## د سپارلو پرمختګ

له تيرې ربعې راهيسې، د افغانستان ټول پنځه جغرافيايى "برخې" د ANSF په مشرۍ امنيتي ليږد درلود. د DOD په وينا، تر دسمبر 2014 پورې، به د ليږد پروسه بشپړه شي او ANSF به په افغانستان کې د امنيت لپاره بشپړ مسؤليت ولري.[85]

د DOD په وينا، د ليږد پروسې پرمهال، به ISAF د 2014 په اوږدو کې چيرې چې اړين وي جنګي عملياتو کې ښکيلتيا ته دوام ورکړي، او په کليدي "وړ کونکو" لکه هوايى، طبي ملاتړ، استخباراتو، د IED ضد، سيګنال، او لوژستيک برخه کې به د ANSF ملاتړ ته ژمن پاتې شي. په هرصورت، د ورځني عملياتو پرمخ وړلو لپاره به ANSF مسؤل وي. ANSF به د هغوى امنيتي ځواک مرستندويه ډلو په واسطه چمتو کړى شوي وړکونکي ملاتړ او مشورې سره د ترهه ګرۍ ضد عمليات هم پلان، ترتيب او پلي کړي. افغان حکومت، په ځانګړي ډول د خپلو امنيتي وزارتونو له لارې به عملياتو لپاره لارښود او پاليسي چمتو کړي.[86]

DOD وويل چې ISAF به د ليږد ساحو کې يا ورته نږدې نظامي پانګې وساتي ترڅو اطمينان لاسته راشي چې امنيت په سمه توګه ساتل شوى، او ANSF ته روزنيز، مشورتي او مرستندويه ملاتړ چمتو کولو ته به دوام ورکړي. لکه څنګه چې د ANSF وړتياوې پرمختګ کوي، د ايساف ملاتړ کچه به ورسره برابره شي، ANSF ته اجازه ورکول چې لوى مسؤليت په غاړه واخلي.[87]

## د امريکا ملکي - نظامي ستراتيژيک کاري چوکاټ

په اګست کې، DOD او بهرنيو چارو وزارت د افغانستان لپاره د متحده اياالاتو خورا اخرنى اصلاح شوى ملکي - نظامي ستراتيژيک کاري چوکاټ خپور کړ. نوموړى کاري چوکاټ چې، د اکتوبر 2012 نسخې ځاى يې ونيو، د ټولو ملکي او نظامي امريکايى پرسونل لپاره لارښود چمتو کوي چې په افغانستان کې خدمت کوي او د کاري چوکاټ په وينا د 2015–2024 "د بدلون لسيزه" په اوږدو کې د متحده اياالاتو لومړيتوبونه په نښه کوي.[88] متحده ايالات په افغانستان کې دوه اهداف لري: د القاعدې او اړوندو ته ماتې ورکول او له منځه وړل او د افغانستان پياوړتيا ترڅو بيا هيڅ کله د تروريستانو لپاره جنت ونه ګرځي.[89]

امنيت د کاري چوکاټ اساس دى، چې په حکومتدارۍ، د قانون پلي کولو، او اقتصادي پرمختګ سيکتور کې پرمختګ وړ کولو لپاره اړين دى. د کاري چوکاټ مطابق، لکه څنګه چې ايساف افغانانو ته د امنيت مسؤليت سپاري د متحده اياالاتو رول بدليږي. متحده اياالاتو او ايټلافي ځواکونه د ANSF ملاتړ ته بدليږي، د متحده اياالاتو حکومت ته اوضاع برابروي ترڅو د بدلون لسيزې کې حکومتدارۍ او پرمختګ باندې تمرکز ولري.[90]

د اصلاح شوي کاري چوکاټ په وده کې، د متحده اياالاتو پلان کونکو ډيرى فرضيات رامنځته کړي، په شمول د لاندې امنيتي - سيکتور فرضياتو:[91]

- د بدلون لسیزې په اوږدو کې د افغان حکومت ستراتیژیک اهداف په عمومي توګه په افغانستان کې د متحده ایالاتو اهدافو سره موافق پاتې کیږي.
- متحده ایالات او افغان حکومتونه به یو دوه اړخیز امنیتي تړون مزاکره او پایله او ناټو به د افغان حکومت سره د ځواکونو تړون یو دریځ پایله کړي ترڅو له 2014 څخه وروسته اوږدمهاله امنیتي ملګرتیا وټاکل شي.
- د ایساف تعهد پای کې به د ناټو روزنې، مشورې او مرستې ماموریت وي.
- د افغان حکومت عایدات به عملیاتي لګښتونه ونه پوښي، په شمول د امنیت ډیر شوي لګښتونه او د پرمختګ لګښتونه د 2025 څخه ځینې وخت وروسته پورې.

اخرنی ټکی د پام وړ دی ځکه چې دا ښیې افغانستان به په نړیوالې مرستې تکیه کولو ته اړتیا ولري که د لږترلږه نورو 12 کلونو لپاره خپل حکومت او امنیتي ځواکونو ته بسپنې ورکړي.

## د ANSF نوي ارزونې پروسې پلي کول

پدې ربعه کې، د ایساف ګډې قوماندې (IJC) ویلي چې له 15 اګست څخه به د افغان ملي امنیتي ځواکونو ارزونې لپاره یو نوی د راپور ورکوونې میکانیزم وکارول شي. د نوي سیمه ایز قوماندې ANSF ارزونې راپور (RASR) له 2005 راهیسې د ANSF ته نرخ ورکولو لپاره ایساف په واسطه کارول شوی دریم د ارزونې توکی دی.[92]

لومړی د ظرفیت پراو (CM) ټاکلو سیستم و. سیګار په 2010 کې د CM ټاکلو سیستم پلټلی او موندلې یې دي چې دې د ANSF وړتیاو معتبر او نامتناقض ارزونې ندي چمتو کړي، د ANSF عملیاتي وړتیاو کې مبالغه کړې، د ANSF پرمختګ لپاره یې سهوا موانع رامنځته کړي، او منسوخ معلومات یې شامل کړي. بله دا چې، د ټاکلو سیستم په کارولو سره د ANSF واحدونو ته چې لوړې نمرې ورکړل شوې وې هغه د خپلواک عملیاتو ثبات لپاره وړ نه و. IJC د پلټنې راپور پایله کې د سیګار ټولو لسو وړاندیزونو سره موافق و یا په برخه یې توګه موافق و.[93]

په اپریل 2010 کې، د سیګار پلټنې پرمهال، IJC د CM ټاکلو سیستم پرځای د قوماندان واحد ارزونې توکي (CUAT) ځای کړ.[94] د CUAT د پلي کیدو راهیسې، سیګار د امنیت په برخه کې په خپلو درې میاشتنې راپورونو کې د ANSF ارزونې تعقیب کړې. د ملي اردو او ملي پولیسو ارزونې د امریکا او د ایتلاف د هڅو د اغیزمنتیا نښې دي ترڅو ANSF ته وده ورکړي، وروزي، تجهیز کړي، او دوام ورکړي. دا ارزونې د دواړو امریکایانو او اړوندو افغان ادارو لپاره لکه څنګه چې سپارل دوام مومي او افغانستان د خپل امنیت مسؤلیت اخلي، د دغو ځواکونو د دریځ په اړه نوې معلومات وړاندې کوي.

تیرکال، سیګار د CUAT یوه پلټنه پیل کړه د دې لپاره چې د ارزونې توکي په حیث یې مؤثریت وټاکي. دا پلټنه به په راتلونکې ربعه کې خپره شي. د نوي RASR ارزونې پروسې پلي کولو له امله، سیګار نشي کولی پدې راپور کې د ANSF پرمختګ ارزیابي کولو لپاره د CUAT راپورونه وکاروي او پرتله یې کړي. د RASR ارزونې توکي باندې نورو معلوماتو لپاره، د راپور دې برخې کې وروسته، مخ 89 کې "د ANSF ارزیابي" وګورئ.

### د سیګار پلټنه

د سیګار یوه روانه پلټنه د ANSF عملیاتي مؤثریتونو سنجولو او ارزونې لپاره کارول شوي میتودونه او اسباب ازموي، په شمول د هغه وسعت کوم ته چې دا میتودونه او اسباب په نامتناقض ډول پلي شوي، مناسب او معتبر دي.

## د امنيت چاپيريال

له مېی 16 تر اګست 15 پورې UN، 5,922 امنيتي پېښې ثبت کړې په 2012 کې ورته دورې په پرتله 11% ډېروالی، مګر له 2011 څخه 21% کموالی. وسله والو نښتو او د سړک غاړې ماينونو ډېری پېښې رامنځته کړې (د ټولو پېښو 4,534 يا 77%). ترهه ګرو په هغه امنيتي پوستو مراکزو بريد کولو باندې هم تمرکز درلود چې ايتلافي ځواکونو افغان امنيتي ځواکونو ته سپارلي. د ملګرو ملتونو عمومي منشي په وينا، ANSF په عمومي توګه کليدي ښاري او ولسوالۍ اداري مراکزو خوندي ساتلو کې مؤثره و په بيله بيا ستراتيژيک ترانسپورتي لارو کې. لکه څنګه چې په تيرو ربعو کې و، سويلي، سويل ختيځ، او ختيځ ولايتونه د ډېری امنيتي پېښو لپاره حساب شوي (د مېی 16 او اګست 15 ترمنځ 69%).[95]

عمومي منشي دا هم وويل چې ترهه ګرو د ورته راپور ورکوونې مودې پرمهال په ښاري سيمو کې يو شمير "نمايشي" بريدونه په لاره اچولي. له مېی 16 څخه تر اګست 15 پورې، 33 ځانمرګي پېښې وې اوه په کابل کې د ټول 2012 لپاره اوه او په 2011 کې 16 سره پرتله شوي. په اګست 3 کې، د ننګرهار په جلال اباد ښار کې، د هند قونسلګري د مرکب ځانمرګي بريد هدف و؛ ټول تلفات يې افغان امنيتي پرسونل او ملکيان و.[96]

## په هرات کې د متحده ايالاتو قونسلګرۍ باندې بريد

په سپتمبر 13، طالب وسله والو د متحده ايالاتو قونسلګرۍ باندې هرات کې بريد وکړ. په بريد کې وژل شوي درې افغان ساتونکي او يو ژباړونکی؛ نږدې 20 وګړي ټپيان شوي و چې يو يې هم امريکايی نه و.[97] د بهرنيو چارو په وينا، بريدګرو بريد د چاوديدونکو توکو څخه ډک موټر (VBIED) په واسطه د متحده ايالاتو قونسلګرۍ کې د لومړۍ دروازې يا قراول په تخريب سره پيل کړی و. بريدګرو بيا يو لاسي بم په قونسلګرۍ وچاو او يوبل VBIED ته يې



د امريکا قونسلګرۍ احتمالي ګواښ ته عکس العمل ښيې. **نظامي سرتيري** په سپتمبر 19، 2013 کې په هرات کې د متحده ايالاتو. (د دفاع وزارت عکس)

چاودنه ورکړه. د قونسلګرۍ امنیتي پرسونل "ډیری ځانمرګي خنثی کړل چې هڅه یې کوله ودانۍ ته ننوځي." که څه هم قراول تخریب شوی و، خو د قونسلګرۍ دننۍ ودانۍ ته ونه شو ننوتلی.[98]

## ملکي تلفات

د 2013 جولای په یوه راپور کې، په افغانستان کې د ملګرو ملتونو مرستندویه ماموریت (UNAMA) موندلي چې ملکي تلفات او ټپي کیدل د 2013 په لومړیو شپږ میاشتو کې د 2012 ورته دورې په پرتله 23% ډیر و. یوناما 3,852 ملکي تلفات سند کړي 1,319 مړینه او 2,533 ټپیان له جنوري څخه تر جون 2013 پورې، 14% ډیروالی په مړینې او 28% ډیروالی په ټپي کیدو کې. د یوناما په وینا، ملکي تلفاتو کې دا ډیروالی په 2012 کې کمښت معکوسوي، او په 2011 کې سند شوي د ملکي تلفاتو لوړ شمیر بیرته راګرځیدل په نښه کوي. یوناما د ملکي تلفاتو 74% "د حکومت ضد عناصرو،" 9% "د حکومت موافق ځواکونو،" او 12% د دغه جنګیالیو ترمنځ نښتو ته نسبت ورکوي. پاتې 4% یې ندي نسبت ورکړل شوي، چې د منع کړی شوي یا تراوسه ناچاودیدلي مهماتو له امله و.[99]

## په افغانستان کې د متحده ایالاتو او ایتلاف ځواکونه

د CENTCOM مطابق، تر سپتمبر 30، 2013 پورې د متحده ایالاتو 64,000 ځواکونو په افغانستان کې خدمت کاوه. له دغو څخه، نږدې 1,600 یې د ناټو روزنیز ماموریت - افغانستان (NTM-A)/CSTC-A ته ګمارل شوي و.[100] برسیره پردې، تر اکتوبر 1، 2013 پورې نږدې 27,000 غیر امریکایی نړیوالو سرتیرو په افغانستان کې خدمات ترسره کول.[101] له کله نه چې په 2001 کې عملیات پیل شوي، د متحده ایالاتو ټوټل 2,143 نظامي پرسونل په افغانستان کې مړه شوي چې د هغو 83% په عملیاتو کې وژل شوي او تر اکتوبر 1، 2013 پورې 19,334 ټپیان شوي.[102]

## د ANSF ځواک

د CSTC-A په واسطه چمتو کړی شوي معلوماتو مطابق، پدې ربعه کې، د ANSF ګمارل شوی ځواک 336,587 و (ANA 183,434 او افغان هوایي ځواک ته، او ANP 153,153 ته ګمارل شوي).[103] د ANSF ګمارل شوي ځواک کې په روزنه او اکاډمیو کې پرسونل شامل دی په بیله بیا دواړه په ساحه (په جګړه ایز عملیاتو کې ښکیل) او "بارکونو" کې موجود پرسونل. سیګار د هغه پرسونل شمیر وغوښت چې ناروغه و یا رخصت و، مګر CSTC-A په خپل ځواب کې په جلا ډول دغه پرسونل ندي مشخص کړي. ګمارل شوی ځواک د هغه هدف څخه لږ دی چې د ANSF 352,000 پرسونل ځواک کې پای کیږي چې 195,000 په ANA او هوایي ځواک او 157,000 په ANP کې تر اکتوبر 2012 چې په افغانستان کې د امنیت او ثبات پروراندې پرمختګ باندې د DOD اپریل 2012 راپور کې ورکړل شوي.[104] DOD دغه هدف تر 2014 پورې ANSF 352,000 ته بدل کړ (ANA 187,000 تر دسمبر 2012 پورې، ANP 157,000 تر فبروري 2013 پورې، او 8,000 هوایي ځواک تر دسمبر 2014 پورې) کله چې دغه نهایي ځواک نه و پوره شوی.[105] تر اصلاح شوي نیټې پورې نه خو ANA او نه هم ANP خپل د نهایي ځواک هدف ته رسیدلي، لکه څنګه چې د بل مخ 3.2 جدول کې ښودل شوي.

### د سیګار پلټنه

د سیګار یوه روانه پلټنه د ANSF مجاز، ګمارل شوي، او روزل شوي پرسونل شمیر لپاره د معلوماتو اعتبار او ګټورتوب ارزوي.

جدول 3.2

| د ANSF ګمارل شوی ځواک، اګست 20، 2013 | | | |
|---|---|---|---|
| د ANSF برخه | اوسنی موخه | د 5/2013 پورې درېځ | د اوسنی ځواک او د پای په نښه شوي ځواک تر منځ توپیر |
| د افغانستان ملي اردو | د 2012 تر دسمبر پورې 187,000 کارکوونکي | 176,818 | -10,182 |
| د افغانستان ملي پولیس | د 2013 تر فبروری پورې 157,000 کارکوونکي | 153,153 | -3,847 |
| د افغانستان هوایی ځواک | د 2014 تر دسمبر پورې 8,000 کارکوونکي | 6,616 | -1,384 |
| **د ANSF ټوله شمیره** | **352,000** | **336,587** | **-15,413** |

سرچینه: د دفاع وزارت، په افغانستان کې د امنیت او ثبات پرورانديږ پرمختګ، 12/2012، مخ 56؛ CSTC-A، د سیګار معلوماتو غوښتنې ته ځواب، 10/1/2013.

## افغان سیمه ایز (محلي) پولیس

د متحده ایالاتو ځواکونه - افغانستان (USFOR-A) په وینا، پدې ربعه کې 24,286 پرسونل افغان سیمه ایز پولیسو (ALP) ته ګمارل شوي و. تر سپتمبر 30، 2013 پورې، متحده ایالاتو د ALP ملاتړ لپاره د ASFF بسپنو $152.7 ملیون ډالر منلي او $150 ملیون ډالر مصرف کړي. د مهال ویش پراساس ALP په دسمبر 2014 کې 30,000 غړو ته رسي. د USFOR-A مطابق، پدغه ځواک کې، اټکل شوی چې ALP په کال کې $117 ملیون ډالر لګښت ولري په شمول د معاشاتو $68 ملیون ډالر ترڅو 2015 څخه تر 2018 مالي کلونو کې تقویت شي.[106] DOD وویل چې 30,000 — پیاوړی ALP به په کال کې $180 ملیون لګښت ولري.[107]

د DOD په وینا، ALP دا وړتیا ښودلې چې د ترهه ګرو پروړاندې له کلیو څخه دفاع وکړي او هم د افغان ملکي او نظامي چاروکو سره همغږي ولري. DOD راپور ورکړی چې ALP د دښمن ځواک سره له بل افغان امنیتي ځواکونو په پرتله له لس چنده ډېر جنګیدلی او له 80% پورې یې په بریا سره له خپل موقعیتونو څخه دفاع کړې.[108] د هغې سپتمبر 2013 راپور کې، د ملګرو ملتونو عمومي منشي وویل چې ALP "د حکومت ضد عناصرو په واسطه د بریدونو ډېریدونکی نامتناسب ضربه تحمل کړې."[109] طالبانو په ډېری موقوع کې هڅه کړې چې ALP کې نفوذ وکړي. په هرصورت، DOD ادامه ورکوي چې ALP د دا ډول فشار پروړاندې ځانګړې مقاومت ښودلی، د دې حقیقت له امله چې غړې یې د هغه کلیو څخه دي چې ساتنه ترې کوي او ژر بهرنی نفوس پیژني. برسیره پردې، DOD وویل چې د دې اوسني جنګي سیزن لومړۍ برخې په جریان کې، ALP ډېرې وختونه د افغان حکومت (د ولسوالۍ او ولایت په سطح)، دفاع وزارت (MOD)، او کورنیو چارو وزارت (MOI) سره همغږې کې بریالی و ترڅو د طالبانو تیري پروړاندې له خپلو ټولنو څخه دفاع وکړي.[110]

د DOD مطابق، د ALP پروګرام لومړنی چالش د کورنیو چارو وړتیا ده چې په سمه توګه ALP د افغان یونیفارم پولیس (AUP) یوه رکن په حیث ملاتړ او اداره کړي. د ناټو ځانګړي عملیاتو جز قوماندې - افغانستان (NSOCC-A) او کورنیو چارو وزارت یو نوښت پلي کړی چې د ALP بیرني ملاتړ اړتیاوې پوره کړي او د کورنیو چارو وزارت کې د ALP لپاره محتمل لوژستیکي او ملاتړ ظرفیت رامنځته کړي.[111]

د اکتوبر 7 په افغان مطبوعاتو یوه راپور کې، د مشرانو جرګې غړو په ALP غیرمجاز فعالیتونو په ترسره کولو انتقاد وکړ. سناتورانو د ALP د افغان ملي پولیسو ځواک سره یو کیدو باندې ټینګار وکړ.[112]

## د افغانستان د عامه تحفظ ځواک

د افغانستان عامه تحفظ ځواک د کورنيو چارو وزارت لاندې يو دولتي شرکت دی چې په افغانستان کې امنيتي خدمات وړاندې کوي. د ولس مشر کرزي د 2010 فرمان په تعقيب کې چې د خصوصي امنيتي کمپنيو (PSCs) بندول و او د ساتنې مسؤليتونه يې APPF ته سپارل، افغان حکومت د عامه امنيت شرکت ته د برخه ليږد لپاره يوه نښلونکې ستراتيژي پلي کړې.[113]

د دې ستراتيژۍ برخې په حيث، د پراختيا او بشردوستانه پروژو امنيت به له PSC څخه APPF ته په مارچ 20، 2012 کې سپارل شوی و.[114] د نظامي تاسيساتو لپاره امنيتي ليږد APPF ته په مارچ 2013 کې مهالويش شوی و. په اکتوبر 2012 کې، په هرصورت، IJC سيگار ته وويل چې د ټاکل شوې نيټې سره سمون "په کلکه بعيد" و.[115] تر سپټمبر 30، 2013 پورې فقط درې نظامي مخکښ عملياتي مراکز (FOBs) د APPF پرسونل په واسطه خوندي شوي و؛ 47 FOBs لاتراوسه هم د PSCs په واسطه ساتل کيدل.[116]

APPF له ANP څخه افسران او بريدملان په دنده ګماري. نوي مستخدمين د APPF سيمه ايز روزنيز مرکز کې د وادانۍ، قطار، او پرسونل امنيت باندې کورسونو کې ګډون کوي. او په ځينې حالتونو کې روزل شوي ساتونکي هم د خصوصي امنيتي کمپنيو څخه په مستقيم ډول APPF ته راوړل کيږي. د APPF خورا اخرني ارزيابيو مطابق، دوی "د ايتلاف ملاتړ سره په برخه ايی ډول وړ دي چې د بشپړ منظر امنيتي خدمات پرمخ ويسي،" د CSTC-A په وينا. متحده ايالاتو د APPF ملاتړ لپاره له 51$ مليون ډالرو څخه ډير چمتو کړي دي.[117]

تر سپټمبر 30، 2013 پورې، د CSTC-A په وينا APPF په 19,612 پرسونل مشتمل و. د APPF غړي د ANSF په حيث ندي حساب شوي.[118]

## د ANSF ارزوني

په تيرو درې مياشتنيو راپورونو کې، سيګار د DOD يا IJC په واسطه چمتو کړی شوي د قوماندان واحد ارزوني توکي (CUAT) په کارولو سره د ANSF وده تعقيب کړې. په هرصورت، د IJC اخرني معلومات د نوې ارزوني ميکانيزم پربنسټ دي، د سيمه ايز قوماندې ANSF ارزوني راپور (RASR). د IJC مطابق، RASR د ANSF "هوليستيک استخباراتو، عملياتي، او ثبات ارزوني او راپور ورکووني ميکانيزم" دی.[119] RASR به د ANSF ورتياو په بنسټ، د لوا په کچه د ANSF واحدونو ارزوني لپاره، د نوي نرخ ورکولو تشخيص کچې (RDLs) وکاروي.[120] د RASR لپاره RDLs په CUAT کې کارول شوي څخه مختلف دي لکه څنګه چې په 3.23 شکل کې ښودل شوي. د IJC مطابق، په تيره کې کارول شوي RDLs "په ايتلافي ځواکونو د ANSF اړيکي/تکيه د ANSF واحدونه واقعيي ورتياو پرځای ښيي." IJC دا هم ويل چې برابرتيا ته اړتيا وه کله چې ايتلافي ځواکونه وتل او ايساف په تيره کې مل ANSF واحدونو ته د مشورې او نظارت ورتيا له لاسه ورکوله.[121]

نوی RDLs يو ساده کړی شوی د ارزوني ميتريکس يا مقياس کاروي چې د ځانګړي واحد ډول لپاره ترتيب شوی (مثلا پياده، استخبارات، سيګنال) او هغه ورتياوې ټاکي چې يو واحد يې بايد ولري ترڅو د "بشپړ وړ" په حيث وارزول شي. د IJC مطابق، "دا ساده کړی شوی سيستم په اسانۍ سره د مشاهدې وړ دی، نه د لېږ متمرکز يا پيچلي، او کولی شي د افغان پخپله راپور ورکووني اساس رامنځته کې لکه څنګه چې ايساف وتلو ته دوام ورکړي."[122]

### د سيګار پلټنه

د تيرې ربعې پای کې خپور شوي د سيګار پلټنې يوه راپور موندلي چې د APPF چمتو کړی شوي امنيت ته ليږد په پروژو خورا لږ اغيز درلود، مګر فقط څکه چې پلي کونکو ملګرو د خطر مديريت شرکتونه د APPF ظرفيت خلا ډکولو لپاره ګمارل شوي او حياتي فعاليتونه سرته رسوي.

شکل 3.23

**د درجه بندۍ د ليولو په تعريف کې بدلونونه**

| CUAT | RASR |
|---|---|
| د سلاکارو سره خپلواکه | پوره توان لري |
| د سلاکارو سره موثره | توان لري |
| د ملګرو سره موثره | لږ توان لري |
| د ملګرو سره پرمختګ کول | پرمختيايی |
| جوړ | جوړ |

يادښتونه: د CUAT د درجه بندۍ تعريفونه د اګست 2011 راهيسې دي؛ د RASR د درجه بندۍ تعريفونه د اګست 2013 راهيسې دي.
سرچينې: IJC د سګار ډيټا کال د خواب ورکړې په، 9/30/2013.

د دې لپاره چې RASR اساسا ANSF د لوا یا لویه کچه باندې ارزوي نو لږ واحدونه به د کنډک په کچه وارزول شي. د مثال په توګه، په تیرې ربعه کې سیګار ته چمتو کړی شوي د CUAT راپور کې، 312 ANA او 515 ANP واحدونه په شمول د دواړه لوا-کچې او لوړ واحدونه او کنډکونه د CUAT په کارولو سره ارزول شوي و.[123] خورا اخرنی RASR، 64 ANA او 21 ANP واحدونه ارزوي.[124]

او د CUAT راپورونو برخلاف، چې په درې میاشتو کې خپاره شوي، RASR یو میاشتنی راپور دی.[125] IJC وویل چې دا کولی شي په ودې او تنزل کې پایله شي لکه ممکن یو واحد په یوه میاشت کې "بشپړ وړ" وارزول شي، بیا "وړ" ته تنزل وکړي او په ورته ربعه کې بیرته "بشپړ وړ" ته وګرځي.[126]

د RASR اخرني راپور په وینا، د 64 ANA څخه 20 واحدونه او د 21 ANP څخه 8 واحدونه "بشپړ وړ" ارزول شوي و، لکه څنګه چې په 3.24 شکل کې ښودل شوي.[127]

د ملګرو ملتونو عمومي منشي په وینا، په ANSF کې د پام وړ لوژستیکي، هوایي ملاتړ، طبي تخلیی، او د سړک غاړې ماینونو ضد کمبود پاتې دی.[128]

شکل 3.24

**په ANSF د RASR طبقه بندي، سپتمبر 2013**




یادښت: د IJC له اړخه ورکړې شوو د RASR ټاکنې څرګندوي چې په سپتمبر 2013 کې د RASR له اړخه د 64 ANA ډلې ټاکلې شوې دي. خو، په RASR کې د ANA د ډلو شمیر 72 دې پشمول د هغو کوم چې به کارلې کیږي او 65 د ANA ډلې چې پکښې د کاریدو په تمه ناستې ډلې شامل نه دي.

سرچینې: د سګار ډیټا کال ته د IJC ځواب، 9/30/2013.

## د دفاع او کورنیو چارو وزارتونو ارزونې

د دفاع او کورنیو چارو وزارتونو ارزونې پدې ربعه کې ځینې وده او ځینې په شاتګ ښیې. د دې وزارتونو د عملیاتي ځواک د درجه بندی لپاره، NTM-A د توانمندی موخې (CM) څخه کار اخلي. دا سیستم د کارمندانو برخې (لکه د معاون یا معینانو په مشرۍ دفاتر) او متقابل - کاري ساحې (لکه د عمومي کارمندانو دفاتر) د څلور ابتدایي او دوه منځني درجه بندۍ په کارولو سره ارزوي:[129]

- 1A-CM: د خپلواکو عملیاتونو وړتیا لري
- 1B-CM: یوازې د ایتلاف نظارت سره د فعالیتونو اجرا کولو وړ
- 2A-CM: د ایتلاف لږې مرستې سره د فعالیتونو اجرا کولو وړ
- 2B-CM: کولی شي خپل ماموریت بشپړ کړي خو د ایتلاف یوڅه مرستې ته اړتیا لري
- 3-CM: نشي کولی چې د ایتلاف پام وړ مرستې پرته خپل ماموریت سرته ورسوي
- 4-CM: شتون لري خو خپل ماموریت سرته نشي رسولی

په دفاع وزارت کې، ټولې 46 د کارمندانو برخې او د متقابل - فعالیت ساحې پدې ربعه کې ارزول شوي. له دغو څخه دوه و یې پرمختګ او څلورو یې په شاتګ کړی دی. په تیره ربعه کې، د لوژستیک قوماندانۍ د دفاع وزارت لومړی دفتر و چې د 1A-CM (د خپلواکه عملیاتو وړ) ترټولو لوړه درجه بندي یې لاسته راوړه.[130]

نور دفاتر چې پدې ربعه کې ترټولو لوړ درجه بندي لاسته راوړې عبارت و له:[131]

- د ANA روزنې قوماندانۍ (1B-CM)
- د دفاع وزارت د روغتیایی چارو رییس (2B-CM)

د دفاع وزارت څلور دفاتر چې په شاتګ یې کړی و د انتل پالیسۍ لپاره د دفاع وزیر معاون (4-CM ته ټیټ شوی)، د هوایی ځواک لپاره د عمومي کارمندانو معاون (3-CM)، د لوژستیک عمومي کارمندان (3-CM)، او د دفاع لومړی معین (2A-CM) دي.[132]

د دفاع وزارت د جندر یووالي لپاره دفتر اوس هم 4-CM درجه بندي شوی، پدې معنی چې نشي کولی خپل ماموریت سرته ورسوي.[133]

د کورنیو چارو وزارت ټول 32 د کارمندانو برخې ارزول شوي؛ له تیرې ربعې راهیسې شپږو وده کړې او هیڅ یوه یې په شا تګ ندی کړی. د کورنیو چارو وزارت هیڅ یوې برخې ته د 4-CM درجه نده ورکړل شوې، لکه څنګه چې د راتلونکي مخ په 3.25 شکل کې ښودل شوي. هغه چې درجه یې پدې ربعه کې ډیره شوې عبارت دي له:[134]

- د امنیت - افغان ملي عامه نظم پولیسو لپاره معین (1A-CM)
- د امنیت - GDPSU لپاره معین (1B-CM)
- د امنیت - پلانونو او عملیاتو لپاره معین (1B-CM)
- د امنیت - ځواک چمتووالي لپاره معین (1B-CM)
- د حمایی - لوژستیک لپاره معین (2B-CM)
- د ملاتړ - ودانیو او تاسیساتو لپاره معین (2B-CM)

تر دې ربعې پورې، د کورنیو چارو وزارت کارمندانو دوه برخو د 1A-CM ترټولو لوړه درجه بندي لاسته راوړې (د خپلواکو عملیاتو وړ): د عامه چارو دفتر رییس او د افغان ملي عامه نظم پولیسو امنیت دفتر لپاره معین.[135]

شکل 3.25

**د MOD او MOI د توان سنګ میل درجه بندي، سه ماهي بدلون**




سرچينې: د سګار ليډني ته د CSTC-A ځوابونه، 7/15/2013؛ د سګار ډیټا کال ته د CSTC-A ځوابونه، 7/2/2013 او 10/1/2013.

## د افغانستان ملي اردو

تر اګست 31، 2013 پورې، متحده ايالاتو $31 مليارد ډالر منلي او د ANA جوړولو، روزنې او ثبات لپاره يې د ASFF بسپنو $29.1 مليارد ډالر مصرف کړي.[136]

### د ملي اردو ځواک

د CSTC-A مطابق، تر 21 اګست، 2013 پورې د ANA ټول ځواک 183,434 پرسونل و (176,818 اردو او 6,616 هوايي ځواک). دا له تيرې ربعې راهيسې 1,853 کموالی دی، لکه څنګه چې په 3.3 جدول کې ښودل شوي. په ټوله شميره کې 13,717 تر روزنې لاندې، زده کوونکي، او ټول هغه چې د ګمارل کيدلو لپاره په تمه دي، پشمول د 4,736 محصلينو شامل دي. د CSTC-A مطابق، د خپل پای ځواک مشخص کولو کې ANA کې 8,698 ملکيان شامل دي (په دواړه ANA او هوايي ځواک پرسونل کې).[137] د سيګار د ANA پای ځواک راپور ورکوونه کې دغه ملکيان ندي شامل، مګر ناګمارل شوي نظامي او په زده کړه بوخت پرسونل يکې شامل کړی شوي.

### د ملي اردو دوام

تر 31 اګست 2013 پورې متحده ايالاتو د ANA ثبات یا دوام لپاره ASFF بسپنو څخه $10.8 مليارد ډالر منلي او $10.4 مليارد ډالر يې مصرف کړي.[138]

د CSTC-A په وينا، د دوام بسپنه ورکووني برخې په حيث، متحده ايالاتو ANA ته د نږدې $1.15 مليارد په لګښت مهمات چمتو کړي.[139]

جدول 3.3

| د ملي اردو خواک، د هر ربع بدلون | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|
| | تایید شوي | | | ګمارل شوي | | |
| د ملي اردو برخه | Q2 2013 | Q3 2013 | د هر ربع بدلون | Q2 2013 | Q3 2013 | د هر ربع بدلون |
| 201 قول اردو | 17,638 | 18,130 | +492 | 18,116 | 18,636 | +520 |
| 203 قول اردو | 20,002 | 20,798 | +796 | 20,288 | 20,220 | -68 |
| 205 قول اردو | 18,287 | 19,097 | +810 | 19,351 | 19,331 | -20 |
| 207 قول اردو | 14,097 | 14,879 | +782 | 14,279 | 13,753 | -526 |
| 209 قول اردو | 14,236 | 15,004 | +768 | 13,371 | 14,681 | +1,310 |
| 215 قول اردو | 16,733 | 17,555 | +822 | 17,447 | 17,640 | +193 |
| د مرکز 111 فرقه | 9,174 | 9,174 | هیڅ | 8,619 | 9,492 | +873 |
| د ځانګړو عملیاتو خواک | 12,238 | 11,013 | -1,225 | 10,970 | 10,925 | -45 |
| له قول اردو څخه پورته مقام[a] | 38,773 | 36,275 | -2,498 | 33,685 | 33,687 | +2 |
| [b]TTHS | - | - | - | [c]22,700 | [d]18,453 | -4,247 |
| **د ملي اردو ټوله شمیره** | **161,218** | 161,925 | **+707** | **178,826** | **176,818** | **-2,008** |
| افغان هوايي خواک (AAF) | 7,097 | 7,097 | هیڅ | 6,461 | 6,616 | +155 |
| **د ملي اردو+هوايي خواک ټوله شمیره** | **168,315** | **169,022** | **+707** | **185,287** | **183,434** | **-1,853** |

یادښتونه: Q2 معلومات تر 5/21/2013 پورې دي؛ Q3 معلومات تر 8/20/2013 پورې دي.
[a] کې دفاع وزارت، لوی درستیز، او لنډ مهاله قوماندانۍ شامل دي
[b] روزنې لاندې، لنډ مهاله، ساتل شوي، او زده کوونکي؛ دا د کارکوونکو په تایید شوي حساب کې شامل ندي
[c] 4,667 محصلین شامل دي
[d] 4,736 محصلین شامل دي

سرچینه: CSTC-A، د سیګار معلوماتو غوښتنې ته ځواب، 7/2/2013 او 10/1/2013.

## د ANA معاشات، او اعاشه او اباته

تر 30 سپتمبر 2013 پورې، CSTC-A راپور ورکړی چې له 2008 مالي کال راهیسې متحده ایالاتو د ASFF له لارې $1.9 ملیارد ډالر چمتو کړي ترڅو د ANA معاشات او اعاشه او اباته ورکړي. د CSTC-A په وینا، $420 ملیون د دغه مقاصدو لپاره د جولای او سپتمبر 2013 ترمنځ چمتو کړی شوي.[140] په هرصورت، دا د جمع شوي $1.9 ملیارد ډالرو په اړه پوښتنه راولاړوي، ځکه چې CSTC-A په تیر ربعه کې د مجموعي $1.8 ملیارد ډالرو راپور ورکړی و.[141] د CSTC-A د 195,000 ANA-پرسونل بنسټيي معاشاتو، جایزو او اعاشه او اباته لپاره اړ بسپنې مقدار هم $931 ملیون ډالر تخمین کړی.[142] دا په تیرې ربعه کې راپور ورکړل شوي $686 ملیون ډالرو تخمین څخه 36% ډیروالی دی.[143]

## د افغان ملي اردو سمبالښت او ترانسپورتیشن

تر 31 اګست 2013 پورې، متحده ایالاتو د ANA تجهیزاتو او ترانسپورتیشن لپاره د ASFF $11.2 ملیارد ډالر منلي او مصرف کړي.[144] د دې بسپنو ډیری یې د وسلو او تجهیزاتو پورې اړوند، وسایطو، د ارتباطاتو تجهیزاتو، او هوایي او هوا پورې اړوند تجهیزاتو پیرودلو لپاره کارول شوي. پدې کټګورۍ کې متحده ایالاتو نږدې 79% بسپنه ورکوونه د وسایطو او ترانسپورتیشن پورې اوړند تجهیزاتو لپاره وه، لکه څنګه چې د راتلونکي مخ 3.4 جدول کې ښودل شوي . متحده ایالاتو نږدې $774 ملیون ډالر په نورو تجهیزاتو لکه پوښاک او د پرسونل ګیر کې هم کارولي.[145]

### د سیګار پلټنې

پدې ربعه کې خپور شوي د پلټنې یوه راپور کې، سیګار موندلي چې CSTC-A پرته له دقیق معلوماتو پدې چې کوم برخې اړ وي یا کومې دمخه سټاک کې وي، د وسایط سپیرپارټ لپاره امرونه پرځای کول. CSTC-A د وسایط سپیرپارټ شتون او راتلونکي کې اړتیا ثبت ساتلو لپاره په ANA تکیه کوي. په هرصورت، ANA په استوار ډول خپل لست نه تازه کوي. د لازیاتو معلوماتو لپاره، 2 برخه، مخ 30 وګورئ.

په تیر ربعه کې خپور شوي یوه تحقیقي راپور کې سیګار وموندل چې د دفاع وزارت د SMW لپاره الوتکو پیرودلو ته د $771.8 ملیون ډالر سره پرمخ ته پرته له دې چې SMW د پرسونل له یو څلور څخه لږ ته اړتیا درلوده، د سټیپ پیرودل او روزنې ننګونو سره مخ او د اوسنی الوتکو ساتلو ته د وړتیا نه شتون.

جدول 3.4

| د امريکا لخوا تمويل شوي د ملي اردو د تجهيزاتو لګښت | | |
|---|---|---|
| **د تجهيزاتو ډول** | **اخيستل شوي** | **بايد واخيستل شي** |
| وسلې | $447,161,951 | $26,819,942 |
| وسايط | $3,955,027,637 | $0 |
| د مخابرې تجهيزات | $609,320,331 | $0 |
| **ټول** | **$5,011,509,919** | **$26,819,942** |

سرچينه: CSTC-A، د سيګار معلوماتو غوښتنې ته ځواب، 10/1/2013.

ANA ته چمتو کړی شوي تجهيزاتو مقدار او لګښت ټاکل د يوې ننګونې په توګه پاتې دي. په اپريل 2013 کې، CSTC-A په نښه کړل چې متحده ايالاتو د ANA لپاره د $878 مليون ډالرو وسلې اخيستې.[146] په جولای 2013 کې، CSTC-A په نښه کړل چې د وسلو لپاره کلي لګښت واقعيی $623 مليون ډالر و پدې پايله چې د ځينې تجهيزاتو کلي لګښت کې $153 مليون ډالر سموالی او اهدا شوي تجهيزاتو کې د نږدې $102 مليون ډالرو لپاره حساب چې د متحده ايالاتو بسپنه شوي نه و.[147] پدې ربعه کې، CSTC-A په نښه کړي چې د ANA لپاره پيرودل شوي وسلو واقعيی کلي لګښت $447 مليون ډالر و. د CSTC-A په وينا، "په پيرودل شوي شمير کې د تير ربعې څخه کمښت د يوه وسيع دنني تفتيش پايله ده چې رابرسيره کوي ځينې تجهيزات دوه ځل محاسبه شوي."[148]

CSTC-A پدې ربعه کې د ANA لپاره پيرودل شوي وسايطو کلي لګښت خپل تخمين هم کم کړی. په جولای 2013 کې، CSTC-A ښودلې چې د وسايطو کلي لګښت $5.56 مليارد ډالر و.[149] پدې ربعه کې، CSTC-A ښودلې چې د وسايطو پيرودلو واقعيی کلي لګښت $3.96 مليارد ډالر و. د CSTC-A په وينا، "له تيرې ربعې څخه په کلي لګښت کې کموالی د واقعيی، قرارداد شوي تجهيزاتو ټيټ قيمت د اټکل شوي قيمت څخه و."[150] تازه شوی کلي لګښت په 3.4 جدول کې منعکس شوی.

CSTC-A دا هم په نښه کړي چې پاتې وسلو لګښت چې بايد وپيرودل شي د وسلو لپاره ډيرشوي اړتياو له امله د تيرې ربعې $226,000 څخه نږدې $27 مليون ډالر ته ډير شوی.[151]

## د افغان هوايی ځواک د الوتکو لست

د CSTC-A په وينا، پدې ربعه کې د افغان هوايی ځواک لست کې 105 الوتکې وې:[152]

- 40 Mi-17 (ترانسپورتي هليکوپترونه)
- 11 Mi-35 (مهاربوي هليکوپترونه)
- 16 C-27 (د کارګو طيارې)
- 26 C-208 (د ترانسپورت سپکې طيارې)
- 6 C-182s (د څلورو نفرو الوتکې روزونکې)
- 6 MD-530 (سپک هليکوپترونه)

په هرصورت، د الوتکو دا لړ شايد په سمه توګه عملياتي وړتيا منعکس نکړي. په تير ربعه کې، CSTC-A راپور ورکړ چې فقط شپږ Mi-35s په دغه وخت کې عملياتي و.[153]

سيګار د افغان هوايي ځواک راپور ورکړ شوي لست په اړه اندېښنې لري او غوښتنه يې کړې چې CENTCOM د C-27A 16 الوتکې حالت تاييد کړي. په مارچ 2013 کې، د دفاع وزارت د عمومي پلټونکي دفتر (DOD OIG) مقام کانګريس ته وويل چې د متحده ايالاتو هوايي ځواک د DOD OIG وړانديز پراساس د دغه الوتکې الوزل بند کړي. په دغه وخت کې، د دغه الوتکو بدلولو لپاره د دفاع وزارت يو نوښت په لاره کې وه.[154] برسيره پردې، سيګار دوه عکسونه لاسته راوړل چې ښکاره کوي چې 16 C-27A الوتکه ناکاره ناسته ده. سيګار انديښنه لري چې د CSTC-A راپور کړی شوي الوتکه د افغان هوايي ځواک لست برخې په حيث شايد د کار نه وي يا راتلونکي کې د کارولو لپاره سمه نه وي.

CSTC-A دا هم په نښه کړې چې د Mi-17s شمير پدې ربعه کې "ټاکلو کې بدلون او ځانګړي ماموريت وزر ته پور شوي 10 الوتکو دوه ځل حسابولو" له امله له 48 څخه 40 ته راټيټ شوی.[155]

اوس هم چې بايد وپيرودل شي 20 د سپک ملاتړ الوتکې، نهه Mi-17 هيليکوپترونه، څلور C-130H بار وړونکي طيارې، او څلور C-27A بار وړونکي طيارې دي.[156] په تيره فبروري کې متحده ايالاتو يو امريکايي شرکت ته د 20 د سپک ملاتړ الوتکو تحويلۍ لپاره د $427 مليون ډالرو قرارداد ورکړ؛ قرارداد تر فبروري 2019 اوږدو پورې $950 مليون ډالر شوی.[157]

د افغان هوايي ځواک الوتکو لست څخه جلا د ځانګړي ماموريت وزر (SMW) لست دی. SMW افغان ځانګړي ځواکونو ته هوايي ملاتړ چمتو کوي چې د تارياکو ضد او تروريزم ضد عمليات ترسره کوي.[158] پدې ربعه کې، د SMW لست کې 30 Mi-17 هيليکوپترونه موجود و: 13 له دفاع زارت څخه، 10 د افغان هوايي ځواک څخه په پور، پنځه د انګلستان څخه او دوه د المان څخه.[159]



**افغان هوايي ځواک** پرسونل په سپتمبر 1، 2013 په کابل کې د روسيې باروړونکي الوتکو څخه يو Mi-17 خالي کوي. (د دفاع وزارت عکس)

## د ANA زيربنا

تر اګست 31، 2013، متحده ايالاتو $6.1 مليارد ډالر منلي او $4.7 مليارد ډالر يې د ASFF څخه ANA زيربنا لپاره مصرف کړي.[160] پدغه وخت کې متحده ايالاتو 242 زيربنايي پروژې بشپړې کړې (د $2.79 مليون ډالرو په ارزښت)، د نورو 138 روانو پروژو سره ($2.82 مليون ډالر) او 10 پلان شوي پروژو سره ($106 مليون ډالر)، د CSTC-A په وينا. د روانو پروژو څخه، دوه نوي قراردادونه (نږدې $21 مليون ډالر) پدې ربعه کې ورکړل شوي.[161]

پدې ربعه کې، د ANA زيربنا رواني لوی پروژې په کنړ ولايت کې د 201 قل اردو لپاره د لوا ګارنيزون (د $115.8 مليون ډالرو په لګښت)، په کابل کې د دفاع وزارت قوماندانيو لومړۍ برخه ($108 مليون)، او په کندهار کې د 205 قل اردو لپاره د لوا ګارنيزون (89.1 مليون ډالر) و.[162]

**د سيګار پلټنې**

پدې ربعه کې خپور شوي يوه تحقيقي راپور کې سيګار پيژندلي چې 52 ساختماني پروژې شايد د ايساف دسمبر 2014 نيټې معيار پوره نکړي او د دې لپاره به د نظارت نشتون او ډيريدونکي لګښتونو له امله په خطر کې وي. برسيره پردې، سيګار زده کړې چې CSTC-A د ANSF ودان شوي تاسيساتو کارول نه تعقيبوي او نشي کولی وټاکي چې ايا موجود يا پلان شوي تاسيسات د ANSF اړتياوې پوره کوي. د لازياتو معلوماتو لپاره، 2 برخه، مخ 25 وګورئ.

## د ANA او دفاع وزارت روزنه او عملياتونه

تر اګست 31، 2013، متحده ايالاتو $2.9 مليارد ډالر منلي او $2.8 مليارد ډالر يې د ASFF څخه ANA او دفاع وزارت عملياتو او روزنې لپاره مصرف کړي.[163] د CSTC-A په وينا، پدې ربعه کې، د ANA 43,942 پرسونل په بيلابيلو روزنو کې بوخت و، د 31,850 سره چې په سواد زده کړه کې بوخت و. په دې برسيره، 4,400 ثبت شوي کارکوونکي د اساسي مهارتې په کورسونو کې ثبت شوي وو، 2,495 روزنه کوله ترڅو بريدمنان شي، او 1,302 روزنه کوله ترڅو بريدملان شي. په نورو روزنيز پروګرامونو کې د جګړې ځانګړتيا کورسونه

شامل دي لکه د پیاده روزنه؛ د جګړې حمایی کورسونه لکه انجینري، سیګنال او لوژستیک؛ او د لوړ - حرکت څو مقصده ټایر لرونکي وسایطو کارول چې د "Humvees" په نوم پیژندل کیږي.[164]

د CSTC-A په وینا، امریکا د دفاع وزارت او ملي اردو د روزنې لپاره بیلابیل قراردادونه تمویلوي. له دوی څخه ترټولو لوی یې د 256$ ملیون ډالرو د دفاع وزارت لپاره د مشورې، روزنې او ملاتړ قرارداد دی؛ د 203$ ملیون ډالرو د دواړو ANA او ANP د اطلاعاتو راټولولو ظرفیت رامنځته کولو قرارداد؛ او د 76$ ملیون ډالرو قرارداد د ANA متخصص پرسونل لپاره ترڅو د سړک غاړې ماینونو او نور ناچاودیدلي توکو سره مبارزه وکړي.[165]

## د ملي اردو سواد زده کړه

په 2009 کې د سواد زده کړې له پیل څخه، د CSTC-A/NTM-A د سواد زده کړې پروګرام په ملي اردو کې د سواد زده کړې د لوړې کچې په لټه کې وو. دا پروګرام د 312 ساعتونو د نصاب په بنسټ دی. د CSTC-A په وینا، د دې لپاره چې د سواد له زده کړې عملي سواد ته پرمختګ وشي، یو زده کوونکی کولای شي په اوو آزموینو کې برخه واخلي. د زده کونکي فعالیت ټاکي چې ایا هغه کولی شي بلې سطحې ته پرمختګ وکړي.[166]

1 درجه سواد زده کړه د انفرادي کلمو د لوستلو او لیکلو، تر 1,000 پورې د شمیرلو، او د نمرو د جمع کولو او منفي کولو توان دی. 2 درجه، یو انفرادي کس کولای شي جملې ولولي او ولیکي، ساده ضرب او تقیسم اجرا کړي، او د اندازه کولو واحدونه وپیژني. په 3 سطح کې، یو فرد کاري سواد لاسته راوړی او کولی شي چې "وپیژني، پرې پوهه شي، تفسیر کړي، رامنځته کړي، وغږیږي، محاسبه وکړي او چاپي او لیکلي مواد وکاروي."[167]

تر سپتمبر 30، 2013 پورې، د ANA هغه پرسونل چا چې د سواد زده کړې پروګرام بشپړ کړی، پکې شامل دي:[168]

- 139,360 د 1 درجې فارغین
- 40,274 د 2 درجې فارغین
- 37,087 د 3 درجې فارغین

د CSTC-A په وینا، NTM-A یو هدف رامنځته کړی و چې د مارچ 2014 څخه مخکې د 50,000 ANSF پرسونل د 3 سطحې یا "کاري سواد" لاسته راوړي چې په جنوري 2013 کې بشپړ شو. په هرصورت، سیګار یوې پوښتنې په ځواب کې چې د ANA څومره پرسونل د 3 سطحې سواد لاسته راوړی چې اوس یې هم په ANA کې خدمت کاوه، CSTC-A وویل: "ځوابونه د دې له امله په لاس کې نشته چې د ANA پرسونل تعقیب او مهارت/تعلیم تعقیب سیستمونه کافي ندي."[169]

سواد د ماموریت په بریا اغیز لري: پراخه بې سوادي مؤثره روزنه، د تخنیکي جزوو کارول، د امرونو پوهیدل، د تجهیزاتو لست کول، د عملیاتو سند کول، او نور مهم نظامي فعالیتونه خرابوي. سیګار د همدې لپاره اندیښنه لري چې هیڅ څوک نه بریښي پوهه شي چې د ANSF سواد څومره دی. دا په خدمت کې موجود پرسونل شمیر د وتنو، تلفاتو یا تینښتې شمیر ټاکلو ته اړتیا لري څوک چې ځواک ته د راتلو څخه دمخه باسواد و او هغه چې نه و خو د 3 سطحې روزنه یې بشپړه کړې.

له 2010 راهیسې، متحده ایالاتو د ANSF لپاره درې د سواد زده کړې قراردادونه بسپنه کړي. هر یو یو اساسي کال او د پنځه کلونو حد لري د یوکال انتخاب ممکن د هرکال په اګست کې تمرین شي او په اعظمي ډول د $200 ملیون ډالر لګښت.[170] د CSTC-A په وینا دې قراردادکونکو ANA ته 690 د سواد زده کړې روزونکي چمتو کول:[171]

- د امریکا د OT ټرینګ سلوشن په نوم یو شرکت 260 روزونکي برابروي.
- انسایټ ګروپ، یو افغاني شرکت 198 روزونکي چمتو کول.
- د کاروان د لوړو زده کړو انستیټیوټ، یو افغاني شرکت، 232 روزونکي برابروي.

CSTC-A وویل چې د ANA پرسونل لپاره د سواد روزنې مسؤلیت په ساحه کې ANA ته سپارلو لپاره د اکتوبر 1، 2013 او اکتوبر 1، 2014 ترمنځ مهالویش شوی و.[172] که څه هم CSTC-A په نښه کړې چې د NTM-A څخه دفاع وزارت ته د سواد پروګرام لیږد اساسي تمرکز ندی. د روزونکو روزنې پروګرام ته لومړی ارتیا ده؛ تمه کیږي چې دا ډول پروګرام یو قرارداد په اکتوبر کې ورکړل شي او په نومبر کې یې صنفونه پیل شي. تمه کیږي چې د سواد روزنه دفاع وزارت ته له 5 اپریل 2014 ټاکنو څخه وروسته پیښ شي.[173]

د CSTC-A په وینا، د اوسني سواد قراردادونو روانه بسپنه ورکوونه به په دسمبر 2014 کې د $31 ملیون ډالرو په لګښت NATO وجهی صندوق له لارې، نه د ASFF له لارې ورکړل شي.[174]

## په ANA او افغان هوایی ځواک کې ښځې

لکه څنګه چې په تیرو ربعو کې و، په ANA کې د ښځو شمیر په ډیریدو دی، مګر هغه هدف چې د ANA او افغان هوایی ځواک 10% ښځې وي لرې پاتې دی. برسیره پردې چې پدې ربعه کې شمیر ډیر شوی، ښځې د ځواک فقط 0.3% جوړوي.[175]

د CSTC-A په وینا، پدې ربعه کې 502 ښځو په ANA کې خدمت کاوه. په هرصورت، CSTC-A سیګار ته د ښځو خدمت تقسیم بندي هم چمتو کړه 253 افسرانې، 238 بریدملانې، 61 داوطلب پرسونل او 90 زده کونکې چې د 642 کلي شمیر ښیي. CSTC-A په نښه کړې چې "د کلي شمیر او ANA شمیر ترمنځ توپیر ممکن هغه ملکیان منعکس کړي څوک چې د تمویلی لیکه کې کار کوي (لکه ګنډل)."[176] سیګار به د راتلونکي درې میاشتني راپور لپاره نور وضاحت هم وغواړي.

په افغان هوایی ځواک کې 33 ښځو خدمت ترسره کاوه 20 افسرې او 13 بریدملانې.[177]

## د افغانستان ملي پولیس

تر اګست 31، 2013 پورې متحده ایالاتو $15.6 ملیارد ډالر منلي او $14.1 ملیارد ډالر یې د ASFF بسپنو څخه د ANP جوړولو، روزنې، او ثبات لپاره مصرف کړي.[178]

### د ملي پولیسو ځواک

تر اګست 20، 2013 پورې د ANP ټول ځواک 153,153 پرسونل و، په شمول د 109,574 افغان یونیفارم پولیس (AUP)، 21,399 افغان د پولو پولیس (ABP)، 14,516 افغان د عامه نظم ملي پولیس (ANCOP)، 2,759 د افغانستان تاریاکو ضد پولیسو کې (CNPA)، او 4,905 زده کونکي په روزنه کې، د CSTC-A په وینا.[179] کلي شمیر د تیرې ربعې راهیسې د 1,329 نفرو ډیروالی دی، لکه څنګه چې د راتلونکي مخ 3.5 جدول کې ښودل شوي دي.

### د سیګار پلټنه

د سیګار په یوه روانه پلټنه کې، سیګار د ANSF د سواد زده کړې روزنو درېو پروګرامونو د قراردادونو تطبیق او نظارت ارزونه کوي. سیګار به دا ارزونه هم وکړي چې آیا قراردادیانو تجربه لرونکي استادان او خدمات برابر کړي؛ تر کومې کچې CSTC-A د قرارداد له فعالیت او د روزنې له پایلو څخه نظارت کړی؛ او تر کومې کچې قرارداد هغه موخې ته رسیدلي چې قراردادونو د ANSF لپاره اساسي، دوامدارو زده کړه برابره کړي.

جدول 3.5

| د افغانستان د ملي پوليسو ځواک، د هر ربع بدلون | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|
| | تایید شوي | | | ګمارل شوي | | |
| د ملي پوليسو برخه | Q2 2013 | Q3 2013 | د هر ربع بدلون | Q2 2013 | Q3 2013 | د هر ربع بدلون |
| افغان یونیفورم پولیس | 108,122 | 110,369 | +2,247 | 108,128 | 109,574 | +1,446 |
| افغان سرحدي پولیس | 23,090 | 23,090 | هيڅ | 21,422 | 21,399 | -23 |
| افغان د عامه نظم ملي پولیس | 14,541 | 14,541 | هيڅ | 14,515 | 14,516 | +1 |
| NISTA[a] | 9,000 | 6,000 | -3,000 | 3,779 | 4,905 | +1,126 |
| نور | 154,753 | 154,000 | -753 | 147,844 | 150,394 | +2,550 |
| **د ملي پوليسو ټوله شميره** | **2,247** | **2,247** | **هيڅ** | **3,059** | **2,759** | **-300** |
| د مخدره توکو په وړاندې د مبارزې پولیس | 157,000 | 156,247 | -753 | 151,824[b] | 153,153 | +1,329 |
| **د ملي پوليسو + د مخدره توکو په وړاندې مبارزې پوليسو ټوله شميره** | **157,000** | **157,000** | **هيڅ** | **150,919** | **[b]151,824** | **+905** |

یادښتونه: Q2 معلومات تر 5/20/2013 پورې دي؛ Q3 معلومات تر 8/20/2013 پورې دي.
[a] NISTA = په روزنه کې پرسونل
[b] ټوله شمیره برابره کړئ؛ د ملي پولیسو د ټولو برخو او د کارکوونکو شمیره د NISTA په حساب کې 150,903 وه

سرچینه: CSTC-A، د سیګار معلوماتو غوښتنې ته ځواب، 7/2/2013 او 10/1/2013.

## د سیګار پلټنه

پدې ربعه کې خپور شوي یوه تحقیقي راپور کې، سیګار موندلي چې د متحده ایالاتو مرکزي قومانده او CSTC-A د ANP لپاره سونګ توکو پیرود باندې محدود نظارت درلود چې په پایله کې د متحده ایالاتو حکومت ته د قیمت - فروش پلورونکو او پوښتنې راولاړونکي لګښتونو کارول و. د لازیاتو معلوماتو لپاره، 2 برخه، مخ 27 وګورئ.

## د ملي پوليسو دوام

تر اګست 31، 2013 پورې متحده ایالاتو د ANP دوام لپاره د ASFF بسپنو $5.3 ملیارد ډالر منلي او $4.9 ملیارد ډالر مصرف کړي.[180]

د CSTC-A په وینا، د دوام بسپنه ورکوونې برخې په حیث، متحده ایالاتو ANP ته د تقریبا $306 ملیون ډالرو په لګښت مهمات چمتو کړي.[181]

## د ANP معاشات

CSTC-A راپور ورکړی چې له 2008 څخه تر د سپټمبر 30، 2013 اوږدو پورې، د متحده ایالاتو حکومت د ANP معاشاتو، اعاشې او اباتې ورکړې لپاره د ASFF له لارې $907 ملیون ډالر چمتو کړي (د هغه پرسونل لپاره چې جګړه کې ښکیل دي یا ځانګړو ساحو کې دنده لري، اضافي ورکړه).

د CSTC-A په وینا، کله چې ANP خپل نهایی 157,000 پرسونل ځواک ته رسي، نو په تخمیني ډول به په کال کې $628.1 ملیون ډالرو ته اړتیا ولري چې معاشات ($265.7 ملیون ډالر)، اباته ($224.2 ملیون ډالر) او اعاشه (138.2 ملیون ډالر) بسپنه کړي.[182]

## د افغان ملي پوليسو سمبالښت او ترانسپورټیشن

تر اګست 31، 2013 پورې متحده ایالاتو د ANP سمبالښت او ترانسپورټیشن لپاره د ASFF بسپنو $3.6 ملیارد ډالر منلي او مصرف کړي.[183] د دې بسپنو ډیری یې د وسلو، تجهیزاتو اړوند، وسایطو او د ارتباط تجهیزاتو پیرودلو لپاره کارول شوي.[184] د متحده ایالاتو پدې کټګورۍ کې بسپنه ورکوونې له 85% څخه ډیر د وسایطو او وسایطو اړوند تجهیزاتو لپاره و، لکه څنګه چې په 3.6 جدول کې ښودل شوي.

جدول 3.6

| د امریکا له لورې تمویل شوي د ملي پولیسو تجهیزات | | |
|---|---|---|
| **د تجهیزاتو ډول** | **اخیستل شوي** | **باید واخیستل شي** |
| وسلې | $137,187,450 | $3,882,811 |
| وسایط | $2,029,397,735 | $2,345,100 |
| د مخابرې تجهیزات | $210,184,400 | $0 |
| **ټول** | **$2,376,769,585** | **$6,227,911** |

سرچینه: CSTC-A، د سیګار معلوماتو غوښتنې ته ځواب، 10/1/2013.

لکه د ANA په څیر، ANP ته چمتو کړی شوي تجهیزاتو لګښت ټاکل یوه ننګونه پاتې ده. د CSTC-A د ANP لپاره اخیستل شوي وسلو د متحده ایالاتو ورکړل شوی لګښت د تیرې ربعې $369 ملیون ډالرو څخه $137 ملیون ډالرو ته پدې ربعه کې راولید.[185] د CSTC-A په وینا، "د تیرې ربعې څخه د کلي لګښت راټیټیدلو لامل دا و چې واقعي قرارداد شوی د تجهیزاتو قیمت د تخمین شوي څخه ټیټ و." [186]

د ANP لپاره اخیستل شوي وسایطو د CSTC-A کلي لګښت تخمین هم د تیرې ربعې راهیسې کم شوی. په جولای 2013 کې، CSTC-A ښودلې چې د وسایطو کلي لګښت $2.65 ملیارد ډالر و.[187] پدې ربعه کې، CSTC-A وایې چې د پیرودل شوي وسایطو واقعي کلي لګښت $2.03 ملیارد ډالر و. د CSTC-A په وینا، "له تیرې ربعې څخه د پیرودل شوي شمیر کمښت لامل د یوه پراخه دنني تفتیش پایله وه چې موندلې یې دي ځینې تجهیزات دوه ځل محاسبه شوي." [188] تازه کړی شوی کلي لګښت په 3.6 جدول کې ښودل شوی.


## د سیګار پلټنه

پدې ربعه کې خپور شوي یوه تحقیقي راپور کې، سیګار موندلې چې د کندز ولایت یوې ولسوالۍ پولیسو قوماندانۍ کې شکل، د روانو اوبو نشتون، او د بریښنا ناکاره سیستمونو ښودلې چې نوموړې ودانۍ مداوم نده. د لازیاتو معلوماتو لپاره، 2 برخه، مخ 36 وګورئ.


## د ANP زیربنا

د CSTC-A په وینا، تر اګست 31، 2013 پورې متحده ایالاتو د ANP زیربنا لپاره د ASFF بسپنو $3.4 ملیارد ډالر منلي او $2.5 ملیارد ډالر مصرف کړي.[189] پدغه وخت کې متحده ایالاتو 574 زیربنایي پروژې (2.02 ملیارد ډالرو په ارزښت) بشپړې، د نورو 165 روانو پروژو (904 ملیون ډالر) سره او 17 پروژې یې پلان (75 ملیون ډالر) کړې. د روانو پروژو څخه، 19 نوې قراردادونه (نږدې 5 ملیون ډالر) پدې ربعه کې ورکړل شوي.[190]

پدې ربعه کې، په هرات کې یو سیمه ایز د پولیس مرکز (49.5 ملیون ډالر) بشپړ شوی. د ANP زیربنایي پروژو ترټولو لوی یې اداري تاسیسات (59.5 ملیون ډالر) او ودانۍ او ګټې (34.3 ملیون ډالر) د کورنیو چارو وزارت قوماندانیو او ANCOP ګزمې مرکز په هلمند (28.5 ملیون ډالر) کې دي.[191]

## د ملي پولیسو روزنه او عملیاتونه

د CSTC-A په وینا، تر اګست 31، 2013 پورې متحده ایالاتو د ANP او کورنیو چارو وزارت روزنې او عملیاتو لپاره د ASFF بسپنو $3.4 ملیارد ډالر منلي او $3.1 ملیارد ډالر مصرف کړي.[192] پدې ربعه کې د ANP 8,273 پرسونل په بیلابیل روزنو کې بوخت و. له دغو څخه 1,438 یې زده کړه کوله چې افسران شي، او 3,273 یې بریدملان شي.[193]

د CSTC-A په وینا، پدې ربعه کې په روزنه کې د ANP شمیر ډیرشوی، ځکه چې ANP خورا خپلواک شوی او په پلانولو او خپلو روزنو ترسره کولو کې خورا دمخه -فعال رول لري. ANP ټول روزنیز اړتیاوې له سره کتلې او کورسونه او د زده کونکو شمیر یې - بیا

ترتیب کاوه ترڅو خپل په ساحه کې ځای شوي څواک ښه او مسلکي اړتیا پوره کړي چې د ANP هغه ناروزل شوي پرسونل ستونزې هوارې کړي چې پرته د اساسي پولیس روزنو پوهې څخه ساحې ته ګمارل شوي. CSTC-A په نښه کړي چې ANP د ایتلاف لرې مرستې سره د کورس پلانونکی او تعقیبونکی رامنځته کړی، چې د دې کال لپاره د ANP روزنیزې اړتیاوې پوره کوي.[194]

NTM-A/CSTC-A له ډاین کور نړیوال شرکت سره قراردادونه لري ترڅو د هیواد د روزنو په ځو ساحو کې روزنه، مشورې، او د ملاتړ خدمات برابر کړي. د ASFF له لورې تمویل شوی قرارداد د روزنې سیمه ایزو مرکزونو او د ملاتړ سیارو ټیمونو لپاره 373 استادان او روزونکي او نږدې 1,225 د ملاتړ کارکوونکي برابروي. د قرارداد ارزښت $1.21 ملیارد ډالر دی.[195]

## د ملي پولیسو سواد زده کړه

د ملي پولیسو لپاره د NTM-A/CSTC-A د سواد زده کړه لکه د ملي اردو چې وړاندې ورته اشاره شوې د سواد زده کړې ورته ستندرد تعقیبوي. نوموړی پروګرام د درې سطحو له لارې بدلیدونکي زده کونکو په اساس دی.[196]

تر سپتمبر 30، 2013 پورې د ANP هغه پرسونل چې د سواد زده کړې پروګرام یې بشپړ کړی پکې شامل دي:[197]

- 81,170 د 1 درجې فارغین
- 51,500 د 2 درجې فارغین
- 33,263 د 3 درجې فارغین

د CSTC-A په وینا، NTM-A یو هدف رامنځته کړی و چې د مارچ 2014 څخه مخکې د ANSF 50,000 پرسونل د 3 سطحې یا "کاري سواد" لاسته راوړي چې په جنوري 2013 کې بشپړ شو. په هرصورت، سیګار یوې پوښتنې په ځواب کې چې د ANP څومره پرسونل د 3 سطحې سواد لاسته راوړی چې اوس یې هم په ANP کې خدمت کاوه، CSTC-A وویل: "ځوابونه د دې له امله په لاس کې نشته چې د ANP پرسونل تعقیب او مهارت/تعلیم تعقیب سیستمونه کافي ندي."[198] دا حقیقت یوه وړتیا له ځانه سره لري ترڅو د ANP ټول سواد کچه وټاکل شي، چې ورته اندیښنه رامنځته کوي چې مخکې د ANA سواد کچو لپاره وویل شوه.

له 2010 راهیسې، متحده ایالاتو د ANSF لپاره درې د سواد زده کړې قراردادونه بسپنه کړې. هر یو یو اساسي کال او د پنځه کلونو حد لري د یوکال انتخاب ممکن د هرکال په اګست کې تمرین شي او په اعظمي ډول د $200 ملیون ډالر لګښت.[199] د CSTC-A په وینا دې قراردادکونکو ANP ته 649 د سواد زده کړې روزونکي چمتو کول:[200]

- د امریکا د OT ټریننګ سلوشن په نوم یو شرکت 231 روزونکي برابروي.
- انسایټ ګروپ یو افغاني شرکت 135 روزونکي چمتو کول.
- د کاروان د لوړو زده کړو انستیتیوټ، یو افغاني شرکت، 283 روزونکي برابروي.

CSTC-A په نښه کړي چې د NTM-A څخه کورنیو چارو وزارت ته د سواد پروګرام لیږد اساسي تمرکز ندی. د روزونکو روزنې پروګرام ته لومړی اړتیا ده؛ تمه کیږي چې دا ډول

پروګرام یو قرارداد په اکتوبر کې ورکړل شي او په نومبر کې یې صنفونه پیل شي. تمه کیږي چې د سواد روزنه کورنیو چارو وزارت ته له 2014 ټاکنو څخه وروسته پیښ شي.[201]
د CSTC-A په وینا، د اوسني سواد قراردادونو روانه بسپنه ورکوونه به په دسمبر 2014 کې له ASFF څخه د NATO وجهی صندوق ته واړول شید 2013 د اپریل 1.[202]

## د افغانستان په ملي پولیسو کې میرمنې

لکه څنګه چې په تیرو ربعو کې و، په ANP کې د ښځو شمیر په ډیریدو دی، مګر د 2014 پای کې په ANP کې د 5,000 ښځو هدف لاسته راوړلو پروړاندې وده سسته ده. CSTC-A وویل چې "ANP اوس د دې پرځای چې هدف ته رسیدو لپاره ګمارنه وکړي دا مهال یې پدې تمرکز کړی چې د ګمارنې لپاره (لکه د ښځو لپاره مناسب ودانیو سره پوستونه) خورا خوندي ساحې ومومي."[203] پدې ربعه کې د ډیروالي برسیره، ښځې د ځواک یوازې 1% جوړوي.
د CSTC-A په وینا، تر سپتمبر 13، 2013 پورې، د ANP پرسونل کې 1,570 ښځې شامل وې 232 افسرانې، 639 بریدملانې او 699 داوطلب پرسونل.[204] دا په دوه کلونو کې (له اګست 22، 2011 راهیسې) د 366 ښځو ډیروالی دی.[205]

## د ANSF طبي/روغتیایی پاملرنه

د CSTC-A په وینا، تر سپتمبر 30، 2013 پورې، متحده ایالاتو د 134 ملیون ډالرو په ارزښت د ANSF 174 طبي تاسیساتو جوړول بسپنه کړي، او 10 ملیون ډالر یې په هغه قراردادونو کې بسپنه کړي چې ANSF ته طبي روزنه برابروي. له 2006 راهیسې، ایتلافي ځواکونو د ANSF طبي تجهیزاتو په پیرودلو او ځای کولو 36 ملیون ډالر مصرف کړي.[206]
پدې ربعه کې، CSTC-A راپور ورکړی چې د ANSF روغتیایی پاملرنې سیستم له 1,010 چارواکو څخه 847 ډاکټران و. له دغو څخه، 566 د ANA او 281 د ANP لپاره ګمارل شوي و. ANSF د اړین 10,162 څخه 7,360 نور طبي پرسونل (په شمول د نرسو) لري.[207]

## د نه چاودل شویو مهماتو لرې کول

له 2002 راهیسې، متحده ایالاتو د بهرنیو چارو وزارت د وسلو له منځه وړلو او افغانستان ته د ماینونو خنثی کولو لپاره بسپنه ورکوونه کې نږدې 264 ملیون ډالر چمتو کړي، د بهرنیو چارو د وسلو لرې کولو او کمولو د هغې سیاسي - نظامي چارو دفتر (PM/WRA) په وینا.[208] د هغې کنوانسیوني وسلو له منځه وړلو پروګرام له لارې، د بهرنیو چارو وزارت پنځه افغان غیردولتي نهادونو (NGOs)، پنځه نړیوال NGOs او د متحده ایالاتو حکومت قراردادکونکي ته بسپنه ورکړې. دا بسپنې د هغه ساحو پاکول وړ کوي چې له جګړې پاتې چاودیدونکي توکو باندې ککړه ده او د منع وسلو لرې کول او له منځه وړل حمایه کوي چې ممکن بلواګر یې د سړک غاړې ماینونو په جوړولو کې وکاروي.[209]
د PM/WRA څخه خورا اخرني معلوماتو مطابق، له جولای 1، 2012 څخه تر جون 30، 2013 پورې د بهرنیو چارو وزارت بسپنه شوي پلي کونکو ملګرو نږدې 33 ملیون متره مربع (شاوخوا 13 میل مربع) په ماینونو ککړه ځمکه پاکه کړې.[210] تخمین شوې 537 ملیون متره مربع ځمکه (له 200 میل مربع څخه ډیره) لا ککړه پاتې ده چې باید پاکه شي، لکه څنګه چې په 3.7 جدول کې ښودل شوې. PM/WRA "د ماین ساحه" د هغې ساحې په حیث

جدول 3.7

**د کنوانسیوني وسلو له منځه وړو پروګرام میټریکس، جولای 1, 2012 جون 30, 2013**

| د نیټې حدود | AP/AT له منځه وړل شوي | UXO له منځه وړل شوي | SAA له منځه وړل شوي | د مهماتو ټوټې پاکې شوي | له مینونو څخه پاکه شوې ساحه (m²) | تخمیني پاتې ککړه ساحه (m²) |
|---|---|---|---|---|---|---|
| 9/30/2012-7/1 | 5,542 | 165,100 | 121,520 | 2,569,701 | 11,830,335 | 550,000,000 |
| 12/31/2012-10/1 | 2,146 | 62,449 | 22,373 | 3,672,661 | 7,265,741 | 570,000,000 |
| 3/31/2013-1/1 | 1,984 | 100,648 | 105,553 | 3,722,289 | 7,978,836 | 552,000,000 |
| 6/30/2013-4/1 | 1,058 | 18,735 | 49,465 | 1,079,807 | 5,586,198 | 537,000,000 |
| **ټول** | **10,730** | **346,932** | **298,911** | **11,044,458** | **32,661,110** | **537,000,000** |

یادښتونه: AP/AT = د ټانک ضد/د پرسونل ضد مهمات. UXO = نا چاودل شوي مهمات. SAA = د سپکې وسلې مهمات. د مهماتو د ټوټو راپور ورکړ شوی څکه چې پاکول یې لکه د نور ورته شیانو پاملرنې ته اړتیا لري ترڅو چې د هغوي د ماهیت په اړه معلومات ترلاسه شي.

سرچینه: د بهرنیو چارو وزارت، PM/WRA، د سیګار معلوماتو غوښتنې ته ځواب، 10/1/2013.

تعریفوي چې په ځمکني ماینونو ککړه وي او "ککړه ساحه" د هغه ساحې په حیث چې په دواړه ځمکني ماینونو او له جګړې پاتې چاودیدونکي توکو باندې ککړه وي.[211]

## له مخدره توکو سره مبارزه

که څه هم، متحده ایالاتو د کوکنارو کښت او غیرقانوني مخدره توکو قاچاق کمولو لپاره ملیاردونه مصرف کړل خو د افغانستان د کوکنارو کښت لوړیدو ته دوام ورکوي. هیواد د کوکنارو تولید او کښت کې د نړۍ لومړی هیواد دی، چې په 2012 کې د غیرقانوني کوکنارو تولید 74% لپاره مسؤل و.[212] د افغان کوکنارو اقتصاد ترهه ګرۍ او د سون توکو درغلۍ ته مالي امکاناتو برابرولو په واسطه د متحده ایالاتو د بیارغونې هڅو مخه نیسي. د ملګرو ملتونو د مخدره توکو او جرم دفتر (UNODC) د کوکنارو سروې مطابق، په 2012 کې په تخمیني ډول 154,000 هیکتاره ځمکه د کوکنارو کښت لاندې وه، له تیر کال څخه 18% ډیروالی.[213]

د دې کښت اغیز د پام وړ دی. د افغانستان قانوني GDP (په 2012 کې نږدې 19 ملیارد ډالر) سره په مقایسه کې د کوکنارو اقتصاد اندازې اهمیت تخمین حد د فقط 3% څخه تر 11% پورې لوړ دی چې د ملاحظه شوي معلوماتو ډول باندې ولاړ دی.[214] د مثال په توګه، نړیوال بانک تخمین کړی چې دا کوکنار (د دروازې پورې قیمت په واسطه) د افغانستان داخلي تولید 3.3% (GDP) سره برابر دی، یا تر 8-7% پورې که چیرې د صادرولو لاسته راوړنې یې پکې شامل شي.[215] UNODC تخمین کړی چې تر دروازې ارزښت د 4% GDP سره برابر دی او د اپیوم صادراتو (11% د اپیوم صادراتو لپاره) د 10% GDP سره.[216]

**د دروازې ترځنګ قیمت:** په څمکه کې موجود تولید لپاره قیمت، پرته د کوم جلا بیل شوي ترانسپورت یا تحویلۍ لګښت څخه.

سرچینه: IMF، "Glossary"، 2004، p. 598.

د متحده ایالاتو تریاکو ضد (CN) ستراتیژي اساسا د تریاکو - ترهه ګرۍ رابطې سره مبارزې باندې تمرکز کوي.[217] د ستراتیژۍ اصلي اجزاو کې متحده ایالاتو سپانسر شوي له منځه وړل، د بدیل معیشت وده، د عامه پوهاوي نوښتونه، او د له منځه وړو عملیات شامل دي. تر سپټمبر 30، 2013 پورې، متحده ایالاتو 6.9$ ملیارد ډالر په افغانستان کې په 2002 کې د هغې هڅو پیل راهیسې د CN نوښتونو لپاره مختص کړي. د دې بسپنو ډیری یې د دوه کانالونو له لارې مختص شوي وې: د بهرنیو چارو وزارت د نړیوال کوکنارو کنټرول او قانون پلي کولو (INCLE) حساب (4.2$ ملیارد)، او د دفاع وزارت د مخدره توکو له منځه وړو او د مخدره توکو فعالیتونو ضد (DOD CN) بسپنه (2.6$ ملیارد).[218]

د بهرنیو چارو وزارت د نړیوال تریاکو او قانون پلي کولو چارې (INL) د افغان په رهبرۍ له منځه وړلو، بدیل معیشت، او عامه پوهاوي نوښتونو لپاره د پانګونې اساسي مسؤلیت په غاړه لري. د دفاع وزارت او INL په افغانستان کې د CN هڅو ملاتړ لپاره سره همغږي کوي.[219]

## مهمې پیښې

پدې ربعه کې، د افغان قانون پلي کولو مسلکي واحدونو د نیمروز ولایتي پولیس رییس، سمونوال محمد کبیر اندرابي د مخدره توکو درغلۍ او عدلي محکمې ته موانع لپاره ونیو. هغه هڅه کوله چې د قضا پروړاندې خنډ رامنځته کړي او په 10 کاله حبس محکوم شو. اندرابي د حکومت ترټولو لوړپوړی چارواکی دی چې ترنن ورځې پورې د مخدره توکو په محکومیت نیول شوی. د دفاع وزارت مطابق، د دې او نورو لوړ رتبه کسانو نیول د افغان وړ واحدونو باوري ښیې چې د هدف پروړاندې شواهد راټولوي او کاروي. د متحده ایالاتو اردو عمومي لوژستیک او استخباراتي ملاتړ چمتو کړی، پداسې حال کې چې د متحده ایالاتو استخباراتي ټولنې ایتلافي ښوونکو ته متمم هدف نیول او څېړنیز ملاتړ چمتو کړی.[220]

## د اپیوم کښت

د UNODC په وینا، افغانستان په 2012 کې د تریاکو کښت نړیوالې څمکې 64% لپاره محاسبه شوی. کوکنار د افغانستان 34 ولایتونو څخه په 17 ولایتونو کې کرل شوي و، لکه څنګه چې په 3.26 شکل کې ښودل شوي. که څه هم د کوکنارو (په هکتار) له منځه وړل 154% ډیر شوي، د کوکنارو کښت په اوه ولایتونو کې تر 50% ډیر شوی، په شمول د افغانستان خورا لوی (په ساحه) ولایتونه په لویدیځ کې، لکه څنګه چې د راتلونکي مخ په 3.27 شکل کې ښودل شوي. په کلي توګه، د کوکنارو کښت لاندې هکتارو شمیر تر 18% ډیر شوی.[221]

د فې کلوګرام اپیومو قیمت د تیر کال په پرتله په 2012 کې راټیټ شوی. په 2011 کې تر دروازې د فې کلو ګرام تازه اپیومو قیمت په اوسطه ډول 180 ډالر او د وچو اپیمو قیمت 241 ډالر و. په 2012 کې، دغه قیمتونه په ترتیب سره 163$ او 196$ ډالرو ته راولید. له دې پرته، د بزګر عاید له اپیومو څخه په فې هیکتار کې 57% او شبکې عاید 65% راټیټ شو.[222]

## د والي په رهبرۍ د له منځه وړلو پروګرام

INL د افغان حکومت والي په رهبرۍ له منځه وړو پروګرام (GLE) حمایه کوي.[223] تر سپتمبر 30، 2013 پورې، متحده ایالاتو د GLE پروګرام لپاره 85$ ملیون ډالر چمتو کړي.[224] د سپتمبر 25، 2013 یوه راپور مطابق، د GLE پروګرام مسؤل و چې په افغانستان کې 7,323 هیکتاره کر له منځه ویسي له 2012 څخه 24% کموالی کله چې تایید شوې وه 9,672 هیکتاره له منځه وړل شوي. د مخدره توکو پروړاندې مبارزې وزارت (MCN) دا کموالی د له منځه وړو هڅو لپاره د ANSF's کم شوی ملاتړ، د CNPA پروړاندې د طالبانو بریدونو، په ناامن او لرې پرتو سیمو کې کښت، او د دې کال ګرم اقلیم ته نسبت ورکوي، په کوم کې چې بزګرانو کولی شو له تیرو ډیرو کلونو څخه خپل اپیوم ذخیره کړي. د له منځه وړو کچې د MCN او UNODC په واسطه تایید شوي. MCN راپور ورکړی چې د GLE پروګرام د 17 ولایتونو په 842 کلیو کې کارول کیږي، د INL په وینا.[225]

شکل 3.26

**د افغانستان په ایالتونو کې د اپیم کښت، 2012**




یادښت: یو هکتار = قریباً 2.5 ایکره.

سرچینه: UNODC، د افغانستان د کوکنارو سروې 2012، 5/2013، p. 14.

شکل 3.27

**په ایالتونو کې د کوکنارو په کښت کې بدلون 2011–2012**




سرچیني: UNODC، د افغانستان د کوکنارو سروې 2012، 5/2013، p. 15.

## د ښه فعالیت کونکي نوښت (GPI)

INL د MCN د ښه فعالیت کونکي نوښت (GPI) ته بسپنه ورکوي، کوم چې والیان هڅوي د کوکنارو کښت کې له منځه وړل لاسته راوړي او وساتي.[226] تر سپتمبر30, 2013 پورې متحده ایالاتو د GPI پروګرام لپاره $10 ملیون ډالر چمتو کړي.[227] هغه ولایتونه چې له کوکنارو خلاص دریځ لاسته راوړي، د کوکنارو کښت له 10% ډیر کم کړي، یا د CN هڅې وستایي د محلي پراختیا لومړیتوبونو ملاتړ لپاره پراختیایي مرسته لاسته راوړي. د پروګرام مادو پراساس، هرکال چې یو ولایت د کوکنارو څخه خلاص دریځ لاسته راوړي، دا د GPI پراختیایي پروژو کې $1 ملیون ډالرو لپاره وړ کیږي. یو ولایت هغه مهال له کوکنارو خلاص ګڼل کیږي کله چې UNODC د MCN سره په همکارۍ تایید کړي چې د کال په جریان کې له 100 هیکتاره لږ د کوکنارو کښت درلود. د 2012 په اوږدو کې، 17 افغان ولایتونو د GPI له کوکنارو خلاص جایزې لپاره معیار پوره کړی و، په 2011 کې د ورته شمیر په حیث. له 2011 څخه 2012 ته یو ولایت له کوکنارو خلاص دریځ له لاسه ورکړی او یوه ولایت لاسته راوړی. د 2013 لپاره د GPI جایزې لاتراوسه ندي اعلان شوي.[228]

په 2007 کې د GPI پروګرام له پیل راهیسې، په ټولو 34 ولایتونو کې له 200 څخه ډیرې پراختیایی پروژې یا خو بشپړې شوي یا په وده کې دي. پدې پروژو کې د ښوونځي جوړول، د سړک او پلونو پروژې، د اوبو لګونې بنې، د ځمکې مشینرۍ پروژې، او روغتونونه او د کلنیک جوړول پکې شامل دي. INL په نښه کړې چې له کله نه د GPI پروژو پلي کولو کې شته په کلکه کم شوی، نوموړی پروګرام له ځینې ځنډونو سره مخ شوی او څنګه چې د MCN ظرفیت ډیریدو ته دوام ورکړی پروسه له سره سمه شوې. د امنیتي ننګونو له امله د ساختماني پروژو په پلي کولو کې هم ځنډ شتون لري.[229]

د INL په وینا، د GPI پروګرام هله ملاتړ چمتو کوي چې یوځل په ولایت کې ښه فعالیت تایید شي. په مقابل کې، د GLE پروګرام په اهدافو ډیر موافقت پراساس دمخه 10% چمتو کوي او پاتې بسپنه د معیاري له منځه وړو پایلو تایید څخه وروسته چمتو کیږي.[230]

## د تاریاکو ضد عملیاتو باندې د ایتلاف وتلو اغیز

د دفاع وزارت د CNPA او نورو افغان حکومت CN ادارو وړتیا وړاندوینه کوي چې په هغه ساحو کې به د CN عملیاتو پرمخ تګ کم شي چیرې چې د ایتلاف شتون کم شوی او متحده ایالات او ایتلافي ځواکونه تري وځي. په هرصورت، د دفاع وزارت ویلي چې افغان CN واحدونه په شمول د ځانګړي ماموریت وزر، د له منځه وړو ملي واحد، او حساس تحقیقي واحد روزل شوي او وړ واحدونه دي چې د CN عملیات یې په خپلواکه توګه یا د متحده ایالاتو او ایتلاف محدود ملاتړ سره اجرا کړي.

د دفاع وزارت تمه لري چې دا افغان CN واحدونه د ایتلاف کم شوي شتون سره عملیاتو پرمخ وړو ته دوام ورکړي. په هرصورت د دفاع وزارت پیژندلي چې دا مهال ځینې وړ کونکي فعالیتونه د متحده ایالاتو او ایتلافي ځواکونو له خوا چمتو کړی شوي لکه هوایی ملاتړ، امنیت، او استخبارات چې نشي کیدی وګرځول شي.[231]

د دفاع وزارت دا هم په نښه کړي چې د کوکنارو کښت دوه لوړې ساحې، کندهار او هلمند به د وتلو سره په لوړه کچه اغیزمن شي. دا ساحې ډیر ترهه ګر او ډیر د مخدره توکو شبکې هم لري. د اپیوم تولید شبکو پیژندلو لپاره لږ امنیت، یو کوچنی افغان د CN امنیتي ځواک، لګې پانګې، او د استخباراتو نه شتون احتمالا د مخدره توکو قاچاقچیانو ته اجازه ورکوي چې پدغه مهم ولایتونو کې په لویه کچه پرته د ممانعت څخه تک راتګ وکړي.[232]

د دفاع وزارت په وینا، د متحده ایالاتو د مخدره توکو پلي کولو اداري (DEA) مشوره کړې چې یوشمیر مخکښ عملیاتي موقعیتونه بند او په ځانګړې ډول سویلي افغانستان کې خپل د پښو چاپ کم کړي.[233] CSTC-A په نښه کړي چې دا مخکښ عملیاتي موقعیتونه په شمول د کندز، هرات، او کندهار بیزونو د CNPA کنټرول ته سپارلو حالت کې دي او د تاریاکو ضد عملیاتو په لاره اچولو لپاره به وکارول شي لکه څنګه چې مخکې کیدل.[234] په هرصورت، د امنیت، استخباراتو، طبي خلا، او تاکتیکي هوایي کنټرول د لوړ خطر عملیاتو لپاره نظامي ملاتړ پرته، د DEA عملیات به په کابل کې د افغان مرکز هاخوا غزولو ته لږې وړتیا سره مرکز شي. دا به د افغان CN ځواکونو د پیچلې له منځه وړو عملیات باندې هم اغیز وکړي څکه چې DEA په مستقیم ډول د هیواد په اوږدو کې د افغان CN عملیاتې وړتیاوې ډیرې کړي. د دفاع وزارت په نښه کړي چې په افغانستان کې د DEA د عملیاتو کمښت مستقیما د ایتلاف نظامیانو وتلو او وروسته د امنیت کمښت پورې اړه لري.[235]

د دفاع وزارت هم د نظامي وتلو او عملیاتي وړ کونکو له لاسه ورکولو سره له 2011 مالي کال څخه تر 2013 مالي کال پورې د غیرقانوني مخدره توکو او مخدره توکو اړوند کیمیکلز په له منځه وړو کې تیز کموالی همبسته کړی. ترټولو لوی کمښت د مناديي کیمیکلز (د تاریاکو تولید لپاره کاریدونکي کیمیکلز) 73% او بنګو 79% له منځه وړل و. یوازینې ساحه چې نسبتا لاسته راوړنه پکې وه د FY 2012 او FY 2013 ترمنځ د مورفین له منځه وړل و؛ که څه هم د دواړه وروسته کلونو څخه FY 2011 کې نږدې دوه چنده مورفین نیول شوي و. له دې پرته، د CN عملیاتو ټول شمیر د FY 2012 او FY 2013 ترمنځ 26% شوی.[236]

د 2014 جنګي عملیاتو پای سره، به د ایساف نظامي ماموریت په افغانستان کې د ناټو په رهبرۍ روزنې، مشورې، او مرستې ماموریت ته انتقال شي چې د مصمم ملاتړ ماموریت (RSM) نوم ورته ورکړل شوی. RSM به منابع او ظرفیت ونلري چې د قانون پلي کولو CN ماموریتونه په اوسنۍ کچه حمایه کړي. په هرصورت، د دفاع وزارت ویلي چې ژمن دی د افغانستان لپاره د متحده ایالاتو قانون پلي کولو ادارو او سیمه ایز CN هڅو ملاتړ ته د بویجه ایی محدودیتونو سره دوام ورکړي. د دفاع وزارت په وینا، هغه د متحده ایالاتو بین الاداري ملګرو سره نږدې کارکوي ترڅو د لیږد چاپیریال وروسته د قانون پلي کولو CN وړتیاوې وپیژني.[237]

## د افغانستان د مخدره توکو په وړاندې د مبارزې پولیس

د CSTC-A په وینا، پدې ربعه کې، 2,759 پرسونل CNPA ته ګمارل شوي. د 2,247 پرسونل څخه ډیر دا 512 پرسونل اوس مهال د CNPA لپاره مجاز دي.[238]

**مناديي کمیکل:** هغه ماده چې ممکن د تاریاکو مخدره توکو او سایکوټراپیک مادو تولید، رامنځته کولو او/یا چمتو کولو لپاره وکارول شي.

سرچینه: UNODC، ”د منادي او کیمیکلز څو ژبې قاموس،“ 2009، p. viii.

## د افغان مخنیوی عملیات

له جولایی 1، تر سپتمبر 30، 2013 پورې، ANSF د CN 90 یوازېځیز عملیات پرمخ وړي د معمول ګزمې، د قرنطین او لټون عملیات، د وسایطو مخنیوی، او د تعمد توقیف عملیات د دفاع وزارت په وینا. د کورنیو چارو وزارت د پولیسو ځانګړي واحدونو عمومي ریاست د هڅې رهبري کوله. نوموړې ریاست په 17 عملیاتو کې برخه اخیستې چې نږدې 18,200 کلوګرام مختلف تاریاک او منادي کیمیکلز پکې نیول شوي.[239]

## د امریکا د مخنیوی عملیات

د متحده ایالاتو ټول د مخنیوي فعالیتونه فقط سویلي او سویل غربي افغانستان کې پیښ شو، چیرې چې د اپیوم ډیری برخه کښت، پروسس او بهرته قاچاق کیږي. د دفاع وزارت په وینا، د متحده ایالاتو مخنیوی ملاتړ تمرکز افغان وړتیاو جوړولو او د افغان قانون پلي کولو سره ملګرتیا کې پاتې کیږي. ځنګه چې دغه ساحې کې افغان ځواکونو رهبریت په غاړه اخیستی، نو یوازې څلور د متحده ایالاتو یوازېځیز عملیات پکې و.

د یوشوي ګډ بین الاداري کاري ځواک نیکسوس (CJIATF-N) او د بین الاداري عملیاتو همغږۍ مرکز (IOCC) د افغان ځواکونو ظرفیت جوړولو کې د ایساف او قانون پلي کولو ښوونکو سره کار ته دوام ورکړ. ټول عملیات په ساحه کې د متحده ایالاتو او ایتلاف نظامي قوماندانانو سره همغږي شوي و.[240]

## د مخنیوی پایلې

له 2008 راهیسې، د افغان او ایتلاف مخنیوی ټولټال 2,474 عملیاتو پایله 2,488 نیول او د لاندې تاریاکو قاچاق نیول و:[241]

- 728,886 kg چرس
- 354,580 kg تریاک
- 46,961 kg مورفین
- 25,923 kg هیروئین
- 407,203 kg منادي کیمیکلز

# د حکومتدارۍ منځپانګې


| | |
|---|---|
| مهمې پېښې | 109 |
| ټاکنــــــې | 110 |
| دری میاشتني مهم ټکي: د ټاکنو لپاره چمتووالی او ننګونې | 111 |
| د متحده ایالاتو د افغانستان لپاره نوی ملکي-نظامي ستراتیژیک کاري چوکاټ | 119 |
| مصالحه او د ملکي ژوند سره بیاځلې ادغام | 121 |
| ملي او ځایې حکومتداری | 124 |
| قضایی اصلاح او د قانون حاکمیت | 130 |
| د فساد ضد مبارزه | 134 |
| بشري حقوق | 139 |

# حکومتداری

د 2013 کال د سپتمبر د 30 سره سم، متحدو ایالاتو تقریبا $24.7 میلیارد ډالر د افغانستان د حکومتداري او د اقتصاد پیاوړتیا لپاره چمتو کړي دي. د دی کمک زیاته برخه تقریبا $16.7 میلیارد ډالره د اقتصاد پیاوړتیا فنډ (ESF) ته مختص شوي وو. چې د امریکا د بهرنیو چارو وزارت او همدا ډول د امریکا د پراختییاي اداري (USAID) لخوا په پرمخ وړل کیږي.[242]

## مهــــــمی پیښـــــــې

د 2014 کال ولسمشریزو او ولایتی شوراوو د ټولټاکنو لپاره پدی درو میاشتو کی چمتووالي جریان درلود. د افغانستان د ټولټاکنو خپلواک کمسیون (IEC) د ولسمشریزو او ولایتی شوراوو کاندیدانو نوم لیکنه د اکتوبر تر2013، 6 پای ته ورسوله.[243] شپږویشت کاندیدان د ولسمشری لپاره د لومړي او دویم معاون سره یوځای په رسمی ډول راجستر شول.[244] د اکتوبر په 22 د ټاکنو خپلواک کمسیون په ابتدایی لیست کی تنها 10 ولسمشریزو کاندیدانو نومونه تصویب کړل.[245]

د ټاکنو خپلواک کمسیون او د ټاکنو د شکایتونو کمسیون د نوی کمشنرو په گمارنې سره په خپل کار پیل کړ. ولسمشر کرزی د 2013 کال په جولای کې نهه تنه کمشنر ان IEC د شپږ کالو د پاره وټاکل. او وروسته یی پنځه تنه ECC د غړو په توگه تعین کړل.[246]

د ملگرو ملتونو (UN) د بشر حقونو لوړپوړي چارواکي د افغانستان څخه په نږدی لیدنه کی خبرداری ورکړ چی "د بشري حقوق پرمختگ حرکت نه یوازې نهایی شوی بلکه په واقعیی بڼه کم رنگ دی." د (UN) حقوق بشر لوی کمشنر د ښځو حقوقو او د افغانستان حقوق بشر خپلواک کمسیون په اړه د روانو ستنزو یادونه وکړه.[247]

په افغانستان کی د امریکا سفیر او امریکا د قواوو مشر(USFOR-A) د امریکا متحده ایالاتو ته خپله بیا کتـــــــــــــــنه وړاندي کړه. ملکی - نظامی ستراتیژک کاري چوکاټ د افغانستان لپاره په اگست 2013 کې دغه سترتیژک چار چوکاټ په افغانستان کی د ټولو امریکایی نظامی او ملکی کارکونکو ته د ځان ساتنی لپاره لار ښودنه کوی.[248]

ارسلا جمال د لوگر والی د دغه ولایت مرکز کی په مسجد کی ووژل شو. اکتوبر ښاغلی ارسلا جمال دوهم والی دی چی ترور کیږی، مخکی ددی نه هم سپتمبر 2008 کی دا پیښه شوی وه. د ښاغلی ارسلا جمال د لومړیتوبونو څخه یو هم د مس عینک کان وو چی په لوگر

کی موقیعت لری.[249] پدې ربع کې همدا ډول د سنا پخواني غړی او اوسنۍ برحال ولسوال هم د طالبانو لخوا د وتشتول شوو. ولسوال تر ټولو لوړ پوړی ملکي افغان دولتي چارواکی دی چې د مخالفینو د لیکو سره یوځای شوی دی.[250]

## ټولټاکنی

د ټولټاکنو خپلواک کمسیون کی ولسمشریزو نوم لیکنه د سپتمبر 16 تر اکتوبر 6.[251] شپږویشت کاندیدان نوم لیکنه کړی وه چې د IEC له خوا په ابتدایی لست کی لس کسه تصویب شول. لکه څنګه چې په 3.28 شکلکې ښودل شوي.[252] مشهوره کاندیدان عبارت دی: د بهرنیو چارو پخوانی وزیران ډاکټر عبدالله عبدالله او زلمی رسول، د مالیی پخوانی وزیران اشرف غنی او انورالحق احدی د وزارت دفاع پخوانی وزیر عبدالرحیم وردګ، د ولسی جرګی پخوانی غړی او د مجاهدینو قوماندان عبدالرسول سیاف , پخوانی ستر وزیر هدایت امین ارسلا , د ننګرهار ولایت پخوانی والی ګل آغا شیرزی.[253] د ولسمشر او د معاونیت د نوم لیکنی د پاره دوی باید د خپل مخکنی دولتی پوست نه استعفا ورکړی پهشکل 3.29 صفحه 121 کې ښودل شوي.[254] د بشري حقونو د نړیوال سازمان په وینا، د ریاست جمهوری د چوکی لپاره په نوماندانو کې پخوانی نظامي، ملیشه یی قومندان هم شامل دی چې بشر په وړاندې په جدي تخلفاتو او سرغړونو کې ستر لاس لري.[255]

IEC د ابتدایی کاندیدانو نوم لړ د اکتوبر په 22 اعلان کړ.او وروستنی لست به د نومبر په 16، 2013 اعلان کړی. د ولسمشریزو کاندیدانو ابتدایی نوم لړ ددوی د ملیت او دویم تابعیت د مسلې د معلوملو په موخه د دری ورځو لپاره وځنډول شوو. د لیست څخه کاندیدانو ایستل څو عاملونه درلودل د لسانس درجی نه درلودل, د دوګونی تابعیت درلودل، او د 20 ولایتونو نه د 100,000 د رای کارتونو نه درلودل. د IEC د رییس په وینا ایستل شوی کاندیدان 20 ورځی لری چی خپل اعتراضونه راوړی.[256] د ټولټاکنو رسمی کمپاین به په فیبروری 2014 کی شروع شی.[257] او IEC 3,056 د ولایتی شورا کاندیدانو لیست چې 323 ښځی دی د 420 چوکیو د پاره اعلان کړ. د راجستر شویو نه په ابتدایی نوم لړ کی 2,704 چې 308 یی ښځی دی IEC له خوا د ولایتی شورا لپاره اعلان کړ.[258]

د بهرنیو چارو وزارت په وینا د اپریل 5، 2014 کال ټولټاکنو لپاره چمتووالی به تر نورو ټولټاکنو ډیری پرمختللی وی. د بهرنیو چارو وزارت وویل، په تیره ربع کې د دوو انتخاباتي قوانینو سریع تصویب سبب شوو چې د ټاکنو د دوو کمیسیونو لپاره غړي ژر وټاکل شي او ټاکنو د رایه ورکوونکو د ثبت د لړۍ نه تازه کول پر وخت او د منظمو ټاکنو د ترسره کیدو په برخه کې د پام وړ پرمختګ دی. د افغانستان اداری 1.5 میلیون رای ورکونکی راجستر کړی.[259]

د ټولټاکنو د مکمل بحث , پلان او خنډونو د پاره دری میاشتنی مهمی پیښی په صفحه 111–118 کې وګورئ.

شکل 3.28

**د ولسمشرئ لپاره د کاندیدو سرسري لسټ سره د خپلو انتخابي نښو**




یادښت: د اکتوبر 22، 2013 راهیسې د IEC له اړخه منلې شوي د ولسمشرئ لپاره کاندید. د 2004 صدارتي ټولټاکنو راهیسې د کاندید نښه کارلې شوې تاکې د بې سواده ووټ ورکوونکو سره مرسته وکړې شي. د مثال په توګه د ننګرهار پخواني ګورنر ګل آغا شیرزئ د بلډوزر نښه خوښه کړې وه ځکه چې دا د هغه د نوم سره میچ خوري.

سرچینې: خپلواکه ټولټاکنو کمیسیون، صدارتي کاندیدان، 10/22/2013، رسیدن 10/22/2013، ریډیو فري اروپا، افغانستان د بیلوټ کاغذ خصوصیت د کاندید د نښې بی ساره سیسټم 9/14/2005، رسیدن 10/22/2013، AFP، د افغانستان د ټولټاکنو کمیسیون 16 کاندیدان نالایقه وګرځول، 10/22/2013، رسیدن، 10/22/2013.

# د ټاکنو چمتووالی او ننګونې

د افغانستان د ولسمشرۍ او ولایتي ټاکنې د 2014 کال د اپریل په 5 نیټه ترسره کېږي. پارلماني ټاکنې به د 2015 کال په پسرلي کې ترسره شي. ولسمشر حامد کرزی د اساسي قانون په اساس نشي کولی د دویمې دورې څخه وروسته بیا په ټاکنو کې برخه واخلي.
د ده په ځای د بریالی نوماند ټاکنه به د هیواد په تاریخ کې لومړی ځل وي چې څواک په دیموکراتیکه بڼه لیږدول کیږي. د افغانستان دولت د ټوکیو د حساب ورکونې په دوه اړخیزه کاري چوکاټ کې ژمنه کړې وه چې "د افغانستان د اساسي قانون پر بنسټ به په 2014 او 2015 کلونو کې د ولسمشري او پارلماني د اعتبار وړ، جامع، او راڼه انتخابات ترسره کړي، تر څو ټول واجد شرایط افغانان، سړي او ښځې، د قانون سره سم دا حق ولري چې پرته د کوم داخلي یا بهرنی مداخلې څخه په انتخاباتو کې برخه واخلي."[260]
پدې ربعه کې، د افغانستان او پاکستان لپاره د متحده ایالاتو پلاوي ښاغلی جیمز ایف. ډوبینس وویل چې د افغانستان د ټاکنو بهیر "ډیر ستر پرمختګ دی چې کولی شي په راتلونکی کال کې د افغانستان وضعیت تر اغیزې لاندې راولي."[261]
کریګ جینیس، د ملګرو ملتونو د ټاکنیزو مرستو د څانګې مشر سیګار ته وویل چې ډونرانو او افغان دولت په لاندې ستراتیژیکو اصولو موافقه لري: (1) نهایي هدف دا دی چې داسې پایله لاسته راشي چې افغانانو ته د منلو وړ وي؛ (2) ګډون کول او مشمولیت به لومړیتوب ولري؛ (3) تخنیکي بهیر باید غیر تبعیضي او سالم وي (او داسې باید ښکاره شي) تر څو د پایلو څخه دفاع وکړي؛ او (4) د چل ول څخه د مخنیوی معیارونه باید پیاوړي او ستراتیژیک وي.[262]

## د قضایي سکتور سره ELECT II/UNDP

لکه څنګه چې په 3.8 جدول کې ښودل شوي ده، متحده ایالاتو 99.4$ میلون ډالر مرسته کړې ده تر څو د یو شمیر پروګرامونو له لارې د 2014 کال د ټاکنو څخه ملاتړ وکړي.[263]
د ملګرو ملتونو د پراختیایي پروګرام تر اثر لاندې د راتلونکی لپاره د قانوني او ټاکنیزو ظرفیتونو د ودې – II پړاو (ELECT II) پروګرام ډیر اهمیت لري.[264] د ELECT II د ELECT پروګرام ادامه ده چې په 2006 کال کې د UNDP لخوا د افغان دولت د ملاتړ لپاره پیل شوی و تر څو د 2009 او 2010 کلونو د ټاکنو په تیارۍ او مدیریت کې برخه

جدول 3.8

**د قضایي سکتور سره افغانستان د 2014 کال د ولسمشري او ولایتي ټاکنو لپاره په نظر کې نیول شوي دي**

| میکانیزم | د بودیجې اټکل | د پروژې موده |
|---|---|---|
| UNDP د راتلونکی لپاره د قانوني او ټاکنیز ظرفیت زیاتول- دویم پړاو (ELECT-II) | 55$ میلیون ډالر | د 2012 کال جنوري - د 2015 کال دسمبر |
| د افغانستان په ټاکنو کې د ګډون څخه ملاتړ کول (SIEP) | 15$ میلیون ډالر | د 2008 کال سپتمبر - د 2013 کال سپتمبر |
| د افغانستان ټاکنیز اصلاحات او ملکي مشاورت (AERCA) | 7.5$ میلیون ډالر | د 2009 کال جولای - د 2014 کال جون |
| د سیاسي ادارو او مدني ټولنې ملاتړ (SPECS) | 6$ میلیون ډالر | د 2013 کال جولای - د 2016 کال جون |
| د افغان مدني بوختیا ته وده ورکول (PACE) | 4$ میلیون ډالر | د 2013 کال TBD - د 2018 کال TBD |
| د افغان مدني ټولنې د ودې نوښت، دویم پړاو (IPACS II) | 1$ میلیون ډالر | د 2010 کال اکتوبر - د 2013 کال دسمبر |

سرچینه: USAID، د سیګار د معلوماتو غوښتنې ته ځواب، 9/30/2013.

واخلي. په 2004–2005 کال کې د هیواد لومړی ټاکنې د ټاکنیز مدیریت د ګډې اداري لخوا ترسره شو چې په ترکیب کې یې ملګري ملتونه او د افغان دولت د ټاکنو خپلواک کمیسیون (IEC) شامل و.[265] ELECT II د IEC او د ټاکنیزو شکایاتو د کمیسیون سره په لاندې مواردو کې مرسته کوي:

- د بنیادي ظرفیت وده او ټینګول،
- د ELECT II پرسونل د مهارتونو د انتقال له لارې د خپل کار کونکو مسلکي او ټاکنیزو مهارتونو ته وده ورکول، او پیاوړی کول،
- د ټاکنو په پلي کولو کې یې د ظرفیت لوړاوي، تر څو په منځ مهال او اوږدمهال کې تخنیکي مرستې ته اړتیا پیدا نه کړي.
- د تسهیلاتو، اداره او معلوماتي سیستمونو، او د زیربناو ساتنه او پراختیا،
- دیموکراټیکه برخه اخیستنې ته خلک هڅول، او
- په ټولو فعالیتونو کې د جندر مساوات په نظر کې نیول.[266]

د $129 میلیونه ډالرو څخه چې د ELECT II د اټکل په اساس د 2014 کال د ټاکنو لپاره اړین دي، $55 میلیون ډالر یې د USAID لخوا ورکول کیږي. پاتې شمیره د انګلستان، اروپایي اتحادیه، ایټالیا، جرمني، فرانسه، نیدرلنډز، سویډن، ډنمارک، ناروې، او جاپان لخوا ورکول کیږي، لکه څنګه چې په 3.30 شکل کې ښودل شوې ده.[267] همدارنګه د دې مالي مرستو سره به UNOPS چې د ملګرو ملتونو یوه څانګه ده، وکولی شي چې د UNDP د فرعي قرارداد له لارې د نوی دایمي ECC سره مرسته وکړي تر څو ټاکنیز شکایات بررسي کړي.[268] د ټاکنیزو سیستمونو نړیوال بنسټ به هم د دغو پروسو له لارې د ECC سره مشورتي مرسته وکړي.[269]

شکل 3.30

**دویم انتخاب د کال 2014 صدارتي او ایالتي کونسل ټولټاکنو لپاره د مرسته کوونکو ژمنه**

(امریکایی ملیون ډالري)




سرچینه: د ملګري ملتونو د سیاسي چارو اداره، د ټولټاکنو د مرستې ریاست.

شکل 3.31

**د افغانستان د ټولټاکنو سرسري جايزه**




سرچینې: د سګار سه میاشیتني راپورونه 10/30/09، pp. 75, 83؛ 1/30/10، p. 78؛ 10/30/10، p. 77؛ او 7/30/2013، p. 123.

د 2014–2015 کال د ټاکنو لپاره د ELECT II بودیجه $248 میلیون ډالر اټکل شوې ده، چې دا شمیره د 2009–2010 کال د ټاکنو لپاره د ELECT د بودیجې په پرتله ($331 میلیون ډالر) ډېره کمه ده.[270] (3.31 شکل د 2004 څخه راهیسې د افغانستان د ټاکنو مهم ټکي ښیي.) جینیس سیګار ته ویلي چې د ملګرو ملتونو غوښتنه دا وه چې په هر راتلونکی افغاني ټاکنه کې د نړیوالو فعالیت کم کړای شي. په 2004 کال کې، د نړیواله ټولنې په ترکیب کې چې د ټاکنو د اداري مسولیت یې په غاړه و، شاوخوا 500 تنه مشاورین شامل و. د 2009 کال په ټاکنو کې بیا 120 تنه د ELECT سره په کار بوخت و. د نومورې په وینا، په راتلونکې ټاکنو کې به یوازې 50 تنه نړیوال مشاورین برخه اخلي.[271]

جینیس همدارنګه څرګنده کړه چې په افغانستان کې د لومړی ځل لپاره او د ټوکیو د دوه اړخیزه حساب ورکونې د کاري چوکاټ د شرایطو په اساس د ټاکنو 20–23% بودیجه د مالیې وزارت له لارې د افغان دولت د بودیجې په چوکاټ کې ورکول کیږي. د ده په وینا، دا کار به له افغانستان سره مرسته وکړي تر څو په راتلونکی کې د افغان دولت په مشرۍ د ټاکنو ترسره کولو لپاره میکانیزمونه جوړ کړي.[272]

USAID به هم د دغو موخو لپاره $21 میلیون ډالر مصرف کړي (1) د سیاسي ډلو او ایتلافونو تقویه کول؛ (2) د نوماندانو د استازو لخوا د محلي ټاکنو او د رای ورکولو د مراکزو څارنه؛ (3) د ټاکنې څخه د نړیوال څارنې لپاره اسانتیا برابرول؛ او (4) په ټاکنو او سیاسي بهیر کې د خلکو ګډون هڅول. د یادې شمیرې څخه $15 میلیون ډالر یې په ټاکنو کې د ګډون زیاتولو په پروژه کې مصرف شوي دي او پاتې $6 میلیون ډالر به یې د سیاسي ادارو او مدني ټولنو څخه د ملاتړ په نوم په یوه تعقیبي پروژه کې مصرف شي چې د ملي ډیموکراټیک انستیټیوټ، IFES، او انټرنیوز، یوه غیردولتي موسسه ده چې د محلي رسنیو د پیاوړتیا په برخه کې کار کوي، لخوا پلي کیږي.[273]

USAID د افغانستان د ټاکنیز اصلاحاتو او ملکي مشاورت (AERCA) د پروژې سره $7.5 میلیون ډالر مرسته کوي، چې د ډیموکراسي انټرنیشنل (DI) لخوا پلي کیږي.



**امریکايي سرتيري په زابل** ولايت کې افغاني چارواکو ته د رای ورکونکو د نوم ليکنې کتابونه وړي. (د امریکا د دفاع وزارت انځور)

AERCA د افغانانو په مشرۍ په ټاکنو کې د اصلاحاتو د راوستو لپاره خبرې اترې کوي تر څو پدې سره افغاني ډيموکراسي ټينګ او په حکومتولي کې د نوښتونو لپاره لاره هواره کړي.[274]
همدارنګه USAID به د بريښنايي تذکرې د کار د پيل لپاره $6.5 ميليون ډالر مرسته وکړي.[275]
د USAID/د انتقالي فعاليتونو دفتر به $5 ميليون ډالر په يو معلوماتي کمپاين مصرف کړي چې د دې په مرسته د ختيځ او سهيل په ټاکل شوي سيمو کې خلک په سوله ايزه ټاکنو کې ګډون ته وهڅول شي. دا کمپاين د مخالفو وسله والو د هغو تبليغاتو په ضد کار کوي چې خلک په ټاکنو کې له ګډون څخه منع کوي.[276]
همدارنګه نوموړې اداره په پلان کې لري چې د افغان مدني ټولنې د پرمختګ پروژې (IPACS II) او په مدني ټولنو کې د افغانانو د ګډون د زياتوالی د پروژې (PACE) له لارې د ټاکنو په اړه د عامه پوهاوی په برخه کې $4.4 ميليون ډالر مصرف کړي.[277] دا پروګرام د ګنو وسايلو له لارې په ټاکنو کې د رای ورکونکو ګډون او همدارنګه د خپلو مدني حقونو په اړه د دوی پوهه زياتوي.[278]
د USAID د مالي مرستو سربيره، په کابل کې د متحده ايالاتو د سفارت د عامه چارو څانګه هم د افغانستان د 2014 کال له ټاکنو سره د مرستې لپاره د $7.67 ميليون ډالرو په ارزښت د 26 بلاعوضه مرستو او تعاوني موافقتونو مالي مصرف ورکوي. دا پروګرامونه په خاصه توګه په هغه سيمو کې چې ښځې او ځوانان نشي کولی په اسانه سره رايې ورکړي، د خلکو عامه پوهاوی زياتوي او همدارنګه په ټاکنو کې يې ګډون ته هڅوي. په داسې پروګرام جوړولو کې د ښار سالونونه، راډيويي اوتلويزيوني خپرونې، او د رای ورکولو مرکزونه شامل دي.[279]

## د ټاکنو خپلواک کميسيون

ولسمشر کرزی پدې ربعه کې، نهه تنه کميشنران يې د IEC لپاره وټاکل چې يوسف نورستاني يې د مشر په توګه وګومارل شو.[280] نورستاني وړاندې له دې څخه د کرزي په حکومت کې د دفاع وزارت د مرستيال او د هرات د والي په توګه دنده ترسره کړې ده. نوموړی د وال سټريټ ژورنال سره په مرکه کې ويلي چې د 2014 کال په اپريل کې د ټاکنو د ترسره کولو په وړاندې د مخالفو وسله والو بريدونه تر ټولو مهم خنډ دی.[281] د ټاکنو د نوی قانون له مخې چې په تيره ربعه کې تصويب شو د ټاکنو د کميسيون کميشنران د ولسمشر لخوا د هغه لنډ لست څخه غوره کيږي چې دا ته د پارلمان د دوه ويناوالو، د افغانستان د بشري حقونو د خپلواک کميسيون مشر، د سترې محکمې مشر، او د مدني ټولنو د يو استازی د هيئت لخوا وړاندې کيږي.[282] د ملګرو ملتونو د عمومي منشي په وينا، پدې دور کې مدني ټولنې نشو کولی تر څو خپل يو استازی د قانون له مخې وټاکي.[283]

## د رای ورکونکو نوم ليکنه

سيګار د 2009 کال د ټاکنو په يوه پلټنه کې د افغانستان څخه سپارښتنه کړې وه چې د رای ورکونکو د نوم ليکنې په بهير کې اصلاحات راولي.[284] IEC د رای ورکونکو د نوم ليکنې د کارډونو کوم ډيټابيس (د معلوماتو زيرمتون) نلري.[285] مړ شوي رای ورکونکي تراوسه لا د ليست څخه ندي لرې شوي.[286] د رای ورکونکو د نوم ليکنې د کارډونو شمير د واجد شرايط رای ورکونکو له شمير څخه زيات دی.[287] د رای ورکونې د هر مرکز لپاره رای ورکونکي نه ځانګړی کيږي.[288] د نوموړی کميسيون پخوانی رييس اعتراف کړی و چې د ده اداره نشي کولی جعلي کارډونه په نښه کړي.[289] د ملګرو ملتونو جينيس وويل چې اصلي ستونزه دا نه

ده چې یو تن څو ځله رای ورکوي، بلکه اصلي خبره داده چې د یو نوماند لپاره مخفي رایې ورکول کېږي یا "ډېر زیات چل ول" ترسره کېږي. د جینیس په وینا تیر کال ملګري ملتونو د نړیواله ټولنې څخه غوښتنه وکړه چې د افغان رای ورکونکو لپاره د نوی نوم لیکنې مالي مصرف ورکړي. دا نوی نوم لیکنه که ترسره شوی و نو لومړی ځل به و چې د رای ورکونې د هر مرکز لپاره رای ورکونکي ځانګړي کېږي.[290] پهرصورت، ډونرانو د مصرف د ورکولو څخه ډډه وکړه.[291] USAID د جینیس خبره رد کړه او زیاته یې کړه چې افغان دولت پخپله د رای ورکونکو د نوم لیکنې سره موافقه ونه کړه.[292]

IEC د پخوانی لیست په ادامه خپل نوې نوم لیکنه پیل کړه نوموړی کمیسیون هغه چاته د رای ورکولو نوي کارډونه ورکوي چې د 2011 کال د ټاکنو څخه وروسته یې 18 کلنۍ پوره کړی وي، مخکې یې کارډ نه وي اخیستی، خپل انتخاباتي حوزه یې بدله کړی وي، افغانستان ته نوی راغلی وي، یا هغه کسان چې پخواني کارډونه یې ورک یا هم شدید زیانمن شوی وي.[293] نو په نتیجه کې، جینیس وویل، "مونږ به بیا هم د تیرو ټاکنو د نوم لیکنې له نیوکو سره مخ شو."[294]

IEC د رای ورکونکو نوم لیکنه د 2013 کال د می په 26 پیل کړه.[295] افغان دولت په ولسوالیو کې د نوم لیکنې موده 45 ورځې ، یا د 2013 کال د نومبر تر 16 پورې یې وغزوله تر څو لرې پراته ټولنې او همدارنګه ښځې وکولی شي په ټاکنو کې بشپړ ونډه واخلي.[296] IEC وویل په پلان کې لري چې د 2.5 او 3.5 میلیون ترمنځ نوي کارډونه وویشي.[297]

د رویټرز خبري سرچینې ویلې دي چې د رای ورکولو کارډونه د $5 ډالرو څخه په لړو پیسو پلورل کېږي او یو کس کولی شي په غلطو معلوماتو هم کارډ واخلي.[298] د رویټرز په وینا، د رای ورکولو کارډونه د پیسو په ارزښت تبادله کېږي او د کندز ولایت په یو شمیر ځایونو کې هغه خلک چې د نوماندانو لپاره کمپاین کوي د خلکو کارډونه د وریجو یا کچالانو د بوجیو په بدل کې ځینې اخلي.[299] د IEC یو کمیشنر له طلوع نیوز سره په مرکه



لوبه ګوته چې په **شین رنګ رنګه** شوی د رای ورکونکو د نوم لیکنې چاروکو ته ښیي چې دا افغاني ښځې د خپل عکسونو په ځای د ګوتو نښې ایښې دي. (د امریکا د دفاع وزارت انځور)

کې ووېل چې د رای ورکولو په کارېدونو کې چل ول مونږ ته د امنیت د ستونزې څخه هم لویه ننګونه ده.[300] د افغانستان د تحلیل شبکې په خپل راپور کې ویلی و چې د رای ورکونې د کارډونو لاسي ویش او د کاغذ په اساس چمتو شوی سیسټم خلکو ته دا آسانه کوي چې یو تن ګڼ شمیر کارډونه واخلي.[301]

## امنیت

جینیس او د افغانستان په موضوع کې د ده سیاسي مامور، اسما ناصري، وایي چې د ملګرو ملتونو په اند د 2014 کال په ټاکنه کې د ټاکنې د چاړواکو په وړاندې ستر خنډ به امنیتي خنډ وي چې په ګڼو سیمو کې د خلکو د رای ورکولو مخه نیسي.[302] د ملګرو ملتونو د چارواکو په وینا، د کورنیو چارو وزارت د رای ورکونې د مراکزو د امنیت لپاره یو جامع او هر اړخیزه پلان نیولې دی.[303] د دې پلان په اساس امنیت د افغان ملي امنیتي ځواکونو لخوا ټینګیږي او نړیوال سوله ساتي ځواکونه به د غوښتنې په صورت کې د لوژستیک، معلوماتي، او په بیړنیو حالاتو کې پوځي مرستې چمتو کوي.[304] افغان امنیتي ځواکونه همدا اوس د آیساف د ملاتړ څخه پرته د IEC د فعالیتونو لپاره امنیت برابروي لکه مختلفو سیمو ته تلل، د رای ورکونکو نوم لیکنه، او د موادو انتقال.[305] د جینیس په وینا، آیساف سپارښتنه کړې ده چې اساسي مواد د هوا له لارې اړوندو سیمو ته ورسوي، کوم کار چې په تیرو ټاکنو کې یې هم ترسره کړی و.[306]

په عین وخت کې، د IEC د دارالانشاء د مشر په وینا، افغان امنیتي ځواکونو د رای ورکولو د 6,845 مراکزو څخه یوازې د 3,435 مرکزونو امنیت تضمین کړې دی.[307] د وروستی ارزونې په اساس چې د امنیتي چاړواکو لخوا ترسره شوې ده وایي چې 3,410 مرکزونه لا هم د خطر سره مخ دي. د دغو مراکزو څخه چې د خطر سره مخ دي 945 مرکزونه یې د لږ خطر ساحې؛ 1,074 مرکزونه د منځنی خطر ساحې؛ او 1,132 مرکزونه یې د لوړ خطر ساحې پیژندل شوي دي.[308] 259 مرکزونه په نورستان، هلمند، غزني، بدخشان، فاریاب، پروان، سرپل، کندهار، او پکتیکا ولایتونو کې تر پوځي ولکې لاندې دي.[309]

په تیر سپتمبرکې طالبانو په کندز ولایت کې د IEC د مشر د وژنې مسولیت په غاړه واخیست.[310] د اسوشتید پرس په وینا، سږ کال د لوی اختر په مناسبت په خپل استولی پیغام کې ملا عمر د افغانانو څخه غوښتنه وکړه تر څو ټاکنې تحریم کړي.[311] سیګار په 2009 کال کې راپور ورکړی و چې د ټاکنو په ورځ کې د 100 څخه زیات بریدونه شوي و.[312]

## د درغلي مخنیوی

په 2009 کال کې، د امنیت نشتوالی، ګواښونه، د ناظرینو نشتوالی، او، په ځینې ځایونو کې، د رای ورکونې د موقتي مراکزو د کارکونکو د ناکافي روزنې له امله، په ټاکنو کې پراخه درغلۍ وشوې.[313] سیګار د افغانستان د 2009 کال د ټاکنو د پلټنې په راپور کې ځینې زده کړې په نښه کړې وې چې پدې ډول دي: د رای ورکونې مراکز مخکې له مخکې څخه معلومول، تر څو لوژستیکي او منیتي اهتمامات ونیول شي، د رای ورکولو د پاڼو د چاپ کنټرول تر څو د درغلیو څخه مخنیوی وشي، د نوماندانو د استازو او د ټاکنې ناظرینو ته روزنه ورکول، د امنیتي ستونزو له امله د لمر پریوتو څخه مخکې د ټاکنې د کارونو پای ته رسول، د رایو چټکه شمیرنه تر څو د لاسوهنې مخه ونیول شي، د نتایجو پاڼې داسې جوړول چې د لاسوهنې په وړاندې مقاوم وي، رایې په شفافه بڼه شمیرل، او د ټاکنیزو شکایاتو په بیړه بررسي کول.[314]

IEC د ELECT II په مرسته په 20 مخونو کې د درغلیو د مخنیوی یو پلان خپور کړ تر څو د 2014 کال په ټاکنو کې ترې کار واخیستل شي. د امریکا د بهرنیو چارو د وزارت په وینا نوموړی پلان درې اهداف لري: د درغلیو مخه نیول، د درغلیو معلومول، او د درغلیو اصلاح کول.[315] د بهرنیو چارو وزارت په وینا دا پلان د IFES د هغه رپوټ څخه رااخیستل شوی دی چې د افغانستان د ټاکنو د انسجام په اړوند یې په فبروري کې خپور کړی و. د رپوټ له مخې د 2009 کال د ټاکنو ډېره درغلي د هغه موقتي کار کونکو لخوا ترسره شوي و چې د رای ورکونې د مراکزو لپاره استخدام شوي و.[316]

د دې لپاره چې د IEC دغه پخواني کار کونکي او قراردادیان بیا په دې چوکاټ کې ځای پیدا نه کړي IEC د هغه کسانو د نومونو یو ډیټابیس جوړ کړی چې په پخوانیو ټاکنو کې په درغلۍ او د خپلو موقفونو څخه په ناوړه کارونې تورن شوي دي. د IEC ټولې ولایتي څانګې دې ډیټابیس ته لاسرسي لري او له دوی څخه غوښتل کیږي چې د افرادو په ګومارنه کې له دې لست څخه استفاده وکړي. تر اوسه پورې IEC یوازې څو سوه موقتي کار کونکي استخدام کړي تر څو د رای ورکونکي د نوم لیکنې بهیر سرته ورسوي، خو په راتلونکې میاشتو کې به نوموړې اداره د رای ورکونې د مراکزو او د ټاکنې د فعالیتونو لپاره په زرهاو کسان استخدام کړي. د بهرنیو چارو وزارت په وینا د اداري فساد د څارنې او ارزونې ګډه خپلواکه کمیټه (MEC) په خپله خوښه د دې بهیر د څارنې مسولیت په غاړه اخیستې دی.[317]

USAID په پلان کې لري چې د SPECS پروژې او د AERCA پروګرام له لارې د محلي ناظرینو مالي مصرف ورکړي. USAID په پلان کې لري چې د SPECS له لارې $1.4 میلیونه ډالر د فرعي مرستې په توګه ځانګړی کړي تر څو د محلي ناظرینو، د مشاورت ګروپونو، او د ټاکنې د څارونکې ادارو مالي مصرف ورکړي. د ډیموکراټیک انټرنیشنل موسسه به د AERCA له لارې د دوو ناظرو موسسو مالي مصرف ورکړي. USAID تر اوسه د ټاکنې د نړیوالو ناظرینو د تمویل په اړه کومه پریکړه نده کړې.[318]

د ملګرو ملتونو کار کونکی جینیس وایي چې IEC به په ټاکنو کې د درغلیو څخه د مخنیوی لپاره د زغرده ګامونو او د رای ورکونې د حق څخه د محرومولو تر منځ پر نریو لیکو پل کیږدي. ده وویل لکه څنګه چې په 2009 ټاکنو کې د درغلیو له امله د رایو نږدې څلورمه برخه له اعتباره وغورځیده، د درغلیو په وړاندې ډیر ټینګ اقدامات به هم د هغه برخلیک سره مخ شي لکه څنګه چې د 2010 کال د پارلماني ټاکنې په غزني کې مخ شو. په نوموړی ولایت کې د ناامنۍ یا هم د رای ورکونې د پاڼو د بې اعتباره کیدو له امله د رای ورکولو د 272 مراکزو څخه 117 مرکزونه تړلي پاتې شو او هغه سیمې چې پښتانه اکثریت یې درلوده و نه توانیدل چې یو واحد نوماند ته رایې ورکړي. د ده په وینا، "زمونږ په آند لویه ننګونه دا ده چې په سهیلي ولایاتو کې چې ناامني حاکمه ده، داسې خلک اوسیږي چې د رای ورکولو حق لري." "آیا تاسو نه غواړۍ خپله اعظمي کوښښ وکړی تر څو دا خلک د خپل حق څخه ګټه واخلي؟ د راتلونکی ټاکنو د قانونیت اساسي برخې د زیاتو خلکو ګډون او د درغلیو په وړاندې ستراتیژیک اقدامات بلل کیږي."[319]

## د ټاکنو د شکایاتو کمیسیون

د سپتمبر په 19، د نوی تاسیس شوې ECC پنځه تنه کمیشنرانو لوړه وکړه. ولسمشر کرزي په تیره ربعه کې یو فرمان لاسلیک کړ چې له مخې به یې ECC د ټاکنې د شکایاتو د بررسۍ مسولیت په غاړه ولري. د نوی قانون په اساس، د ECC په چوکاټ کې نړیوال کمیشنران

ځای نلري. د سپتمبر په 12 نېټه کومه کمېټه چې د IEC د غړو نومونه يې انتخاب کړي و، د مدني ټولنې د استازی سره يوځای د 300 عريضه کونکو څخه د ټاکنې د شکاياتو د کمېسيون لپاره د افغاني نوماندانو يو لست يې ولسمشر کرزي ته وړاندې کړ. د سپتمبر په 16، د ټاکنې د شکاياتو کمېسيون (ECC) د غړو نهايي لست د ولسمشرۍ ماڼۍ لخوا اعلان شو. د بهرنيو چارو وزارت په وينا د نوموړي کمېټې غړې د افغانستان بيلابيل قومي او جغرافيوي تنوع انځور کوي. څلور غړي يې نارينه دي او يوه غړې يې ښځه ده. نوي کمېشنرانو عبدالستار سادات د کمېټې د مشر په توګه و ټاکه.[320]

ECC مجبور شو چې د اکتوبر د 6 نېټې څخه وړاندې چې د نوماندانو نوم ليکنه پای ته رسيږي بايد په 34 ولايتونو کې 34 دفترونه پرانيزي، او دا يو ستونزمن کار و. د بهرنيو چارو وزارت ويلي چې ECC د IEC هغه وړانديز منلې دی چې په ولايتونو کې مشترک دفترونه ولري خو په کابل کې د هر يو دفتر خپلواک وي. د ECC راتلونکی ګام دا و چې د خپل ولايتي دفترونو لپاره د نوماندانو لست ولسمشر ته وړاندې کړي، تر څو د هغوی استخدام نهايي شي.[321] ECC تراوسه پورې د خپل ولايتي کمېشنرانو نومونه ندی وړاندې کړی، او د شکايت لرونکو څخه يې غوښتنه کړې چې خپل شکايات ولايتي دفتر ته وسپاري چې دوی بيا ټول شکايتونه د کابل دفتر ته د بررسۍ لپاره استوي.[322]

دا ولايتي کمېشنران دنده لري چې په ولايتونو کې بيا د ECC د کارکونکو هسته جوړه کړي. دوی د ولايت په کچې د ټاکنې شکايتونه بررسي کوي او په اړه يې فيصلي اوروي، که څه هم اړوند شکايت کونکي د ECC د کابل په دفتر کې د استيناف غوښتنه هم کولی شي.[323]

## د ښځو ګډون

د سيګار يوې بلې پلټنې ومونده چې د 2009 کال په ټاکنه کې IEC او ملګري ملتونه د هغه ستونزو د بررسي کولو لپاره سمه پاملرنه نده کړې چې د نوم ليکنې، کمپاين، او رای ورکولو په برخه کې يې د افغانو ښځو حقونه تر پښو لاندې شوي و. د بيلګې په توګه، د رای ورکونې د مراکزو لپاره لږ تر لږه 80,000 تنه ښځينه کسانو ته اړتيا وه، خو يوازې 43,341 تنه استخدام شو.[324] د ملګرو ملتونو چارواکي وايي چې IEC خپله اعظمي هڅه کوي تر څو ښځې وکولی شي د 2014 کال په ټاکنو کې رايې ورکړي. دوی وايي چې ELECT II د IEC سره مرسته کوي تر څو د عامه پوهاوي په ټولو پروګرامونو کې د جندر موضوع په پام کې ولري، لکه په راډيو او تلويزيون کې د عامه خدماتو اعلانونه، تر څو ښځې په ټاکنو نوم ليکنې او ګډون کولو ته وهڅول شي. UNWOMEN د ملګرو ملتونو موسسه ده چې جندر مساوات او د ښځو د پياوړتيا پروګرامونو ته ځانګړې شوې ده، د ټاکنو څخه د ملاتړ يوه جلا پروژه په نظر کې لري چې د مدني ټولنې په سکتور کې پلي کيږي.[325]

د بهرنيو چارو وزارت په وينا، د ولسواليو په کچې د 45 ورځو لپاره د نوم ليکنې بهير غزول، کيدای شي د ښځو د نوم ليکنې لپاره لاره زياته هواره کړي. پهرصورت، IEC په اګست کې ګواښ ورکړ چې د ښځينه پوليسو د شمير کموالی له امله ځينې ښځې کيدای شي د رای ورکولو څخه پاتې شي. IEC ويلي چې دوی د رای ورکولو د مراکزو لپاره 12,000 تنه ښځينه تلاشي کونکو ته اړتيا لري، چې د اګست تر پايه پورې يوازې 2,000 تنه درلودې.[326]

شکل 3.29

**د ایکزیکټیو څانګې چارواکي د صدارتي او نایب ولسمشرۍ لپاره په ټولټاکنو کې برخه اخلي**

**د ایکزیکټیو څانګې کاندید د ولسمشرۍ لپاره**


**عبدالرحیم وردک**
د ولسمشر مشر سلاکار


**ډاکټر اشرف غني احمدزی**
د بدلوني د انسجام د کمیټۍ مشر


**ډاکټر زلمی رسول**
د خارجي چارو وزارت


**ګل آغا شیرزی**
د ننګرهار ګورنر


**هدایت امین ارساله**
مشر وزیر

**د نایب صدر لپاره د ایکزیکټیو څانګې کاندید**


**محمد اسماعیل خان**
د انرجی او اوبو وزیر

عکس نشته
**جنرل عبدالرشید دوستم**
د قوماندان د سټاف مشر


**حبیبه سورابي**
د بامیان ګورنره


**وحیدالله شاهراني**
د کانونو وزیر

یادښت: د دوي د رجسټریشن په ترتیب یی نومونه ورکړې شوي دی. هغه دوه نور د ایکزیکټیو څانګې کاندیدان کوم چې د ولسمشرۍ څخه شاته شو، عزیزالله لودین (د څارنې او د فساد پرضد د دفتر مشر) او انور الله احدي (د کامرس او صنعت وزیر)، د الیکشن کمیسیون څخه نااهله شو. د اکتوبر 2013 په اخیرو کې د صدارت لپاره پنځه نور کاندید مخکې راغلو.

سرچینې: طلوع خبرونه، د صدارت لپاره د کاندیدو پوره لسټ، 10/7/2013، رسیدن 10/7/2013، طلوع خبرونه، د ټولټاکنو کمیسیون د 2014 لپاره د کاندیدو لومړې لسټ اعلان کړ: 10/22/2013، رسیدن 10/22/2013.

## الیکترونیکي - تذکره

د افغانستان د نویو برقی تذکرو ویش ددی سره تړاو لری چی پارلمان د ثبت احوال نفوس قانون تصویب کړی. ولسي جرګې د جولای په میاشت کې یوه کړکیچنه لایحه تصویب کړه چې په کې راغلي وو د نویو تذکیرو په لومړی صفحه باندې به د افغانانو د ملیت موضوع نه ذکر کیږي، البته دا پداسې حال کې ده چې د ملیت په اړه به ټول معلومات د بیومټریک په الکترونیکي زیرمه کې ثبت کړل شي. قانون د مشرانو جرګی د بیا کتنی لاندی دی. USAID په مالی کمک او د اروپا د اتحادیی په رهبری د ثبت احوال نفوس کار عملی شو. د افغانستان د کورنیو چارو وزارت دا تعهد کړی چی په یوه نهه میاشتنی امتحانی دوره کی د کابل له 14 څخه په 12 ولسوالیو کی دا لړی پر مخ یوسی.[327] د آپریل په ټولټاکنو کی به دغه کارتونه د ملی هویت په شکل و پیژندل شی.[328]

## د متحده ایالاتو نوی ملکی - نظامی ستراتیژک کاري چوکاټ د افغانستان لپاره

د امریکا متحده ایالاتو په افغانستان کې د امریکا سفیر ښاغلي، جیمز بي. کونیګام او د USFOR-A قومندان، ښاغلي جوزف ډانفورډ د امریکا د متحده ایالاتو لخوا د افغانستان لپاره ملکي-نظامي ستراتیژیک کاري چوکاټ لاس لیک کړ، کوم چې د دوی په وینا په افغانستان کې د امریکا د لیدلوري او ملي اهداف بیانوي، البته دا پداسې حال کې ده چې

# حکومتداری

د وخت په تیریدو سره د پالیسی په محتویاتو کې ممکن تغیرات رامنځ ته کړل شي.[329] پدې پایلسی کې د افغانستان سره د امریکا د تعهد د یوې برخه په توګه د حکومتداری ښه کول او قانون حاکمیت شامل دی، ترڅو افغانستان بیا د تروریستانو لپاره د یو امن کور په توګه بدل نشي.[330] یاده پالیسی همدا ډول د مخالفینو سره د سولې او ملکي ژوند ته د هغوی د بیرته راستنیدو او د ښځو د حقوقو څخه ملاتړ که څه د امریکا د حضور د راکمیدو سره د امریکا لپاره د پام وړ او تمرکز ټيکي ګڼي.[331]

د چار چوکاټ مطابق د امریکا مهم هدف د افغانستان حکومت پیاوړتیا او یو ځواب ویوونکی، مسول، د خلکو ریښتنی استازی، پر اساسی قانون برابر, مشروع, او وړ بنسټ د مهمو کارو د پاره کمک وکړی.[332] د حکومتداری په برخه کی امریکا څلور لومړیتوبونه لری:[333]

- د افغانستان 2014 کال د ټولټاکنو پیاوړی کول
- په افغان حکومت کې د ننه او همدا ډول د خپلواکو ادارو لکه مدني ټولنو، ترمنځ د کتنې او توازن تقویت ترڅو هغوی وکولای
- شي په ورځني ډول د دولت اړوند فعالیتونه تقویت کړای شي
- د فساد ریښی ایستل

په یاد چارچوکاټ کې راغلي دي چې د امریکا حکومت باید د حکومت سره د متوازي اداراتو د ملاتړ پر ځای د سیمه ایزه او مرکزي حکومت سره مرسته وکړي د بیلګې په ډول د مالیاتو په راټولو، او د بودجې سره مرسته ترڅو هغه د خدماتو ارایه ښه کړل شي.[334]

متحد ایالات پدی لته کی دی چی د افغانستان قانونی رغښت کوم چی د ښی حکومتداری ،د ټولنی خوځښت ، اقتصاد پیاوړتیا او ښځی حقوقو په واسطه کیږی کمک وکړی.[335] د چار چوکات د قانون د حاکمیت په اړه ۴ مهم لومړیتوبونه په ګوته کوي:[336]

- د افغان دولت د قضایي او قانوني سیستمونو د ظرفیتونو لوړول
- د ا فغان دولت په ادارو کی د فساد مخنیوی
- د ښځی حقوقو او ملکی ټولنی د تقویت د پاره رسمی قضایی سیستم ته د لاس رسی او پوهاوی اوچتول
- د عادی او رسمی قضایی سکتورونو تر منځ ارتباط تقویت کول

یاد چارچوکاټ د اټکل په اساس افغان حکومت باید لاندي کارونه ترسره کړي:[337]

- باید د ټوکیو په دو اړخیز د حساب ورکوونې کاري چوکاټ کې تعین شوو اهدافو او موخو ته د رسیدو په لاره کې جدي کار وشي البته د نړیوالې ټولنې د مالي ملاتړ سره سم
- د بریالی ولسمشیریزی ټاکنو په پایله کی د امن په فضا کی د قدرت سپارل 2014
- د سیاسی پخلاینی لپاره د مداوم ملاتړ چمتو کول

د امریکا نوی ستراتیژیک چارچوکاټ همدا ډول وړاندوینه کوي چې د همکارو ادارو لخوا د مرستندوی فعالیتونو د ترسره کولو لپاره به اړین امنیت موجود وي او همدا ډول به اړوند امنیتي شرایط د دې امر لپاره مناسب وي چې د امریکا ملکي او نظامي پرسونل ته به د چارو څخه د ارزونې او د پرمختګ د څارنې شرایط مساعد وي.[338] چارچوکاټ په خپل

ذات کې د حکومتدارۍ او د قانون د حاکمیت په برخه کې د پرمختګ کوم خاص شاخصونه نلري بلکې یوازې هغه شاخصونو ته اشاره کوي کوم چې د ټوکیو د دوه اړخیز حساب ورکونې په چارچوکاټ کې ذکر شوي دي. د ټوکیو د دوه اړخیز حساب ورکونې چارچوکاټ کې د حکومتدارۍ په اړه لاندې شاخصونه ذکر شوي دي.[339]

- د 2015 کاله پورې د ټاکنو د یو تقسیم اوقات رامنځته کول
- باید ډاډمن شي چې د ټاکنو جوړښت رامنځته کړل شي
- د ټولو وګړو لپاره د بشري حقوقو د مراعات کولو تضمینول
- د ښځو په وړاندې د تاوتریخوالي منع قانون تطبیق کول (EVAW). او ښځو لپاره د ملی عمل پلان (NAPWA)
- د فساد په وړاندې د مبارزې لپاره د قانوني چارچوکاټ رامنځته کول
- د 2016 کاله پورې له 11 څخه تر 15 سلنې د کورني نا خالصو تولیداتو (GDP) لپاره د راټول شویو عایداتو نسبت لوړول
- د 2017 کال پورې له بودجې څخه تر 75 سلنې سالمه ګټه اخیستنه لوړول
- د یو داسې حقوقي کاري چوکاټ رامنځته کول، کوم چې په ملي، ولایتي، او د ولسوالیو په کچې د 2010 کاله پورې د نیمه ملي حکومتدارۍ په پالیسي کې د دغه اداراتو دندې او مسوولیتونه په څرګند ډول په ډاګه کړل شي
- د ولایت په کچې د بودیجوي پروسه رامنځّته کول چې په هغه کې اړوندو وزارتونو ته د بودجه په اړه د ولایتونو وړاندیزونه هم شامل وي، کوم چې باید د ولایتي پلان جوړونې د پروسې سره چیري چې ولایتي شوراوې د سلامشورو نقش لري، ارتباط ورکړل شي

## مصالحه او استقرار مجدد



د ننګرهار ولایت په ولایتي ماڼۍ کې د ښځو د سولې کنفرانس له پای څخه وروسته د کنفرانس یو ګډونوال د افغانستان د سولې د عالي شورا **له استازو سره** خبرې کوي. (د امریکا د دفاع وزارت انځور)

ملکي او نظامي چارچوکاټ ته په کتو د امریکا حکومت د جنګ پای ته د رسیدو حل ته د سیاسي پخلاینې په څیر ګوري. د ا چارچوکاټ ښیي چی امریکا د سیاسي پخلاینې لپاره په لوړه سطح دیپلوماتیکي اړیکې چې شامل دي د یاغي توب لپاره رهبري عناصر او د افغان حکومت د استقرار مجدد پروګرام تامین کوی.[340] د افغانستان او پاکستان لپاره ځانګړی استازی جیمز ایف ډوبنز د افغانستان یا امریکا سره د طالبانو خبرو آترو ته د سپتمبر په میاشت کې اشاره وکړه ویې ویل چې طالبان اوس مهال نه د امریکا او نه هم د افغان حکومت سره د خبرو اترو علاقه لري، او دا معلومه نه ده چې کله به دا حالت تغیر ومومي. ده همدارنګه د طالبانو تړل شوی سیاسی دفتر په دوحه کې "د ناخوښۍ شروع" ته اشاره وکړه. د 2013 کال په مذاکراتو کې.[341]

افغان دولت او متحده ایالاتو د سولې په ټینګښت کې د طالبانو سره هیڅ ډول پرمختګ نه درلود. په دې درې میاشتو کې د افغان دولت کوششونه د طالبانو سره د سولې خبرو او اترو لپاره جریان درلود, مګر هیڅ حاصل یی نه درلود. ولسمشر کرزي د پاکستان څخه لیدنه وکړه ترڅو د بیا پخلاینې هڅو ملاتړ کې د دواړو هیوادونو د تعاون په اړه د فرصتونو خبرې وکړې.[342] د دی لیدنه په تعقیب د پاکستان بهرنیو چارو وزارت د طالبانو دوهم مشر ملا عبدالغني برادر د خوشې کیدو پلان اعلان کړ.[343] د خبري راپور له مخې د طالبانو مشرانو د ملا عبدالغني برادر لیدنه رد کړه پدې خاطر چې هغه د پاکستان د امنیتي چاراواکو له خوا بدرګه او د پاکستان ادارو له خوا بندي پاتې شوی.[344] د نیویارک ټایمز راپور ورکړی چې د

ولسمشر کرزي ویاند په بیانیه کی وویل هیڅ ډول ارتباط د افغان حکومت او ملا عبدالغني برادر په منځ کی نشته پداسې حال کې چې د اروپا ازادۍ راډیو په وینا ولسمشر کرزي وویل "مونږ د ده د ادرس او شمیرې په لټه کې یو تر څو د ده سره خبری وکړو".[345] پاکستان په دې درې میاشتو کې 7 نور طالبان هم خوشې کړل تر څو په افغانستان کې د سولې پروسه کې کمک وکړي.[346]

## د سولې عالي شورا

په دې درې میاشتو کې د سولې عالي شورا د متحده ایالات او افغان حکومت د طالبانو سره د هر قسم خبرو اترو منځګړیتوب کوي. د سپتامبر په 16 مطبوعاتي کانفرانس کې سفیر ډوبنز وویل چې امریکا د افغان حکومت د سولې عالي شورا او طالبانو ترمنځ په خبرو اترو کې کمک کوي.[347] د پاکستان څخه د افغان دولت ته د طالب مشرانو سپارنې لپاره د سولې عالي شورا ریس د ولسمشر کرزي سره اسلام اباد ته سفر وکړ.[348]

## د افغان د سولې او استقرارمجدد پروګرام

د امریکا د دفاع وزارت په وینا، د افغانستان د سولې او ملکي ژوند ته د بیرته راستنیدو پروګرام (APRP) د پام وړ پرمختګ کړی دی، اما په جنګ باندې یې د پام وړ کومه اغیزه نه ده کړې.[349] د امریکا د بهرنیو چارو او دفاع وزارتونو په وینا، ګډې دارالانشاء داسې اصلاحات تکمیل کړل کوم چې د APRP د مالي بیاپخلاینې پروسه چې په هره ربع کې به یې پروګرام خنډ او دریدو سره مخامخ کاوه، حل کړې.[350] د سپتمبر تر میاشتې پورې، د 4 ولایتي ګډو دارالانشاء د ډلو (PJST) څخه یوازې 33 ونه توانیدل چې خپلو 60 ورځو مالي راپورونه تسلیم کړي.[351] د امریکا د بهرنیو او همدا ډول د دفاع وزارت په وینا د مالي اصلاح په رامنځته کولو کې د PJST پاتې راتلل د دې لامل شوی چې د APRP فعالیتونه پدې ربع کې له دریدو سره مخامخ شي.[352] د امریکا د بهرنیو چارو او همدا ډول دفاع وزارت دغه تغیر د دغه دوه نیم کلن پروګرام لپاره یوه ستره لاسته راوړنه وه.[353]

د بهرنیو چارو او دفاع وزارت په وینا، 50 میلیون ډالرو څخه د کلیو او پراختیا وزارت د لارې APRP سره مرسته سهم لری. د ملی پیوستون پروګرام ته د خطر په خاطر.د ملی پیوستون پروګرام د APRP سره نه دی وصل شوی. د امریکا مرستې برعکس د دې پرځای چې د بیا ادغام په کوم ځانګړې نوښت باندې ولګول شي، تر ډیره حده د افغانستان بیارغونې باورې وجهي صندوق (ARTF) ته شاملې کړل شوې دي. نړیوال بانک په همدې نړدو وختونو کې د NSP په اړه یوه منځنی ارزونه ترسره کړه او د دغه پروګرام عمومي کار یې د قناعت وړ وباله؛ البته پدې ارزونې کې د (CRIP) برخه چې د APRP لخوا یې ملاتړ کیږي نه وه شامله.[354] د کلیو د پراختیا او بیارغونې وزارت په پام کې لري چې تعهد کړل شوو 58$ میلیون ډالرو د جمع څخه 10.4$ میلیون ډالره په NSP باندې په کال 1390 او 20$ میلیون ډالره نور په کال 1391 کې ولګوي.[355]

پدې ربع کې، د APRP په ملاتړ د وړو پورنو ورکولو کچې 70 ته زیاته شوې ده. د امریکا دفاع او همدا ډول د بهرنیو چارو وزارت ویلي چې 435 تازه مخالفین د سولې له بهیر سره یوځای شوي، چې پدې سره د سولې له بهیر سره د ټولو یوځای شوو مخالفینو شمیره 7,214 ته رسیږي، لکه څنګه چې په شکل 3.32 کې بیان شوي دي.[356] د امریکا دفاع او بهرنیو چارو وزارت

**د بیا یوځای کیدلو ملي پروګرام (NSP):** په 2003 کال کې د مالیې وزارت او د کلیو د بیارغونې او پراختیا وزارت (MRRD) لخوا طرح او پیل شو. NSP د دې لپاره طرحه شوی و چې د ټولنو په کچې حکومتولي غښتلی کړي او د ټولنیزو پراختیایي ټولنو (CDCs) له لارې چې په آزاده توګه ټاکل کیږي، ټولنیزو او تولیدي زیربناو ته د کلیوالي سیمو لاسرسي زیاته کړي. NSP د هغو ملګرو سره مرسته کوي چې د ټولنو په فعالولو کې ونډه اخلي تر څو CDCs جوړ کړي او دوی ته تخنیکي زده کړه وښيي، تر څو دغه ټولنې د خپلو کلیو په کچې د مرستو په پلان جوړونه او تطبیق کې برخه واخلي. NSP د نړیوال بانک د نړیوال پرمختګ د ټولنې (IDA)، د نړیوال بانک تر ادارې لاندې د افغانستان د بیارغونې خیریه بودیجه (ARTF)، او د دوه اړخیزه ډونرانو څخه ملاتړ تر لاسه کوي.

سرچینه: نړیوال بانک، د افغانستان اسلامي جمهوریت سره د ملي یوځای کیدلو د دریم بیرنی پروژې لپاره د SDR 27.2 میلیون (چې د 40$ میلیون امریکایي ډالرو معادل دی) د مرستې د پروژې معلومات، 6/10/2010، pp. 3، 14.

شکل 3.32

**د سیمه ییزه کمانډ له اړخه رینتیګري، مارچ 2012 – سپتمبر 2013**







سرچینه: د سګار ډیټا کال ته رياست ځواب ورکړو، 4/2/2013، 1/2/2013، 10/2/2012، 7/5/2012، 3/30/2012، 7/1/2013، 10/4/2013.

راپور ورکړی چې 600 نورو کسانو غوښتنليکونه هم په نوبت کې دي.[357] دولس مرسته کوونکو هیوادونو APRP سره ټولټال $182.3 میلیون ډالره مرسته کړې ده. د دغه مجموعه څخه د 2013 کال د جولای تر 31مه پورې نږدې $107.1 میلیون ډالره مصرف کړل شوي دي.[358]

## د شخړې حل

د ملګرو ملتونو سر منشی راپور ورکړ چې یونما د افغانستان د خلکو د سولې د خبرو څخه خپل ملاتړ ته دوام ورکړی دی. د اپریل او جون ترمنځ، یونما د تمرکز تر 100 ډیر ګروپي بحثونه په لاره اچولي دي - البته دا سل د هغه 200 پلان شوو بحثونو د ډلې څخه دي چې پکې 1733 ګډونوالو ګډون کړی وو، چې د هغه جمع څخه 429 میرمنې دي. یادو ګروپونو ته معلومه شوه چې، د جرایمو څخه د معافیت فرهنګ، پراخ اداري فساد، د قدرت څخه ناوړه استفاده، بې کاري، او په شمیر حالاتو کې کم پرمختګ د بې ثباتي او جګړې لاملونه دي. د بحث ګډونکونکو همدا ډول د APRP په اړه هم اندیښنه وښوده، او د هغه د حساب ورکونې او بررسی په اړه يې خپل تشویش ځرګند کړ.[359]

USAID د شخړې د حل، د سولې د رامنځ ته کولو، د امریکا د سولې د انستیټوټ لخوا تطبیق کیدونکی د حکومتداری پروګرام، د ترویج چارې په مخ وړي. د دی پروګرام اساسي موخې، د ظرفیتونو د ارتقا، د سولې د ښه کولو، امنیت، او پراختیا، د قانون د حاکمیت تسهیل، او د مشورو، څیړنو او ارزوني له طریقه د تاوتریخوالي راکمـــــــــــــــول دي. USAID د دغه پرورګرام لپاره $7 میلیون ډالره منلي دي چې د هغه جمع څخه $4.7 میلیون ډالره د 2013 کال د سپتمبر تر 30 مه پورې مصرف کړل شوي دي.[360]

# حکومتداري

د فارين پالیسي په یوه مطلب کې راغلي، د افغانستان لپاره د سولې د انستیتیوټ رییس د خپلې هغه غونډې د پایلو په اړه راپور خپور کړ کوم چې نوموړي د 200 محلي مشرانو سره ترسره کړې وو. دغه مشرانو وویل، پداسې سیمه کې ممکن 50 مخالفین فعالیت وکړي چیرې چې نږدې 300 څخه بیا تر 500 امنیتي مسولین موظف دي، مشرانو د دولت سره د پراخ فساد د شتون له امله د همکارۍ څخه امتناع کوله. لیکوئکی استدلال کوي چې دغه مشران نه د مخالفینو سره او نه هم د دولت سره د تړاو او همکارۍ په قیصه کې دي، او وایي چې مشران وایي چې نه دولت او نه هم طالبان د امنیت، عدالت او خدماتو په باره کې د اعتماد وړ دي.[361]

## ملي او سیمه ایز حکومتداري

د ملګرو ملتونو سرمنشی راپور ورکړ، چې افغان حکومت د مالي بودجې، د پراختیایي هوکړې لیک د چارچوکاټ، د تړونونو تمویل، او د ګډو ارزونو، څیړونو او سنجشاتو په اړه د مرسته کوونکو همکارانو سره خپل ګډ کار ته دوام ورکړی دی.[362] د دی مرستو د مدیریت پالیسی د 2013 کال د فبرورۍ په 12 مه تصویب کړل شوه، د ګډې همغږۍ او څار هیئت (JCMB) چې د افغان استازو په ګډون د 37 هیوادونو رسمي استازو پکې ګډون درلود.[363] د مالیې وزارت په وینا، یاده پالیسی په افغانستان کې د مرستو او مساعدت کولو لارښود اصول په ډاګه کوي او همدا ډول د افغان حکومت او د نړیواله مرسته کوونکي ټولنې لخوا د ترسره شوو تعهداتو په برخه کې د نظارت او څار اساس ایښی دی.[364]

د ملګرو ملتونو د سرمنشی په وینا، افغان حکومت او ډونران د بودیجې او تنظیم په اړه ځانګړی تعریف رامنځ ته کولو په لټه کې دي.[365] د 2010 کال کابل کانفرانس، د "تنظیم" اصطلاح کارولې وه او د 2012 کال د ټوکیو کانفرانس هم د "تنظیم" او "بودیجی" اصطلاحات د نړیوالو مرسته کوونکو د تعهداتو لپاره کارولي وو.[366] خپله کړل شوې د مرستو د مدیریت پالیسی د دغه اصطلاحاتو لپاره تفسیر وړاندي کوي کوم چې هغه ته ورته دی چې پدغه دوو کانفرانسونو کې کارول شوي دي.[367] د ملګرو ملتونو د کوم ځانګړي داسې موضوع په اړه اشاره ونکړه چې توافق نه وي پرې شوی اما د هغه نظارت او څار د JCMB لخوا د خپلو کړل شوو پالیسیو په اړه پوښتنې رامنځ ته کړې البته که چیرې مهم تعریفات لا هم د بحث وړ وي.

د ملګرو ملتونو سرمنشی همدا ډول راپور ورکړ چې د سیمه ایزو ارګانونو خپلواک ریاست (IDLG) او د کلیو د پراختیا او بیارغونې وزارت د ولسوالیو د همغږۍ شوراو (DCC) پالیسی نهایي کړې ده. دغه شوراوې به د اساسي قانون سره سم د ټاکنو له لارې د ولسوالیو د شوراو تر رامنځ ته کیدو د هغوی په ځای فعالیت وکړي. ولایتي شوراوې به غړیتوب د حکومت د معیاراتو په اساس ترسره کوي. یاد وړاندیز د وزیرانو شورا ته وړاندي کړل شوی دی، پداسې حال کې چې یونما د افغان حکومت او نړیوالې مرسته کوونکي ټولنې ترمنځ ته تمویل د څرنګوالي په برخه کې مرسته کوي.[368] د امریکا دفاع وزارت پخوا راپور ورکړی وو چې افغان حکومت به د دغه شورا لپاره کاري لایحه او پالیسی د 2012 کال تر پایه بشپړه کړي تر څو د 2013 کال تر پایه په کار پیل وکړي.[369]

**په یوه لیکه برابرول:** پدې معنا ده چې بهرنۍ ملګري د ملي لومړیتوب پروګرام (NPP) له ستراتیژۍ سره برابر کړای شي او د ډونرانو د ټولو پروګرامونو اساسي اصول د NPP له ویل شوي اهدافو سره سم وي. په یوه لیکه برابرول هغه وخت تر لاسه کیږي چې د ډونرانو په مرسته پیل شوي پروژې او NPPs مشترک، واحد، او ثابت اهداف، پلانونه، پروګرامونه، پروژې او خدمات ولري.

**د بودیجې په چوکاټ کې:** د سرچینو یا مصارفو جریان، پروګرام او د مرستې پروژې ته ویل کیږي چې د بودیجوي واحد له پلانونو سره سم ورکول کیږي، د بودیجې په اسنادو کې خوندي کیږي، د پارلمان لخوا تخصیص ورکول کیږي او د خزانې د سیستم له لارې یې مدیریت کیږي.

**د ملي لومړیتوبونو پروګرامونه (NPPs):** د لومړیتوبونو د 22 پروګرامونو یوه ټولګه ده چې په کابل کنفرانس کې (2010) اعلان شو او د ځانګړي خدماتو او د پروګرامونو په شمول یې د افغانستان د ملي پرمختګ ستراتیژۍ (ANDS) پر پلي کولو تمرکز کړې دی.

سرچینه: د افغانستان د اسلامي جمهوري دولت، د لیږد په دوره کې او له هغې څخه وروسته د مرستو د مدیریت پالیسي (AMP)، 12/10/2012، pp. 5, 8.

## ملی شورا

مشرانو او ولسی جرګې دواړو د وړی 45 ورځی رخصتی درلوده، د جولای 23 تر سپتمبر 7، 2013 پوری.[370]

د رخصتیو وروسته ولسی جرګی د شخصی ځمکو د غصب منع قانون ته رایه ورکړه چی غواړي د دولتي او خصوصي ځمکو د غیرقانوني غصب څخه مخنیوی وکړي. د پارلمان غړو د قانون څخه د ملاتړ په ترڅ کی وویل چی د دولت اغیزکونکي چاروکو له خوا د څو کالو په ترڅ کی میلیونونو هکتاره ځمکه غصب شوی.[371]

ولسی جرګی د کورنیو چارو وزارت ته نوماند عمر داودزی، د سرحداتو او قبایلو وزارت ته نوماند اکرم خپلواک، د اساسي قانون د پلي کولو څخه د نظارت د غړیتوب (COIC) لپاره نوماند لطف الرحمن سید او د ستری محکمی لپاره نوماند برات علی متین ته د اعتبار رایه ورکړه. د (COIC) بل نوماند نصرت ستانکزی ونشول کړای چی د ولسی جرګی څخه د اعتبار رایه واخلی.[372]

د ولسی جرګی ښځینه غړي په آګست کی د کابل او کندهار په لویه لار غزنی ته نږدی د طالبانو له خوا وتښتول شوه. او په سپتامبر کی بیرته خوشی شوه. دا اول ځل دی چی د ولسی جرګی ښځینه غړي د ترهه ګرو له خوا تښتول کیږی. د طالبانو ویاند وایی چی شپږ نارینه او څلور ښځی د دی غړی په بدل کی خوشی شوی. د مشرانو جرګی ښځینه غړي د غزنی ولایت مقر ولسوالی کی په اګست کې په نښه شوه چی په نتیجه کی یی لور او موټروان ووژل شول.[373]

محمد محقق او عبدالرسول سیاف پخوانی جهادي قوماندانان او د پارلمان غړي د پنځه نورو غړو سره د 2014 ټولټاکنو په لور خپله استعفا ورکړه.[374]

USAID د افغانستان قانون جوړونې نهاد مرستې (ALBA) پروژې $23 ملیون ډالرو له لاري پارلمان ته ملاتړ چمتو کوي چې به تر اپریل 2017 پورې د یوکال ممکن غزولو سره پرمخ لاړشي چې د پروژې بریا او بسپنه ورکوونه پورې اړه لري. USAID په وینا د ALBA د پروژی دوه لومړنی کلونه به د 2015 کال د پارلمانی ټولټاکنو لپاره د پارلمان په ظرفیت لوړونی باندی متمرکز کیږی. یوځلې چې پرلمان په ځای شي، یاده پروژه به خپل ډیر تمرکز د غړو او پارلماني کمیسیونونو انفرادي روزنې ته واړوي.[375]

## د ملکي خدمتونو کاري فرصتونه او لاس رسی

د ملکی خدمتونو او اداری اصلاح خپلواک کمسیون (IARCSC) په ولایتي کچې د بستونو د ډکولو لپاره بیا هم د ولسمشر کرزي د 45 فرمان او د ناامنه ولایتونو استخدام د ستراتیژې په اساس د کارکوونکو د استخدام لړی ته ادامه ورکړې ده. یاد کمیسیون د تشو بستونو لپاره د داوطلبانو د تعداد د زیاتوالي په موخه دغه اعلانونه په همجوار او نږدې ولایتونو کې هم نصب کړي دي.[376] IARCSC پلان درلود چې په اپریل میاشت کې د تشو بستونو لپاره د پوهنتونو د فارغینو څخه ازموینه واخلي؛ اما یاد نوښت د پارلمان لخوا د اړوند قانون د تصویب تر وخت پورې ځنډول شوی دی.[377]



**د کندهار والي** توريالی ويسا د کندهار ولايت د ميوند ولسوالي په محلي شورا کې سپين ږيرو ته خبرې کوي. د متحده ايالاتو او افغان دولت لوړ پوړي چارواکو هم په شورا کې ګډون درلود. (د امريکا د دفاع وزارت انځور)

افغان حکومت په 13 ناامنه ولايتونو کې د 50 ولسوالانو د بستونو اعلان وکړ. دغه اعلان د داوطلبانو د ټيټ شمير له امله د دويم ځل لپاره خپور شوو. اته څلويښت نوماندان د ولسوالانو لپاره په ازموينه او مرکې کې چې د سيمه ايزو ارګانونو د اداري او IARCSC لخوا واخيستل شو، بريالي شول. د سيمه ايزو ارګانونو اداره 36 نوماندان انتخاب او هغه يې IARCSC ته معرفي کړ، کوم چې په خپل وار سره 34 تنه د تقرر په منظور رياست جمهوري ته معرفي کړل، د پاتي دوو کسانو څخه د يوه اسناد ناتکميل ول او بل اړوندې کافي نمبرې نه وې اخيستي. دغه 34 نوماندانو له پخوا اړونده روزنی ترلاسه کړي او د خپلو بستونو د اشغال لپاره اماده دي.[378]

يونما د 2013 کال د جولای په خپل نيم کلنی راپور کې خبر ورکړی چې د ملکي حکومتي کارکوونکو، د سولې د شورا د مسولينو، او د افغان حکومت ملاتړ کوونکو مشرانو په ترور کې زياتوالی راغلی دی.[379] دغه ترورونه د افغان حکومت څخه د ملاتړ په موخه د هغوی د مرتکبينو د سزا او عبرت په موخه ترسره کيږي. د يوناما د اټکل په اساس د 2013 کال په لومړيو شپږو مياشتو کې د دولت د ملکي کارکونکو په وژنه کې 76% زياتوالی راغلې دی، او په دغه موده کې د 103 بريدونو په ترڅ کې 114 ملکيان وژل شوي دي (د 2012 ټول کال 72 په پرتله د 61 ملکيانو مړينه).[380] د 2012 کال د می په 2 طالبانو اعلان وکړ چې له پسرلي څخه وروسته د "الفاروق" په نوم د دوی بريدونه به د لوړ رتبه دولتي چارواکو، د پارلمان غړو، د سولې د عالي شورا غړو، او د قرارداد کونکو په شمول "هر هغه کس تر بريد لاندې ونيسي چې د مجاهدينو په ضد کار کوي." په 2013 کال کې هم لکه د 2012 کال په شان، طالبانو اعلان وکړ چې د پسرلي په عملياتونو کې به هغه ملکي وګړي تر هدف لاندې ونيول شي چې د افغان دولت او نړيوالو متحدينو سره يې کار کوي.[381]

په يوه وروستی بريد کې د کلو د بيارغونې او پراختيا وزارت يو تن کارکونکی او د نړيواله ژغورنې کميټې پنځه تنه غړي چې د NSP سره په کار بوخت و، پداسې حال کې ووژل شول چې د هرات ولايت په ګلران ولسوالۍ کې د خپل ساحوي دفتر په لور روان و. دغه شپږ کسان په ټکسي کې روان و چې د وسله والو کسانو لخوا ودرول شو.[382] د کلو د بيارغونې او پراختيا وزارت نوموړي جنګياليو ته "د افغانستان د خلکو دښمن وويل چې د هر ډول پراختيايي هڅو سره مخالفت کوي" خو پدې اړه يې اضافي معلومات ورنه کړ.[383] دا پيښه هغه ستونزې رابرسيره کوي چې ملکي مامورين او د غير دولتي موسسو کار کونکي د افغان دولت پروژو ته د لاسرسۍ په صورت کې مخ کيږي. دا بريدونه اوس د NSP په کار کونکو هم کيږي، پداسې حال کې چې مخکې له دې څخه طالبانو د هغه مشهور ملاتړ له امله چې د دغو پروژو څخه يې ترلاسه کوله، پر نوموړو پروژو يې بريد نه کاوو.[384]

## د قضايي سکتور سره پروګرامونه

### په مهمو سيمو کې د USAIDد ثبات ټينګولو پروګرامونه

USAID ويلي چې په مهمو سيمو کې د ثبات ټينګولو پروګرام (SIKA) يې د مرستو په اجرا کې پرمختګ کړې دی، خو پدې ربع کې يې د امنيت د خرابوالی له امله د جدي ستونزو سره مخ شوې ده.[385] د USAID د SIKA د څلورو پروګرامونو لپاره 146.9$ ميليون ډالر مقيد کړې دي تر څو د ورکشاپونو، روزنو، او وړو مرستو له لارې د افغان خلکو اعتماد

د ولسواليو پر حکومتونو زيات کړي او د ولايتي حکومت واک او قانونيت لاهم پراخ کړي.[386] USAID راپور ورکړی چې په سيکا - ختيځ کې د 75 مرستو قراردادونه لاسليک شوي، په سيکا– سهيل کې د 15 مرستو کارونه تصويب شوي، په سيکا - لويديځ کې د 52 مرستو فعاليتونه روان دي، او په سيکا - شمال کې 65 فعالې مرستې تر تطبيق لاندې دي.[387]

د سيکا نور فعاليتونه پدې ډول دي: د افغان دولت چاړواکو او ټولنې روزنه او د ظرفيت لوړاوي، د افغان دولت لپاره د ارتباطاتو پلان جوړول، او د لاسرسۍ فعاليتونه لکه د خدماتو د چمتو کولو فعاليتونه چې د USAID په اند دا ډول فعاليتونه د ټولنو لپاره د پام وړ ګټې وړاندې کوي.[388] د 2013 کال تر سپتمبر پورې، د سيکا څلور واړه پروګرامونو $92.93 ميليون ډالر مصرف کړي دي.[389]

همدارنګه USAID ويلي چې په سيکا-ختيځ کې امنيت خراب شوی دی ځکه چې جنګيالي له ټولنو څخه غواړي چې د دولت له پروژو سره همکاري ونه کړي. په عين وخت په سيکا-لويديځ کې، يو وروستی ګواښ د دې لامل شو چې په يو بشپړ ولسوالي کې کار په ټپه ودريږي.[390] سيکا-شمال هم د امنيتي ننګونو سره مخ دی خو تر اوسه پورې يې کوم فعاليت له ځنډ سره ندی مخ شوی.[391] د سيکا-ختيځ ټولنيزې پروژې کيدای شي د ژمي د يخوالی له امله اغيزمنې شي.[392] د دولت لخوا د ټولنې استازو ته د قانونيت د تصديق پاڼې په ورکولو کې د ځنډ له امله د سيکا-جنوب پروژې وځنډيدې — دا يو ضروري ګام دی چې د USAID په وينا بايد په دوو اونيو کې بشپړ شي خو په نوموړې سيمه کې تر دريو مياشتو کې لا نه و بشپړ شوی.[393] د USAID په وينا، سيکا-لويديځ وايي چې ځينې ولسوالان په خپلو دفترونو کې نه دي او ځينې ولسوالان بياحاضر ندي چې لرې پراته سيموته چې د دوی پروژې د فعاليت په جريان کې دي، لاړ شي.[394]



**د نهر سراج ولسوالی ولسوال** په يوه شورا کې خلکو ته خبرې کوي او دوی هڅوي چې د خپل کلي واک په خپل لاس کې واخلي او د هغې سوله او ثبات يقيني کړي. (د امريکا د دفاع وزارت انځور)

## د کلو د ثبات عملياتونه

د کلو د ثبات ټينګولو عملياتونه (VSO) او افغان سيمه ايز پوليس (ALP) د افغان دولت او د افغان ملي پوځ (ANA) د ځانګړې عملياتونو د قوماندانۍ د جنګياليو پر ضد ستراتيژۍ تکميلونکي دي.[395] د DODپه وينا، د ډله ايزه ارزونې او سروې معلومات ښيي چې افغان دولت ته د ايتلاف ځواکونو څخه د ولسواليو له ليږد سره د حکومتولۍ بهير ثابت پاتې شوې دی.[396] افغان سيمه ايز پوليس په روان وخت کې د29 ولايتونو په 116 ولسواليو کې په خدمت بوخت دي. د راتلونکې منی له رارسيدو سره به، د افغان سيمه ايز پوليس تر ولکې لاندې ټولې ولسوالۍ د افغان دولت بشپړ کنټرول ته وسپارل شي.[397]

## د قضايي سکتور سره ظرفيت د لوړاوي پروګرامونه

### د افغان مدني ټولنې د پرمختګ نوښت

د USAID د افغان مدني ټولنې د پرمختګ نوښت (I-PACS) هڅه کوی تر څو په افغانستان کې داسې مدني ټولنې رامنځته شي چې د سياسي پلوه فعاله وي.[398] د نړيوال بانک د تعريف په اساس مدني ټولنې "داسې غير دولتي او غير انتفاعي ټولنې دي چې په عامه ژوند کې حضور لري او د قومي، کلتوري، سياسي، علمي، ديني، يا بشري ملاحظاتو په اساس د خپلو غړو يا هم د نورو ګټې او ارزښتونه تشريح کوي."[399] د USAID دغه پروګرام له لارې په ټول هيواد کې د مدني ټولنو سره تخنيکي مرستې، د ظرفيت لوړاوي،

او بلاعوضه مرستې کوي.[400] د USAID په وینا، I-PACS د مدني ټولنو په برخه کې د قوانینو او مقرراتو په 33 مواردو کې د اصلاح غوښتنه وکړه چې 29 موارد یې د پارلمان لخوا تصویب شو.[401] USAID راپور ورکړی چې I-PACS د ټولنیزو موسسو د نوی قانون په برخه کې چې د 2013 کال په سپتمبر کې د ولسمشر کرزي لخوا لاسلیک شو ونډه درلوده، او همدارنګه د دې پروګرام لخوا وړاندیز شوي اصلاحات هم د نوموړي قانون په 88% مواردو کې ومنل شو.[402] د غیر انتفاعي قوانینو د نړیوال مرکز په وینا، د ټولنیزو موسسو نوی قانون د 2002 کال قانون لغوه کوي او ټولنیزو موسسو ته اجازه ورکوي چې د بهرنیو مرستو او مشورو څخه استفاده وکړي.[403] د USAID په وینا، I-PACS د مدني ټولنې د موسسو سره په مرستو کې $10.9 میلیونه ډالر مصرف کړې دي.[404]

I-PACS د خپل عملیاتونو په وروستی ربعه کې دی او د کار کونکو کمیدل یې پر تطبیق ناوړه اغیزه کړی.[405] USAID د دې پروګرام لپاره $45 میلیون ډالر مقید کړي و چې د 2013 کال د سپتمبر تر 30 پورې یې $38 میلیونه ډالر مصرف شوي دي.[406]

## د کړنې په اساس د حکومتولۍ لپاره د USAID فنډ

د کړنې په اساس د حکومتولۍ لپاره د USAID فنډ (PBGF) د والیانو د دفترونو (PGOs) د مالي مدیریت د ظرفیت په لوړاوي تمرکز کوي.[407] دا پروګرام د والیانو د دفترونو ظرفیت په درې میاشتنی ډول ارزوي. د والیانو په دفترونو کې د اصلاحاتو د راوستو په صورت کې تشویقي فنډ ورکول کیږي.[408] د PBGF قرارداد خپل پروګرام شوی فعالیت د 2013 کال د جولا ی په 31 پای ته ورساو او د 2013 کال د سپتمبر په 30 نیټه یې د خپلو کارونو نتیجه ګیري وکړه. د PBGF د ادامې لپاره کوم پروګراماټیک پلان نشته، خو د روزنې او د ظرفیت د لوړاوي په برخه کې ځینې کارونه د محلي ادارو د پیاوړتیا نوښت تر نوم لاندې د یو نوی پروګرام لخوا ترسره کیږي. تراوسه پورې د PBGF لپاره ټول $48.89 میلیونه ډالر مقید شوي دي، چې له دې شمیر څخه $47.93 میلیونه ډالر یې مصرف شوي دي.[409]

پدې ربعه کې سره له دې چې د نوموړي پروګرام کارونه د نتیجه ګیرۍ په حال کې دي، خو USAID د سیګار د معلوماتو د غوښتنې سربیره هم د پروګرام د شمیرو او نتایجو په اړه معلومات چمتو نه کړ. د USAID د څانګړی پلټونکي دفتر (OIG) د 2012 کال په اکتوبر کې راپور ورکړی و چې د PBGF پلان ابتدایي ارزښتونه نه لري، یوازې د کړنې د 103 شاخصونو لپاره د هدف ارزښت دی، ډیر زیات ګتور شاخصونه لري، او همدارنګه د یاد پروګرام متوقعه نتایج څرګند یا هم په عمومي توګه معلوم ندي.[410] همدارنګه USAID OIG وویل چې د نوموړي پروګرام د فنډ ډیره برخه (51%) د والیانو دفاترو د نقلیه وسیلو او تجهیزاتو په اخیستلو مصرف شوې ده.[411]

## د USAID د RAMP-UP او د کابل ښار نوښت

د ښاري خلکو لپاره د USAID د افغان ښاروالیو سیمه ایز پروګرام (RAMP-UP) او د کابل ښار نوښت (KCI) موخه لري چې په کابل او نورو ښارونو کې د ښاروالانو سره د ښاروالۍ د چارواکو د ظرفیت په لوړاوي، د ښاروالۍ د خدماتو وړاندې کول، د اقتصادي ودې سره د ملاتړ، او د عایداتو په زیاتولو کې مرسته وکړي.[412] USAID د 2013 کال د سپتمبر تر 30 پورې د RAMP-UP لپاره $271 میلیون ډالر او د KCI لپاره $44.6 میلیونه ډالر مقید کړي چې د نوموړي ادارو لخوا په ترتیب سره $185.9 میلیونه ډالر، او $39.7 میلیونه ډالر

مصرف شوي دي.[413] د USAID په وینا، د پروګرام په اړه د ډاډ نشتون او د فنډ کموالی نور د اندیښنې وړ مسایل ندي ځکه چې د ټولو ښاروالي پروګرامونو لپاره نوي بودیجې، د کار ساحې، او د کړنې مودې تر بحث لاندې نیول شوي او نهایي شوي دي.[414]

د RAMP-UP پروژې د 2014 کال تر مارچ پورې وغزول شوې او USAID په پلان کې لري چې د افغانستان د مقاومت زیاتولو لپاره د سیمو د پیاوړتیا (ښار) تر نوم لاندې یو تعقیبي پروګرام پیل کړي.[415] USAID په پلان کې لري چې د ښار سرچینې د 16 منځنی او کوچنی ولایتونو په ښارونو کې متمرکزې کړي تر څو ډیر تغیر رامنځته کړي.[416]

USAID راپور ورکړی چې د RAMP-UP ختیځ پروګرام د ووړې کچې 19 پروژې انتخاب کړي چې د ښاروالۍ د تشویقي فنډ له لارې جوړې کړای شي.[417] په نوموړي پروژو کې شپږ پارکونه، د شمسي انرژي پنځه پروژې، او د اضافي شیانو لپاره درې د ذخیرې ځایونه شامل دي.[418] که څه هم د ښاروالیو څخه غوښتل شوي ده چې په منځنی ډول د دې مصارفو 30.8% ورکړي، خو USAID وایي چې یو شمیر ښاروالۍ د ښاروال د تشویقي پروژو لپاره د خپل نقدي یا جنسي سهمیې په ورکولو کې ځنډ کوي. پهرصورت، د ښاروالانو او د IDLG/د ښاروالیو عمومي ریاست سره د USAID او RAMP-UP خبرې اترې دا ستونزې هوارې کړي، او د یادو پروژو کارونه مخ په وړاندې روان دي.[419]

## د سیمه ایزې حکومتولی نهادونو څخه د USAID ملاتړ

د سیمه ایزې حکومتولۍ نهادونو څخه د USAID د ملاتړ (SNG) پروژه موخه لري چې د افغانستان د 32 ولایتي شوراګانو ظرفیت ته وده ورکړي او له IDLG سره تخنیکي مرستې وکړي.[420] د USAID په سرپرستۍ د کړنو یوې ارزونې معلومه کړه چې که څه هم د SNG پروژه د نورو ورته پروژو په مقایسه چې د نورو تمویلونکو لخوا پلي کیږي، زیات مالي مصرف لري، بیا هم د پروژې د نتایجو په اړه لږ راپور ورکولی شي.[421] د بیلګې په توګه، د دې پروژې پلي کونکی ملګری راپور ورکړی چې د ولایتي شورا د غړو لخوا د 82 ساحو کتنه شوې ده (چې په کال کې د هر ولایت د یوې ساحې د کتنې څخه کم راځي) حال دا چې د ولایتي شورا غړو دعوا کړي چې د SNG په مالي مصرف یې د ساحو څخه زیاته کتنه کړې ده.[422] د ارزونې په ترځ کې وموندل شو چې SNG نه شي کولی د خپل کړنې د شاخصونو په اړه معلومات وړاندې کړي د دې لپاره چې معلومات یې ډیر عمومي و او د یوې ځانګړې نتیجې لپاره د کارونې وړ نه و.[423] همدارنګه ارزونې معلومه کړه چې ولایتي شوراګانې خو په ټول افغانستان کې تاسیس شوي دي خو د دوی محدود واک د نوموړې شورا موثریت ته زیان رسوي.[424] یاده پروژه د 2013 کال د سپتمبر په 30 پای ته ورسیده.[425]

## د USAID د افغانستان د رسنیو د پرمختګ او پیاوړتیا پروژه

د افغانستان د رسنیو د پرمختګ او پیاوړتیا پروژه (AMDEP) هڅه کوي چې د افغانستان په رسنیو کې مسلکي والي ته د ودې په مرسته د خپلواکو رسنیو ظرفیت زیات کړي.[426] AMDEP د نورو ملګرو سربیره، د نی څخه ملاتړ کوي چې په افغانستان کې د آزادو رسنیو سره مرسته کوي، نی د رسنیو د مشاورت او روزنې په برخه کې مخکښه موسسه ده.[427] نی پدې ربعه کې معلوماتو ته د لاسرسۍ قانون په تصویب کې د دولت له ځنډ سره خپل مخالفت څرګند کړ، او د دولت څخه یې غوښتنه وکړه چې پدې برخه کې ګړندي ګامونه پورته کړي.[428] معلوماتو ته د لاسرسۍ قانون په اساس افغان خلک او افغاني موسسې کولی

شي د دولت د کارونو په اړه معلومات لاسته راوړي لکه څنګه چې د اساسي قانون په 50 ماده کې راغلې دي.[429] نی د نورو مطبوعاتي موسسو سره یوځای د پارلمان څخه غوښتنه وکړه چې د رسنیو د قانون درې مادو بیاکتنه وکړي ځکه چې د دوی په اند د رسنیو خپلواکي له ګواښ سره مخ کوي.[430]

USAID د AMDEP لپاره $31.8 میلیونه ډالر مقید کړي، چې له دې شمیرې څخه $30.2 میلیونه ډالر مصرف شوي دي.[431]

## قضايي اصلاحات او د قانون واکمني

د هغه معلوماتو په اساس چې د افغانستان د سترې محکمې او د لوی څارنوال د دفتر له لوري خپاره شوي، د ټولو ولسوالیو لپاره څارنوالان ګومارل شوي دي (په 2012 کال کې په پنځه ولسوالیو کې څارنوالان نه و). په‌هرصورت، د 51 ولسوالیو څارنوالان د ناامنه شرایطو له کبله د اړوندو ولایتو د مرکزونو څخه خپل کارونه پرمخ بیایي، چې کیدای شي د خپلو ولسوالیو څخه بهر وي. اوس په ټولو ولسوالیو کې یو قاضي د فعاله محکمې سره شته دی (په 2012 کال کې 33 ولسوالیو قاضي نه درلود). لکه څنګه چې 45 ولسمشري فرمان غوښتنه کړې وه، ستره محکمه باید د 2013 کال تر مارچ پورې د افغانستان په هره ولسوالۍ کې فعاله محکمې ولري. لکه څنګه چې نوي قاضیان ندي استخدام شوي، محکمه په هغه ساحو کې چې مخکې خدمات وړاندې شوي دي، خپل کار کونکي کم کړي تر څو فعاله محکمې رامنځته کړي. د DOD په وینا، لوی څارنوالي اړتیا لري چې په وروسته پاتې سیمو کې د جنايي دوسیو د پلټلو لپاره خپل څارنوالان واستوي که څه هم د امنیت د نشتون له کبله کیدای شي نوموړي څارنوالان د خپلو ټاکل شوي سیمو څخه د باندې پاتې شي.[432]

### ستره محکمه

د افغانستان د اساسي قانون په اساس، د سترې محکمې قاضیان په ټاکل شوي دورو کې خدمت کوي. د بهرنیو چارو وزارت په وینا، د سترې محکمې څلور قاضیان چې وختونه یې پای ته رسیدلي، لاهم په خدمت بوخت دي.[433] پدې ربعه کې یو نوماند ولسي جرګې ته معرفي شو تر څو د سترې محکمې د یو قاضي په عوض چې موده یې په 2010 کال کې پای ته رسیدلې ده، وټاکل شي.[434] یاد نوماند د قانون جوړونکو څخه د اعتماد رایه ترلاسه کړه. د پارلمان ګڼ شمیر غړو د ولسمشر کرزي څخه غوښتنه وکړه چې د قاضی القضاد په ځای هم نوی کس معرفي کړي؛ د ده د دندې موده هم پای ته رسیدلې ده.[435]

د بهرنیو چارو وزارت په اند پدې ربعه کې د سترې محکمې مهمه دوسیه د حاجي لال جان دوسیه ده، چې د تورونو پر بنیاد نوموړی د مخدره توکو لوی قاچاق وړونکی دی او د جنګیالیو سره هم لاس لري.[436]

### د جنايي کړنلارو قانون

د امریکا د بهرنیو چارو د وزارت په وینا، ولسي جرګې د 2013 کال د جون په لومړیو کې د جنايي کړنلارو تازه شوی قانون (CPC) تصویب کړ. مشرانو جرګه تر اوسه پورې لا د ولسي جرګې لخوا پر تصویب شوی مسودې کار کوي.[437] افغان حکومت د 2010 کال په جولای کې د کابل کنفرانس په پای کې ژمنه کړې وه چې د CPC مسوده تصویب کړي.[438]

## د طالبانو قضاوت

د یوناما د راپور په اساس د 2013 کال په لومړیو شپږو میاشتو کې داسې سزاوې زیاتې شوې دي چې پریکړه یې د جنګیالي ډلو لخوا نیول شوې دي. د داسې سزاوې زیاته برخه افغان حکومت ته د جاسوسۍ په تور د ملکي وګړو د اعدام پېښې دي.[439]

جنګیالي ډلې خپل قضایي اداري او پریکړې د ځینو ټولنو پر خلکو باندې په زوره تحمیل کوي، چې پدې کې د مشکوکو کسانو وژنه، د پریکړو تطبیق، ګواښونه، او ډاراچونه شامل دي. په ځینې نورو ځایونو کې، خلک دغه قضایي جوړښتونه د رسمي قانوني میکانیزمونو په ځای کاروي او د خپلو دوسیو د حل لپاره موازي "محکمې" ته مراجعه کوي.[440]

د جنګیالیو په قضایي سزا کې د یو ملکي قرارداد کونکي سر پرې کول چې په کنړ کې د افغان سرحدي پولیسو اکمالات یې په غاړه درلوده، د یو نړیوال غیر دولتي موسسې د یو غړي وژل، او د یو ملکي سړی تښتونه او وژل پدې تور چې د ملي امنیت له ریاست سره یې اړیکه درلوده، شامل دي.[441]

## د قضایي سکتور سره د متحده ایالاتو مرسته

سیګار د 2013 کال په جولای کې د امریکا د بهرنیو چارو وزارت ته د افغانستان د قضایي سکتور د روزنې انتقالي پروګرام (JTTP) په اړه خبرداری ورکړ، چې د نوموړی وزارت د نړیوالو مخدره توکو او د قانون پلي کولو د اداري (INL) لخوا پلي کیده.[442] بهرنیو چارو وزارت د سیګار خبرداری لیک ته پدې ربعه کې ځواب ورکړ او پدې اړه د سیګار بشپړه پلټنه — د سیګار ملاحظاتو ته د ځوابونو سره یوځای — په راتلونکې ربعه کې خپریږي.[443]

INL موافقه کړې وه چې د 30 میاشتو په موده کې د JTTP پروګرام لپاره $47 میلیون ډالر فنډ ورکړي. د دې پروګرام موخه دا ده چې په دې بهیر کې دغه روزنې د بهرنی ډونرانو له مشرۍ څخه داسې یو روزنیزه قانوني زده کړې ته وسپاري چې مشري یې د افغان دولت په لاس کې وي. JTTP د قضایي سکتور د ملاتړ پروګرام تر کنترول لاندې د ظرفیت د لوړاوي او د روزنې په برخه کې کار کوي. د بهرنیو چارو وزارت د نوموړی د قضایي سکتور د ملاتړ پروګرام تر کنترول لاندې د ظرفیت د لوړاوي او د روزنې په برخه کې کار کوي. د بهرنیو چارو وزارت د نوموړ پروګرام لپاره د 2012 کال د دسمبر 30 پورې $212.7 میلیونه ډالر مقید کړې دي.[444] JTTP د قضایي سکتور مختلفو کارکونکو ته لکه قاضیان، څارنوالان، مدافع وکیلان، او جنایي څارنوالان، د جنایي قضا په بیلابیلو برخو کې، د اداري فساد په شمول سیمه ایزه روزنې ورکوي.[445] INL د 2010 کال د دسمبر څخه راهیسې د ملي قضا د سکتور له ستراتیژۍ (NJSS) سره $12.41 میلیونه ډالر مرسته کړې ده، او په پام کې لري چې د 2014 کال تر اپریل پورې د NJSS سره $5.64 میلیونه ډالر نوره مرسته هم وکړي. INL د نړیوال پرمختګ قانون موسسې ته، یوه نړیواله موسسه ده چې JTTP او NJSS پلي کوي، په مجموعي ډول $65 میلیون ډالر فنډ ورکړې ده.[446]

د INL په وینا، د ایشیا فونډیشن د 2012 کال د سروې په اساس افغان خلک د تیر وخت په پرتله اوس رسمي قضایي سیستمونو ته زیاته مراجعه کوي، چې دا پخپله د INL د قضایي سکتور د پروګرامونو بریالیتوب ښکاره کوي.[447]

د قانون د واکمنۍ په برخه کې د DOD هڅې پدې ډول دي: د ملکي ډلو سره ساحوي مرستې؛ قاضیانو، څارنوالانو، مدافع وکیلانو، او د اصلاحاتو چارواکو ته روزنه ورکول؛ د محکمو او بندیخانو لپاره زیربنا جوړول؛ او د کورنیو چارو وزارت (MOI) پولیس ځواکونو ته د قانون د واکمنۍ په برخه کې روزنه ورکول. پهرصورت، د نړیوال شتون له کمیدو سره

## د سیگار د تفتیش راپور

پدې ربع کې، سیګار د پروان ولایت د قضایي مرکز (JCIP) د تعمیر د یوې ودانۍ په اړه یو تفتیشي راپور خپور کړ. سیګار وموندله چې د JCIP د دغې ودانۍ کار په سمه توګه ندی بشپړ شوی او په کمزوری فني مهارت جوړ شوی دی. د لازیاتو معلوماتو لپاره، 2 برخه، 40 مخ وګورئ.

د DOD ماموریت په تدریج سره وده کوي. د USFOR-A د قانون د واکمنۍ ساحوي ځواک - افغانستان (ROLFF-A) د 2013 کال د اګست په 31 خپل ساحوي ماموریت په رسمي ډول پای ته ورسواو، او د ناټو د قانون واکمنۍ د ساحوي ملاتړ ماموریت - افغانستان ټاکل شوی و چې د 2013 کال د سپتمبر په 30 وترل شي. په پروان کې د ROLFF-A روان ماموریت په قضایي مرکز متمرکز دی، د دې مرکز کارکونکې به له ملکي اداراتو سره په دې مرسته وکړي چې د افغان مقاماتو ظرفیت ورسره لوړ کړي او د باغیانو او تروریستانو د تعقیب په برخه کې به د افغانستان له قانون سره سم فعالیت وکړي. ROLFF-A به د 2014 کال د فبروري په 1 کې خپل عملیات پای ته ورسوي.[448]

## د قانو ن د حاکمیت پیاوړتیا (رسمي او غیر رسمي)

USAID د قانون د حاکمیت د پیاوړتیا دوه پروګرامونه اداره کوي: یوه برخه یې په غیر رسمي او بله په رسمي سکتور تمرکز لري. د 2013 کال د سپتمبر تر 30، USAID د قانون د حاکمیت د پیاوړتیا پروګرام رسمي برخې (RLS-F) ته د $18.9 میلیون ډالرو ژمنه وکړه او غیر رسمي (RLS-I) برخې ته یې د $15.7 میلیون ډالرو ژمنه وکړه او په ترتیب سره یې $10.2 میلیونه او $9.6 میلیونه ډالر لګولي دي.[449]

د USAID په وینا، RLS-F د رسمي عدلي سیستم اړتیاوې د د څلورو غاړو د مهارتونو د لوړولو له لارې عملي کوي: قضایي قوه، د محاکمو اداره، په پوهنتونو کې د قانون او شرعیاتو پوهنځۍ؛ او د عدلې وزارت او سترې محکمې د عامه ساحوي ډلې پکې شاملې دي RLS-F په دې وروستیو کې د فساد ضد یو ګډ روزنیز پروګرام تمویل کړ. RLS-F راتلونکو قاضیانو ته د مهارتونو د پراختیا او لارښوني له دوه کلن بروګرام څخه خپل ملاتړ ته دوام ورکوي. RLS-F همداشان په ټول افغانستان کې د پوهنتونو د حقوقو او شرعیاتو له ډیپارتمنتونو سره په دې کار کوي چې د افغانستان د راتلونکې نسل لپاره د قضایي کدرونو ملاتړ وکړي. USAID وایي چې په ملي کچې د قضایي زده کړو په برخه کې د یوه واحد نصاب د تاسیس پر سر پرمختګونه رامنځ ته شویدي او همداشان به د زده کونکو لپاره عملي درسي تجربې لکه قضایي کلینیکونه او مباحثوي محاکماتي سیالۍ په لاره واچول شي. بالاخره، RLS-F افغانانو ته د قانون او حقوقو په برخه کې زده کړې ورکوي چې ورسره به دوی پوه شي چې محاکمو ته لاسرسی څه ډول تر لاسه کړي.[450]

د USAID په وینا، RLS-I د غیررسمي عدلي سیستم په اړتیاو کارکوي او غواړي د رسمي او غیررسمي قضایي سیستمونو تر منځ اړیکې پیاوړې کړي او دودیزه قضا له افغان اساسي قانون سره هم لوری کړي. RLS-I د افغانستان په سویل، ختیځ او شمال کې په 48 ولسوالیو کې د ټولنو مشرانو ته د منازعاتو د حل مهارتونه ښولي دي. RLS-I په اساسي قضایي اصولو 20,000 کسان (45% ښځې) روزلې دي، په ټولنه کې یې شپږ کلتوري مرکزونه تاسیس کړیدي او له خپلو حقونو د خبریدا په برخه کې یې خلکو ته ساحوي کارونه زیات کړیدي؛ نږدې 700 دودیزې قضایي پریکړې یې د ولسوالیو له مسولینو او سیمه ایزو محاکمو سره ثبت کړیدي؛ او 2,000 ژمنې یې له سپینږیرو څخه تر لاسه کړې تر څو د منازعاتو د حل په برخه کې غوره اقدامات تر سره کړي او د هغه دودونو له کارولو چې د افغان اساسي قانون او نړیوالو بشري قوانینو سره په ټکر کې دي ډډه وکړي. دې پروګرام همداشان د ښځینه مشرانو ډلې رامنځ ته کړیدي، چې د USAID په وینا د هغو قضایاو د حل ظرفیت لري چې په ځانګړې توګه ښځې اغیزمنوي او 700 قضیې یې حل کړیدي.[451]

## د مخدراتو ضد قضايي مرکز

INL شاوخوا $17.5 میلیون ډالره په کابل کې له 2008 مالي کال راهیسي د مخدراتو ضد قضايي مرکز (CNJC) د عملیاتو او ساتنې څخه د ملاتړ په برخه کې لګولي دي. له 2005 کال راهیسې، INL همداشان شاوخوا $18.8 میلیون ډالره د متحده ایالاتو د عدلیې وزارت (DOJ) ته سپارلي دي څو د هغو پروګرامونو لپاره له CNJC سره په ګډه کار وکړي چې د جنايي قضا په برخه کې د کارې څواک لوړولو ته کار کوي. په دې برخه کې پولیسو، څارنوالانو او قاضیانو ته د پلټنې، روزنې، مشاورتي خدمتونو آسانتیاوې برابرې شویدي. د DOJ مشاورین همداشان له فساد ضد او د لویو جرمونو له پروګرام سره مشاورتې دندې پرمخ بیايي. INL د CNJC اسانتیاو ته لکه د نورو ګنو زیربناو د لوړولو په څیر بسپنه چمتو کړیده چې مجموعه یې $16 میلیون ډالرو ته رسیږي.[452]

د INL په وینا، د CNJC پلټونکې، قاضیان او څارنوالان په اغیزمنه او پیاوړې توګه خپلې قضیې پرمخ بیايي. INL یادونه کوي چې د CNJC څارنوالان د دې وړ دي چې اغیزمن او باوري جنايي قضیې جوړې کړي او د بالقوه قضیو په برخه کې د بشپړو شواهدو په رڼا کې دقیقې ازموینې تر سره کړي. د INL په وینا، د 1391 افغان لمریز کال (د 2012 له مارچ څخه د 2013 تر مارچ پورې) لپاره 21 افغان حکومتي مسولینو ته چې له مخدراتو سره په تړلو جرمونو تورن وو، په ابتداييه محکمه کې د CNJC د محکومیت کچې 99.7% وه.[453]

په اګست میاشت کې د نیمروز امنیې قوماندان جنرال محمد کبیر اندرابي له دې کبله توقیف شو او CNJC ته ولیږدول شو چې په لوړه کچې یې د اپین او هیرونو په قاچاق کې لاس درلود. د حکومت په وینا سره له دې چې د ده د خلاصون لپاره ځینې سیاسي فشارونه هم موجود وو خو CNJC اندرابي په توقیف کې وساته او قضیه یې تعقیب کړه.[454] CNJC د سپټمبر په 29 په لومړنۍ محکمې کې له مخدراتو سره په تړلې فساد کې جنرال اندرابي پړ وباله او په لس کاله زندان یې محکوم کړ.[455]

INL رپوټ ورکوي چې د CNJC د لیږد په مورد کې د نړیوالو او افغانو غاړو تر منځ توافق په دې برخه کې په زیاتیدو دی چې MOI دې د عملیاتو او تداوم په برخه کې مسولیت په غاړه واخلي.[456]

## افغان اصلاحي سیستم

د بهرنیو چارو وزارت په وینا په افغانستان کې د زندانیانو شمیر په تیرو پنځو کلونو کې په کال کې لږ تر لږه 17% لوړیږي. له دې سره په زندانونو کې ګڼه ګوڼه په زیاتیدو ده. حکومت د زندانیانو زیاتیدل د افغان قضايي سکتور له پیاوړتیا سره تړې چې ورسره په قضايي سکتورونو کې د قید معادلې لارې چارې شتون نلري او په دې برخه کې علاقه او پوهاوی هم نشته.[457] د مخدراتو او جرمونو په وړاندې د ملګرو ملتونو اداره (UNODC) وایي چې د زندان له حکم سره سره د نورو نقدي جریمو تحمیل هم لیدل شویدی. سره له دې چې د افغانستان قانون وایي چې د نقدي جریمو نه تادیه کول د دې لپاره کافي دلیل ندی چې یو کس دې ترټاکل شوې مودې زیات وخت په بند کې تیر کړي خو په افغانستان کې اوس هم ځینې وخت دا کار پیښیږي.[458]

UNODC، INL ته ویلي دي چې څارنوالان او قاضیان له دې په اندیښنه کې دي چې که دوی نقدي جریمې د قید په ځای تحمیل کړي نو په فساد کې به ښکیل وبلل شي. INL به د جریمو د قانوني کولو په برخه کې د قاضیانو روزلو ته دوام ورکړي چې د قید لپاره یې

د یو بدیل په توګه وکاروي او افغان حکومت به وهڅوي چې د دې قانونیتوب ته د پام وړ توجه ولري.[459] د INL د اصلاحي سیستم د ملاتړ پروګرام (CSSP) د افغانستان د زندانونو او توقیف ځایونو له عمومي ریاست (GDPDC) سره په ګډه کار کوي څو د ګڼې ګوڼې د ستونزې کچې د اسنادو د راټولولو له لارې معلومه کړي.[460]

سره له دې چې په 2011 او 2012 کال کې UNAMA د افغان پولیسو او ملي امنیت په توقیف ځایونو کې د پراخو شکنجو اسناد تر لاسه کړل خو حکومت وایي چې دوی د GDPDC په مرکزونو کې له هیڅ یوه معتبرې ادعا چې سیستماتیکه شکنجه یا بدرفتاري پکې روښانه شي تر لاسه کړې نده.[461]

تنکي ځوانان د عدلیې وزارت په چوکاټ کې په یوه بیل مرکز کې چې د تنکیو ځوانانو د بیارغیدنې مرکز یا (JRD) ورته ویل کیږي تر توقیف لاندې ساتل کیږي. د حکومت په وینا، JRD د GDPDC ظرفیتونه او اسانتیاوې نلري،او د تنکیو ځوانانو ډیری مرکزونه په کرایه اخیستل شویدي چې د بیارغیدنې د مرکزونو په توګه یې کارول مناسب ندي.[462]

GDPDC او JRD د بیارغونې د پروګرامونو پلې کولو ته دوام ورکوي. له تیرې ربعې راهیسې، GDPDC په څرخي پله زندان کې چې د افغانستان مرکزي زندان بلل کیږي او د کابل په څنډې کې پروت دی داسې هڅې پیل کړیدي چې ورسره د غالۍ اوبدلو او کټونو جوړولو په څیر په صنعتي کارونو کې د زندانیانو ونډه زیاته کړي. د څرخي پله زندان مسولینو په یوه بیل تعمیر کې له زندانیانو سره په صنعتي کارونو کار کوي تر څو د صنعتې رغونې په برخه کې د هغو لپاره خنډونه له منځه یوړل شي. د څرخي پله زندان مسوول ژمنه کړیده چې دوی ته به د سواد زده کړې کورسونه هم پرانیزي او په ځانګړې توګه هغو کسانو ته چې په صنعتي او حرفوي زده کړو کې ښکیل وي ډیر پام وشي.[463]

په ننګرهار، بلخ او کندز ولایتي زندانونو کې ښځینه زندانیانې د خیاطۍ په پروګرامونو کې شاملې شویدي او د زندان یونیفورمونه او په سیمه ایز بازار کې د پلورلو لپاره نورې جامې ګنډې. INL په سر کې له دې هڅو د CSSP له لارې ملاتړ کوي، چې د سلاکارانو لکه د جندر، تنکیو ځوانانو او د زندان د صنایعو په برخه کې د کارپوهانو ګمارل هم پکې شامل دي. دا کار هم د GDPDC او هم د JRD په مرکزونو کې پلی کیږي او همداشان د پنځو ولایتونو په اصلاحي اسانتیاوو کې سر ته رسیږي.[464]

د حکومت په وینا، INL داسې مالي او د کاري ځواک سرچینې په واک کې لري چې ورسره په ټول افغانستان کې د قراردادونو، ترونونو او روغونیزو پروژو پلټنه وکړي. حکومت دا مني چې INL ته د دوره اي امنیتي ستونزو شتون د دې لامل شوی دی چې ساحاتو ته لاسرسی محدود شي او له دې کبله د دوی په وینا INL د احتمالي پیښو په اړه پلان باندې کار کوي او د راتلونکو هڅو په برخه کې د پریکړو کولو لپاره په ساحوي لاسرسي ډیر تاکید کوي.[465] د بیلګې په توګه INL د دریمي غاړې قراردادیانو پر وړتیاو څیړنه کوي چې له هغو زیربنایي پروژو مستقیمه څارنه تر سره کړي کوم چې د INL امریکایي او افغان کارکونکي یې پلې کوي.[466]

## د فسا ضد

په دې ربع کې، د SIGAR هغه راپور چې د متحده ایالاتو له فساد ضد هڅو څخه برابر شوی و روښانه شو چې دغه فعالیتونه د متحده ایالاتو له خوا د یوې هر اړخیزې ستراتیژۍ له لارې پرمخ ندي بیول شوی او داسې موخې او اهداف یې ندي تعقیب کړي چې ورسره افغان حکومت د فساد ضد مبارزې کې پیاوړی کړي او د حساب ورکونې کچې لوړه کړي.

### د سيګار ځانګړې راپور

په دې ربع کې د سيګار يو ځانګړې راپور معلومه کړه چې متحده ايالات په افغانستان کې د اداري فساد ځخه د مخنيوی لپاره ستراتيژيک پلان او ميکانيزمونه نلري. د لازياتو معلوماتو لپاره، 2 برخه، 43 مخ وګورئ.

SIGAR موندلې ده چې د متحده ايالاتو د فساد ضد ستراتيژۍ مسوده چې په 2010 کال کې جوړه شوه تراوسه نهايي شوې نده، او ادارات د فساد ضد ستراتيژۍ د نه شتون له امله د ټوکيو د حساب ورکونې د ګډ چوکاټ او د افغانستان لپاره د متحده ايالاتو پر ملکي - نظامي ستراتيژيک چوکاټ تکيه کوي. په دې اسنادو کې د هغه څه په وړاندې چې د متحده ايالاتو حکومت يې د پرمختګ کچې معلوموالی شي ځانګړي موخې او اهداف موجود ندي.[467] د حکومت په وينا افغان حکومت د هغه څه په برخه کې چې د 2012 کال په جولای کې د ټوکيو کنفرانس د فساد ضد اهدافو په توګه ومنل شول، کمه وده کړېده.[468]

د 2012 په جولای کې اولسمشر کرزي 45 نمبر فرمان صادر کړ چې په هغه کې د فساد ضد 38 مادې شاملې وې. د حکومت د فساد ضد ارزونې او پلټنې د مستقلې کميټې (MEC) له عمومي ارزونې سره موافقې دي چې وايي ګډ پرمختګ رامنځته شويدی، ځينې يکې مثبتې لاس ته راوړنې دي او ځينې ناوړه ناکامي بللی شو.[469] MEC يوه مستقله ګډه افغانه/نړيواله اداره ده چې په افغانستان کې د ملي او نړيوالو فساد ضد هڅو ځخه پلټنه او ارزونه ترسره کوي. دا اداره عامو افغانانو، پارلمان، اولسمشر او نړيوالې ټولنې ته شپږ مياشتنی رپوټ برابروي.[470]

حکومت وايي چې په دوو ساحو کې د فساد ضد هڅو کې پرمختګ شويدی: د يوه نوي تدارکاتي قانون مسوده برابرول او د افغان حکومت د قراردادونو په خپرولو کې د روڼوالې زياتيدل. سره له دې د کابل بانک قضيه، د ملکي خدمتونو ګمارنې او د لوی څارنوالی له اداري (AGO) سره تړلې موضوعات لا هم روښانه شوي ندي.[471]

د حکومت په وينا، JCMB په 2006 کال کې د لندن تر کانفرانس وروسته د دې لپاره تاسيس شو چې د "افغانستان تړون" له پلي کيدو ځخه نظارت وکړي او په دې تړون کې د منل شويو موخو پر سره د افغان او نړيوالې ټولنې هڅې يو موټی کړي، تراوسه د شفافيت او حساب ورکونې ملي پروګرام (NTAP) تصديق کړی ندی.[472] NTAP د حکومتدارۍ د پراخيتا په ټولګه کې د افغانستان دوهم ملي لومړيتوب بلل کيږي. افغانستان د نړيوالې ټولنې په ملاتړ NPPs رامنځته کړي ترڅو د بيارغنيز مرستو لارښوونه وکړي. NTAP په دې کې پاتې راغلی دی چې هغه درې "سرې کرښې" چې د نړيوالې ټولنې له خوا روښانه شويدې تر کار لاندې ونيسي. د حکومت له خوا په پيژندل شويو سرو کرښو کې، د لوړپوړو افغان چارواکو له خوا د شتمنيو ناتصديق شوې ځرګندول، معلوماتو ته د لاسرسي قانون په مسوده کې هغه برخه چې مدني ټولنه يې ستونزمنه بولي او د تفتيش ملي قانون کې د تعديلاتو په تړاو د متحده ايالاتو د حکومت انديښنې شاملې دي USAID وايي، يوه سره کرښه په کابل ښاروالی کې د ودانيو د جواز اخيستلو له پروسيجر سره تړلې ده چې په دې ربع کې ډيره ناوخته ورته پاملرنه شويده سره له دې چې USAID منې چې د هغې پلي کيدلو کې ستونزې شته.[473] د NTAP په اړه حکومت وايي چې د JCMB په راتلونکې ناستې کې به تر غور لاندې ونيول شي چې د 2014 کال په پيل کې به ترسره شي. سره له دې هم داسې ويل کيږي چې افغان حکومت NTAP په اړه خپل ملاحظات لري.[474]

د 2013 د سپټمبر تر30، DOJ په دې ربع کې په هيڅ افغان لوړ پوړي چارواکي د فساد د تورونو د پوري کولو په اړه معلومات ندي ترلاسه کړي.[475] DOJ د افغان ټيټ پوړو چارواکو د تعقيب په پلي کولو کې هيڅ لاره نلري؛ سره له دې چې نړيوال پلټونکي باوري دي چې د فساد ضد اداره (ACU) په انتخابي توګه هغه قضيې تر تعقيب لاندې نيسي چې داسې کسان پکې تورن کيږي چې سياسي اړيکې او پيسې نلري.[476]

# حکومتداری

## د افغانستان د لوی څارنوالی اداره

د لوی څارنوالۍ ادارې (AGO) ته د 2012 کال په جولای کې د اولسمشر کرزي له لورې لارښونه وشوه چې په دې ادارې کې فاسد اشخاص وپیژني او ارزونه یې وکړي او خپلې لاس ته راوړنې په شپږو میاشتو کې د اولسمشر دفتر ته وسپاري. د حکومت په وینا، ویل کیږي چې AGO دا غوښتنه په پام کې نده نیولې، او نړیواله ټولنه له داسې یوه رپوټ څخه چې چمتو شوی او وړاندې شوی وي معلومات نلري. AGO ته همداشان لارښونه شوې وه چې د فرمان له صادریدو څخه تر 60 ورځو دې په AGO کې د فساد معلوملولو لپاره یوه اداره رامنځته کړای شي.[477] AGO یواځې په دې وروستیو کې د دې کار لپاره یو نظارتي ټیم رامنځته کړ چې تر 20 کمو څارنوالانو یې غړیتوب درلود.[478] د حکومت په وینا له دې ډلې ډیر کم ملاتړ وشو او هغه قضیې چې دوی پرې تمرکز درلود په داسې تورونو ولاړې وې چې د ټیټ پوړو پولیسو فساد سره یې اړیکې لرلې په داسې حال کې چې د دې ټیم د جوړولو لومړنۍ موخه د حکومت د قاضیانو او څارنوالانو د تعقیب مسله وه.[479]

حکومت راپور ورکوي چې په دې ربع کې د AGO د ACU او نظامي فسا ضد واحد یا (MACU) ترمنځ د معلوماتو شریکول لږ شویدي. حکومت ارزولې ده چې د AGO په دې دوو واحدونو کې مورال ډیر ټیټ دی او د انتقام له ویرې څارنوالان له نړیوالو سلاکارانو سره پرانیستو خبرو ته زړه نه ښه کوي.[480] حکومت ترلاسه کړیده چې د نړیوالو سلاکارانو او AGO چارواکو ترمنځ په مباحثو کې وضاحت موجود ندی او له دې سره DOJ ته ستونزمنه کیږي چې له هغو لوړ پوړو مداخلاتو باخبره شي چې د فساد په قضیو کې د AGO له خوا ترسره کیږي.[481]

د حکومت په وینا، سره له دې چې ACU د فساد د وړو قضیو په تعقیب کې خپل ظرفیت روښانه کړیدی خو د فساد په لوړپوړو قضیو کې لاهم اغیز نلري او علت یې په ACU او د افغان حکومت رهبري کې د فساد ضد ارادې نه موجودیت بلل کیږي. په لوړو پوړیو کې فساد لاهم روان دی او د سمون لپاره لا هم سیاسي اراده موجوده نده. .[482] سره له دې هم د حکومت باور دا دی چې د DOJ او INL ښکیلتیا برسیره پر دې هم له MACU او ACU سره ارزښتمنه بلل کیږي. له دې ښکیلتیا موخه دا ده چې د تعقیب لپاره مرستې چمتو کول به سیاسي اراده بدله کړي او د ACU، MACU او AGO د فعالیتونو په تړاو به د نړیوالې ټولنې دوامداره لیوالتیا ډاګیزه کړي.[483]

## د ځانګړو قضیو کمیټه

د 2013 کال تر اګست پورې، د ځانګړو قضیو کمیټه (SCC) چې د ACU او MACU له لورې د یوې ځانګړې کمیټې په بڼه ټاکل شوې وه، په رسمې توګه هیڅ کار ندی کړی.[484] د افغانستان لوی څارنوال اعلان وکړ چې SCC د قضیو بیاکتنه بشپړه کړیده او له دې کبله یې خپلې موخې ترلاسه کړیدي. DOJ وړاندیز وکړ چې SCC دې د یوې دایمي برخې په توګه د دې لپاره وساتل شي چې خورا ننګونکې قضیې وپلټي؛ خو لوی څارنوال دا وړاندیز ونه مانه.[485] د USAID په وینا، نړیواله ټولنه SCC د لوی څارنوال لپاره د وروستي چانس په توګه پیژني ترڅو ورسره له لوړې کچې فساد سره په مبارزې کې خپل اخلاص جوت کړي، همدا شان یې د AGO د هغې ادعا په اړه چې وایي له SCC سره تړلې ټولې قضیې حل شویدي شک ښودلی دی.[486]

## د لویو جرمونو کاري ځواک

د لویو جرمونو کاري ځواک (MCTF) په دې وروستیو کې د AGO د داخلي کنټرول او پلټنې د نوې واحد لپاره د څارنې واحد په توګه رامنځته شوه. سره له دې چې MCTF د فساد پرقضیو په لوړه کچې کار کړی دی، خو AGO په دوامداره توګه کوښښ کوي چې غلې پاتې شي.[487]

د تحقیقاتو د فدرالي اداري (FBI) سلاکاران له MCTF څخه د 2013 کال په فبرورۍ کې ولاړل او د افغانستان د ګډ متحد بین الاداره اي کاري ځواک (CJIATF-A) غړې یې پر ځای وګمارل شول حکومت باور لري چې د سلاکارانو بدلون په ظاهره د MCTF اغیزمنتوب کې بدلون ندی راوستی.[488]

## د فساد ضد ارزونې او نظارت ګډه خپلواکه کمیټه

د 2013 کال د سپټمبر په 28، د فساد ضد ارزونې او نظارت ګډ ې کمیټې خپل وروستنی راپور خپور کړ. MEC له مخکې د ملګرو ملتونو د کډوالو د ادارې (UNHCR) او د کډوالو او بیرته راستنیدونکو وزارت (MORR) په تړاو اندیښنې روښانه کړې وې. MEC موندلې ده چې د ملګرو ملتونو د رهبرۍ په ملاتړ د دواړو ادارو له خوا د پام وړ ګامونه اخیستل شویدي څو د MEC اندیښنې ځواب کړي.[489] اندیښنه اوس د هغځ مالي پلټنې په اړه چې د ملګرو ملتونو د پلټنو د داخلې اداري له خوا ترسر ه کیږي او هغه پلټنه چې د تفتیش ملي اداره (SAO) به یې له ژمنې سره سم له MORR څخه ترسره کوي UNHCR په همدې وخت کې د MORR د کابل د ځانګې دفتر ته د کرایې لپاره خپلې پیسې بندې کړېدي، همداشان یې ثانوي حسابونه بند کړیدي او د پیسو مشکوکې لیږدونې یې هم ځنډولې دي.[490] MEC همداشان د هغو درغلیو او روابطو پاللو په اړه اندیښنه څرګنده کړیده چې د افغان حکومت د ملکي تخنیکي مرستو پروګرام (CTAP) به ترې اغیزمن شي. MEC د CTAP په برخه کې د روڼوالي د زیاتیدو سپارښتنه کړیده؛ په داسې حال کې چې تراوسه ورته د مالیې وزارت ځواب ندی رسیدلی او SAO هم د ظرفیتونو د کمبود له کبله د خپل تفیش له پلې کولو غاړه ایستلې ده.[491]

د متحده ایالاتو حکومت له MEC څخه سیاسي ملاتړ کړی او مرسته یې کړیده چې د مرسته کونکو پیسو ته ځای معین شي. د USAID د افغانستان د فساد ضد ادارې د مرستې (4A) پروژه همداشان د MEC تخنیکي دارالانشا ته تخنیکي ملاتړ چمتو کړیدی. USAID د MEC عملیاتي بودیجې ته د مستقیم مالي ملاتړ د چمتوکولو په لور روان دی.[492]

## د څارنې او فساد ضد عالي اداره

حکومت او USAID د څارنې او فساد ضد عالي ادارې (HOO) پر سر دې هوکړې ته رسیدلې چې دا اداره کارنده نده، سیاسي ده او اغیزمنه هم نده.[493] د USAID د 4A پروژې راپور ورکړ چې HOO بشپړ تخنیکي ظرفیت لري چې د فساد ضد د یوې اغیزمنې ادارې په بڼه کار وکړي.[494] سره له دې چې HOO تخنیکي وړتیا لري خو دواړه ادارې په دې باور دي چې د اغیزمنتوب لپاره په دوی کې سیاسي اراده موجوده نده.[495]

له HOO سره د دې ادارې په غوښتنه د USAID د 4A پروژې کار د دوی د بشري منابعو له ریاست سره د مرستې په برابرولو محدودې دي، د USAID په وینا، HOO له 4A پروژې سره له دې کبله د معلوماتو له شریکولو ډډه کوي چې د دوی هغه مرستې چې له

دوو کلونو راهیسې ورته ورکول کیدې دریدلې دي.[496] د USAID 4A پروژې له HOO سره په دې ربع کې د HOO د دندو لپاره د کاري مسولیتونو په بیاکتنې کې مرسته کړې؛ له تنباکو او مخدراتو څخه د خلاص کاري محیط په برخه کې یې د مسودې بیاکتنه او ارزونه وکړه او د ډیجیټل معلوماتي سیستم په پلې کولو کې یې مرسته وکړه.[497] د USAID 4A پروژې لپاره $9.4 میلیونو ډالرو ژمنه کړې وه چې له هغې جملې د 2013 کال د سپټمبر تر 30 پورې $8.3 میلیون ډالر لګول شویدي.[498]

## په افغان امنیتي ځواکونو کې فساد

په افغان امنیتي ځواکونو کې فساددد متحده ایالاتو پلې کوونکې ادارې، او نړیوالې ادارې وایې چې په افغان ملي امنیتي ځواکونو (ANSF) کې د فسا ضد هڅو بیلابیلې پایلې درلودلې دي. د DOD په وینا، د دفاع وزارت (MOD) په ANA کې د روڼوالي او حساب ورکوونې لوړیدلو ته جدي هڅې کوي، په داسې حال کې چې په MOI کې چې د ANP مسولیت لري د فساد ضد هڅې پڅې شویدي.[499] دا لیدلوری د شفافیت د نړیوالی ادارې له خوا رابرسیره شو چې په ANSF، MOD او MOI کې یې په دې ربع کې د شفافیت، حساب ورکوونې او فساد ضد فعالیتونو ارزونه کړیده. په دې رپوټ کې روښانه شوي وو چې MOD ښه پرمختګ کړی دی، "له څو کلونو راهیسې د وزارت په کچې د پیاوړې سیاسي تعهد په مټ پرمخ بیول کیږي." خو "MOI داسې ښکاري چې په معکوس حالت کې واقع وي، سیاسي چاپیریال یې ډیر ستونزمن دی او واضحې لارښونې هم پکې نشته" چې د فساد له مبارزې سره تړلې دي.[500]

د DOD د رپوټ په وینا، MOD د شفافیت او حساب ورکوونې (TAC) د کمیټو په برخه کې د دې په ځای چې یواځې مباحثې وکړي، غلې یې ساتلې دي. اوس مهال د TACs 15 کمیټې شتون لري چې هره یوه یې د ANA په یوه فرقه کې فعالیت کوي. د MOI سرپرست وزیر له فساد سره مبارزه په اولویت کې ساتلې ده او هغه کسان یې له دندې لرې کړیدي چې د ده په ګمان په فساد کې ښکیل وو. MOI همداشان په ولایتي کچې عمومي پلټونکې کم کړیدي او پر ځای یې تراوسه نوې کسان ندي ګمارلې.[501]

## CJIATF-شفافیت او د 2010 کاري ځواک

ګډ مشترک بین الاداره اي کاري ځواک (CJIATF) - شفافیت، په 2010 کال کې د ایساف د بین الاداره اي ډلې په توګه رامنځته شو ترڅو فساد ضد هڅې همغږې کړې، دوی همداشان افغان مشران او ایساف د انتقال د پلانولو پرمهال دې ته هڅوي چې فساد او سازمان شوي جرمونه تعقیب کړي.[502]

په دې ربع کې CJIATF-شفافیت د افغانستان د ګډ امنیتي انتقال قوماندانۍ (CSTC-A) ته ولیږدول شو تر څو د MOI او MOD پرمختګ په ښه توګه حمایه کړي.[503] CJIATF-شفافیت د MOI او MOD له پرمختګ څخه خپلو هڅو ته دوام ورکوي او پر عمومي پلټونکو، TACs او د فساد د ارزونې په برخه کې په پراختیایې پروسو تمرکز کوي. CJIATF په پلټنو او د سلاکارانو په ګمارنو په دې خاطر تکیه کوي چې د مالي ستراتیژۍ لپاره نفوذ او حمایوي پرمختګ لوړ کړي او په MOI او MOD کې د پام وړ سلوک کې بدلون رامنځته کړي.[504]

د 2013 د جولای په 1، د 2010 کال کاري ځواک (TF 2010) د (VVRC) قرارداد په برخه کې د قرارداد کوونکې مسول استازې مسولیت په غاړه واخیست.[505] VVRC له ټولو

هغو غیر امریکایي قراردادیانو نظارت کوي چې د افغانستان د عملیاتو په تړاو $100,000 یا تر هغو لوړ قراردادونه ترلاسه کوي. VVRC یو تحلیلي رپوټ برابر کړیدی او د خطر د کچو د محافظت په تړاو یې قراردادیان ویشلي دي: منځنی، د پام وړ، لوړ، ډېر لوړ. په لوړ او ډېر لوړ تصنیف کې راغلي قراردادیان باید په نویو قراردادونو کې له پامه وغورځول شي.[506] TF 2010 اوس د تیر، اوس وخت او راتلونکې په تړاو د قراردادیانو/پلورونکو په ارزونه او تصنیف کې مرکزي ځای ترلاسه کړی دی.[507]

## د ګمرکاتو په ټولولو کې فساد

د 2013 په جون کې، د وزیرانو شورا پریکړه وکړه چې سرحدونو، هوایي ډګرونو او ګمرکي زیرمو په تړاو د اولسمشر له خوا د وړاندې شوې اجرایوي کمیسیون (PEC) منشور ته اجازه ورنکړي، په دې کې په اجرایوي کچې یوه بین الاداره اي کمیسیون رامنځته شو تر څو د ګمرکاتو په سکتور کې له فساد سره مبارزه وکړي.[508] PEC د 2011 کال په اګست کې د اولسمشرکرزي له خوا رامنځته شوه؛ په داسې حال کې چې د 2012 په جولای کې MEC په خپلو ارزونو کې تر لاسه کړه چې دا کمیسیون تراوسه پلي شوی ندی.[509] د 2013 په فبروری کې د مالیې وزیر د PEC سند لاسلیک کړ او د حکومت نظر دا و چې PEC به په لویه کچې په دې برخه کې روڼوالی او حساب ورکونه پیاوړې کړي.[510] PEC په تړاو د مالیې وزیر وویل چې دا مسله کیدای شي د وزیرانو په شورا کې له دې کبله یاده نشي چې ملاتړ یې ونه شو.[511]

افغان حکومت همداشان د سرحدونو د مدیریت د نمونه اي پروژې د پلې کولو د پراختیا په برخه کې خپلې هڅې رواني ساتلې دي. د پروژې موخه په سرحدونو کې د دندو او مسولیتونو ځانګړې کول دي، ترڅو په سرحدې مسایلو کې د هغو دولتې اداراتو لاسوهنې محدودې کړي چې مسولیت یې ندی. د دې ربع په پای کې د دې پروژې په شپږو سرحدي سیمو کې فعالیت درلود. حکومت روښانه کړه چې د دې پروژې پراختیا به د بسپنه ورکوونکو د راتلونکو مرستو په برخه کې د IMF یو معیار ګڼل کیږي.[512]

# بشري حقوق

## د جندر اړېول

USAID په دې ربع کې اعلان وکړ چې دوی پلان لري د ملي لومړیتوبونو په پروګرام کې د جندر د تقویې پروګرام (PROMOTE) په برخه کې د $200 میلیون ډالرو ژمنه وکړي، دا پروګرام په افغان حکومت، سوداګریز سکتور او مدني ټولنه کې د ښځو پیاوړتیا، روزنه او زده کړې لوړوي. د دې لومړیتوب په اړه د USAID مشر وایي "دا په تاریخ کې د USAID تر ټولو ستره یواځنۍ پانګونه ده چې په نړۍ کې یې د ښځو او نجونو د راتلونکې په تړاو تر سره کوي." USAID له نورو مرسته کوونکو غواړي چې همدومره نوره مرسته هم ورسره وکړي او د پنځو کلونو لپاره د $416 میلیون ډالرو یوه لویه مجموعه چمتو کړي. دا بسپنې به هلته ورکړل شي چې افغان حکومت د 2012 کال په ټوکیو کنفرانس کې خپلې ژمنې پلې کړي.[513] د USAID په وینا PROMOTE کیدای شي د 2014 تر نیمایي پیل نشي، او دا پروګرام په هیڅ ډول د امریکایي عسکرو له حضور سره تړاو نلري.[514]

USAID همداشان د ښځو چارو وزارت(MOWA) کې د اداره اي بیاجوړښت او پیاوړتیا پروژې (MORE) اعلان وکړ چې په دریو کلونو کې به $15 میلیون ډالر ولګوي او موخه یې



**د متحده ایالاتو یو ملکي استازی،** د میز په مشري کې، د پروان ولایت د والي په دفتر کې د 2014 کال په ولسمشري او ولایتي ټاکنو کې د ګډون په اړه د افغانو ښځو د یوې شورا کوربه توب کوي. (د امریکا د دفاع وزارت انځور)

د منظبطې پالیسي په برخه کې د MOWA ظرفیتونو لوړول، د جندر انډول او په افغانستان کې د ښځو پیاوړتیا بلل کیږي. MORE هڅه کوي چې په MOWA کې ستراتیژیک او اداره اي اصلاحات راولي او دې کار ته د پالیسۍ د رهبریت او دفاع، ستراتیژیکې پلان جوړونې، د بشري سرچینو مدیریت، د جندر تعادل، مالي مدیریت، پلټنې او ارزونې او عامه ساحوي لیدنې په برخه کې ځانګړې کورسونه په لار واچوي. د دې پروژې موخه د MOWA او نورو وزارتونو ترمنځ د اړیکو پیاوړې کول دي ترڅو د جندر تعادل په برخه کې د هغو د پالیسۍ په پراختیا کې همغږي رامنځته شي او د افغانستان د ښځو د ملي کاري پلان (NAPWA) سره مطابق په مخ لاړ شي.[515]

USAID دغه پروګرامونه په داسې حال کې په لاره اچوي چې په دې تړاو زیاتیدونکې اندیښنه موجوده ده چې په تیره لسیزه کې د ښځو لاس ته راوړنې له ګواښ سره مخ کیدای شي. UNHCR د افغانستان د یوې کتنې په ترڅ کې روښانه کړیده چې د مدني ټولنو د ډلو تر منځ په دې برخو کې پراخې اندیښنې موجودې دي چې د ښځو د مدافعې ځواکونه کمزوري شویدي او د شا ته تګ امکان موجود دی.[516]

د متحده ایالاتو تعدیل شوې ملکي-نظامي ستراتیژیک کاري چوکاټ روښانوي چې په ټولنه کې د ښځې د ونډې پیاوړې کول به لا هم د متحده ایالاتو د حکومت د یو مهم تمرکز په توګه پاته شي. په دې چوکاټ کې روښانه کیږي چې ښځې باید په ټولنه کې د برخه اخیستو وړتیا ولري او په بشپړه توګه ورسره یو ځای شي، له دې سره به د دوی ټولنیز، سیاسي او اقتصادي حقونه وساتل شي او پرمخ به لاړ شي. د دې چوکاټ پر بنسټ، د متحده ایالاتو حکومت به له هغه پروګرامونو او پالیسیو ملاتړ وکړي چې په ټولنه کې د ښځو اصلي ونډې پیاوړې کوي، لکه قضا، صحي خدمتونو، تعلیم او د سیاسي او اقتصادي مشرتوب فرصتونو ته د ښځو لاسرسی. د متحده ایالاتو پروګرامونه او پالیسۍ به د افغانانو د ښکیلتیا ټول اړخونه ولټوي تر څو د ښځو په پرمختګ او پیاوړتیا کې مثبتې اغیزې رامنځ ته شي. په ځانګړې توګه، په دې چوکات کې ویل کیږي چې USG به د افغان حکومت له خوا د ښځو په وړاندې د تاوتریخوالي د له منځه وړلو د قانون (EVAW) او NAPWA له پلي کولو څخه ملاتړ وکړي.[517]

# حکومتداری

د افغانستان د ښځو د اقتصادي ودې په برخه کې یو د افغانستان د څېړنو او ارزونو مرکز راپور خپور کړی دی چې په هغې کې ښځې په ښارې سیمو او ځانګړیو کلیوالو سیمو کې د بدلون رامنځ ته کونکې بلل شویدي. سره له دې چې دې راپور تر لاسه کړېده چې له 2002 راهیسې دوی داسې اسناد په لاس کې لري چې د ښځو په اقتصادي ګډون کې یې د پام وړ زیاتوالی نه په ګوته کوي. په دې راپور کې د پرمختګ نه رامنځ ته کیدل په ځینې برخو کې له دوو لاملونو سره تړلې بلل شویدي. لومړی، ډېری هغه ښځې چې کار کوي د ارزښت د کړۍ په ټیټه برخه کې دندې تر لاسه کوي. دوهم، ښځې په دوامداره توګه داسې سرچینو ته مناسب لاسرسی نلري چې د هغوی مهارتونه او عواید ورسره لوړ شي. په دې څېړنې کې همداشان موندل شویده چې د ښځو اقتصادي ګډون په لوړه کچې په پراختیایي پروژو او له مارکیټونو سره د پیاوړې تړاو د پراختیا له ټولنیز لیدلورې سره تړلې ده.[518]

(ICG) یا د بحران نړیواله ډله په افغانستان کې د تاوتریخوالې او د ښځو په اړه یو رپوټ خپور کړیدی او موندلې یې دي چې سره له دې چې د ښځو په قانوني حالت کې د پام وړ بدلون راغلی، خو د ښځو د پیاوړتیا په پروسه کې لا له مخکې شاته تګ پیل شویدی.[519] په دې رپوټ کې د 1978 کال له کمونیستي کودتا تر نن ورځې د ښځو د پیاوړتیا وده ښودل شویده او ځینې موازې ټکې پکې وړاندې کړای شویدي. د ICG په وینا،د افغانستان د ښځو د پیاوړتیا په تاریخي سیر کې د 1970 کلونو په نیمایي او وروستیو کې په لوړو دولتي پوستونو کې د ښځو ګمارل راوړل شویدي، لکه د کمونیستي حکومت په اوږدو کې د ښځو وزیرانو ګمارل؛ د ښځو د مساوي حقونو وعده، اجباري زده کړې، او له جبري، د بل په خوښه او په کم سن کې د ودونو مخنیوی؛ او دا خبره چې د 1990 لیسزې په منځنیو کلونو کې د دولت لخوا 70% ښځینه ښونکې درلودل، او بله دا چې د صحي پرسونل په چوکاټ کې د هغې 40% له ښځو جوړه وه.[520] ICG د ښځو اوسنۍ پیاوړتیا په دې رپوټ کې روښانوي چې دوی د والیانو او وزیرانو په دندو ګمارل شویدي؛ په اساسي قانون کې ښځو او نارینه و ته مساوي حقونه ورکړل شویدي او د معلمانو د بستونو 31% د ښځو له خوا اشغال شویدي.[521] په راپور کې بیلابیلې ننګونې په ګوته شویدي، لکه د قانوني دفاع کمزورې پلې کیدل، په پالیسۍ کې د MOWA د نفوذ په برخه کې د ظرفیتونو محدودیت او د یاغیانو له خوا تهدیدونه.[522] ICG دې پایلې ته رسیږي چې د ښځو لاس ته راوړنې په خطر کې دي او د قانون پر بنسټ د جندر له منل شویو مساواتو د دفاع غږ پورته کوي او هغه قوانینو ته پراختیا ورکول غواړي چې د سولې خبرو اترو لپاره د ښځو د حقونو څخه ملاتړ او پیاوړتیا پکې د یوه شرط په توګه وړاندې کیږي.[523]

متحده ایالاتو او نړیوالو ملګرو افغان حکومت هڅولی دی چې په افغان امنیتي ځواکونو کې د ښځو ګمارل زیات کړي. بریتانیایي خیریه ټولنې اوکسفام په دې ربع کې یو رپوټ خپور کړیدی چې پکې ویل شویدي چې د افغان ښځو او ملي ثبات مصونیت لپاره په پولیسو کې د ښځو ګمارل خورا جدي مسله ده. په راپور کې راغلي دي چې په داسې حال کې چې افغانستان په نړۍ کې د ښځو لپاره یو له تر ټولو خطرناکو هیوادونو څخه شمیرل کیږي، یواځې 1,551 ښځینه پولیس افسرانې لري، چې په 10,000 ښځو کې یوه ښځه دې کار ته مخ اړوي.[524]

د 2013 په سپټمبر کې، د افغانستان یو تر ټولو لوړ رتبه ښځینه پولیسه ووژل شوه. د سپټمبر په 16 په هلمند کې نګار د موټرسیکل سپرو له خوا په ډزو ووژل شوه. نګار چې د ډیرو افغانانو په څیر یو نوم لري، په هلمند کې د یوې بلې ښځینه پولیسې په ځای مقرره شوې وه چې اسلام بي بي نومیده او د 2013 کال په جولای کې ووژل شوه.[525]

## کډوال او په هیواد کې دننه بېځایه کېدل

د UNHCR د 2013 کال د لارې هوارولو د ستراتیژۍ په راپور کې راغلي چې د 2013 کال تر سپتمبر پورې د تیر کال (2012) د همدغې دورې په پرتله د افغان مهاجرینو په بیرته راتګ کې 40% کموالی رامنځته شوې ده.[526] همدارنګه UNHCR د افغانستان د پناه غوښتونکو د شرایط پوره کولو په اړه یو تازه لارښود خپور کړ، او دایې په ګوته کړې ده چې د جګړې له امله په هیواد کې دننه د بېځایه شوي کسانو شمیره 590,184 ته زیات شوي چې له دې څخه 113,241 تنه کسان په 2013 کال کې نوي بېځایه شوي دي.[527]

UNHCR ویلي چې په هیواد کې دننه د بېځایه شوي کسانو رسمي شمیرې د دغه ستونزې اصلي کچې نه ښکاره کوي ځکه چې پدې شمیرنه کې هغه کسان ندي شمیرل شوي چې ښاري او نیمه ښاري سیمو ته کډه کوي یا هم داسې ځایونو ته تلي دي چې د بشري مرستو د لاسرسۍ څخه بهر دي.[528] UNHCR ادعا کوي چې د افغانستان نږدې 50% سیمو ته مستقیمه لاسرسي او شاوخوا 75% سیمو ته د محلي انجیوګانو، دولتي چارواکو او ټولنیزو شبکو له لارې غیر مستقیمه لاسرسي لري.[529]

د بشر د حقونو ناظر سازمان راپور ورکړی چې د ایران دولت د نوی اعلان په اساس هغه افغاني مهاجرین چې ندي راجستر شوي یا هم موقتي ویزې لري او د 2013 کال د سپتمبر تر 6 پورې یې مودې ختمیږي باید ایران پرېږدي، که نه نو د بندیخانې، جریمې او/یا د ایستلو له سزاوې سره به مخ شي.[530] د امریکا د بهرنیو چارو وزارت په وینا افغان دولت هڅه کوي تر څو د خپل ایراني لوري سره د ویزې د ستونزې په اړه تفاهم ته ورسیږي.[531] د بشر د حقونو د ناظر سازمان په وینا د 3 میلیونه مهاجرو افغانانو څخه چې ویل کیږي په ایران کې میشت دي یوازې 800,000 تنه یې قانوني مهاجرین دي. د 400,000 څخه نیولې تر 600,000 پورې کسان موقتي ویزا لري، او پاتې کسان یې ټول ندي راجستر شوي او په غیر قانوني بڼه اوسیږي.[532]

د پاکستان دولت د 2013 کال د جولای په 25 نېټه د افغان مهاجرینو د مدیریت او تابعیت ورکولو په اړه یوه ملي پالیسي منظوره کړه. د امریکا د بهرنیو چارو وزارت د افغان مهاجرینو د پرمختللی، او اړدمهاله مدیریت لپاره نوموړي پالیسي ته په مثبت نظر ګوري. دا پالیسي د افغان مهاجرینو د ستونزو د حل ستراتیژۍ پر بنیاد جوړه شوې ده چې د اختیاري بیرته ګرځیدنې، د مهاجرینو د کوربه ټولنو سره مرستې، او په دریم هیواد کې د ځای په ځای کیدو اسانتیاوې برابروي. UNHCR ویلي چې دا پالیسي به د مهاجرینو نوی قانون ته لاره هواره کړي، او تمه یې ښوده چې پاکستان کولی شي د میشتو خلکو لپاره د عینیت او بدیل استوګن پر بنیاد لا ښه ګامونه پورته کړي.[533]

د پاکستان دولت د وزیرانو یوې کمیټې ته دنده سپارلې ده چې د پالیسي د پلي کیدو څارنه وکړي. د وزیرانو کمیټه دنده لري چې نوموړی پالیسي او کړنلارې یې داسې سره تنظیم کړي چې په پاکستان کې میشت ټول افغان مهاجرین او غیر راجستر شوي کسان ثبت او راجستر شي؛ افغانستان ته د اختیاري بیرته ګرځیدنې د بهیر سرعت یقیني کړي؛ د نړیواله ټولنې او افغان دولت سره مرسته وکړي تر څو په افغانستان کې دننه د مهاجرینو د بیایوځای کیدلو چارې په ښه توګه ترسره شي؛ د سرحدي کنترول او مدیریت لپاره د مناسبو کړنلارو او میکانیزمونو مشورې ورکړي؛ د مهاجرت لپاره پر یو ملي قانون تفاهم وکړي؛ د پاکستان

پر ټولنیز-اقتصادي او امنیتي چارو د افغان مهاجرینو منفي اغیزې کمې کړي؛ او د پایداره بیایوځای کیدلو لپاره د نړیواله ټولنې او افغان دولت سره یوځای کار وکړي.[534]

## بشري قاچاق

د امریکا د بهرنیو چارو وزارت په وینا، افغان دولت باید د بشري قاچاق څخه د مخنیوی لپاره د خپل پلان د پلي کولو هڅې زیاتې کړي. د امریکا د بهرنیو چارو وزارت په وینا، که څه هم د بشري قاچاق څخه د مخنیوی لپاره افغان ستر کمیسیون خپل درې میاشتنی ناستو ته ادامه ورکړې خو ګډونوال یې په کمیدو دي.[535] د امریکا د بهرنیو چارو وزارت همدا اوس د افغانستان په څلورو سیمو کې د افغان دولت او مدني ټولنو د هغو فعالیتونو مالي مصرف ورکوي چې د بشري قاچاق په اړه یې کوي، همدارنګه د قاچاق د مهمو ځایونو، شدت، او د اصلي ستونزو په اړه څیړنه کوي.[536] د بهرنیو چارو وزارت په پلان کې لري چې د هغه کسانو سره د مرستې لپاره چې د قاچاق څخه ژغورل کیږي د قالین اوبدلو د یو پروګرام مالي مصرف ورکړي.[537] د 2014 مالي کال په لومړیو کې، د بهرنیو چارو وزارت تمه لري چې د بشري قاچاق په ضد د افغانستان د پولیسو، څارنوالانو، او قاضیانو د ظرفیت د لوړاوي لپاره د یو بلاعوضه مرستې کار هم بشپړ کړي.[538]

## د افغانستان د بشري حقونو خپلواک کمیسیون

په دې ربعه کې د ملګرو ملتونو د بشري حقونو سترو چارواکو ګواښ ورکړې دی چې د هغه تغیراتو له امله چې د ولسمشر کرزي لخوا په دې کمیسیون کې راغلي دي د نړیواله همغږۍ کمیټې (ICC) د ارزونې په اساس د افغانستان د بشري حقونو خپلواک کمیسیون (AIHRC) خپل "A" موقف — چې د پاریس د اصولو سره موافقه ښیي — له لاسه ورکوي.[539] ICC د AIHRC پنځه کلن کارونه ارزوي تر څو معلومه کړې چې نوموړې کمیټه د پاریس د اصولو سره سم چې د افغانستان د دولت لخوا منل شوي و، چلند کوي که نه.[540] د پاریس اصول د نړیوالو معیارونو یوه ټولګه ده چې د دولت په مالي مصرف، د بشري حقونو خپلواکو ملي بنیادونو د فعالیتونو لپاره کاري چوکاټ اولارښود جوړوي. دا اصول په 1993 کال کې د ملګرو ملتونو لخوا تصویب شوي. د بشري حقونو د عالي کمیشنر د دفتر په وینا، NHRIs د هغو اصولو سره سم کار کوي چې د بشري حقونو موخې ورته په نښه کوي او د خپلواکۍ، د بشري حقونو پراخ مسولیت، مناسب تمویل، او د ټاکنې او ګومارنې جامع او شفاف بهیر په رامنځته کولو ورسره مرسته کوي. نوموړې اصول د یو بنیاد د قانونیت او اعتبار د ارزولو لپاره په پراخه کچې کارول کیږي.[541] د امریکا د بهرنیو چارو وزارت وړاندوینه کوي چې کیدای شي ICC په خپل ابتدایي ارزونه کې افغانستان په A موقف کې پریږدي یا هم B موقف ته یې ښکته کړي. مخکې له دې چې ICC خپله درجه بندي نهایي کړي AIHRC ته یو کال وخت ورکول کیږي تر څو سپارښتنو ته ځواب ووایي.[542]

ولسمشر کرزي د 2013 کال په جون کې د نوموړي کمیسیون د نهو غړو څخه پنځه تنه یې نوي وټاکل. د دې نوي کسانو څخه هیڅ یو په هغه لست کې نه و چې د بشري حقونو او مدني ټولنو د مخکښو سازمانونو لخوا وړاندیز شوي و.[543]

# اقتصادي منځپانګې


د دې ربعې کلیدي پیښې 145

اقتصادي پروفایل 146

د پراخه شوي کریډېټ اسانتیا ترتیب 148

د متحده ایالاتو اقتصادي ملاتړ ستراتیژي 149

بانکداري او مالي چارې 151

د طبیعي زیرمو پراختیا 155

کرهنه 160

اساسي خدمات/پراختیا 163

ترانسپورتیشن 169

تعلیم 170

روغتیا 173

د خصوصي سیکتور پراختیا 176

# اقتصادي او ټولنيزه پراختيا

تر سپتمبر 30، 2013 پورې د متحده ایالاتو حکومت په افغانستان کې د حکومتدارۍ ملاتړ او اقتصادي پراختيا لپاره له $24.7 مليارد ډالر څخه ډير چمتو کړي. د مختص شوي بسپنو ډيرى يې ځلور لوى پروګرامونو او حسابونو ته ليږدول شوي، لکه څنګه چې په 3.9 جدول کې ښکاري.

د دې بسپنو لپاره مختص شوي $22 مليارد ډالرو څخه، شاوخوا $18 مليارد ډالر منل شوي او $14 مليارد ډالر تر سپتمبر 30، 2013 پورې مصرف کړى ش وي.

جدول 3.9

**مجموعي اختصاصات د افغانستان پراختيا لپاره، تر سپتمبر 30، 2013 پورې** (مليارد ډالر)

| نوم | اداره شوی په واسطه د | مختص شوي |
|---|---|---|
| ESF | USAID | $16.7 |
| CERP | DOD | $3.6 |
| TFBSO | DOD | $0.7 |
| AIF | STATE/DOD | $1.0 |
| **ټوټل** | | **$22.0** |

يادداښتونه: ESF = د اقتصادي ملاتړ صندوق؛ CERP = د قوماندان بيړني غبرګون پروګرام؛ TFBSO = د سوداګرۍ او ثبات عملياتو لپاره کاري ځواک؛ AIF = د افغانستان زيربنا فنډ.

منابع: DOD، د سيګار معلوماتو غوښتنې ته ځواب، 10/23/2013 او 10/1/2013؛ USAID، د سيګار معلوماتو غوښتنې ته ځواب، 10/10/2013؛ د بهرنيو چارو وزارت، د سيګار معلوماتو غوښتنې ته ځواب، 6/27/2013؛ OMB، د سيګار معلوماتو غوښتنې ته ځواب، 7/19/2013؛ P.L. 113-6، 3/26/2013.

## د دې ربعې کليدي پيښې

پدې ربعه کې درې پرمختګونه به په افغانستان کې د متحده ایالاتو اقتصادي پراختيا ودې ته هڅه باندې اغيز وکړي: متحده ایالاتو د افغانستان لپاره اصلاح شوى ملکي - نظامي ستراتيژيک کاري چوکاټ خپور کړ، د فساد ضد نظارت او تحليل خپلواک ګډې کميټې (MEC) نوې ارزونه خپره کړه، او د پيسو نړيوال صندوق (IMF) د افغانستان سره خپل پراخه شوي کريډيټ اسانتيا (ECF) ترتيب بيا کتنه کې ځنډ ته دوام ورکړ.

د افغانستان 2015–2024 لپاره اصلاح شوى ملکي - نظامي ستراتيژيک کاري چوکاټ د اکتوبر 2012 نسخې ځای ناستى شو. په ليږد د لوړ شوي تمرکز سره سره، دا غواړي چې په افغانستان کې د متحده ایالاتو ملي اهدافو لاسته راوړو لپاره د متحده ایالاتو حکومت هڅې لارښود کړي او د متحده ایالاتو ملکي او نظامي همغږي اسانولو ته خدمت وکړي.[544]

MEC، چې په 2010 کې د فساد ضد وړانديزونو او محکونو ته ودې په موخه رامنځته کړی شوی و په بيله بيا د فساد ضد افغان او د نړيوالې ټولنې هڅې نظارت او وڅيړي، خپل ځلورم د شپږو مياشتو راپور خپور کړ چې د MEC فساد ضد وړانديزونو پلې کولو کې د افغان او نړيوال ډونر پرمختګ ارزوي. MEC افغانستان ته د ليدو خپل لسم ماموريت هم بشپړ کړ، چيرې چې په برخه ای ډول وموندل چې افغانستان د کابل بانک څخه غلا شوي پيسو په موندلو يا نيولو کې جدي هڅې ندي کړي يا د نورو پوروړو څخه يې پيسې بيرته ندي اخيستي.[545]

افغانستان پدې ربعه کې د اقتصادي او مالي اصلاحاتو په پلي کولو کې هيڅ پرمختګ ندی کړی. د ټرون مقداري او قانوني اړتياو معيار پوره کولو پرورانديزو د افغان ناکافي ودې له امله د IMF د ECF ترتيب بياکتنه او تاديه وځنډول شوه.[546] افغان حکومت د کابل بانک رسوايی لپاره کوم نور وګړي ندي مسؤل کړي، نه يې پدې ربعه کې نورې پيسې بيرته لاسته راوړي.[547] حکومت د کان کيندنې نوي قانون کې ځنډ ته دوام ورکوي، کوم چې د کان کيندنې سيکتور کې د پام وړ خصوصي پانګونه په شا تمبوي.[548]

## اقتصادي پروفايل

پدې ربعه کې، IMF، نړیوال بانک، او د اسیا پراختیایی بانک (ADB) ټولو راپور ورکړی چې د افغانستان ناخالص داخلي تولید (GDP) وده په 2012 کې 11.8 سلنې څخه د 2013 لپاره تخمین شوې 3–4% ته د پام وړ راټیټه شوې. دوی په GDP کې کمښت بې ثباته سیاسي او امنیتي چاپیریال او کرهنیز تولید کې انقباض له امله د اقتصاد په اړه ډیریدونکي ابهام ته نسبت ورکوي.[549] د 2014 کال وروسته په نړیواله مرسته او مصارفو کې تمه کیدونکي کمښت سره، د نړیوال بانک طرحې د 2011–2018 په اوږدو کې د GDP ریښتونې اوسط وده په کال کې 4–6% کمیږي، د لیرد کلونو پرمهال سست ودې سره.[550]

د نړیوال نظامي مصارفو او پراختیا مرستې په واسطه تقویت شوی د افغانستان اقتصادي وده د 2002 او 2012 ترمنځ په اوسط ډول 9.4% وه.[551] خدماتي سیکتورونه د اقتصادي ودې خورا مهم پرمخ وړونکي و، په 2013 کې د ډیر شوي عامه لګښتونو ترشا غوښتنو سره.[552]

غیر - تریاک کرهنه ریښتوني GDP ته دوهم لوی برخه اخیستونکی دی، عموما د GDP څلور یا دریم برخه جوړوي، چې په محصول پورې اړه لري.[553] مګر تولید یې د موسم سره ثابت ندی. په 2012 کې ښه بارانونو له امله د غنمو او غلة جاتو ریکارډ ماتونکی زیرمې رامنځته کړې، مګر پدې کال کې مناسب اورښت باید د تیر په څیر زیرمه رامنځته کړي.[554]

## مالي ثبات

د نړیوال بانک په وینا، په ورته وخت کې چې عامه لګښتونه ډیر شوي، په 2012 مالي کال کې د افغان حکومت عایدات کم شوي. په خپل اخرني راپور کې بانک وایي چې عامه لګښتونه په 2012 مالي کال کې شاوخوا 45%، $3.7 ملیارد ډالر ته پورته شوي پداسې حال کې چې عایدات کم شوي.[555] بانک دا هم په نښه کړې چې تمه کیږي بودیجه ایی مخارج په لویه کچه په امنیت، د خدماتو وړاندې کولو، اړین زیربنا جوړولو، او عملیاتو او محافظت باندې لګښت له امله ډیریدو ته دوام ورکړي.[556]

د دفاع وزارت په وینا (DOD)، د افغانستان مالي ثبات نسبت — د عملیاتي لګښت پروړاندې کورني عایدات — په نړۍ کې له خورا ټیټ څخه پاتې دی.[557] د نړیوال بانک اخرني محاسبات ښیې چې د افغانستان مالي ثبات نسبت په FY 2011 کې 65% په پرتله FY 2012 کې 60% ته راکم شوی. د ټیټ مالي ثبات نسبت احتیاطي خدماتو لپاره تادیې ته د یوه هیواد وړتیا محدودوي او په خپلې اتکا د هغې په پرمختګ کې څنډ ته مناسب وي.[558] بانک د افغانستان مالي لړې لید سپړر شرح کوي او پخپل ځان اتکا ته ودې لپاره څنډ ته یې مناسب بولي.[559]

## د عاید زیرمون

تیر کال، افغان ماليې وزارت (MOF) FY 1392 (له دسمبر 2012 څخه تر دسمبر 2013 پورې) مالي کال لپاره کورنی عاید $2.4 ملیارد ډالر طرح کړی و (په جنوري 2013 کې $1 51.6 افغانۍ تبادلې نرخ سره)، چې د FY 1391 (له مارچ 2012 څخه تر دسمبر 2012 پورې) څخه 33% ډیروالی یې درلود.[560] په هرصورت، FY 1392 لومړي اوه میاشتو کې

**ناخالص کورنی تولید (GDP):** په یوه هیواد کې په یو کال کې تولید شوي ټول نهایی توکو او خدماتو ارزښت دی.

**ناخالص ملي تولید (GNP):** په یوه هیواد کې په یو کال کې تولید شوي ټول نهایی توکو او خدماتو ارزښت (کورنی ناخالص تولید) جمع هغه عاید چې اوسیدونکو د بهر څخه منفي هغه عاید چې غیراوسیدونکو غوښتلی وي، دی.

منابع: نړیوال بانک، "د اقتصادي ودې ترشا،" په 10/17/2013 کې خپور شوی.

**د اپیومو تولید د کورني ناخالص تولید رسمي ارقامو کې ندی محاسبه شوی (په 2012 کې نږدې $19 ملیارد ډالر)، که څه هم په اقتصاد کې لوی ښه لري. په څمکه کې د اپیومو اقتصاد قیمت د نړیوال بانک په واسطه د ناخالص کورني تولید 3.3% تخمین شوی او د ملګرو ملتونو د مخدره توکو او جنایی دفتر په واسطه 4%. د لوړ قیمت اپیومو صادرات د کورني ناخالص تولید 7–8% د نړیوال بانک او 10–11% د ملګرو ملتونو په واسطه محاسبه شوي.**

منابع: نړیوال بانک، "د افغانستان ملګرتیا: د هیواد پروګرام فوري انځور،" p. 3، 8/29/2013؛ UNODC، "د افغانستان د اپیومو سروې 2012،" pp. 9، 13، 5/2013.

شکل 3.33

**د روانې بوديجې سره د افغانستان کورنيزه محاصلاتو موازنه** (مليونه ډالري)




يادښتونه: د انګريزي کلينډر مطابق تراوسه پورې د افغانستان مالي کال د مارچ 21 نه تر د مارچ 20 پورې وو. مالي کال 1388 د مارچ 21، 2009 نه تر د مارچ 20، 2010 سره سمون خوري. د کال 1391 مالي کال لپاره د نهه مياشتو ډېټا په افغان مالي کال کې د وخت بدلون څرګندوي مالي کال 1392 (2013) لا ختم نه دې.

سرچينې: د MOF، 1388 ملي بوديجه، رسيدن 7/2/13؛ MOF، 1389 ملي بوديجه، رسيدن 7/2/13؛ MOF، د 1391 ملي بوديجه: رسيدن 7/2/13؛ MOF، د مالي کال 1391 ملي بوديجې کړنلارې: رسيدن 6/26/13؛ MOF، کلنې مالي راپور 1391، رسيدن 6/20/2013؛ MOF، د 1392 ملي بوديجه، رسيدن 7/1/2013؛ MOF: د اوومې مياشتې مالي خبرونه، 8/21/2013، رسيدن 10/17/2013؛ د افغانستان بانک، د ځيني پيسو افغانو ته بدلول،8/21/2013 رسيدن 10/23/2013.

د FY 1391 ورته دورې په پرتله د کلي داخلي عايد 6.3% کموالی، او MOF تر 12% بوديجې هدف له لاسه ورکړ.[561] شکل 3.33 د حکومت داخلي عايداتو ترمنځ اختلاف ښيې — چې اساسا د ماليو او ګمرک عايداتو څخه لاسته رازي — او له FY 1388 څخه تر FY 1392 پورې د بوديجې عملياتي مخارج.

په خپل خورا اخرني راپور کې، نړيوال بانک په نښه کړې چې، په FY 2012 کې کورني عايداتو د افغانستان عملياتي بوديجې او پراختيايي لګښتونو يوازې 40% لپاره تاديه کړې؛ پاتې برخه يې د ډونر بلاعوضه مرستو په واسطه پوښل شوې.[562]

د نړيوال بانک په وينا، د افغانستان کورنی عايد په اقتصادي فعاليت کې سستې، د وارداتو په بڼه کې بدلون، او درغلۍ، په ځانګړي ډول د ګمرکاتو راټولولو کې له امله

ضعيف فعاليت ته دوام ورکوي. بانک اټکل کوي چې کورني عايدات به په 2013 کې د GDP شاوخوا 10.1% جوړه کړي. د ټوکيو دوه اړخيز حساب ورکوونې کاري چوکاټ پراساس افغانستان ژمن دی چې په 2016 کې يې عايدات د GDP 15% او 2025 کې 19% ته لوړ کړي. بانک خبرداری ورکوي چې په عايداتو کې اوسنی کمښت اوږد مهال ثبات او د ټوکيو دوه اړخيز حساب ورکوونې کاري چوکاټ اهداف خطر سره مخ کوي، چې د ډونر په مرسته دلالت کوي.[563]

## سوداګري

په خپلو اخرنيو څېړنو کې، نړيوال بانک موندلي چې د افغانستان سوداګرۍ کسر د GDP 43% سره مساوي دی، کوم چې په لويه کچه د بهرنيو مرستو په واسطه جبران شوی. دا مرسته په افغانستان کې د تاديو بيلانس کلي ډيروالي ته اجازه ورکوي او د 2012 په پای کې په نړيوال اختصاص کې د $7.1 مليارد ريکارډ. اختصاصات له هغه وخت څخه په جون 2013 کې $6.3 مليارد ته راټيټ شوي.[564]

برسيره پردې، د افغانستان صادرات په 2012 کې 5%، $2.6 مليارد ته راټيټ شوي، پداسې حال کې چې واردات 5%، $11.2 مليارد ته ډير شوي. افغانستان په نسبي ډول د سوداګرۍ وړ توليدات لري، او دا په څو بازارانو کې متمرکز دي، لکه کرهنيز توليدات. د راپور په وينا، وچې ميوې چې عموما د رسمي صادراتو يو پر درې برخې لپاره حسابيږي، تر 21% راټيټ شوي. بهرنۍ مستقيم پانګونې د GDP په 2% راکد پاتې دي.[565]

## د غزول شوي کريډيټ اسانتيا ترتيب

افغان حکومت د IMF په واسطه اړين ځانګړي بانکدارۍ او مالي ساختار اصلاحاتو کې کافي ودې رامنځته کولو کې پاتې راغی ترڅو د غزول شوي کريډيټ اسانتيا (ECF) معيار پوره کړي. افغان حکومت نه خو پارلمان ته د پيسو منځلو او تروريزم مالي ملاتړ سره مبارزې لپاره په نړيواله کچه د منلو وړ اصلاح شوی قانون وړاندې کړ، او نه هم د ECF ترتيب لاندې دمخه برابر شوی د کوچني اقتصاد مقداري اهداف پوره کړ. د مثال په توګه، افغانستان د SY 1391 او SY 1392 (1 او 2 ربعې) لپاره د عايد موافق اهداف لاسته راوړو کې پاتې راغی.[566]

د IMF اهدافو معيار پوره کولو کې د افغانستان پاتې راتلو يوځل بيا د IMF هييت بياکتنه او د بسپنو مصرف ملتيا وځنډوله. نه خو دوهمه بيا کتنه، چې په اصل کې د دسمبر 2012 لپاره پلان شوې وه، او نه هم دريمه بياکتنه چې په اصل کې د مارچ 2013 لپاره پلان شوې وه، بشپړه شوه. د IMF کارمندانو پدې ربعه کې د افغانستان څخه ليدنه وکړه ترڅو د دې ټاکلو لپاره په سنجش کې موافق د افغانستان ارزونه وکړي چې ايا خپله بياکتنه د IMF اجرايوي هييت ته وړاندې کړي. خزانه راپور ورکوي چې وده لاتراوسه کافي نه ده چې بياکتنه په لاره واچول شي.[567]

لکه څنګه چې د IMF مديريت او اجرايوي هييت په واسطه ټاکل شوې، په نومبر 2011 کې لاسليک شوی د درې کالو، $129 ECF مليون ډالرو پور ترون د پروګرام بياکتلو بشپړتيا باندې د ورکړو مشروط دی. IMF د $18.2 مليون ډالرو دوه ورکړې سرته رسولي — لومړی د ECF لومړني تصويب کې، او دوهم په جون 2012 کې.[568]

## د متحده ايالاتو اقتصادي ملاتړ ستراتيژي

د متحده ايالاتو د اقتصادي ليږد ستراتيژي په افغانستان کې تر 2014 پورې د ډيرى نړيوالو امنيتي ځواکونو وتلو منفي اقتصادي اغيز او ډونر مرسته کې تمه شوى مل لړوالي کمښت په لټه کې ده. دا ستراتيژي د دې په لټه کې هم ده چې افغانستان د پياوړي ودې لپاره خپلو زيرمو ته پرمختګ ورکړي.

د افغانستان لپاره کانګريس ته په خپلې FY 2014 بوديجې غوښتنه کې، د بهرنيو چارو وزارت د پراختيا پروګرامونو او ښې حکومتدارۍ ودې ته بسپنه چمتو کولو لپاره د $3.1 مليارد ډالرو غوښتنه وکړه: $2.2 مليارد ډالر د مرستې، او $0.9 مليارد ډالر په کابل کې د سفارت کارونو ملاتړ او هيواد په نورو برخو کې د ديپلوماتيک شتون لپاره. د دې مرستې ډيرى به يې د اقتصادي ملاتړ فنډ (ESF) له لارې چمتو کړى شي.[569]

د ESF ډيرى ملاتړ د USAID پراختيايي پروګرامونو کې کارول کيږي. شکل 3.34 د USAID مرسته په سيکتور ښيې.

شکل 3.34

**د يوايس ايډ انکشافي مرسته، د سپتمبر 2013 راهيسې** (مليونه ډالري)




يادښتونه: لومړې راغونډې دي.
[a] د پروګرام په ملاتړ کې په کار لګونه، معاش، د کارکردګۍ شميرې، د پايلو معلومول، وزارتونو ته تکنيکي مرسته او ARTF ته فنډ ورکول شامل دي.
سرچينه: د سګار ډيټا کال ته د USAID ځواب، 10/10/2013.

## د متحده ايالاتو د متحده ايالاتو رواني بوديجې مرسته

د ټوکيو کانفرانس 2010 او د ټوکيو دوه اړخيز حساب ورکوونې کاري چوکاټ په تعقيب د مشر مقاماتو کانفرانس 2013 کې د ډونر شوي ژمنو سره په لاره، متحده ايالات په تدريج سره افغان حکومت ته په مستقيم ډول چمتو کونکي خپل د پراختيا مرستې مقدار ډيروي. پدې ربعه کې، USAID د تير مالي کال بسپنو څخه، د رواني بوديجې مرسته کې شاوخوا $400 مليون ډالر منلي او له $76 مليون ډالر څخه ډير يې ورکړي. په مجموعي ډول، USAID تر سپتمبر 30، 2013 پورې رواني بوديجې مرسته کې $2.83 مليارد ډالر منلي او $2.02 مليارد ډالر يې تاديه کړي، لکه څنګه چې د راتلونکي مخ په شکل 3.35 کې ښودل شوي.[570]

متحده ايالات د افغانستان لپاره قانون او نظم باوري فنډ (LOTFA) او افغان بيارغونې باوري فنډ (ARTF) ته د رواني بوديجې مرستې په حيث څواړخيز باوري فنډ مرستې

شکل 3.35

**د يو ايس ايد له اوږده ژمن شوې او تاديه شوې مرسته، مالي کال 2002 – مالي کال 2013** (مليونه ډالري)




يادښتونه: لومړي راغونډي دي: زيري ژمنې د پروژو ليول قراردادونو لپاره دي.

[a] دمالي کال 2012 لپاره د بوديجې د مرستې لپاره بسپنې د سپتمبر 30، 2013 پورې نه وې ژمنې شوې.

[b] د 2013 خرچې د تير شوي مالي کال د بسپنو څخه شوي. د مالي کال 2013 لپاره ژمنې او تاديې لا تراوسه نه دي معلومې.

سرچينه: USAIDد سګار ډيټا کال ته د يوايس ايډ ځواب، 10/10/2013.

شاملوي. دا فنډونه، چې په ترتيب سره د UNDP او نړيوال بانک لخوا اداره کيږي، افغان ملي بوديجه حمايه کوي، مګر په بشپړ ډول د افغان حکومت اداري لاندې ندي. LOTFA او ARTF ته د متحده ايالاتو او نړيوالو کومکونو په اړه توضيحاتو لپاره 78 مخ وګورئ.

## د متحده ايالاتو د متحده ايالاتو ملکي - نظامي ستراتيژيک کاري چوکاټ

پدې ربعه کې، متحده ايالاتو د افغانستان لپاره يو تازه شوی د متحده ايالاتو ملکي — نظامي ستراتيژيک کاري چوکاټ خپور کړ، چې افغان کنټرول ته ليږد او په راتلونکې لسيزې کې د ګټو په خوندي ساتلو تاکيد کوي.

نوموړی کاري چوکاټ په افغانستان کې د متحده ايالاتو دوه لوی ستراتيژيک اهداف تصريح کوي: (1) د القاعدې او اړوندو له منځه وړل او پای کې ورته ماتې ورکول او افغانستان ته د هغوی بيرته راتګ څخه مخنيوی؛ او (2) د افغانستان پياوړي کول نو پدې سره به افغانستان بيا هيڅ کله د نړيوال تروريزم لپاره خوندي جنت ونه ګرځي. د دې کاري چوکاټ لاندې، به متحده ايالات په درې بيارغنيزو برخو تمرکز وکړي — حکومتداري، د قانون پلي کول، او ټولنيز-اقتصادي پراختيا — ټول د امنيت اساس باندې جوړيږي. کاري چوکاټ په ټولنيز-اقتصادي سيکتور کې څلور لومړيتوبونه طرح کوي:

- د کليدي صنعتونو پراختيا له لارې د اقتصادي ودې ملاتړ کول، په شمول د کرهنې، استخراج، مخابراتو، سپک صنايع او خدماتو
- افغان حکومت ته د مشورې او مرستې له لارې د افغان روغتيا او تعليم وده، په بيله بيا روغتيا او تعليم کې اړوند پانګوونې
- افغان اړوند وزارتونو سره مرستې او ملاتړ له لارې د افغانستان سيمه ايز اقتصادي يووالي وده
- د کليدي اقتصادي زيربنا له لارې د اقتصادي ودې ملاتړ او د افغان حکومت ظرفيت پياوړي کول ترڅو دغه زيربنا اداره کړي[571]

د بهرنيو چارو وزارت په وينا، د متحده ايالاتو حکومت غواړي چې په 2014 کې د ملکي - نظامي ستراتيژيک کاري چوکاټ د څو کلن يوکړى شوي هيواد ستراتيژي سره بدل کړي چې د پاليسي لومړيتوبنه، اهداف او د دوى لاسته راوړو معنى طرح کوي.[572]

ملکي - نظامي ستراتيژيک کاري چوکاټ يولړ فرضياتو باندې رامنځته کړى شوى چې ممکن معتبر نه وي. د مثال په توګه، دا فرض کوي چې افغان حکومت به د ټوکيو دوه اړخيز د حساب ورکوونې کاري چوکاټ کې طرح شوي شودنو باندې کافي وده لاسته راوړي، چې د نړيوالې ټولنې لخوا مداوم مالي ملاتړ کې پايله کيږي. په هرصورت، د مشر رهبرانو د جولاى 2013 ناستې ګډ راپور د ټوکيو دوه اړخيز د حساب ورکوونې کاري چوکاټ ناستې باندې د افغان حکومت پرمختګ ارزولو کې پايله کوي چې دې په ځينې کليدي ساحو کې وده نده کړې، لکه د ډيرشوي عايداتو راټولول. مشر رهبرانو په نښه کړې چې افغان حکومت د ماليو پلې کول د خراب امنيتي وضعيت، د قانون حاکميت محدوديت، او ټيټ اداري ظرفيت په واسطه په ډيريدونکي توګه په شا تلې.[573]

اصلاح کړى شوى د متحده ايالاتو ستراتيژيک کاري چوکاټ دا هم فرض کوي چې امنيتي چاپيريال به پلې کونکي ملګرو ته اجازه ورکړي چې د پراختيايى مرستې فعاليتونو ته دوام ورکړي په بيله بيا کافي نظارت پرمخ ويسي. اوس د USAID/افقانستان نظارت او څيړنې خپل د 2012 په بيا کتنه کې د USAID عمومي پلټونکي دفتر په نښه کړې چې د لوړ ګواښ چاپيريالونو لکه افغانستان کې د پراختيا پروګرامونو اداره کول د ځانګړې نظارت خطرات او ننګونې له ځانه سره لري. بياکتنه په افغانستان کې امنيتي وضعيت شرح کوي — حتى د نړيوالو ځواکونو په شتون کې — د "USAID/افقانستان پروګرام نظارت او څيړنې ته د پام وړ او مداوم فشار" په حيث.[574]

## د سيګار ځانګړې پروژه

سيګار په 2014 کې له افغانستان څخه ډيرى نړيوال ځکړه ايى ځواکونو وتلو سره د متحده ايالاتو فنډ ورکړى شوي بيارغونې هڅې مناسب نظارت څخه اطميينان ته د ورتيا په اړه انديښنې دى. د لازياتو معلوماتو لپاره، 2 برخه، مخ 45 وګورئ.

**د ټوکيو دوه اړخيز حساب ورکوونې کاري چوکاټ، په 2012 کې د ډونرانو په يوه کانفرانس کې د افغان حکومت او نړيوالې ټولنې په واسطه تاسيس شوى، د دې لپاره رامنځته کړى شوى و چې د 2015 په اوږدو کې افغانستان ته د پراختيا نړيواله مرسته بنه کړي. مرسته په کاري چوکاټ کې شرح شوې د افغان حکومت ژمنو باندې ولاړه ده.**

## بانکداري او مالي چارې

د افغانستان د بانکدارۍ او مالي چارو سيکتور په 2010 کې د کابل بانک نږدې سقوط څخه ندى ستون شوى، او د پيرودونکو د باور له لاسه ورکول ګالي. د نړيوال بانک 2013 يوه راپور په وينا، د کابل بانک رسوايي په ويښتيا کې په افغانستان کې د لوى بانکونو پلټنې "د بانکدارۍ اداره کولو او عملياتو په ټولو چارو کې سيستماټيک کمزوري او ضرر ليدنه" رابرسيره کړې.[575] د بهرنيو چارو وزارت راپور ورکوي چې د افغانستان بانکونو سياسي مداخلې او د نظارت نه شتون زغمي.[576] د مثال په توګه، د افغانستان د پيسو منځلو ضد/د تروريزم پانګوونې سره مبارزې کنټرولونه په لويه کچه ناکاره ليدل کيږي.[577]

عمومي اهالي په بانکونو بې باوره دي، او خوښوي چې د کورنیو او ملګرو سره پور او خوندي کړي، او د پیسو لیږد د غیررسمي "حواله" سیستم له لارې سرته ورسوي.[578] په پایله کې د بانکي سیکتور پور څخه تر امانت ایښودنې نسبت په 2010 کې 56.8% څخه 23% ته په 2012 کې راولیدلی دی.[579]

خزانه نوموړی سیکتور په عمومي توګه ضعیف ټاکي، د څو بانکونو سره چې په نړیوال معیارونو کار کوي، پداسې حال کې چې ظرفیت، په شمول د بانک نظارت لا په ټیټه کچه پاتې دی. سیکتور ډالري شوی هم دی چیرې چې افغانان ترجیح ورکوي د ملي پیسو، افغانیو (AFN) پرځای بهرني اسعار وکاروي، کوم چې د ډالر پرورانديې یې ارزش کموي (57 افغانۍ 1 ډالر). د خزانې په وینا، هیڅ یو یوستوی بانک د کابل بانک بحران سره سیستماتیک خطر سره ندی مخ شوی، مګر د بانکدارۍ سیکتور په مجموعي ډول راتلونکي نیستۍ ته د ضرر وړ دی.[580]

په ورته وخت کې، ځینې لوی نړیوال بانکونه ډیرشوي قانوني تحقیق ته د خطر او رسوا کیدو راکمولو لپاره بهرني بانکونو سره خپل معاملات محدودوي. د خزانې په وینا، ممکن دا د افغان بانکونو مطابق حساب اړیکې په خطر کې واچوي.[581]

## د پیسو مینځل

د افغانستان د پیسو مینځلو ضد/د تروریزم مالي چارو سره مبارزې (AML/CFT) قانون پیښلیک — چې پارلماني تصویب ته په تمه دی — د نړۍ په کچه پیژندل شوي مالي عمل کاري ځواک (FATF) معیارونه نه پوره کوي، پرته د متحده ایالاتو او د هغې نړیوالو ملګرو دننه کونو څخه. کابینې نوموړی پیښلیک د جولای په 1 نیټه تصویب کړ.[582]

FATF په ځانګړې ډول افغانستان وراندیز کوي، چا چې د AML/CFT عمل پلان رامنځته کړی، د مناسب جرمي پیسو مینځلو او تروریست مالي چارو په واسطه د هغې نواقصو ته په اشارې؛ د یوه قانوني کاري چوکاټ جوړول او پلي کول چې د تروریست پانګې وپیژني، تعقیب او کنګل یې کړي؛ د ټولو مالي سیکتورونو لپاره د یوه مناسب نظارت پروګرام پلي کول؛ د پیسو ضبطولو او پانګو مینځلو لپاره د مناسب پروسیژر رامنځته کول او پلي کول؛ په بشپړ ډول د کاري او فعال مالي اطلاعاتو واحد رامنځته کول؛ او د پولو په اوږدو کې د نغدو لیږدونو لپاره د مؤثره کنټرولونو رامنځته کول.[583]

د بهرنیو چارو وزارت په وینا، که وراندیز شوي بدلونونه د افغانستان عمل پلان کې رامنځته نشي او پارلمان پیښلیک قانون لکه څنګه چې لیکل شوی پاس کړي، نو احتمال شتون لري چې FATF افغانستان له پامه وغورزوي.[584] د FATF کم ارزش ورکول ممکن د افغانستان بانکدارۍ سیکتور لانور هم ضعیف کړي. په بحراني حالاتو کې چیرې چې نړیوال مالي سیستم ګواښ سره مخ بریښي، د FATF غړي ممکن د متقابل مالي اقدام پلي کول وغواړي، لکه د هغوی په واکمنۍ حدودو کې د ځانګو او فرعي ځانګو خلاصولو ته د لوړ خطر هیوادونو څخه د مطابق ارتباط غوښتنو ردول. دا مهال فقط دوه هیواده نوموړی معیار سره سمون کوي: ایران او شمالي کوریا.[585]

**د پور څخه تر امانت نسبت:** د یوه بانک پیسو ته بدلولو ارزونې لپاره کارول کیږي (د لنډې مودې اعتبار)، د هغې ټولټال پورونو په ټولټال امانتونو په واسطه تقسیم سره، د سلنې په حیث شرح شوی. دا د فنډونو ایستلو لپاره د پیرودونکو غوښتنې پوښلو ته د مالي نهاد ورتیا محاسبه کولو لپاره کارول کیږي. که نسبت ډیر لوړ وي، بانک ممکن د نه وراندوینه شوي اړتیاو پوښلو لپاره ناکافي پیسو ته بدلول ولري. که ډیر ټیټ وي، بانک ممکن هغومره لاسته نه راوړي چې کولی یې شو.

**برابر حسابونه:** د متحده ایالاتو بانکونو کې بهرني مالي نهادونو په واسطه ساتل شوي حسابونه پدې ترتیب چې د متحده ایالاتو مالي سیستم ته لاسرسی لاسته راوړي او د هغه خدماتو او تولیداتو څخه ګټه پورته کړي چې ممکن د بهرني مالي نهاد قلمرو کې موجود نه وي.

**د مالي عمل کاري ځواک (FATF):** یو بین دول پالیسي جوړونکی نهاد چې د نړیوال مالي سیستم یوکولو ته د پیسو مینځلو، تروریست مالي چارو، او نورو اړوند ګواښونو سره مبارزې لپاره د قانوني، مقرراتي او عملیاتي ګامونو مؤثره پلي کولو ته وده ورکوي او معیارونه ورته برابروي. متحده ایالات یې غړی او افغانستان د اسیا/پسیفیک ګروپ له لارې د پیسو مینځلو شریک غړی دی.

منابع: Investopedia، "د پور نه امانت ته نسبت،" په 9/30/2013 کې خپور شوی؛ مالي فارمولې، "د پور نه امانت ته نسبت،" په 9/30/2013 کې خپور شوی؛ د فدرال مالي نهادونو ازمونې کونسل بانک پټ قانون/د پیسو مینځلو ضد معلوماتو بیز، "برابر حسابونه (بهرني) ـ عمومي کتنه،" "د پور نه امانت ته نسبت،" په 10/1/2013 کې خپور شوی؛ د مالي عمل کاري ځواک، "موږ څوک یو،" په 10/4/2013 کې خپور شوی.

د بهرنیو چارو وزارت د نړیوال تریاکو کنټرول ستراتیژۍ راپور افغانستان په 2012 کې د پیسو مینځلو لوی هیواد په حیث لیست کړی دی. راپور وایی چې غیرقانوني مالي فعالیتونه "د افغانستان امنیت او پراختیا ته جدي ګواښونه رامنځته کولو ته دوام ورکوي." د راپور په وینا، د پیسو د لیږد حواله میتود د ډیرې پیسو مینځلو زیرمه ده. افغانان په بانکي سیکتور کې د رسمي درغلۍ او ضعف له امله په سنتي حواله شبکو باندې تکیه کوي.[586]

## کابل بانک

په 2010 کې د نړدې سقوط دمخه کابل بانک د افغانستان تر ټولو لوی د بانکي خدماتو چمتو کونکی و، چې د افغان حکومت لپاره یې ډیری ملکي معاشات توزیع کول.
$935 ملیون ډالرو دباندې 92% چې د بانک څخه غلا شوې و 19 افرادو او پانک پورې اړوند شرکتونو ته تللي. د افغانستان مرکزي بانک، د افغانستان بانک (DAB)، دا ضایعات وپوښل، د افغانستان 5–6% GDP سره مساوي.[587]

## د نغدو پیسو او پانګې بیرته لاسته راوړل

د دې راپور ورکوونې پرمهال، د متحده ایالاتو پلې کونکو ادارو راپور ورکړ چې د کابل بانک څخه غلاشوې پیسو نوې لاسته راوړنې نه وې.[588] د نړیوالو لوبغاړو ترمنځ هم په هغه مقدار ثابت توافق شتون نلري چې د کابل بانک بیرته لاسته راوړو ډلې (اماتني مقام) دمخه لاسته راوړي. DAB راپور ورکړی چې تر جون 30، 2013 پورې $168.4 ملیون ډالر بیرته لاسته راغلي. د ټوکیو دوه اړخیز د حساب ورکوونې کاري چوکاټ پلې کولو باندې د مشر چارواکو ناستې ګډ راپور تر جولای 3، 2013 پورې $173.2 ملیون ډالر ثبت کړي. د افغانستان د فساد ضد او نظارت او څیړنې خپلواک ګډې کمیټې (MEC) خورا اخرنې شپږ میاشتو راپور (جنوري 1 - جون 30، 2013) $172.9 ملیون ډالر بیرته لاسته راوړنې درلودې.[589] شمیر یې که هرڅه وي، خو هر یو د غلاشوې پیسو 20% څخه کم مقدار شمیرې راپور ورکړی.

## استیناف

په مارچ 5، 2013 په کابل بانک د سترې محکمې ځانګړې محکمې په 21 افرادو د درغلۍ حکم خپله پریکړه صادره کړه. د درغلۍ دوه مشران، پخوانی رییس شیرخان فرنود او پخوانی اجرایوي رییس خلیل الله فیروزي، ته لږ څه د پنځه کالو زندان محکومیت او د جبران فقط یوې برخې بیرته ورکولو حکم شوی و. د افغانستان لوی څارنوالۍ (AGO) په مارچ 16، 2013 په پریکړې د استیناف غوښتنه وکړه، چې پکې د دواړو لپاره د زندان ډیرې مودې او اضافي محکومیتونه شامل و.[590]

پدې ربعه کې د کابل استینافي محکمې عامه - امنیتي قسمت دمخه دوه استینافي اوریدا د سپتمبر په 15 او 29 سرته ورسیدې. د متحده ایالاتو د عدلیې وزارت (DOJ) په وینا، استینافي محکمه د لوی څارنوالۍ سپارنو څخه خوښه نه وه، په ځانګړې ډول د استیناف لپاره د هغې قانوني بنیادونه او د پیسو ښودل شوی مقدار، خو څارنوالانو ته یې فرصت برابر کړ چې اصلاح یې کړي.[591] د MEC په وینا، په سپارنو کې خامیانې فضول دي،

خاصتا کله چې AGO ته تخنيکي ملاتړ شتون درلود.[592] معلومه لا نده چې استينافي محکمه به کله خپله پريکړه اوروي. د دې پريکړې په تعقيب، چې ممکن د اصلي پريکړې څخه درنده يا سپکه وي، استيناف کيدی شي د نهايي بياکتنې لپاره سترې محکمې ته ولاړشي.[593]

## تعقيب

د افغانستان لوی څارنوالۍ پدې ربعه کې نوې تحقيقات په لاره ندي اچولي، نوې تورونو يې ندي دوسيه کړي، او هيڅ اضافي مدعيان يې ندي تورن کړي پرته له دې چې په کابل بانک د سترې محکمې ځانګړې محکمې په مارچ 2013 کې د داسې کولو حکم وکړ. پدغه وخت کې، ځانګړې محکمې د موجود حکمونو شتون سره د 16 افرادو نيولو او تعقيب حکم ورکړ — د کومو ډيری چې اوسمهال له هيواده تښتيدلي — او د نورو 16 افرادو پلټنه او تعقيب د غيرقانوني پورونو لاسته راوړونکو په حيث. DOJ په مکرر ډول په دغه سستي د AGO بيلابيل نمايندګانو سره وغږيده، خو ګټه يې نه درلوده.[594]

## د فساد ضد نظارت او څيړنې خپلواک ګډه کميټه

پدې ربعه کې، MEC افغانستان ته د خپل لسم درې مياشتني ماموريت په ترڅ کې سفر وکړ او خپل څلورم شپږ مياشتنی راپور يې خپور کړ، چې د جنوري 1 - جون 30، 2013 پوښي. په ټولنيز - اقتصادي برخه کې MEC لاندې مشاهدات سرته رسولي:

- فقط څلور ډونران د هغې وړانديز سره په بشپړ ډول سمون کوي چې د ډونر پراختيا پروژې بايد د ماليې وزارت پراختيا مرستې ډيټابيس کې راجيستر وي (کاناډا، ناروی، سويډن او EU). څينې ډونران شکايت کوي چې نوموړی ډيټابيس مل ندی، خو MEC شودلي چې په راجستر کې پاتې راتلل د ليږد وروسته کولی شي افغان ادارو ته د نظارت او ثبات ستونزې رامنځته کړي.
- د افغانستان ملي معيارونو مقام په ډيری سرحدي ځاينو کې د کيفيت کنټرول ډيری لابرتوارونه بسپنه کړي په بيله بيا په ذخيرو، زيرمو او لوی لارو کې ترانسپورت په حال کې توکو کيفيت د ازمولو لپاره ګرځنده لابرتوارونه. اوس يو کال وروسته، نوموړي لابرتوارونه کار نه کوي.
- افغانستان د کابل بانک پيسو تعقيب او نيولو لپاره جدي هڅې ندي کړي چې 28 بيلابيل هيوادونو ته مينځل شوي، يا د نورو پوروړو څخه د پيسو بيرته لاسته راوړل.[595]

## نوی کابل بانک

MOF او د افغانستان مرکزي بانک پدې ربعه کې خپلې هڅې له سره پيل کړې چې نوی کابل بانک (NKB) خصوصي کړي، يو موقتي "مواصلاتي بانک" چې د کابل بانک څخه ښې پانګې او امانتونه لري. لومړی خصوصي کوونې هڅه د دې کال په نږدې کې هغه مهال ناکام شوه، کله چې MOF يوه لاسته راغلې داوطلبي رد کړه.[596]

MOF او DAB د خصوصي کوونې نوې وړانديز په سپتمبر 3، 2013 اعلان کړه؛ د داوطلبۍ نوم ليکنه د سپتمبر په 30 پای ته ورسيده. د پروپوزلو لپاره د پای نيټه اکتوبر 30 ده؛ رسمي داوطلبي به د نومبر په 1 نيټه پيل شي.[597] د NKB خصوصي کول، کوم چې

د حکومت زرهاو کارمندانو څخه سلګونه تنو ته د معاشاتو ورکړه او مستقيم امانت خدمات چمتو کوي، د ECF يو محک دی. MOF خصوصي پانګوالو ته د نوي کابل بانک پلورل غزوي يا د 2013 پای کې يې له منځه وړي.[598]

د Grant Thornton LLP په واسطه د NKB کال 2012 خپلواک مالي پلټنه پرته د خصوصي کوونې څخه د سوداګرۍ دوام لپاره د بانک وړتيا په اړه نامحدود انديښنه بيانوي. NKB په 2012 کې په اوسط ډول په مياشت کې $1.85 مليون ډالر ضايع درلوده.[599] خزانه د افغان حکومت د يوه چاروکي له خولې راخيستي چې وايي NKB دا مهال په مياشت کې $500,000 تاوان کوي. رسمي وړاندوينې په راتلونکو مياشتو کې په هره مياشت کې ضايعات $300,000 ته راکمېدل په نښه کوي.[600] د IMF او خزانې په وينا، د NKB معطوف مقام نشتون، پلور ته د وړاندې کيدو نه مخکې وده ايز پام، او د محافظه کار پانګې مديريت ستراتيژۍ محافظت ته اړتيا پدې معنی ده چې دا به د پلور دمخه يوڅه د چلولو تاوانونو ګاللو ته دوام ورکړي.[601]

## د طبيعي زيرمو پراختيا

متحده ايالات، افغان حکومت او نړيواله ډونر ټولنه د بهرنۍ کميدونکې مرستې په آينه کې راتلونکي اقتصادي ودې ملاتړ لپاره د افغانستان طبيعي زيرمو پراختيا باندې حساب کوي. که څه هم تر نن نيټې پورې کان کيندنې د هيواد ناخالص کورني توليد 2% څخه لږ جوړول، افغان حکومت تمه لري چې په عينک (مس) او حاجي ګک (اوسپنه) کانونو کې د لوی مقدار پانګوونې څخه د پام وړ عايدات لاسته راوړي، او په افغان - تاجک حوزه کې د تيل او ګازو زيرمو څخه.[602] په هرصورت، سيګار په کلکه خبرداری ورکړی چې افغان حکومت ممکن د افغانستان منرالونو، ذغال، پټرول، او طبيعي ګاز زيرمو څخه پدې نږديو کې د مهم عايداتو لاسته راوړو وړ نه وي ځکه چې د دوی پراختيا لپاره د پام وړ زيربنايي پانګوونې ته اړتيا ده.

متحده ايالاتو د دفاع وزارت سوداګرۍ او ثبات عملياتو لپاره کاري ځواک (TFBSO) له لارې افغان حکومت هڅې حمايه کړې چې د کان کيندنې سيکتور کې پانګوونه جلب کړي. TFBSO تر سپتمبر 30، 2013 پورې، په FY 2013 کې د کان کيندنې سيکتور پراختيا لپاره په بشپړ ډول خپل $17.2 مليون ډالر ژمن کړي.[603]

### د کانونو نوی قانون

پدې ربعه کې پارلمان ته په تمه د کانونو نوي قانون پيښليک باندې هيڅ حرکات نه و. تر سپتمبر 30، 2013 د کانونو نوی قانون پيښليک د پارلمان ولسي جرګې طبيعي زيرمو کميټې بياکتنې لاندې دی، کوم چې د کانونو او بټروليم وزارت (MOMP) څخه ډيری توضيحات او وضاحتونه وغوښتل. يوځل چې د دواړه مشرانو او ولسي جرګې لخوا تصويب شو، دا به ولس مشر ته د نهايی تصويب لپاره وليږدول شي.[604] د دفاع وزارت TFBSO خبرداری ورکوي چې پرته د قانون اصلاح څخه، چې په برخه ډول د پانګوال سپړنه او د استخراج حقوق سره نښلوي، او يوه رسمي او ټاکلې حق الامتياز نرخ بنياد ږدي، ډيری شرکتونه به په نوي وړانديزونو داوطلبي ونکړي او ممکن په موجود مقررۍ ترونونه لاسليک نه کړي. د TFBSO په وينا، ځنډ د خصوصي سيکتور پانګوونه د پام وړ په شا غورځولې.[605]

د کان کیندنې ډیرى لوى تړونونه چې د کانونو نوي قانون پاس کیدو له امله پرځاى پاتې دي، پکې شامل دي: حاجیګک (وسپنه، په نومبر 2011 کې ورکړل شوى)؛[606] شیدا (مس، نومبر 2012)؛ بدخشان (سره زر، نومبر 2012)؛ بلخاب (مس، نومبر 2012)؛ او زرکشان (سره زر، دسمبر 2012).[607]

د یوه اصلاح شوي کانونو قانون تصویب مفهوم دا دى چې افغان زیرمې ښې خوندي شي، پانګوال وهڅول شي، او نړیوالو کړنو ته غوره مقررات ترتیب شي. دا د IMF او ټوکیو د حساب ورکوونې دوه اړخیز کاري چوکاټ یو مهم محک دى چې په مجموعي ډول د مالي ثبات لپاره د افغانستان عایداتو ته وده ورکړي.[608] لکه څنګه چې اوس لیکل شوى، په هرصورت، د کانونو نوى قانون پیښلیک د کان کیندنې شرکتونو څخه غواړي چې په اختصاصي ډول افغان کارګران په کار وګماري او د بهرني اجناسو پرځاى افغان توکي پیرودلو ته لومړیتوب ورکړي. دا مقررات د نړیوال سوداګرۍ نهاد قوانینو سره موافقت ته مناسب ندي او کولى شي خصوصي پانګونه تحذیر کړي، د بهرنیو چارو وزارت په وینا.[609]

## د کانونو او پیترولیم وزارت سره مرسته، او د افغانستان جیولوژیکي سروى

متحده ایالاتو پدې ربعه کې MOMP، د وزارت افغانستان مقام (APA)، او افغان جیولوژیکي سروى (AGS) ته تخنیکي مرستې چمتو کولو ته دوام ورکړ، په لویه کچه د TFBSO او متحده ایالاتو جیولوژیکي سروى (USGS) له لارې. دا نهادونه د کاني او هایډروکاربن ورانديزونو، تیل او ګاز معلوماتو مدیریت ملاتړ کوي او د هغې نړیوال کان کیندنې او هایډروکاربن ورانديز پروګرامونو لپاره انجینري، قانوني اسناد، او مالي لیږد خدمات چمتو کوي. دوى په مدرن معلوماتو راټولولو تخنیکونو کې په لاس روزنې او صنفونو ماډلو له لارې MOMP او AGS کې ظرفیت هم جوړوي.[610]

APA TFBSO ته د موضوع مهم ماهر ملاتړ چمتو کوي — تخنیکي (د تیل او ګاز انجینري)، قانوني (د تړون پلي کول)، او مالي (محاسبه او څیړنې) — اساسا د امو سین سپړنې او تولید شریکولو تړون نظارت کې مرسته. TFBSO د APA نهادي چارت په جوړولو کې مرسته کړې، او د کار ګمارنې پروسې کې بشري منابع ته مشوره وړاندې کوي.[611]

برسیره پردې، د TFBSO تاسیس شوى قانوني او جیولوژي ډله د MOMP سره کار کوي ترڅو د ګټې نوې ساحې وپیژني او وړاندیز کړي، په شمول د درې سیمنټ جوړولو ساحې او دوه د مسو/سره زرو کان کیندنې ساحې. MOMP د سیمنټ وړاندیزونه په سپتمبر 22، 2013 اعلان کړل، په نومبر 5 کې د سپارنو سره. تمه کیده چې د مسو او سرو زرو وړاندیزونه په اکتوبر 2013 کې خپاره شي.[612]

## د افغان ثبات لپاره د کان کیندنې پانګوونه او پراختیا

د افغان ثبات لپاره د کان کیندنې پانګوونه او پراختیا (MIDAS) د $41.6 ملیون ډالرو پروګرام د رواني - او ولاړې بودیجې برخو سره دى. د آف بودیجې فیز I، MOMP ته قانوني او مقرراتي اصلاح، تخنیکي مرستې، د کوچني او منځني اندازې شرکتي پراختیا، او جیو ساینس ساحې تحقیق کې مرسته باندې تمرکز کوي. دا به د اړتیا سره سم نور ملاتړ چمتو کړي. د آن بودیجې فیز II د MOMP پیاوړتیا لپاره ډیزاین شوى نو دا کولى شي

د کان کيندنې وړانديز ګيډۍ بشپړتيا لاسته راوړي، پلي کړي او نظارت کړي. تر سپتمبر 30، 2013 پورې USAID د آف بوديجې پلي کولو پيل لپاره د FY 2010 او FY 2011 څخه $6 مليون ډالر منلي.[613]

USAID د MIDAS څخه د لاندې پايلو لاسته راوړلو تمه لري:

- د کان کيندنې قانون کې اصلاحات راوړل چې د خصوصي سيکتور اړتياوې منعکس کوي
- حکومتدارۍ، داخلي کنټرولونو، د پيرود پروسيژرو، او مالي مديريت برخه کې د MOMP ظرفيت ته وده ورکول
- د کان کيندنې سيکتور ته د ملاتړ خدماتو چمتو کولو لپاره افغان کوچني - نه تر اوسط شرکتونو ظرفيت ته وده ورکول
- د MOMP، خصوصي سيکتور، او محلي ټولنو ترمنځ ارتباطاتو رامنځته کول
- افغان کوچني - نه تر اوسط شرکتونو لپاره د پروګرامونو پلي کول ترڅو د کانونو پلټنه، پراختيا او مديريت کې برخه واخلي
- د آن بوديجې بسپنه ورکوونې مؤثره څېړنې لپاره د سيستم رامنځته کول.[614]

USAID به د لاندې ميټريکس پروړاندې د MIDAS بريا وسنجوي: د کان کيندنې سيکتور کې بهرنۍ او داخلي پانګوونې لپاره د سوداګرۍ مل چاپيريال رامنځته کول؛ د پانګوونې جلبولو لپاره د نړيوال معيارونو سره سم د سوداګرۍ مل مقرراتو چاپيريال؛ په وړانديزونو او د ټړونونو ورکولو کې روڼتيا؛ او د استخراجي صنايع سيکتور کې د جندر مساوات.[615] پدې ساحه کې د ودې لپاره لرې ليدونه، په هرصورت، مخکې په 155 مخ کې شرح شوي ستونزو په واسطه اغيزمن کيږي.

## د TFBSO ليږد پلان

کانګريس غوښتنه کړې چې د دفاع وزارت بهرنيو چارو وزارت يا USAID ته د TFBSO پروګرامونو ليږد لپاره يو پلان جوړ کړي. په سپتمبر 13، 2013 د متحده ايالاتو دفاع وزير هاګل د ليږد په پلي کولو د سوداګرۍ او ثبات عملياتو 2013 مالي کال ليږد پلان او راپور لپاره د 2013 مالي کال ملي دفاع واکمنۍ قانون فرمان کاري څواک لومړۍ نسخه لاسليک کړه. دا بايد په هرو 90 ورځو کې د وزير په واسطه بياوکتل شي، اصلاح شي او لاسليک شي. دا مهال، د TFBSO کان کيندنې هيڅ پروګرام د TFBSO انحلال په صورت کې USAID يا د متحده ايالاتو حکومت بلې کومې اداري ته د ليږد لپاره ندی وړانديز شوی. پرځای يې، TFBSOوويل چې دا به د 2014 په پای کې خپلې ټولې پروژې MOMP ته واړوي، يا په کلي ډول د دوی بندولو يا افغان حکومت يا خصوصي افغان شرکت ته انتقال په واسطه. په هرصورت، پروژې بايد 2014 څخه هاخوا د متحده ايالاتو نورو پلي کونکو ادارو په واسطه بسپنه شي.[616]

## د کان امنيت

د کان کيندنې ساحو ته د امنيت چمتو کول لاهم افغان حکومت ته د ننګونې په حيث پاتې دی. د MOMP ويب پاڼې په وينا، ګټل کيده چې د کان امنيت بايد د افغان کانونو ساتنې واحدونو (MPUs) مسؤليت وي، کوم چې اوس هم فقط 1,500 پرسونل لري، حتی که څه

هم وزارت پلان کړې چې 7,000 ته یې ورسوي. دا ارقام په تیرکال کې ناواښتي پاتې شو سره له دې په 2011 او 2012 کې د کان کیندنې ګټو په هدف نیولو سره ډیرې بریدونه سرته ورسید، په شمول د عینک، امو سین حوزه، او افغان - تاجک حوزې پرو‌ړاندې، په بیله بیا د مرمرو کان، ذغال کان او یو د سرو زرو کان.[617]

د بهرنیو چارو وزارت مخکې راپور ورکړی لدې کبله چې MPUs هغسې پرمختګ ندی کړی څنګه چې وړاندوینه شوې، افغان ملي پولیسو د استخراجي صنایع لپاره امنیت په غاړه اخیستی. په هرصورت، د بهرنیو چارو وزارت په وینا، د کورنیو چارو وزارت او MOMP د ساحې امنیت ستونزو مناسب په نښه کولو کې هم پاتې راغلي. TFBSO وویل دا لا روښانه نده چې MPUs به د کافي ساتنې چمتو کولو ته وړ وي او که نه یوځل چې د حاجیګک او څلور مسو او سرو زرو کانونو استخراج پیل شي.[618]

دواړه د بهرنیو چارو وزارت او TFBSO وویل چې دوی له 2012 راهیسې د اضافي بریدونو څخه ناخبر دي، مګر په کنګره ای توګه بسپنه شوې د اروپا آزاده راډیو/رادیو آزادي (RFE/RL) راپور ورکوي چې په سپتمبر کې، د تیلو تولید درولو لپاره د امو سین حوزې کې محلي ملیشه لخوا کارګرانو باندې برید شوی و. دې د سرو زرو او قیمتي ډبرو سوداګرۍ کنټرول باندې د محلي رهبرانو ترمنځ شخړې هم په نښه کړې، په بیله بیا د زیرمو له پلوه بډایه ساحو کې د مرکزي حکومت او ولایتي او قبیلوي رهبرانو ترمنځ جګړې. په دې سربیره، RFE/RL وویل چې طبیعي زیرمې د وسله والو ډلو په واسطه کارول کیږي ترڅو جګړې ته بسپنه برابر کړي، پداسې حال کې چې د کان کیندنې لوی عملیاتي ساحو کې امنیتي چاپیریال لکه حاجیګک، عینک، او امو سین کې د جنګیالیو فعالیت له امله په ډیریدونکې توګه بې ثباته کیږي.[619]

## د عینک مسو کان

افغان حکومت په 2008 کې د لوګر ولایت د مس عینک کان استخراج حقونو لپاره تړون د چین میټالرجیکل کارپوریشن (MCC) ته ورکړ، مګر نوموړې چینایي شرکت وړ نه و چې کنستل پیل کړي. د کان پراختیا په ساحه کې د فرهنګي اثارو موندلو، ځمکې لاسته راوړو کې ستونزو، د اساسي زیربنا نه شتون، او امنیتي اندیښنو له امله وځنډیده.[620] د دې ستونزو برسیره، افغان حکومت د عینک عاید جریان باندې تکیه کوي چې خپل د راتلونکي عاید وړاندوینه ترې پوره کړي.[621]

پدې ربعه کې، افغان رسنیو راپور ورکړی چې MCC د تړون بیا مزاکره کولو ته خپل انتخاب پوره کولو تکل لري. د بهرنیو چارو وزارت وویل چې MCC غوښتل په ځانګړې ډول د یوه ریل خط جوړولو، بریښنا پلانټ، او مسو تصفیې کارخانې جوړولو ته د هغه ژمنې له سره مزاکره کړي. TFBSO په نښه کړې چې حکومت کولی شو په بشپړ ډول د تړون رد او کان بیا داوطلبۍ ته وړاندې کړي. حتی که هیڅ بیامزاکره شتون ونه لري، د بهرنیو چارو وزارت ویل ممکن MCC په پانګوونه کې لانور ځنډ وکړي ترکومه چې هغه د افغانستان د 2014 کال د ولس مشرۍ ټاکنو او د لیږد وروسته امنیتي چاپیریال پایلې وڅیړي.[622] په هرصورت، په سپتمبر کې د اروپا - اسیا اقتصادي غونډې بیجنګ په وخت کې، MOMP اعلان کړه چې ولس مشر کرزي د چین ولس مشر او معاون ولس مشر لخوا باور لاسته کړی چې د چین د عینک او امو سین قراردادي ژمنې "به پرځای وي او په فعال ډول به پلي شي." [623]

## د شمالي عینک کنستل

د TFBSO $4.5 ملیون ډالرو شمالي عینک کنستنې سپړلو پروګرام، چې په نومبر 2012 کې پیل شوی و، د 2013 په پسرلي کې پای ته ورسید، او د MOMP وړاندیز په واسطه به تعقیب شي. پدې ربعه کې پیل شوې د روان روزنې یوه پروژه، د صنف پراساس ماډلو او متواتر کنستنې ګډ روزنه د AGS تجهیزاتو سره. TFBSO هڅه کوي د هغوی خپل لست کې موجود تجهیزاتو کارولو ته د AGS کنستونکو او جیولوژیستانو سره مرسته وکړي، پرته له دې چې ډریلز واخلي.[624]

## د حاجیګک اسپنو کان

د حاجیګک اوسپنې امتیازاتو لپاره د تړون مزاکرات دوام لري. MOMP درې بلاکه په نومبر 2011 کې AFISCO ته نومولي، د هند لمیټیډ دولتي ستیل مقام په واسطه مشري کیدونکې اوه نفري هندي کانسرسیوم، او یو بلاک کاناډایی کیلو ایرن اور ته، د کیلو ګولډماین فرعي څانګه.[625] کیلو آیرن اور په اصل کې د ټول تړون مزاکراتو شرایطو ته رضایت ښودلی. دواړه شرکتونه د کانونو نوي قانون د پارلمان په واسطه تصویب ته انتظار وباسي مخکې له دې چې تړونونه لاسلیک کړي. TFBSO، که څه هم په مزاکراتو کې دخیل ندی، خو راپور ورکوي چې د AFISCO او افغان حکومت ترمنځ مشروط معامله امکان لري د هندي پانګوال اندیښنو له کبله لکه څنګه چې پیل کې فکر شوی و څخه وړه وي.[626]

## هایدروکاربنونه

د خپل تیل او ګاز زیرمو ته وده ورکولو لپاره د افغانستان هڅې د امو سین او افغان تاجک حوزو باندې متمرکز دي، دواړه په شمالي افغانستان کې. پدې ربعه کې، د افغانستان لومړي دوه د تیلو تصفیه په شمالي افغانستان کې حیرتان او شااوخوا ته لګول شوي. د افغان میشته غضنفر ګروپ او کام انټرنیشنل آیل تصفیه خانې به بینزین، د خاورو تیل، ډیزل، تیل او تارکول د کورني مصرف لپاره تولید کړي. دواړه تصفیه خانو د وسعت پلانونه هم برخه کړي. په هرصورت، حتی د دواړه تصفیه خانو کار سره، افغانستان به د سونک توکو لپاره وارداتو پورې په لویه کچه تړلی پاتې شي. هیواد دا مهال په ورځ کې د تیلو تولیداتو 10,000 ټن له ترکمنستان، ازبکستان، روسیه، پاکستان او ایران څخه واردوي.[627]

## د افغان - تاجک حوزې تړون

په سپتمبر 23، 2013 کې د افغانستان وزیرانو شورا د افغان تاجک تیلو او ګاز تړون د نړیوال کانسرسیوم سره تصویب کړ چې د ډراګون آیل (متحده عربي امارات)، ترکیش پترولیم کارپوریشن (ترکیه)، او غضنفر ګروپ (افغانستان) درلودونکی دی. نوموړی تړون په اکتوبر 8 لاسلیک شو. کانسرسیوم د دوه بلاکونو لپاره د سپړنې او تولید شریکولو حقونه لاسته راوړل چې په نومبر 2012 کې نومول شوی و. د داوطلبیو مالي توضیحات لا تراوسه نه اعلان شوي، نه هم د موجود وړاندیزونو ارزښت.[628]

MOMP TFBSO ته د وړاندیز پروسې په اوږدو کې تخنیکي، قانوني او سوداګریز مرسته چمتو کړې، په شمول د موضوع ماهر چې د MOMP تړون ارزیابي ډلې او بین الوزارتي کمیسیون ته د وړتوب او داوطلبۍ پروسو پرمهال مشوره ورکوي؛ د روڼتیا مشاورین؛ او د MOMP داوطلبۍ معلوماتو کنفرانس لپاره بسپنه ورکونه.[629]

## د امو سین حوزې تولید

په سپتمبر 30، 2013 کې MOMP د امو سین حوزې کې 7,131 کلومیتر مربعي سیمه، پراختیا او تولید لپاره نوی وړاندیز اعلان کړ. د ټرون ساحه دوه د ګاز پیژندل شوي ساحې او 50 تثبیت شوي او په راتلونکي کې مؤثر د کان کیندنې جوړښتونه لري. د ګټو بیان جنوري 2014 ته ټاکل شوی.[630]

د امو سین حوزې ورکړل شوي درې بلاکونه په تخمیني ډول 87 ملیون بیرل خام تیل لري، د بهرنیو چارو وزارت او TFBSO په وینا.[631] د چین ملي پیترولیم کارپوریشن وطن انرژي افغانستان (CNPCI-W) پدې کال کې تر اګست 31، 2013 پورې له درې بلاکونو څخه شاوخوا 14,916 بیرل خام تیل تولید کړل، په تیر ربعه کې راپور شوي څخه شاوخوا 4,200 ډیر. په هرصورت، د TFBSO په وینا، CNPCI-W د دې په لټه کې ندی چې د FY 2013 لپاره اړین حد اقل د 1.65 ملیون بیرل تولید وکړي. افغان حکومت تر اګست 31، 2013 پورې حق الامتیاز او د سطحې کرایې فیس کې $4.67 ملیون ډالر لاسته راوړي، چې د تیر ربعه څخه هیڅ بدلون نه وړاندې کوي.[632]

له دې کبله چې افغانستان د تصفیه مناسب ظرفیت نلري، CNPCI د ظرفیت څخه ټیټ تولید لري پداسې حال کې چې کار کوي د خپل تولید لپاره پیرودونکی خوندي وساتي. د TFBSO په وینا، CNPCI-W د 1.75 ملیون بیرلو لپاره یو پیرودونکی لري، مګر انتظار باسي چې افغان حکومت د پولې متقابل ټرانزیټ تړونونه لاسلیک کړي نو دا کولی شي چې خپل خام تیل د تصفیې لپاره یوه ګاونډي هیواد ته صادر کړي.[633]

## کرهنه

کرهنه افغان وګړو لپاره د کار موندنې او دوام اصلي زیرمې په حیث شتون ته دوام ورکوي. فقط 12% ځمکه د کر وړ ده او له 6% لږه کرل شوې، بیا هم نوموړی سیکتور د ناخالص داخلي تولید 31% لپاره حسابیږي او د نړیوال بانک خورا اخرني راپور په وینا، د کاري ځواک شاوخوا 59% ته کار موندنه چمتو کوي.[634] دې ته ورکړشوی اهمیت، کرهنه کولی شو د کورني ناخالص تولید ودې، وده شوي غذایی امنیت، او لانور ټینګ د کار موندنې فرصتونو لپاره کتلست وي.[635]

د FY 2002 او FY 2012 ترمنځ، USAID د کرهنې او بدیل پراختیا ته بسپنه چمتو کولو لپاره نږدې $2.46 ملیارد ډالر مختص کړي ترڅو تولید ته وده، بازارانو ته لاسرسی ډیر، او د کوکنارو کښت ته بدیل چمتو کړي.[636] له دغې څخه، USAID شاوخوا $29 ملیون لازم او $9 ډالر د کرهنې، مالدارۍ او اوبو لګوونې وزارت (MAIL) کې ظرفیت جوړولو ته مستقیم مرستې لپاره توزیع کړي.[637]

USAID دا مهال کرهنیز سیکتور ته د ډیری پروګرامونو له لارې د آن او آف بودیجې مرسته چمتو کوي. د USAID درې ترټولو لوړ د لومړیتوب پروګرامونه چې مجموعا له $350 ملیون ډالر څخه ډیر کیږي، دي:

- د کرهنې پراختیا فنډ (ADF) او د کرهنې کریډیټ وده (ACE)
- انګیزشي پرمخ وړونکي اقتصادي بدیلونه - شمال، ختیځ، او لویدیز (IDEA-NEW)
- د سوداګریز هارټیکلچر او کرهنې بازار موندنې پروګرام (CHAMP)

## د کرهنې پراختيا فنډ او د کرهنې کریډیټ وده

د کرهنې پراختيا فنډ او د کرهنې کريډيټ وده (ADF-ACE)، د $150 مليون ډالرو په ارزښت د کرهنې کريډيټ يوه پروژه، دوه متمم فعاليتونه لري چې غواړي د کرهنې وزارت هڅې ملاتړ کړي ترڅو پورونه چمتو او د دوی اداره کولو ته د ADF کارمندانو ظرفيت جوړ کړي. ADF د دې لپاره رامنځته کړی شوی و چې د بانکونو، فارم ذخيرو، ليزينګ شرکتونو، او خواړو پروسس کونکو له لارې د کرهنې ارزښت چين ته پورونه وړاندې کړي، کوم چې په بدل کې بزګرانو ته کرهنيز کريډيټ چمتو کوي. ADF-ACE نهه نوښتي مالي توليدات ډيزاين او په لاره اچولي.[638]

ACE د تخنيکي مرستې برخه ده چې ADF ټول د معطوفيت فعاليتونه اداره او د کرهنې وزارت ظرفيت جوړولو کې مرسته کوي.[639] پدې ربعه کې، USAID راپور ورکړی چې، د يوه مالي نهاد په حيث د ADF راجستر کولو کې ځنډ له امله، د کرهنې وزارت وغوښتل چې د ADF پرځای رامنځته شوي پورونو لپاره کاريدو کې د USAID ACE قراردادکونکی (آف بوديجه) ته د هغې پيلي $100 مليون ډالرو آن بوديجې بسپنه ورکوونې ADF $25.6 مليون ډالرو ته بيا سکوپ کړي.[640]

د USAID په وينا، ADF د افغانستان 34 څخه په 30 ولايتونو کې د 20,000 پورې پيرودونکي لري. مجموعا د $80 مليون ډالرو پورې په پورونو کې تصويب شوي، او له دغې څخه $34 مليون ډالر توزيع شوي. USAID د پور ډيفالټ فقط 4% نرخ راپور ورکوي. برسيره پردې برياو، USAID په نښه کړي چې، افغان سياسي او قانوني موانع د ADF قانوني راجيستريشن او معطوف بسپنه ورکوونې ته لاسرسی ځنډولی دی، کوم چې په مقابل کې د پورونو شمير او ګټه اخيستونکو شمير باندې اغيز کړی دی.[641]

## د انګيزشي طرحو پرمخ وړونکي اقتصادي بديلونه - شمال، ختيځ، او لويديځ

د انګيزشي طرحو پرمخ وړونکي اقتصادي بديلونه - شمال، ختيځ، او لويديځ (IDEA-NEW) د پنځه کالو، $160 مليون ډالرو کوپراتيف تړون پروژه ده چې په ختيځ افغانستان کې انتخاب شوي ولايتونو، او د هيواد شمالي او لويديز برخو کوکنارو ساحو کې د کوکنارو ودې ته بديل اقتصادي او کرهنيزه مرسته چمتو کوي. ګټل کيږي چې IDEA-NEW د سوداګريز فرصتونو ډيرولو، مالي خدماتو ته لاسرسي غزولو، او کليدي سيمه ايز صنايع او سوداګريز درشلو لپاره د ارزښت چين پراختيا ودې په واسطه بزګرانو سره مرسته وکړي چې د کوکنارو کښت څخه قانوني کرهنيز توليد ته واوړي. دا د بازار معلوماتو فعاليتونو او پلورلو ودې له لارې د توليد کونکو، سوداګرو او پيرودونکو ترمنځ ارتباطات هم اسانوي.[642]

USAID راپور ورکړی چې يو مليون کورنيو په مستقيم ډول د IDEA-NEW څخه ګټه اخيستې، د تيرې ربعې راپور ورکړشوي 52,242 په پرتله. USAID وويل چې پدې ربعه کې د افغانستان کرهنيز صادرات مجموعا د $5.2 مليون ډالرو څخه ډير و، په تيرې ربعه کې راپورشوي $500,000 ډالرو څخه لوی ډيروالی. برسيره پردې، USAID وويل چې نوموړي پروګرام 12,760 هيکتار ځمکه د بديل غلو کښت لاندې راوړې او 47,298 د بشپړ وخت مساوي دندې يې رامنځته کړې. تر سپتمبر 30، 2013 پورې، USAID د IDEA-NEW ته

146.1$ ملیون ډالر لازم کړي (په تیر ربعه کې راپور شوي څخه 15$ ملیون ډالر ډیر) او شاوخوا 118.3$ ملیون ډالر یې توزیع کړي (په تیر ربعه کې راپور شوي څخه 6.8$ ملیون ډالر لږ).[643] USAID د دې او تیرې ربعه ترمنځ راپور شوي کورنیو ګټو کې د پام وړ 19-قاته څپې په اړه د سیګار پوښتنې ته ځواب نه وایی.

په جون 2012 کې د USAID عمومي پلټونکي دفتر د IDEA-NEW په یوه پلټنه کې یوشمیر ستونزې موندلې، چې پایله کوي: پروګرام غیر متمرکز و، د پروګرام لارښودونه نه و تعقیب شوي، د پروګرام اهداف د فعالیت مدیریت پلان څخه حذف کړی شوي و، او د پرمختګ شواهد تولید نشو کړی. پلټنې دا هم موندلي چې د کارمندانو بدلون په لید، لومړیتوبونو، او عملیاتي سټایل کې شاوخوا مکرر بدلونونه رامنځته کړي و؛ فعالیتونه د USAID او د هغې پلي کونکو ملګرو په واسطه په ناکافي توګه نظارت شوي و یا مستند شوي و؛ د پروګرام مرستې هڅې مداوم نه وې؛ او د کار پروژو لپاره د هغې نغدو پیسو هیڅ معیاري پالیسۍ او پروسیژرو شتون نه درلود.[644]

د پروګرام پای نیټې ګړندي نږدې کیدو د بشپړ کوکنار - اغیز ارزونه مسدود کړې. په هرصورت، USAID جیو فضایی لکینې ملاتړ باندې غړیږي ترڅو د پروګرام اغیز اندازه او د پروژې سروې IDEA-NEW پای مکمل کړي.[645]

د USAID پلي کونکو په وینا، نظارت لاهم یوه ننګونه پاتې ده. USAID خبرورکوي چې د خوندیتوب او ساحې ته لاسرسي په اړه اندیښنې لانورې حساس کیږي ځکه چې د ولایتي بیارغونې ډلې او بهرني جنګي ځواکونه افغانستان پریږدي.[646] سیګار د نظارت په اړه په دوامداره ډول خپلې اندیښنې راپورته کړي ځکه چې په افغانستان کې د نړیوالو پښو منډونه راکمیږي.

## د سوداګریز هارټیکلچر (باغداري) او کرهنې د بازار موندنې پروګرام

د سوداګریز هارټیکلچر(باغداري) او کرهنې د بازار موندنې پروګرام (CHAMP)، په 2010 کې پیل شوی د 40$ ملیون ډالرو پروګرام، غواړي چې د محصول کیفیت لوړولو او صادراتو او سوداګرۍ درشلو د ودې په واسطه بزګرانو کښت سره مرسته وکړي او لانور ګټورې میوې او تاکونه په لاره واچوي. پروګرام د سوداګرو سره هم کار کوي چې ذخیره کولو، پیک کولو، د بخ خونو، او بار وړلو میتودونو ته وده ورکړي.[647]

USAID راپور ورکړی چې له 13,000 څخه ډیرو کورنیو په مستقیم ډول د CHAMP څخه ګټه پورته کړې، پداسې حال کې چې 6,000 هیکتاره ځمکه باندې د میوو 2.8 ملیون نیالګي کښینول شوي دي. ځکه چې CHAMP د 2014 لیږد ته نږدې کیږي، دا به د لوړ ارزښت محصولاتو د ذخیرې وروسته سوداګریز کولو باندې خپل تمرکز واړوي. دا د بازار موندنې له لارې صادراتو ډیرولو په لټه کې دی او د وارداتو ځای ناستي ته وده ورکوي. په هرصورت، USAID وویل چې بې امنیتي د CHAMP بشپړ پلي کیدو ته لا ننګونې په حیث پاتې ده. ترهه ګري ډلو دواړه د CHAMP کارمندان او بزګران ګواښلي، په ځانګړي ډول کندهار، هلمند، زابل، وردګ، لوګر، او غزني ولایتونو کې.[648]

تر سپتمبر 30، 2013 پورې، USAID CHAMP ته 30.3$ ملیون ډالر منلي (د تیرې ربعې څخه هیڅ بدلون) او 29.7$ ملیون ډالر یې توزیع کړي (د تیرې ربعې څخه 3.2 ملیون ډالر ډیروالی).[649]

## لازمي خدمات/پراختيا

له 2002 راهيسې، متحده ايالاتو د بيارغونې بسپنې چمتو کړې ترڅو بريښنا ډېره، سړکونه او پلونه جوړ، او روغتيا او تعليم ته وده ورکړي. دا برخه د لازمي خدماتو وړاندې کولو لکه بريښنا، ترانسپورټيشن، روغتيا او تعليم ته د حکومت وړتيا پرمختګ لپاره د متحده ايالاتو هڅو کې کليدي پرمختګونه په ګوته کوي.

### انرژي

د نړيوال بانک خورا اخرني راپور په نښه کړې چې افغانستان په نړۍ کې د انرژۍ کارولو کې د ټيټو نرخونو څخه يو دی، د فقط 28% نفوس ګريډ سره وصل درلودو سره. له دغو څخه څوک چې وصل دي، په تخميني ډول 77% يې ښاري سيمو کې ژوند کوي.[650]

له دې کبله چې بريښنا د افغانستان پراختيا لپاره حياتي ده، متحده ايالاتو د افغان حکومت او نړيوالې ټولنې سره په همکارۍ د ودې يو يوکړی شوی انرژۍ سيکتور جوړ کړی، چې له 2002 راهيسې يې د بيارغونې يو له مهم لومړيتوبونو څخه دی.[651] له 2002-2011 څخه، USAID يوازې د ESF څخه نږدې 2$ مليارد ډالر د جنراتورونو، فرعي سټيشنو، او انتقال لينونو جوړولو او سيکتور ته د تخنيکي مرستې لپاره چمتو کړي. هغه پلان لري چې په راتلونکي څو کلونو کې لږترلږه 500$ مليون ډالر نور مصرف کړي.[652] برسيره پردې، د دفاع وزارت د قوماندان بيړني ځواب پروګرام (CERP) له لارې د بريښنا پروژو لپاره تقريبا 292$ مليون ډالر چمتو کړي او په اټکلي ډول 700$ مليون ډالر د افغانستان زيربنا فنډ (AIF) له لارې، کوم چې په مشترک ډول د دفاع او بهرنيو چارو وزارت په واسطه اداره شوي.[653] دې مرستې بريښنا ته د افغانانو لاسرسي شمير په 2001 کې له 5% نفوس څخه 30% ته په 2012 کې اړولی.[654]

افغانستان دا مهال نهه جلا د بريښنا سيسټمونه لري. دوه اساسي يې د شمال ختيځ بريښنا سيسټم (NEPS) او د سويل ختيځ بريښنا سيسټم (SEPS) دي. USAID درې پروژې لري چې دواړه سيسټمونو کې د بريښنا تحويلي ډېره او وصل کړي — شبرغان؛ کندهار-هلمند بريښنا پروژه، په کوم کې چې د کجکي بند هايدرو پاور شامل دی؛ او د بريښنا انتقال پراختيا او د اتصال پروګرام. د دفاع وزارت دواړه NEPS او SEPS سره د AIF پروژو له لارې مرسته کوي. افغان حکومت، له نږدې نه دواړه USAID او دفاع وزارت سره همغږي کوي چې، چې دا پروګرامونو ته د تهيه وړ، ګريډ پراساس بريښنا شتون ډېرولو هدف سره لومړيتوب ورکوي.[655] د بريښنا ګريډ وصلول د ټيټې بيې توليد غوره کارولو ودې، د غبرګ توليدولو اختصاصاتو کمولو، او د سيسټم اعتبارپرمختګ ته نومول شوی.

### د شبرغان پروګرام

د USAID په وينا، افغانستان دا مهال د خپل انرژي اړتياو له 70% ډېره واردوي.[656] د ADB سره يوځای، د اورسيز پرايويټ انويسمنټ کارپوريشن (OPIC) او MOMP، USAID د شبرغان پروژه حمايه کوي چې افغانستان سره مرسته وکړي ترڅو د بريښنا توليد لپاره کاريدونکي ګاز زيرمې وپيژني او اداره کړي.[657] تمه کيږي چې د ګاز اختصاصات په نږدې 2014 کې تاييد شي.[658] USAID د دوه ميکانيزمونو له لارې د شبرغان پروګرام خپله

برخه پلي کوي: د 90$ مليون ډالرو آن بوديجې شبرغان ګاز پراختيا پروژه (SGDP)، او د 35$ مليون ډالرو آف بوديجې شبرغان ګاز توليد فعاليت.[659]

تر سپتمبر 17، 2013 پورې د SGDP لپاره 30$ مليون ډالر منل شوي، د 0$ ډالر توزيع سره، چې له تيرې ربعې هيڅ بدلون نه ورانديز کوي؛ پداسې حال کې چې تقريبا 12$ مليون ډالر د شبرغان ګازو توليد فعاليت لپاره منل شوي، د کوم څخه چې تقريبا 9.2$ مليون ډالر توزيع شوي و، چې د تيرې ربعې څخه 1.8$ مليون ډالر ډيروالی وړاندې کوي.[660]

USAID د شبرغان پروګرام 21% بسپنه کوي؛ د اورسيز پرايويټ انويسمنټ کارپوريشن په خصوصي توګه د 300$ مليون ډالرو بسپنه شوې ګازي اور 200 MW بريښنا کارخانې مالي ملاتړ کوي (د مجموعي بسپنه ورکوونې 52%)؛ ADB به د اړوند انتقال لينونو جوړول ملاتړ کړي (مجموعي بسپنه ورکوونې 22%): او MOMP به پاتې ونډه 5%.[661]

## د کندهار - هلمند بريښنا پروژه

د کندهار - هلمند بريښنا پروژه (KHPP) دې ته نومول شوې چې په کندهار کې د بريښنا تامينول ډير کړي او وګړو ته بريښنا لا د لاسرسۍ وړ کړي. دا دې لپاره ډيزاين شوې وه چې د حياتي اړتياو لپاره موقتي ډيزل بريښنا ملاتړ کړي، اوږدمهال هايدرو بريښنا ډيره کړي، او ضايعات کم کړي پداسې حال کې چې سويلي انتقال او د توزيع سيستم پياوړی کړي.[662]

په 2010 کې، USAID بليک او ويچ ته د 266$ مليون ډالرو قرارداد ورکړ ترڅو د بريښنا فرعي ستيشنې له سره احيا کړي، په کندهار ښار کې د منځني - ولتاژ توزيع سيستم لوړ کړي، په کجکي بند کې دريم توربين نصب کړي، او دا مهال موقتي د ډيزل واکمند شوی نوي جنراتورې ډيزاين او نصب کړي. د دفاع وزارت د AIF له لارې د متحده ايالاتو د انجينرانو قل اردو نصب کړی شوي جنراتورونو ته د 2014 په اوږدو کې سونګ توکي بسپنه کوي، او د افغانستان بريښنا شرکت (DABS) په ساحه کې نور موجود جنراتورونو ته سونګ توکي برابروي. د متحده ايالاتو د سونګ توکو مالي کمک ممکن وغزول شي، مګر USAID تمه لري چې دا کم کړي څنګه چې د افغانستان ملي ګټه اخيستنه، DABS د اړين عايد خوندي کولو لپاره اړ ګامونه پورته کوي ترڅو د سونګ توکو لګښتونه ثابت کړي.[663]

د عايد راټولولو ته وده ورکول به ننګونه وي. د سيګار يوې پلټنې موندلې چې برسيره پردې چې USAID پانګوونه کوې دې د DABS - کابل لپاره د ځينې سوداګريز کولو برياو پايله درلوده، په شمول د نغدو راټولونو ډيروالی تر 60%، افغان منفعت لاتراوسه مالي زيان کې کار کوي. DABS ممکن د حکومت مداوم مالي مرستو پرته د خپلو بيلونو تاديې وړ نه وي، کوم چې په 2014 کې پای ته رسيدو ته برابر شوی. برسيره پردې، USAID په DABS - کندهار کې د بل ورکولو سيستم نصبولو لپاره قراردادي اړتيا سرته نه رسوي چې د DABS - کابل سره به موافق او همغږی و. مختلف سيستم د USAID او DABS په واسطه ناکام ګڼل کيده؛ نږدې 700$ مليون ډالر ضايع شوي و. نهايتا، سيګار وموندل چې د ماليه ورکونکو په مليونونو بريښنايي توزيع تجهيزات د کندهار او هلمند لپاره د متحده ايالاتو کنټرول شوي ذخيره کې د نصب لپاره هيڅ ډول روښانه پلان نه شتون سره بې کاره پراته و.[664] د دفاع وزارت په وينا، USAID له هغه راهيسې د نصب يو پلان جوړ کړی.[665]



په هلمند ولايت کې د **کجکي هايدرو بريښنا ستيشن**. (د متحده ايالاتو کابل سفارت عکس)

### د سيګار ځانګړې پروژه

په يوه روانه ځانګړې پروژه کې، سيګار د USAID آن بوديجې مرستې لپاره محافظت ازموي چې د کجکي دريم توربين نصب لپاره يې DABS ته چمتو کوي.

په مارچ 2013 کې، USAID د افغان حکومت سره يو دوه اړخيز د آن بوديجې پلي کولو ليک لاسليک کړ، او د $75 مليون ډالرو ژمنه يې د DABS لپاره وکړه چې د بليک او ويچ پيلي قرارداد څخه بياسکوپ شوې وې، ترڅو د کجکي هايدرو پاور سټيشن کې د دريم توربين نصبولو لپاره مسؤليت په غاړه واخلي. د توربين برخې، په 2008 کې د متحده ايالاتو او انګلستان يوه نظامي ماموريت په ترڅ کې د بريښنا ساحې ته وړل شوې وې، په تارپونو کې له 2008 راهيسې ناجوړ پرتې دي. پدې ربعه کې DABS د CM-AR شرکت د دريم توربين نصب لپاره انتخاب کړی او د ساختماني مديريت يو مشاور يې ورته چمتو کړی. د قرارداد مذاکرات روان دي. د يوې دريمې ډلې د نظارت قرارداد به د USAID په واسطه آف بوديجې بسپنه شي.[666] ترهغې چې دا تړون لاسليک شي او CM-AR د کجکي ساحې امنيت اخيستو وړ وي، د بليک او ويچ تړون د هغې سپتمبر 30، 2013 نيټه تيريدو هاخوا درې مياشتو لپاره غزول شوی پدې ترتيب چې د افغان عامه محافظت ځواک (APPF) له لارې امنيت چمتو شي.[667]

تر سپتمبر 17، 2013 پورې، USAID د KHPP لپاره د ESF فنډونو $229.6 مليون ډالر منلي، او لدغې، تقريبا $191.4 مليون ډالر يې توزيع کړي، د تيرې ربعې څخه د $14.8 مليون ډالرو په ډيروالي سره.[668]

## د بريښنا انتقال توسعه او اتصال پروګرام

د متحده ايالاتو بسپنه شوی د بريښنا انتقال توسعه او اتصال (PTEC) پروګرام د بريښنا توليد، انتقال او توزيع سيستمونو پياوړي او پراخه کولو لپاره ډيزاين شوی و. نوموړی پروګرام په مستقيم ډول د افغانستان ملي پراختيا ستراتيژۍ د ملي انرژۍ تحويلۍ پروګرام حمايه کوي. ستراتيژي د انرژۍ بل ورکولو پروړاندې راټولول نرخ ودې او د بريښنا تحويلۍ ډيروالي لپاره غوښتنه کوي.[669]

د PTEC يوه کليدي برخه د SEPS سره NEPS نښلولو ته د کابل او کندهار ترمنځ د انتقال لين جوړولو لپاره بسپنه ورکوي لکه څنګه چې د راټلونکي مخ شکل 3.36 کې ليدل کيږي. دا 530 کلوميتر اتصال، يوځای د کجکي هايدرو پاور کارخانې بيا احيا سره، په 2010 کې په کندهار کې د پرلګښت او ناپايدار ډيزل بريښنا توليد لرې کولو ته يوازينی د دوام وړ اوږد مهال حل وپيژندل شو.[670]

د NEPS سره SEPS نښلول د څو - ډونر هڅه ده. ADB د لومړي 40 کلوميتر کابل - ارغندي فرعي سټيشن نښلونکي لپاره مسؤل دی، او 332 کلوميتر غزني - کندهار ختيځ فرعي سټيشن نښلونکی به د ADB په واسطه د USAID مهم فنډونو سره جوړشي.[671] USAID به د ارغندي څخه غزني پورې د 120 کلوميتر برخې جوړول د دفاع وزارت AIF په واسطه چمتو کړی شوې DABS ته آن بوديجې مرسته کې د $101 مليون ډالرو سره بسپنه کړي. USAID، MOF، او DABS په فبرورۍ 2013 کې د دې برخې لپاره دوه اړخيز تړون رسمي کړ. پدې ربعه کې، USAID خبرداری ورکړ چې امنيت په سيمه ايز قوماندې ختيځ او په سړک 1 په خرابيدو دی، په ځانګړې ډول، کوم چې به PTEC تعقيب کړي.[672]

د دفاع وزارت د متحده ايالاتو انجينرانو قل اردو (USACE) له لارې، د ارغندي څخه پل علم او ګرديز ته د انتقال لين جوړولو په واسطه NEPS ته توسعه ورکوي.

شکل 3.36

**د برېښنا تقسیم د برېښنا پروګرام**




سرچینې: د سګار ډېټا کال ته د یوایس اېډ ځواب، 7/1/2013، 9/30/2013؛ د سګار کتنې ته د یوایس اېډ ځواب، 7/15/2013.

USAID پلان لري چې د خپل $814 ملیون ډالر PTEC پروژې څخه $417.6 ملیون ډالر د ADB افغانستان زیربنا باوري فنډ (AITF) ته اعانه کړي. له دې څخه، تقریبا $290 ملیون ډالر به له غزني تر کندهار پاتې د انتقال لین جوړولو کې وکارول شي ترڅو SEPS ته د NEPS نښلول بشپړ شي. ADB په دسمبر 2010 کې AITF تاسیس کړ، چې دوه اړخیز، څواړخیز او انفرادي اعانه کونکو ته اجازه ورکړي د ADB سره زیربنا پانګوونو ته مالي چارو برابرولو کې ملتیا وکړي. AITF به د DABS یا نورو افغان وزارتونو له لارې د آن بودیجې پروژې بسپنه کړي. AITF ته اوسني اعانه کونکو کې د نړیوالې پراختیا لپاره د انګلستان ریاست (DFID) او جاپان سفارت هم شامل دي. تر سپتمبر 17، 2013 پورې USAID AITF ته $180.3 ملیون ډالر منلي او $45 ملیون ډالر توزیع کړي، چې تېرې ربعې څخه هیڅ بدلون نه وړاندې کوي. USAID MOF او DABS ته د PTEC لپاره آن بودیجې مرسته کې $263.3 ملیون ډالر منلي، مګر تراوسه یې کوم فنډ ندی توزیع کړی.[673]

## د دفاع وزارت فنډ ورکړل شوي پروګرامونه

د دفاع وزارت په وینا، باوري او پیاوړی د برېښنا تولید، انتقال، او توزیع په افغانستان کې امنیت، ثبات، او اقتصادي ودې ته اساس دی. پدې ربعه کې د دفاع وزارت د FY 2012 او FY 2013 AIF پیسو په کارولو سره ډېری د لومړیتوب انرژۍ سیکتور پروژو پلي کولو ته دوام ورکړ. پدوی کې شامل دي:[674]

- د کندهار برېښنا وصلولو حل
- د کندهار-دوراهی جنکشن انتقال لینونه
- د چاریکار-بازیرک او چاریکار-محمود راقي انتقال لینونه

## د کندهار برېښنا وصلولو حل

دا پروژه ترهغې په کندهار ښار کې د ډیزل برېښنا جنراتورونو لپاره سونګ توکي چمتو کوي چې د دواړه دفاع وزارت - USAID هڅې له لارې د تهیه وړ، پیاوړې برېښنا چمتو شي ترڅو د NEPS او SEPS سیستمونه پراخه او وصل شي.[675] په شوراندام صنعتي پارک او باغ پل کې جنراتورونه په ګډه په منځني ډول د 8–13 MW محصول وړاندې کوي. د بسپنه کوونې کچې له تیرې ربعې راهیسې ندي بدل شوي. د FY 2012 بسپنه ورکوونې د سونګ توکو او عملیاتو او محافظت (O&M) لپاره $79.8 ملیون ډالر پاتې دي. د FY 2013 تخمین شوی لګښت $100 ملیون ډالر دی، په کوم کې چې $90 ملیون ډالر د سونګ توکو او $10 ملیون ډالر د O&M لپاره شامل دي.[676]

د FY 2014 اوسني بودیجې غوښتنه کې $100 ملیون ډالر د ډیزلي برېښنا جنراتورونو او د دفاع وزارت دمخه او USAID برېښنا پروژو یوکولو لپاره دي. دا به په کندهار کې د برېښنا مدیریت د کندهار "برېښنا ټاپوګانو" یوکړی شوي ګرېډ سره یو کولو په واسطه پراخ کړي. د دفاع وزارت پلان لري چې تر په FY 2015 کې د سونګ توکو پیرود ته دوام ورکړي او O&M ته ملاتړ چمتو کړي، مګر DABS ته د جنراتورونو لیږد یې دسمبر 2013 ته نوملی، د شپږو میاشتو لپاره سپیرپارټ سره. د دفاع وزارت وویل چې د لیږد څخه یو کال وروسته پورې به دا تخنیکي ملاتړ چمتو کړي.[677] هغه دا برېښنا د ترهه ګرو پروړاندې مبارزې ته حیاتي بولي ترڅو د اقتصادي پراختیا ملاتړ او د ښاریانو ژوند کچې ته وده ورکولو په واسطه د کندهار باثبات کولو کې مرسته وکړي. د دفاع وزارت وویل چې د کندهار وصلولو حل د افغانستان برېښنا رسولو پلان او د افغانستان لپاره د بهرنیو چارو وزارت پراختیایی پلان په سر کې دی.[678]

## له کندهار تر دوراهیی جنکشن انتقال لینونه

د SEPS پراخولو ته هڅې برخې په حیث، دا پروژه د کندهار ښار څخه تر دوراهیی جنکشن پورې د انتقال لینونو نصب یا ترمیم او په میوند او پشمول کې د فرعي ستیشنونو جوړولو یا ترمیم لپاره هڅو ته دوام ورکوي. د دې پروژې لګښت چې به 2012 کې پیل شوه، $40 ملیون ډالر په FY 2012 فنډونو کې پاتې شو. دا د انتقال لین د SEPS او NEPS وصلولو لوی PTEC پروژې لپاره کلیدي عنصر تشکیلوي او د افغانستان سویل او سویل ختیځ کې د باور وړ برېښنا لپاره اړتیا په ګوته کوي. د دفاع وزارت هدف د DABS سره د اقتصادي، امنیت، ثبات او ظرفیت جوړولو هڅو وده ته ترڅو ورسره مرسته وکړي چې

ګرېږ ته د پانګې پرمختګونو فنډ لپاره کافي عایدات رامنځته کړي. د دفاع وزارت په وینا، په کجکي بند کې نصب ته په تمه دریم توربین په واسطه تولید شوي برېښنا توزیع لپاره د دې پروژې بشپړتیا اړینه ده.[679]

## د چاریکار- بازیرک او چاریکار-محمود راقي انتقال لینونه او د برېښنا فرعي سټېشنونه

دا پروژه به د چاریکار څخه تر بازیرک او د چاریکار څخه تر محمود راقي پورې 83 کلومیتر د انتقال لینونه نصب کړي. دا به د NEPS پراخولو لپاره درې د برېښنا فرعي سټېشنې هم جوړې کړي. د دفاع وزارت نوموړې پروژې لپاره، د FY 2012 فنډونو کې $38 ملیون ډالر او د FY 2013 فنډونو کې $33 ملیون ډالر مقرر کړي، د $71 ملیون ډالرو مجموعا تخمیني لګښت لپاره، پدې ربعه کې کانګریس ته د دفاع وزارت یوې تازه شوي خبرتیا مطابق.
د انتقاللینونو او فرعي سټېشنو لپاره د O&M تخمین شوی کلنی لګښت $580,000 ډالر دی.
د دفاع وزارت کانګریس ته وویل چې نوموړې پروژه به د درې ولایاتو په اوږدو کې 1.15 ملیون افغانانو ته معتبر برېښنا راوړي او د سونګ توکو خصوصي سیکتور ودې سره مرسته وکړي، په ځانګړې ډول کرهنې، پروسس کولو، تولید او د کان کیندنې سیکتورونو کې. د ټول AIF بسپنه شوي پروژو سره نامتناقص، او د رسمي تړون په واسطه، دا پروژه به د بشپړتوب په صورت کې افغان حکومت ته انتقال شي. DABS به د O&M لپاره مسؤلیت په غاړه واخلي. د دفاع وزارت په وینا، د پیرودونکي پراخه شوي اساس څخه ډېرشوي عایدات او وده شوي د راټولولو وړتیا به DABS سره مرسته وکړي چې اوږدمهاله ثبات چمتو کړي.[680] په هرصورت، سیګار د DABS ظرفیت په اړه پوښتنې راولاړې کړي، او نورو پلټنو ویلي چې افغانستان د O&M لپاره ورکړې اړین زیرمې نلري.[681]

## د کجکي بند څخه تر موسی قلا پورې د انتقال لینونه

دا پروژه په هلمند ولایت کې د کجکي بند هایدرو پاور پلانټ څخه تر موسی قلا پورې د نوي انتقال لینونه جوړوي. د پروژې فیز I لپاره په FY 2013 فنډونو کې ټاکل شوي $12 ملیون ډالر به د کجکي څخه تر نوي فرعي سټېشن پورې نوي 110 kV د انتقال لینونو تقریبا 15 کلومیتر جوړ کړي چې د موجوده 20 kV انتقال لین سره به وتړل شي. فیز II پلان شوی چې د FY 2014 فنډونو کې $49 ملیون ډالر د فرعي سټېشن څخه موسی قلا ته د 110 kV انتقال لین 37 کیلومیتر جوړولو، یو 110 kV فرعي سټېشن جوړول، او په موسی قلا کې موجود د 20 kV فرعي سټېشن بیا احیا لپاره وکاروي. د دفاع وزارت په وینا، پروژه غواړي چې د موسی قلا تقریبا 60,000 اوسیدونکي ترې ګټه پورته کړي.[682] د پروژې نورې برخې د دې لپاره ډېزاین شوي چې یووستوي، وصل سیستم ته د SEPS پروژو یو کولو کې مرسته وکړي. د ټول AIF بسپنه شوي پروژو سره نامتناقص، او د رسمي تړون په واسطه، دا پروژه به د بشپړتوب په صورت کې افغان حکومت ته انتقال شي. DABS به د O&M لپاره مسؤلیت په غاړه واخلي. د دفاع وزارت په وینا، د پیرودونکي پراخه شوي اساس څخه ډېرشوي عایدات او وده شوي د راټولولو وړتیا به DABS سره مرسته وکړي چې اوږدمهاله ثبات چمتو کړي.[683] لکه څنګه چې پورته یادونه شوې، د سیګار پلټنو د DABS ظرفیت او زیرمو په اړه اندیښنې راولاړې کړي.

## د ګردیز ښځه خوست ته د انتقال لین

ګنل کیږي چې دا پروژه د یووستوي سرکټ 220 kV انتقال لینونو د شاوخوا 95 کیلومیتر او 20 kV د توزیع لاینونو 30 کیلومیتر نصب ډیزاینولو په واسطه NEPS پراخه کړي.

د FY 2014 دفاع وزارت خپلې بودیجې غوښتنو سپارنه کې، ولسمشر د کانګریس څخه غوښتلي چې د دې هڅو لپاره 130$ ملیون ډالر چمتو کړي. د انتقال لینونه به له ګردیز څخه خوست ته په ختیځ کې لاړشي، او نوي فرعي ستیشنونه به په وازا خواجه او خوست کې تعمیر شي.[684]

## د بریښنا سیکتور کې د CERP پروژې

د دفاع وزارت د کوچنۍ اندازې بریښنایی پروژو لپاره تادیې ته هم د CERP فنډونه کاروي، لکه د جنراتورونو نصبول، د لمري تختو سیستم او د منفعت پولونه. تر جون 30، 2013 پورې د FY 2013 فنډونو نږدې 100,000$ ډالر منل او توزیع شوي (خورا اخرني موجود معلومات).[685]

# ترانسپورتیشن

د افغانستان د ترانسپورتیشن زیربنا نه شتون داخلي سوداګري، بهرنۍ تجارت او اقتصادي وده په شا تمبوي. نړیوال بانک وایي چې د ترانسپورتیشن سیکتور بیانصبول د اقتصادي پوښښ او پراختیا لپاره حتمي دی.[686] د افغانستان په زیربنا کې کمبود په ځانګړې ډول د خدماتو او کرهنې سیکتورونو باندې فشار اچوي، کوم چې دا مهال د GDP ډیرې برخه جوړوي. دوی د استخراجي صنعت مخه هم نیسي، د کوم راتلونکي عایدات چې افغان حکومت او نړیوال ډونر ټولنې د متمم کمونکي مرستې لپاره پرې حساب کوي.[687] پدې ربعه کې، متحده ایالاتو د ترانسپورتیشن قوانینو، د وزارت ظرفیت جوړولو کې د نړیوال معیارونه سره سم، افغانستان ته مرستې لپاره خپلو هڅو ته دوام ورکړ.[688]

## ملکي هوایی چلند

له 2002 راهیسې، د متحده ایالاتو هوایی ځواک د افغان ترانسپورت او ملکي هوای چلند وزارت (MOTCA) د یوه لاسلیک شوي تړون په ترڅ کې د کابل ساحه کې د هوایی ترافیک کنټرول پرمخ وړی. د متحده ایالاتو هوایی ځواک غواړي چې خپل د هوایی ترافیک کنټرول (ATC) او ارتباطات، هدایت، او نظارت (CNS) زیربنا سیسټم افغان حکومت ته تر دسمبر 2014 پورې انتقال کړي. د متحده ایالاتو هوایی ځواک او د متحده ایالاتو کابل سفارت د MOTCA سره مرسته کړې چې افغان حکومت لپاره یو تړون چمتو کړي ترڅو د افغانستان هوایی مسؤلیت په غاړه واخلي، مګر د تړون لاسلیک پنځه میاشتې وځنډول شو چې د افغان حکومت لپاره بسپنه ورکوونې او د پروپوزل لپاره غوښتنې خپرولو ته په تمه و.[689]

د متحده ایالاتو هوایی ځواک په کال کې نږدې 49$ ملیون ډالر د ATC/CNS خدماتو باندې مصرف کوي، او نږدې 447$ ملیون ډالر یې د ترور/اورسیز احتمالي عملیاتو فنډونو باندې نړیواله جګړه کې مصرف کړي ترڅو د ملکي هوایی چلند وړتیاوې جوړې او په افغانستان کې له 2002 راهیسې د پرواز خوندیتوب ته وده ورکړي. د عنوان 10 USC بسپنه

ورکوونه د متحده ایالاتو هوایي ځواک د ملکي چلند پرسونل روزنې یا د روزنیز اسانتیاو پرمختګ څخه مخنیوی کوي. دا ملاتړ پرځای پې د متحده ایالاتو کابل سفارت، USAID، او د ملکي هوایي چلند نړیوال نهاد پروګرامونو څخه راځي.[690]

د متحده ایالاتو د ترانسپورتیشن وزارت (DOT) د ترانسپورتیشن کونسلر دفتر (OTC) په ګډه د USAID سره، د کابل هوایي ترافیک کنټرول سیسټمونه او افغان هوایي چلند مسلکیانو لپاره له 2012 راهیسې د خوندیتوب نظارت روزنې پروګرام ته وده ورکوي. د DOT په وینا، هدف لري چې افغانستان د نړیوالو معیارونو سره برابر کړي او افغانان چمتو کړي چې د خپل ملي ملکي هوایي چلند پروګرام لپاره نظارت چمتو او پرمخ یې ویسي، د متحده ایالاتو اردو څخه ملکي کنټرول ته د افغان هوای لیږد دمخه. د متحده ایالاتو نوموړی پروګرام د نظارت خوندیتوب، تخنیکي عملیاتو، او هوایي ترافیک کنټرول باندې متمرکز دی. د FY 2011 USAID فنډونو دا مهال منل شوي $4.6 ملیون ډالرو څخه $824,000 ډالر تر سپتمبر 30، 2013 پورې توزیع شوي.[691]

OTC د افغان هوایي چلند مسلکیانو لپاره یو پراخه د روزنې نصاب جوړوي، په شمول د هوایي ترافیک کنټرول او ارتباطاتو، هدایت، او نظارت آشنایي کې د افغانستان ملکي هوایي چلند مقام لوړ رتبه اداري مشرانو لپاره. د روزنې دندې بشپړولو وروسته کنټرولونکي کولی شي د سوپروایزرانو لیدونکي شي، د هوایي ترافیک چاپیریال اداري نظارت په غاړه اخیستو وړ. د DOT په وینا، دا وړتیا د OTC مداخلت دمخه شتون نه درلود. تر سپتمبر 30، 2013 پورې، DOT راپور ورکړی چې 49 افغان د هوایي چلند زده کونکو د صنف روزنه لاسته راوړې. DOT د زده کونکو کیریر تعقیب وده او روزنې ته چمتو کړی شوې مقدار هم سنجوي.[692]

DOT ډیری ننګونې هم راپور کړې. د صنف روزنې بشپړیدو وروسته په دندې روزنه ټول هوایي چلند کیریر تعقیب غواړي. په هرصورت، افغانستان وړ ښوونکي نه لري نو روزنه باید ترون ته ورکړل شي. د دې برخې لپاره، DOT/OTC وړ نه و چې لایق ښوونکي داخل ته راوړي ځکه چې هیڅ نهاد شتون نلري دوی سپانسر کړي یا ورته د حمایې خدمات چمتو کړي لکه د هیواد پاکوالی، خوندي میشته کیدل او ترانسپورتیشن، د ګواښ څخه حفاظت، او د ځواکونو ترون محافظت دریځ. په دنده کې د روزنې فرصتونه په سیمه کې د نړیوال ملکي هوایي چلند نهاد سره برابر هیوادونو کې سپړل کیږي. د دفاع وزارت په وینا، د کافي مهارتونو رامنځته کول کیدی شي تر دوه کلونو پورې وخت ونیسي. د همدې لپاره د هوایي لیږد پرمهال به افغانستان د بهرنۍ منبع رادار کنټرول او نور هوایي چلند خدمات ولري.[693]

## معارف

د معارف وزارت (MOE) معلوماتو مدیریت سیستم (EMIS) څخه په تیره ربعه کې USAID ته چمتو معلوماتو په وینا، افغانستان په 1390 لمریز کال (مارچ 2011-مارچ 2012) کې ټولټال 13,562 ابتدایي، ټیټ منځني، او پورته منځني ښوونځي درلودل. ورته معلوماتو ښودلي چې په افغانستان کې د معارف ټولو پروګرامونو په اوږدو کې له 185,255 څخه ډیر ښوونکي په دندو ګمارل شوي، تقریبا 7.5 زده کونکي د حکومت ابتدایي، ټیټ منځني او پورته منځني ښوونځیو کې داخل شوي.[694]

## د سيګار پلټنه

په وروستيو کې اعلان شوي يوه پلټنه کې، سيګار د متحده ايالاتو حکومت هڅې ازموي چې په افغانستان کې د معارف سيکټور سره مرسته او وده ورتهورکوي. د لازياتو معلوماتو لپاره، 2 برخه، مخ 34 وګورئ.

په هرصورت، USAID وويل چې د MOE/EMIS معلوماتو اعتبار په اړه انديښنه لري، کوم چې د معارف ميتريکس تعقيب کې پوازينى ډيټابيس دى. USAID سيګار ته وويل چې نشي کولى معلومات تاييد کړي. د USAID نورې مرستې سره اوس روانه آن بوديجه، USAID اساسا په EMIS تکيه کوي — مګر د دې معلوماتو ته د ريښتوني وخت تازه لاسرسي پرته. په هرصورت، USAID وويل چې د ساحې معلوماتو ځينې کچو چيک کولو لپاره د خپلو افسرانو، ايساف او پلې کونکي ملګرو څخه داخلي راپورونه هم کاروي.[695] سيګار انديښنه لري چې د متحده ايالاتو حکومت اداري او نړيوال ډونران وړتيا نلري د معارف ذکر شوي لاسته راوړنې په افغانستان کې تاييد کړي. سربيره پردې، سيګار د معارف وزارت ته نورې مستقيم مرستې چمتو کولو په اړه انديښنه لري د USAID نظر په رڼا کې چې نوموړى وزارت د USAID فنډونو لپاره په مناسب ډول او په سمه توګه مديريت او حساب لپاره کافي ظرفيت نلري.[696]

له 2002 راهيسې، USAID د ښوونځيو جوړولو او نوي کولو، نصاب پراختيا او روزنو پرمخ وړو لپاره مرستې له لارې معارف حمايه کړې. پدې ربعه کې د ESF له لارې بسپنه شوي د معارف سيکټور کې د USAID روان لومړيتوب پروګرامونو کې شامل دي:

- اساسي تعليم، د سواد او تخنيکي - مسلکي تعليم او روزنه (BELT)
- د لوړو زده کړو پروژه (HEP)
- د افغانستان امريکايى پوهنتون (AUAF)

### اساسي تعليم، د سواد او تخنيکي - مسلکي تعليم او روزنه

اساسي تعليم، د سواد او تخنيکي - مسلکي تعليم او روزنه (BELT) د ESF له لارې بسپنه شوى يو د 173$ مليون ډالرو، آن بوديجې درې کلن (دسمبر 2011-اکتوبر 2014) پروګرام دى. دا غواړي چې مجموعا د حکومت لاسرسى هاخوا ټولنو کې باکيفيت اساسي تعليم ته لاسرسى ډير کړي. نوموړى پروګرام درسي کتابونه، تخنيکي - مسلکي تعليم او روزنه چمتو کوي، په بيله بيا د ټولنې پراساس تعليمي پروګرامونه. تر سپتمبر 30، 2013 پورې تيره ربعه کې 20$ مليون ډالر په پرتله، 88.9$ USAID مليون ډالر منلي. له دغې څخه، USAID 23.7$ مليون ډالر توزيع کړي، د تيرې ربعې 5.8$ مليون ډالرو په پرتله، د 17.9$ مليون ډالرو ډيروالي سره.[697]

BELT پنځه برخې لري: د MOE لپاره د ظرفيت جوړول، د درسي کتابونو چاپ، د ښوونکي روزنه، د ټولنې پراساس زده کړه، او تخنيکي مسلکي تعليم او روزنه (TVET).

TVET BELT غواړي چې زده کونکو ته په ملي کچه معتبر او تصديق شوي مهارتونو چمتو کولو په واسطه د TVET زده کونکي کيفيت او مسلکي توب جوړ کړي، په بيله بيا MOE کې د TVET لپاره مساوات. د BELT کلي هدف معياري تعليم او روزنې ته د لاسرسي وده ده، چې په انجونو او نور اړخ ته کړى شوي وګړو باندې تمرکز کوي، د USAID په وينا. يو د پلې کولو ليک چې حقيقي مسايل — د زده کونکو هدف، د فعاليت مرحلې، د تاييد مفهوم او پروګرام لپاره د بسپنه ورکولو کچې له ځانه سره ولري —

په ځنډ کې پاتې دی. TVET BELT د مرحلو پراختیا په حالت کې دی. USAID تمه لري چې په راتلونکې ربعه کې د پلي کولو یو لیک لاسلیک او MOE ته یې وړاندې کړي.[698]

په هرصورت، USAID د پلي کولو یو لیک د مالیې او معارف وزارت سره په جولای 28، 2013 لاسلیک کړی، د فنډونو مقدار چې د درسي کتابونو چاپ او توزیع لپاره کارول شوی پکې اصلاح کوي چې یو تصویب شوی نصاب د 26.7$ ملیون ډالر څخه تر 27$ ملیون ډالر پورې تعقیب کړی. له دغې څخه، 1.13$ ملیون ډالر د USAID فنډونو کې به د درسي کتابونو توزیع لپاره وکارول شي (833,187 ډالر د اصلي پلي کولو لیک ترتیب او 296,813$ نوي بسپنه ورکوونه کې منل شوي).[699]

USAID فکر نه کوي چې د درسي کتاب توزیع ته فنډ ورکړي، مګر کوي څکه چې MOE وویل په خپله بودیجه کې کافي پیسې نلري.[700] د توزیع ننګونې نوې ندي. بې امنیتي، د درسي کتاب ټرانزیټ ځنډ، او د ژمي موسم چې ځینې سیمې یې له لاسرسي ایستلي په تیرو کې په ځینو ولایتونو کې د درسي کتابونو توزیع مخه نیولې.[701]

د درسي کتاب پلي کولو لیک "وضعیتي بیلګې" لري چې باید د فنډونو توزیع کیدو دمخه پوره کړی شي. اضافتا، USAID د چاپ شوي درسي کتابونو مقدار او کیفیت، او د ښوونځي سطحې ته د درسي کتابونو توزیع تایید ته د یوې داخلي پلټنې پرمخ وړو لپاره ایرنسټ او یانګ سره قرارداد کړی. د USAID په وینا، نوموړې پلټنه به 20% ښوونځي وپوښي او ټولو 34 ولایتونو ته به لاسرسی ولري.[702]

نهایتا، د ټولنې پراساس تعلیم پروګرام لاندې د فعالیت مرحلې دې ربعې سره موافق دي، چې په سپتمبر 2013 کې لاسلیک شوي د پلي کولو یوه سند اوج ته رسي. نوموړی ټرون د هرې مرحلې لپاره د تاسیس شوي صنفونو شمیر، د زده کونکو لاسرسي، تایید مفهوم او بسپنه ورکوونې کچو لپاره اهداف ټاکي.[703]

## د لوړو زده کړو پروژه

په 2006 کې له کله نه چې د لوړو زده کړو پروژه (HEP) پیل شوې، دې د لوړو زده کړو وزارت حمایه کړې چې خپل د ملي لوړو زده کړو ستراتیژیک پلان اجرا کړي. د HEP اخرنۍ مرحله، تر فبروري 28، 2014 پورې غزول شوې، چې د مسلکي روزنې، کیفیت څخه اطمینان اعتبار سنجي، د نصاب بیاکتلو، د پوهنتون ملګرتیا، اکاډمیک پالیسیانې، او مقرراتو له لارې د وزارت ظرفیت ډیرولو ته تخنیکي مرسته چمتو کوي.[704] تر سپتمبر 30، 2013 پورې USAID د HEP پروړاندې 21.2$ ملیون ډالر منلي (د تیرې ربعې څخه هیڅ بدلون) او 15.6$ ملیون ډالر یې توزیع کړي، له تیرې ربعې څخه تقریبا 2$ ملیون ډالر ډیروالی.[705]

USAID د تقویت شوي ثالث زده کړې پروګرام - پوهنتون ملګرتیاو (STEP-UP) ډیزاین کې مرستې لپاره دوه تیر ځینزیز پروګرامونه کارولي، د 92.7$ ملیون ډالرو یو روان د لوړو زده کړو پروګرام چې غواړي د افغانستان د لوړو زده کړو سیستم اړوند کیفیت ته وده ورکړي، او د لوړو زده کړو وزارت نهادي ظرفیت. STEP-UP به تر 10 پورې پوهنتونونو سره کار وکړي چې د پوهنتون مدیریت سیسټمونه، اکاډمیک پروګرامونه او د محصلینو خدماتو ته وده ورکړي؛ د افغانستان امریکایي پوهنتون لپاره عملیاتي ملاتړ ته به دوام ورکړي؛

او د لوړو زده کړو وزارت سيسټمونه او د مديريت ظرفيت به پياوړی کړي. STEP-UP يو د آف بوديجې پروګرام دی چې دامهال لاسته راوړنې لاندې دی.[706]

USAID مخکې راپور ورکړی چې هغه کافي محصول معلومات په لاس کې نلري چې په HEP مصرف شوي له $15 مليون ډالرو څخه ډير اغيز کميت وټاکي. په هرصورت، د دې ماسټر درجې پروګرام لپاره د ښوونکي روزنې فعاليتونو او د دې فاکولټې پراختيا ارزونه په بيله بيا د خپلواک جندر ارزونه بشپړه شوې وه. USAID بسپنه ورکوونه بياګوري.[707]

## د افغانستان امريکايی پوهنتون

پدې ربعه کې، USAID د $40 مليون ډالرو نوی پنځه کلن کوپراتيف تړون (اګست 2013-جولای 2018) نهايی کړ چې د افغانستان امريکايی پوهنتون (AUAF) د انګلسي ژبې لسانس دورې او مداوم تعليمي پروګرامونو پراختيا سره ملاتړ ته دوام لپاره ډيزاين شوی و. ملاتړ به د ESF او ESF-OCO فنډونو په کارولو سره د STEP-UP USAID پروګرام څخه راځي، او مرسته به وکړي چې د ساينس، تعليم او مديريت نوی نصاب معرفي کړي، په بيله بيا نوی د ماسټری پروګرام، له لرې ځايه زده کړې، او آنلاين زيرمې. د دې تړون څلور برخې غوارې اکاډميک او مسلکي پراختيا پروګرامونه پياوړي، د پروګرام کيفيت لوړ، پروګرام د ښځو لپاره پراخه، او په خپل ځان ولاړ مالي چارې ډيرې کړي. تر سپتمبر 30، 2013 پورې USAID $10 مليون ډالر منلي خو تراوسه يې کومې پيسې ندي توزيع کړې.[708]

AUAF يو خصوصي نهاد دی چې د متحده ايالاتو څخه د پام وړ مرستو لاسته راوړو ته دوام ورکوي. نو دا چې نوموړی پوهنتون کولی شي د ليرد وروسته ځان باثبات کړي، د USAID په وينا، دا پنځه کلن کوپراتيف تړون د روښانه، توضيح شوي ثبات برخو سره د شريک لګښت ترتيب دی. دا AUAF اړکوي چې غير متحده ايالاتو فنډونو کې له $62 مليون ډالرو ډير اعانه کړي.[709] د فعاليت سنجولو پلان لاتراوسه د پوهنتون په واسطه ندی نهايی شوی يا تصويب شوی، مګر کوپراتيف تړون يولړ ځانګړي د راپور ورکوونې او څيړنې اړتياوې لري، په شمول د "مناسب، اړوند او سم سندسازيو" ساتلو اړتيا، د سيګار په وينا، د USAID عمومي پلټونکي دفتر، او په افغانستان کې د متحده ايالاتو حکومت پروګرامونو کې د حکومت حساب ورکوونې دفتر ګټه.[710]

## روغتيا

د USAID په وينا، له 2002 راهيسې افغانستان د روغتيا په برخه کې د پام وړ پرمختګونه تجربه کړي. که څه هم هيواد لاتراوسه د ولادت پرمهال مور او ماشوم مړينې يو له تر ټولو لوی نرخ په نړۍ کې لري، د USAID فنډ ورکړی شوي د افغانستان د مړينې 2010 سروی موندلې چې ژوند ته تمه تر 20 کالو پورې په اوسط ډول 62–64 کلونو ته لوړه شوې. په هرصورت، نورو نهادونو لانور مناسب لاسته راوړنې په نښه کړي.[711] د CIA نړۍ فاکت بوک افغان ژوند ته تمه له زيږيدو څخه 50.11 کاله وړاندې کوي، پداسې حال کې چې نړيوال بانک د ژوند تمه 48 محاسبه کړې.[712]

له FY 2002 څخه تر FY 2012 اوږدو پورې، د متحده ایالاتو آن او آف بودیجه د افغانستان روغتیا سیکتور ته 1.06$ ملیارد ټولټال شوي.[713] د عامې روغتیا وزارت (MOPH) ته آن بودیجې مرستې کې د متحده ایالاتو بسپنه شوي اسانتیاو کې کارګرانو ته د معاش ورکړه، طبي او غیر طبي تحویلۍ، په خدمت کې روزنه، د ودانیو لړ بیا نوي کول، طبي تجهیزات او نظارت او څار شامل و. د آف بودیجې مرسته کې د روغتیا سیسټمونو تقویه کولو، خصوصي سیکتور ښکیلتیا، او د فارماسیټیکل او کانتراسیپټیو پیرودلو فعالیتونه شامل و.[714]

پدې ربعه کې، سیګار د متحده ایالاتو مستقیم مرستې حساب لپاره د MOPH ظرفیت یوه پلټنه خپره کړه. دې وموندل چې په MOPH کې د مالي مدیریت کمښتونو سربیره، USAID د ملیونونو متحده ایالاتو مالیه ورکونو پیسې په مستقیم مرسته کې د لړ اطمینان سره ورکولو ته دوام ورکوي دا چې وزارت دغه فنډونه هغسې کاروي چې ورته نومول شوي.[715]

د USAID د دې ربعې لوړ لومړیتوب روغتیا سیکتور پروګرامونو کې شامل دي:
- د روغتیا خدماتو لپاره د ملګرتیا قراردادونه (PCH)
- د روغتیا پالیسي پروژه (HPP)
- د رهبریت، مدیریت، حکومتدارۍ پروژه (LMG)

ټول درې واړه تر اکتوبر 31، 2014 غزول شوي و.[716]

## د روغتیا خدماتو لپاره د ملګرتیا قراردادونه

پنځه - کلن (2009–2014)، د کوربه هیواد ترون ملګرتیا د روغتیا (PCH) پروګرام قرارداد د MOPH هڅو ملاتړ لپاره چې د روغتیا خدماتو لومړنۍ ګیډۍ (BPHS) چمتو کړي او په 13 ولایتونو کې د روغتونونو خدماتو اړینه ګیډۍ (EPHS). متحده ایالاتو د روغتیا دغه اسانتیاو څخه 547 ملاتړ کړي، په شمول د:[717]
- 5 ولایتي روغتونونو
- 27 ولسوالۍ روغتونونو
- 13 پراخه روغتیایی مراکز +
- 157 پراخه روغتیایی مراکز
- 271 د ابتدایي روغتیا مراکز
- 64 د روغتیا فرعي مراکز او
- 10 د زندان روغتیایی اسانتیاوې

USAID هم د افغانستان په اوږدو کې 6,279 روغتیایی پوستونه حمایه کړي.[718]

د PCH تخصیص 236$ ملیون ډالر دی. تر سپتمبر 30، 2013 پورې، USAID دې پروګرام ته 190.2$ ملیون ډالر منلي — چې تیرې ربعې څخه هیڅ بدلون نه وړاندې کوي — او 146.8$ ملیون ډالر یې توزیع کړي، د تیرې ربعې څخه تقریبا 11$ ملیون ډالر ډیروالی.[719]

PCH د روغتیایی پاملرنې په ساحه کې له ابتدایي روغتیایی پاملرنې خدماتو څخه تر د لوی کچې تشخیصي درملنې خدماتو پورې وړاندې کوي. دا د ټولنې قابلګۍ تعلیم پروګرام هم حمایه کوي، کوم چې د ښځینه روغتیایی پاملرنې کارکوونکو شمیر ډیرولو کې

### د سیګار تفتیشونه

سیګار پدې ربعه کې د افغان طبي ودانیو دوه تفتیشونه خپاره کړل: د لازیاتو معلوماتو لپاره، 2 برخه، 38 او 41. مخونه وګورئ.

مرسته کوي او په دواړه مور او ماشوم مړینې کموالي کې مرسته کوي. په اکتوبر 2013 کې، USAID خپل نږدې راتلونکي نیم کلن راپور له لارې به د PCH برنامه ای ننګونې او بریاوې تازه کړي.[720] ځانګړي ارقام او د فعالیت ځېرنې معیارونه سیګار ته چمتو کړی شوي نه و.

لکه څنګه چې پورته یادشوي، د سیګار MOPH پلټنې هم موندلي چې د وزارت داخلي کنټرول بې کفایتي د PCH پروګرام له لارې چمتو کړی شوي متحده ایالاتو فنډونه د درغلی، ضایع او ناوړه ګټه اخیستنې خطر سره مخامخ کوي. د USAID مقاماتو ویلي چې دوی نده تایید کړې، چې که چیرې MOPH د دغه کمښتونو ښودلو لپاره کوم عمل ترسره کړی.

د USAID یو مقام تشخیصوي چې USAID دنده نلري پیژندل شوي نواقص په نښه کړي، یا کوم اصلاحي عمل تایید کړي چې ممکن د PCH پروګرام لپاره MOPH پلي کړی وي.[721]

## د روغتیا پالیسي پروژه

د روغتیا پالیسي پروژه (HPP)، یو 28-میاشتنی (جون 2012-اکتوبر 2014) پروګرام دی، چې د MOPH ظرفیت لوړوي ترڅو د ډیزاین، مزاکرې، او روغتون عامه - خصوصي ملګرتیاو مدیریت (PPPs) له لارې د روغتیا ابتدایی اړتیاوې په نښه کړي. پروژه دا هم غواړي چې د ټولنیز رسنیو بازارموندنې له لارې د لوړ کیفیت روغتیایی خدماتو وړاندې کولو لپاره د غوښتنې تولید کې افغان حکومت سره ملتیا لپاره د محلي خصوصي - سیکټور نهادونو ظرفیت جوړ کړي. د HPP تخصیصات پدې ربعه کې $28 ملیون ډالر ته ډیرشوي، د پروژې یوکال غزول کیدو په پایله کې د تیرې ربعې څخه $10 ملیون ډالر ډیروالي سره. تر سپتمبر 30، 2013 پورې، USAID پروګرام ته $15.5 ملیون ډالر منلي (د تیرې ربعې څخه هیڅ بدلون سره) او $13.7 ملیون ډالر، د پروګرام لپاره نړیوال روغتیا بسپنه ورکولو حسابونو او ESF له لارې توزیع کړي.[722]

د PPPs ملاتړ سره مرستې ته د HPP نړیوالو وړ مشاورینو ته لاسرسي نه شتون، په بیله بیا MOF کې د مرکزي PPP واحد نه شتون، د PPP فعالیتونو د ځنډ لامل شوی. په هرصورت، HPP د دغه پوستونو لپاره په فعال توګه استخدام کوي. برسیره، په ډیری ولایتونو کې بې امنیتي د فعالیتونو پراخوالی او د ټولنیز - بازار موندنې تولیدات پلورل محدود کړي. په هرصورت، HPP پدې ربعه کې د روزنې پروګرامونو پرمخ وړو وړ و، په شمول د ټولنیزه توګه بازار یابي شوي روغتیا تولیداتو سم کارول چې غوښتل یې د ماشوم او مور مړینه کمه، د جندر پراساس تاوتریخوالي روزنه د روغتیا چمتو کونکو لپاره او ډیری د HIV ورکشاپونه. HPP د دوه روغتونونو د سنجش وړتیا مطالعه هم بشپړه کړه، او مرسته یې وکړه چې MOPH ته د راپور ورکولو لپاره د خصوصي روغتونونو څخه د روغتیا معلوماتو راټولولو یو سیسټم رامنځته کړي.[723] USAID سیګار ته د HPP ځانګړي ارقام او د فعالیت ځیرنې معیارونه چمتو نه کړل.

## HIV/AIDS

HPP د افغانستان HIV او AIDS همغږۍ کمیټې (HACCA) له لارې د افغانستان د AIDS کنټرول ملي پروګرام (NACP) دفاع برخه حمایه کوي. HACCA، NACP ته یو ملي، څو سیکتوره مشورتي نهاد دی. د NACP په وینا، په افغانستان کې رسما راپور شوي د HIV، 1,250 پیښې دي، د پیچکاري له لارې مخدره توکو کارونکو ترمنځ د خپریدو

ډیروالي سره. په لوړ خطر کې نور تعقیب شوي ګروپونه د جنسي اړیکو ښځینه کارکوونکې، د سړک ترانسپورت کارکوونکي او د هغوی معاونین، زندانیان، او هغه نارینه چې د نارینه سره جنسي اړیکې ولري دي. د 2012 یوکړی شوي بیولوژیکي او د سلوکي څار مطالعې موندلي چې پداسې حال کې چې د روږدي کیدو خطر پدې ډلو کې ډیر دی، مجموعي روږدي کیدل ټیټ دي، او دا چې افغانستان د عمومي اوسیدونکو ترمنځ روږدي کیدو لپاره په خطر کې ندی.[724]

## د رهبریت، مدیریت او حکومتدارۍ پروژه

د 26-میاشتو (سپتمبر 2012-اکتوبر 2014)، $26 ملیون ډالرو د رهبریت، مدیریت او حکومتدارۍ پروژه (LMG) د MOPH او MOE سره په ولایتي او مرکزي کچه کار کوي ترڅو د افغانستان روغتیا او تعلیم سیسټمونو کې رهبریت، مدیریت او حکومتداري جوړه کړي. دا غواړي چې د MOPH روڼتیا او حساب ورکوونې ته هم وده ورکړي او دواړه وزارتونو سره مرسته وکړي چې آن بودیجې مرسته اداره کړي. تر سپتمبر 30، 2013 پورې، USAID پروګرام ته $20.6 ملیون ډالر منلي (د تیرې ربعې څخه هیڅ بدلون سره) او $10.6 ملیون ډالر، د پروګرام لپاره نړیوال روغتیا فنډونو او ESF له لارې توزیع کړي.[725]

پدې ربعه کې، د LMG مرستې له لارې، MOPH د روغتیا معلوماتو سیسټمونو درې ارزونې په لاره واچولې، په شمول د کورني سروی او احصایی د USAID او EU بسپنه شوي ولایتونو کې، او د معلوماتو کیفیت او ارزونې کارونه په 34 ولایاتو کې. MOPH د ټول په خدمت کې داخل روزنه (IST) طرح هم بشپړه کړې — دا په دنده کې روزنې په نوم هم پیژندل کیږي — چمتو کونکی، ترڅو د BPHS او EPHS په کچو د ټول IST فعالیتونو لپاره لارښوونې او معیارونو رامنځته کولو کې مرسته وکړي. برسیره پردې، MOPH د لومړي ځل لپاره 700 د ټولنې روغتیا سوپروایزرانو لپاره معیاري روزنه چمتو کړه.[726] USAID د پروګرام لپاره سیګار ته ځانګړي ارقام او د فعالیت څیړنې معیارونه ندي چمتو کړي.

په 14 ملي روغتونونو کې د روغتون اناتومي پرمختګ سربیره، USAID راپور ورکړی چې LMG د انسان منطقي زیرمو کې روغتونونو ته تخنیکي مرسته چمتو کولو هڅې کوي — په اناتومي پروسه کې بل ګام — پدې ربعه کې د ټولنیز او سیاسي فاکتورونو په واسطه د ننګونو سره مخ و چې د روغتونونو دننی کارمندانو پریکړې اغیزمنې کوي.[727]

برسیره پردې، د MOPH ولایتي ارتباط ریاست باید تراوسه د ولایتي روغتیا سیسټمونو تقویه کولو کې د ولایتي ارتباط ریاست رول مشخص، واضح یا تقویه کړي. او پدې سره، د LMG پلي کونکي ملګري د افغانستان په اوږدو کې د ټولنې میشته روغتیا پاملرنې اړتیاو ته ځواب ویلو لپاره محدود ظرفیت لري، چې LMG ته ننګونه رامنځته کوي چې په ټول هیواد کې د وزارت مداخلو سره مرسته وکړي.[728]

# د خصوصي سیکتور پراختیا

متحده ایالاتو د ESF، TFBSO، او CERP له لارې خصوصي سیکتور پراختیا حمایه کوي. له FY 2002 څخه تر FY 2012 پورې، USAID په افغانستان کې د اقتصادي ودې لپاره $1.06 ملیارد ډالر مختص کړي.[729] د USAID مهم لومړیتوبونو رواني اقتصادي پرمختګ پروژه، د ESF له لارې بسپنه شوې، د پانګوونو پراختیا په واسطه د افغانستان جوړولو لپاره مرسته ده (ABADE).

## د پانګوونو پراختيا په واسطه د افغانستان جوړولو کې مرسته

د پانګوونو پراختيا په واسطه د افغانستان جوړولو کې د USAID $105 مليون مرستې پروګرام (ABADE) پدې تمرکز لري چې مؤثره، افغان راجيستر شوی، د کوچني څخه منځني پانګوونو دندې اضافه کولو، د پانګوونې ډېروالی، او د عامه - خصوصي ټلوالو له لارې کورني توليداتو او خدماتو پلورلو ودې سره مرسته وکړي. دا درې برخو له لارې دا کار کوي: د عامه - خصوصي ټلوالو پلي کول يوځل چې تصويب شو، د ټلوالو پيژندل، انتخابول او ملاتړ کول، او د سوداګرۍ لپاره چاپيريال پرمختګ ته د افغان حکومت سره کار کول.[730] په يو حالت کې، ABADE د PVC او المونيم توليد شرکت سره يوه اتحاد ته ننوتی، چې تجهيزاتو کې تقريبا $515,000 ډالر لاسته راوړي، کوم چې د شرکت په واسطه پانګه شوي $2.4 مليون ډالرو مرسته کوي. د USAID په وينا، شرکت کولی شي د خپل توليد ظرفيت درې چنده کړي، د محصول کيفيت نړيوال معيار ته لوړ کړي، او 200 وګړي په کار وګماري.[731]

تر سپتمبر 18، 2013 پورې USAID د ABADE پروګرام ملاتړ ته د اقتصادي ملاتړ فنډونو کې $29.6 مليون ډالر منلي — د تيرې ربعې څخه 12 مليون ډالر ډير — او تقريبا$9.3 مليون ډالر يې توزيع کړي — د تيرې ربعې څخه 1.8 مليون ډالر ډير.[732]

په فبروري 2013 کې له کله نه چې ABADE په لاره اچول شوی، USAID راپور ورکړی چې 12 عامه - خصوصي اتحادونه تصويب او ورکړل شوي — د تيرې ربعې راپور شوي په پرتله پنځه ډير، او 30 غوښتنليکونه د تصويب په تمه دي. برسيره پردې، پدې ربعه کې د سوداګرۍ پراختيا او حکومت ظرفيت جوړولو هڅو دوام درلود، لکه څنګه چې د دا ډول خدماتو لپاره د BDS وړتياو او ناپوره شوي غوښتنې پيژندو ته د دوه د سوداګرۍ پراختيا خدماتو (BDS) سروی سرته رسيدلي.

د ABADE پلي کول د ولسمشرۍ 62 فرمان څخه محدوديتونو سره مخ دی، کوم چې د امنيت لپاره APPF او خطر اداره کولو شرکتونو کارولو اړتيا لري. APPF د دې وړتيا نلري چې کافي ګرځنده ايسکورټ واحدونه يا وسايط چمتو کړي، چې د ABADE کارمندانو لپاره سيمو ته سفر ستونزمن کوي.[733] برسيره پردې، USAID دا مهال په تجارتي پروازونو تکيه کوي چې فقط لوی ښارونو ته سفر لري. دا لدغه ساحو څخه پروګرامونه په مؤثر ډول لرې کوي يا د لاسرسۍ لرې، يا پلي کونکي ملګري دې ته اړ کوي چې لانور ګران پروازونه وکاروي. د خطر اداره کولو شرکتونه په تجارتي هوا کې د متحده اياﻻتو کارمندانو خونديتوب لپاره وسله له ځانه سره نشي وړی. د چارټر پروازونو شرکتونو څخه تمه کيږي چې د دا ډول ميشته کولو لپاره USAID غوښتنو ته ځواب ووايي.[734]

# 4 د بلې اداري نظارت



# د بلې ادارې منځپانګې

**د نظارت بشپړ شوي فعالیتونه** **182**

**د نظارت روان فعالیتونه** **185**

**عکس په تیر مخ کې**
د امریکا د بهرنیو چارو وزیر جان کیري او ولس مشر کرزی په اکتوبر 12، 2013 په کابل کې یوه خبري کانفرانس کې غږیږي، لکه څنګه چې د متحده ایالاتو افغان دوه اړخیز امنیتي تړون په اړه مزاکرات روان دي.
(د بهرنیو چارو عکس)

# د بلې ادارې نظارت

د سيګار قانوني مسوليت غوښتنه کوي چې د بيارغونيزو پروګرامونو په ادارې کې د ستونزو په هکله دفاع او بهرنيو چارو وزارتونو ته خبرتيا ورکړي، او د هر ربعې پای ته رسيدو سره تر يو مياشتې پورې د خپل څارنيزو کارونو او د متحده ايالاتو د بيارغونيزو هڅو په اړه يو رپوټ کانګرس ته وړاندې کړي. په هرو درې مياشتو کې سيګار د نورو ادارو څخه د بشپړ شوو او روانو څارنيزو فعاليتو په اړه د معلوماتو غوښتنه کوي. دا برخه لاندې تازه خبرې لري.

د هغوی تفصيل يوازې د راپور د نورو برخو سره د همغږۍ په موخه (مخففات، تخليصات، په لويو حروفو معياري ليکنه، د اتصال د نښو، نقطه ګذاري، غوره املا او دريم-کس سمونې) پرته په تسليم شوي څير ښکاري.

دغه ادارې په افغانستان کې څارنيز فعاليتونه ترسره کوي او پايلې يې سيګار ته وړاندې کوي:

- د دفاع وزارت د عمومي پلټونکي دفتر (DOD OIG)
- د بهرنيو چارو وزارت د عمومي پلټونکي دفتر (State OIG)
- د حکومت د حساب ورکولو دفتر (GAO)
- د امريکا د پوځ د پلټنې اداره (USAAA)
- د امريکا لپاره د متحده ايالاتو ادارې عمومي پلټونکي دفتر (USAID OIG)

جدول 4.1

**تر سپتمبر 30، 2013 پورې د متحده ایالاتو نورو ادارو په وروستیو کې بشپړ شوي د نظارت فعالیتونه**

| اداره | د راپور شمیره | د خپریدلو نیټه | د پروژې سرلیک |
|---|---|---|---|
| DOD OIG | DODIG-2013-129 | 9/20/2013 | د 2014 څخه وروسته وړتیاو برخه I ته د حیاتي ANSF وړکونکو مؤثره پراختیا او لیږد لپاره پلان جوړول - د افغان ملي اردو وړکونکي شرح |
| DOD OIG | DODIG-2013-123 | 8/30/2013 | اردو اړتیا لري چې د Mi-17 کارولو مدیریت او قرارداد اداره کولو ته وده ورکړي |
| DOD OIG | DODIG-2013-099 | 7/18/2013 | په افغانستان کې د متحده ایالاتو کنټرول شوي او نیول شوي ودانیو د بریښنایی او اور مخنیوی معیارونو سره مطابقت |
| State OIG | AUD/MERO-13-37 | 9/2013 | په افغانستان کې د نړیوال تاریاکو او قانون پلي کولو چارو دفتر اصلاحي سیسټم ملاتړ پروګرام پلټنه |
| USAID OIG | F-306-13-001-P | 9/25/2013 | د USAID/افغانستان کندهار هلمند بریښنا پروژې پلټنه |
| USAID OIG | F-306-13-002-P | 8/31/2013 | د دریم هیواد تبعه (TCN) کارمندانو کارولو USAID/افغانستان پلټنه |

سرچینې: DOD OIG، د سیګار معلوماتو غوښتنې ته ځواب، 9/19/2013؛ State OIG، د سیګار معلوماتو غوښتنې ته ځواب، 9/5/2013؛ GAO، د سیګار معلوماتو غوښتنې ته ځواب، 9/18/2013؛ USAAA، د سیګار معلوماتو غوښتنې ته ځواب 9/23/2013؛ USAID OIG، د سیګار معلوماتو غوښتنې ته ځواب، 9/18/2013.

## د نظارت بشپړ شوي فعالیتونه

4.1 جدول د بیارغونې په برخه کې 6 څارنیزې پروژې ښیي چې د شرکت کونکو ادارو لخوا یې څارنه پای ته رسیدلې ده.

## د امریکا د دفاع وزارت د عمومي پلټونکی دفتر

د دې ربعې پرمهال، DOD OIG د افغانستان بیا رغونې پورې اړوند درې راپورونه خپاره کړ.

### د 2014 څخه وروسته وړتیاو ته د ANSF حیاتي وړ کونکو د مؤثره پراختیا او لیږد لپاره پلان جوړول برخه I - د افغان ملي اردو وړکونکی شرح

(د رپوټ شمیره. DODIG-2013-129، په سپتمبر 20، 2013 کې نشر شوی)

دغه راپور محرم دی.

### اردو اړتیا لري چې د Mi-17 کارولو مدیریت او قرارداد اداره کولو ته وده ورکړي

(د رپوټ شمیره. DODIG-2013-123، په اګست 30، 2013 کې خپور شوی)

دا راپور یواځې د رسمي کارونې لپاره دی.

### په افغانستان کې د متحده ایالاتو کنټرول شوي او نیول شوي ودانیو د بریښنایی او د بهرني لیبر قراردادکونکو بهر کارول

(د رپوټ شمیره. DODIG-2013-099، په جولای 18، 2013 کې خپور شوی)

په سویل لویدیز اسیا کې د روغتیا او خوندیتوب مسایلو خپل نظارت په دوام سره، په افغانستان، کندهار هوای میدان او بګرام هوای میدان کې انتخاب شوي د متحده ایالاتو اداره کیدونکي ودانیو کې، DOD OIG د DOD OIG بریښنایی او اور څخه مخنیوي تیرو موندنو ته د ملي بریښنایی کوډ (NEC)؛ یوکړی شوي ودانیو معیار (UFC)؛ د اور مخنیوی ملي اداره (NFPA) معیار؛ او د سمولو اعمالو سره مطابقت لپاره تفتیش وکړ. پدې روان تفتیش کې، DOD OIG وموندل:

- لکه څنګه چې د 1,089 موندنو په واسطه تثبیت شوي، د NEC او NFPA حد اقل معیارونو ته د نامتناقص تبعیت نه شتون له امله له خطر ډک اوضاع؛ 440 موندنې له NEC بریښنایی معیارونو تیری او 649 موندنې د UFC او/یا NFPA د اور څخه مخنیوی معیارونو تیری ښیې.
- د اور څخه مخنیوی سیستمونه نه و ساتل شوي او/یا ترمیم شوي.
- د ګارنیزون قوماندو د تفتیش، ازمولو او محافظت ته په خپلو کارمندانو کې وړ اداره یا ډالۍ شوي قراردادي د بریښنا کارکوونکي، د اور الارم یا د اور څخه مخنیوی تخنیک ګران نه درلودل.
- د حکومت د ودانیو نامناسب نظارت او تفتیش.
- د حکومت قرارداد کولو دفتر لپاره د خپلواک تخنیکي ملاتړ نه شتون د ودانۍ جوړولو او محافظت قراردادیانو باندې له حده ډیر تکیه کولو پایلې درلودې.
- د بیز کیمپ ماسټر پلان د اور څخه مخنیوی یو جامع پلان نه درلود.
- د DOD OIG تیرو پلټنو او تفتیشونو لپاره د سمون اعمال بشپړ نه و او د ډیری موندنو لپاره نامؤثره و.

## د امریکا په منځني ختیځ کې د باندینیو چارو وزارت د عمومي پلټونکی سیمه ییز دفتر

پدې ربع کې، State OIG د افغانستان د بیارغونې په هکله یو رپوټ خپور کړی.

## په افغانستان کې د نړیوال تاریاکو او قانون پلي کولو چارو د سمون سیستم ملاتړ پروګرام بیورو پلټنه

(د رپوټ شمیره. AUD/MERO-13-37، په سپټمبر 2013 کې خپور شوی)

د بهرنیو چارو OIG ټاکلي چې په نومبر 28، 2012، معین کانګریس ته تصدیق کړه چې په 2012 مالي کال کې به د نړیوال تاریاکو او قانون پلي کولو چارو بیورو (INL) فنډونه به نه و منل شوي مګر دا چې د INL پروګرامونو د USAID د ثبات لارښود اړتیاوې پوره کړي. په هرصورت، په مارچ 13، 2013، INL د FY 2012 منل شوي سمونونو سیستم ملاتړ پروګرام (CSSP) فنډونه د دې اړتیاو سره بشپړ سمون پرته پیل کړ. په ځانګړي توګه، INL د CSSP پروګرام لګښت او مؤثریت ټاکلو لپاره د پروګرام بیاکتنه پرمخ وینوره، د افغانانو لپاره لازمي تخمین شوي لګښتونه او فعالیتونه ترڅو د سمونونو پروګرام پیاوړی کړي، یا د خپل پروګرام محصولاتو په لاسته راوړو کې د CSSP بریا اندازه کولو لپاره د درې میاشتني ارزونو او راپور ورکوونې پروسې وده او د خپلو ژمنو پوره کولو لپاره د افغانستان حکومت (GIROA) پرمختګ. د یوې پایلې په حیث، INL د دې ټاکلو لپاره هیڅ اساسات نلري چې ایا CSSP یو مؤثره پروګرام دی، په $226 ملیون ډالرو پانګوونې د مثبت بیرته لاسته راوړنې سره؛ ایا پروګرام باید اصلاح، کم یا ردشي؛ یا ایا افغانان به دا ظرفیت ولري چې د سمونونو پروګرام ته دوام ورکړي کله چې نړیوالې مرستې کمې شي. د GIROA اوسني بسپنه ورکوونې کچو کې، پرته د نړیوال مداوم ملاتړ څخه د افغان سمونونو پروګرام د دوام وړ ندی.

## د حکومت د حساب ورکولو دفتر

د دې ربعې په جریان کې، GAO د افغانستان بیارغونې پورې اړوند ټولو ته د لاسرسي وړ راپورونه ندي خپاره کړي.

## د امریکا د پوځ پلټونکې اداره

USAAA پدې ربع کې د افغانستان د بیارغونې په هکله کوم رپوټ ندی خپور کړی.

## د امریکا د نړیوالې پراختیا لپاره ادارې عمومي پلټونکي دفتر

د دې ربعې په جریان کې، USAID OIG د افغانستان بیارغونې پورې اړوند دوه راپورونه بشپړ کړي.

### د کندهار هلمند بریښنا پروژې پلټنه

(د رپوټ شمیره. F-306-13-001-P، په سپتمبر 25، 2013 نشر شوی)

د پلټنې هدف د چاپیریالي اړتیاو او ثبات پلان جوړولو سره د پروژې نظارت او سمون ارزول دي.

پلټنې وموندل چې کلیدي پروسې او پرسونل چې باید په ځای کې وی نه و. د دې دلایلو لپاره، پلټنه به شپږ موندنې راپور کړي:

- تقویتي پلان په بشپړ ډول نه و جوړ شوی؛
- د چاپیریالي سمون نظارت وروسته سرته رسیدلی و؛
- ماموریت نشو کولی وده ایز پرمختګ په مناسب ډول تعقیب کړي؛
- ماموریت په نامتناقص ډول رسیدونه ندي تایید کړي؛
- ماموریت په پرځای د فعالیت مدیریت ندی تصویب کړی؛
- د دریمي ډلې نظارت ناسم و. USAID OIG د فرعي قرارداد حساب ساتنې پورې اړوند هم اداري ستونزې راپور کړي.

راپور د دې مسایلو په نښه کولو لپاره 3 وړاندیزونه کړي.

### د دریم هیواد تبعه کارمندانو کارولو د USAID/افغانستان پلټنه

(د رپوټ شمیره. F-306-13-002-P، په اګست 31، 2013 کې خپور شوی)

پلټنې درې موندنې راپور کړي:

- د ماموریت ثبتونه د دریم هیواد تبعه (TCN) کارمندانو کارول نه تاییدوي؛
- د TCN قرارداد موقعیتونه سمه طبقه بندي نلري؛
- ماموریت په کافي توګه د تنها زیرمې TCN قراردادونه نه تاییدوي. د پلټنې هدف لومړۍ برخې ځواب وینه کې، پلټنې موندلې چې ماموریت د TCN کارمندانو استخدام لپاره د متحده ایالاتو ستراتیژۍ سره په برخه ای ډول ورته و فقط د استثنایی او موقتي شرایطو پراساس. له 2004 څخه تر 2012 پورې، د TCN کارول عموما د نورمال استخدام ته استثنایی و، مګر په ځینې دفاترو کې د دوی کارول موقتي نه و. دوهم هدف ته ځواب کې، په موندنه کې شرح شوي عرصو کې د TCN کارول د بشري منابع او قرارداد مدیریت پالیسیو سره په مطابقت کې نه و اداره شوي.

د دې مسایلو په نښه کولو ته راپور شپږ وړاندیزونه شامل کړي.

## د نظارت یا څار روان فعالیتونه

تر سپتمبر 30، 2013 پورې برخه اخیستونکې ادارو د افغانستان بیارغونې پورې اړوند د نظارت 21 روان فعالیتونه راپور کړې. دغه راپور ورکړل شوي فعالیتونه په 4.2 جدول کې لست شوي او په لاندې برخو کې اداره وار شرح شوي:

جدول 4.2

**تر سپتمبر 30، 2013 پورې د متحده ایالاتو نورو ادارو د نظارت روانې پلټنې**

| اداره | د پروژې نمبر | د پیل نیټه | د پروژې سرلیک |
|---|---|---|---|
| DOD OIG | D2013-D00SPO-0181.000 | 6/13/2013 | د متحده ایالاتو د هغو هڅو ارزونه چې د افغانستان اسلامي جمهوري دولت سره د مرستې لپاره د امنیتي مرستو د لیږد مسولیت د دفاع وزارت د چارواکو څخه د بهرنیو چارو وزارت چارواکو ته سپاري. |
| DOD OIG | D2013-D00SPO-0154.000 | 4/26/2013 | افغان ملي پولیسو ته د روغتیا پالنې پایداره ورتیا چمتو کولو په برخه کې د متحده ایالاتو پوځ او د ایتلاف د هڅو بررسي کول |
| DOD OIG | D2013-D000AS-0097.000 | 2/8/2013 | د W58RGZ-09-D-0130-0102 وظیفوي فرمان په اساس د Mi-17 د پیلوټ ځای تغیرات |
| DOD OIG | D2013-D000AT-0083.000 | 1/3/2012 | د ډاترون ورلډ کمونیکیشن. انکارپوریشن لپاره د بیې سموالی معلومول. هغه قراردادونه چې د متحده ایالاتو پوځ د قرارداد کونکې قوماندې لخوا د افغان ملي امنیتي ځواکونو لپاره لاسلیک شوي دي |
| DOD OIG | D2013-D00SPO-0087.000 | 12/18/2012 | د 2014 کال څخه وروسته د افغان ملي امنیتي ځواکونو د مهم پیاوړي کونکې امکاناتو لیږد لپاره د پلان جوړونې ارزونه |
| DOD OIG | D2013-D000FL-0056.000 | 12/3/2012 | د دفاع وزارت لخوا د شمالي اتلانتیک پیمان سازمان (ناټو) د مرسته کونکو هیوادونو د افغانستان ملي پوځ خیریه بودیجې سره د هغو مرستو معاینه چې د پایداره پروژو لپاره د 2012 کال د سپتمبر تر 30 پورې تصویب شوي دي |
| DOD OIG | D2013-D000AS-0052.000 | 11/1/2012 | د شین ډنډ د روزنې قراردادونه |
| DOD OIG | D2013-D000AS-0001.000 | 10/5/2012 | د متحده ایالاتو ترانسپورتیشن قوماندانی لپاره د هغو قراردادونو مراقبتي جوړښتونه چې د افغانستان د ځرخي الوتکو پروګرام څخه ملاتړ کوي |
| DOD OIG | D2012-D000JA-0221.000 | 9/28/2012 | په بګرام هوایي ډګر، افغانستان کې د ځانګړو عملیاتو ځواکونو لپاره د پوځي ودانیو د پروژو د قرارداد مدیریت او څارنه |
| State OIG-MERO | 13AUD082 | 6/13/2013 | په افغانستان کې د نړیوال مخدره توکو او قانون د حاکمیت چارو ادارې د سمون سیستم د ملاتړ پروګرام څخه پلـــــــټنه |
| State OIG-MERO | 13AUD52 | 2/2013 | په بیت المقدس او افغانستان کې د خوځیدنې او سکون امنیتي خدماتو لپاره د 2، 9، 11 وظیفوي فرمانونو په اړه د ډیپلوماټیک امنیت ادارې د نړیوال محافظتي خدماتو قرارداد پلټنه |
| State OIG-MERO | 12AUD79 | 12/2012 | په افغانستان کې د پوځي شتون کمولو لپاره د بهرنیو چارو وزارت د لیږد پلان پلټنه |
| GAO | 351851 | 8/16/2013 | په افغانستان کې د DOD قراردادیانو وتل |
| GAO | 320985 | 6/26/2013 | د بهرنې لیبر قراردادکونکو بهر کارول |
| GAO | 351819 | 5/9/2013 | د افغان عامه محافظت ځواک ته د DOD لیږد لګښت |
| GAO | 121119 | 3/6/2013 | د بهرنیو چارو وزارت او د نړیوالې پراختیا لپاره د متحده ایالاتو ادارې احتمالي قرارادادونه |
| GAO | 351798 | 1/18/2013 | په افغانستان کې د تجهیزاتو کمول او د مراکزو تړل |
| USAID OIG | FF100113 | 4/1/2013 | د USAID/افغانستان د ټاکنو مرستې پروګرام پلټنه |
| USAID OIG | FF100712 | 11/28/2012 | د USAID/افغانستان انتقال پلانونو پلټنه (تعلیق شوي) |
| USAID OIG | FF100612 | 10/9/2012 | د اضافي پرداختونو په برخه کې د USAID/افغانستان د اداري کنترول څخه بیاکتنه |
| USAID OIG | FF101712 | 10/25/2012 | د USAID\افغانستان لخوا د ټاکلو پروژو لپاره د قوماندان د بیړنی غبرګون پروګرام فنډ د کارولو بیاکتنه |

سرچینې: DOD OIG، د سیګار معلوماتو غوښتنې ته ځواب، 9/19/2013؛ State OIG، د سیګار معلوماتو غوښتنې ته ځواب، 9/5/2013؛ GAO، د سیګار معلوماتو غوښتنې ته ځواب، 9/18/2013؛ USAAA، د سیګار معلوماتو غوښتنې ته ځواب 9/23/2013؛ USAID OIG، د سیګار معلوماتو غوښتنې ته ځواب، 9/18/2013.

## د دفاع وزارت د عمومي پلټونکی دفتر

د دفاع وزارت د سیندونو څخه پورې غاړې احتمالي عملیاتونو په ترسره کولو لاهم د ننګونو سره مخ دی (OCO). د دفاع وزارت د عمومي پلټونکي دفتر د دغو ننګونو او سترو خطرونو په اساس خپل لومړیتوبونه ټاکلي. په 2013 مالي کال کې، DOD OIG په افغانستان کې د دې زیرمو ملاترې عملیاتو اکثریت سره د پولو بهر احتمالي عملیاتو په نظارت تمرکز کوي. DOD OIG تمرکز اساسا په افغانستان کې د افغان امنیتي ځواکونو فنډ، نظامي ودانۍ، د پرسونل خوندیتوب، او د قراردادونو ملاترې اییتلاف ځواکونو اداري او نظارت د مدیریت او اجرا په عرصو کې دوام لري. سربیره پردې، په افغانستان کې د DOD OIG نظارت په افغانستان کې د ځواکونو وتلو او عملیاتو اوښتون ته اړوند مسلو په نښه کولو پیل کړی.

لکه څنګه چې افغانستان کې د ملیاردونو ډالرو لګښت دوام لري، د وتلو هڅو سربیره، د افغان امنیتي ځواکونو (ASF) روزنې، سمبال، او پیاوړي کولو باندې د لاسته راوړنې او قرارداد پروسو نظارت او څار باید د لوی لومړیتوب په حیث دوام ولري. DOD OIG د افغانستان امنیتي ځواکونو د تجهیزاتو لکه چورلکې، الوتکې، مهمات، مخابرو، او په شپه کې د لیدنې وسایلو د قراردادونو د اداره او څارنې لپاره ځینې پلانونه په پام کې نیولي. DOD OIG به د افغان ملي پولیسو روزلو ته د قراردادونو اداره کولو او اجرا کولو کې د وزارت هڅو بیاکتلو او ارزونې ته دوام ورکړي.

د DOD OIG په مشرۍ د سویل لویدیزې اسیا ګډ د پلان جوړولو ډله به د نظارت فعالیتونو پورې اړوند د فدرالي او DOD OCO په همغږۍ کې مرسته وکړي.

DOD OIG، د سیګار سره په کار کولو په بیله بیا د عمومي پلټونکو مل او دفاع نظارت ټولنې غړو سره، په افغانستان کې د کارکوونکي نظارت ټولنې لپاره د 2014 مالي کال ستراتیژیک پلټنې پلان نهایی کړی او پلان لري چې د سویل لویدیز اسیا لپاره د 2014 مالي کال د پلټنې جامع پلان په اکتوبر 2013 کې خپور کړي. د 2014 مالي کال د پلان جوړونې یوه اساسي برخه د ځواک وړاندویل شوې بیارغونه\په افغانستان کې د عملیاتونو کمیدنه ده.

د خپلواکۍ زغم روان عملیاتو اړوند نظارت د ملکیت حساب ورکوونه په نښه کوي؛ ناسم تادیات؛ د ساختماني پروژو په شمول د قرارداد اداره او مدیریت؛ د افغان پولیسو روزنې لپاره د قرارداد نظارت؛ په افغانستان کې لوژستیکي توضیع؛ کمونکي عملیات، روغتیایی پاملرنه؛ او د افغان امنیتي ځواکونو لپاره د فنډ ورکولو لاسته راوړنې پلان او کنټرولونه.

## د متحده ایالاتو د د افغانستان اسلامي جمهوري حکومت امنیتي همکارۍ او مرستندویه فعالیتونو ملاتړ د دفاع وزارت واک څخه د بهرنیو چارو وزارت ته انتقالولو کې د حکومت هڅې

(د پروژې شمیره. 2013-D00SPO-0181.000، د پیل نیټه، 13 جون، 2013)

DOD OIG هغه پلانونه او فعالیتونه ارزوي چې په افغانستان کې د DOD څخه د بهرنیو چارو وزارت ته د امنیتي همکارۍ او مرستندیوه فعالیتونو انتقال لپاره بشپړ شوي یا پلي شوي، او د وړاندیزونو رامنځته کول چې د بهرنیو چارو وزارت ته د دغه فعالیتونو انتقال ته د موجود امنیتي همکارۍ لارښود یا امنیتي مرستې قوانینو سره په مطابقت کې اسان یا وده ورته ورکړي چې ممکن اړوند وي. د دې فعالیتونو ځانګړې موخې دا دي چې معلومه کړي آیا:

a. د متحده ایالاتو حکومت اهداف؛ مقاصد؛ پلانونه، او لارښود په افغانستان کې د دفاع وزارت واک څخه د بهرنیو چارو وزارت لاندې امنیتي همکارۍ نهاد ته د ګډ امنیتي لیږد قوماندې-افغانستان (CSTC-A) امنیتي مرستې فعالیتونو انتقال لپاره کافي دي، صادرشوي او د کار وړ دي.

b. د افغان دولت سره د امنیتي مرستې په برخه کې د متحده ایالاتو هڅې په افغانستان کې د متحده ایالاتو د پوځ (USFOR-A) ایستلو د پلان د عملي کیدو سره او د ناټو چارواکو ته د ایساف او ایساف ګډې قوماندې (IJC) پرې اغیز کړی.

## افغان ملي پولیسو ته د روغتیا پالني پایداره وړتیا چمتو کولو په برخه کې د متحده ایالاتو پوځ او د ایتلاف د هڅو بررسي کول

(د پروژې شمیره. D2013-D00SPO-0154.000، د 2013 کال د اپریل په 26 مه پیل شوې)

DOD OIG د افغان ملي پولیسو (ANP) په ملاتړ کې د مؤثره او مداوم روغتیایی پاملرنې پرمختګ لپاره د متحده ایالاتو او اییتلاف هڅو وده ارزوي. دا ارزونه به په ځانګړې توګه معلومه کړي چې، آیا:

- د افغان ملي پولیسو لپاره د روغتیا پالنې پایداره وړتیا چمتو کولو پلانونه په موثر ډول رامنځته شوي، او د افغان حکومت د هڅو سره همغږی شوي، او داسې عملي کیږي چې په ټاکلی مهال ویش کې د لیږد موخې تر لاسه کوي
- د افغان ملي پولیسو د روغتیایي اړتیاو پوره کولو لپاره، د روغتیاپالنې د خدماتو په برخه کې د مشاورینو سرچینې په نظر کې نیول شوي، او
- داسې پراختیایي پلانونه په پام کې نیول شوي چې افغان ملي پولیسو ته د مناسب طبي خدماتو وړاندې کول یقیني کوي، تر څو د ټپ څخه نیولې د ضرورت وړ پاملرنې پورې خدمت وړاندې کړي.

### د W58RGZ-09D-0130-0102 کاري فرمان په اساس د Mi-17 Cockpit بدلونونه

(د پروژې شمیره. D2013-D000AS-0097.000، د پیل نیټه، 8 فبروري، 2013)

DOD IG د Mi-17 د چلونکي او سپرو د بدلونونو په اړه د وظیفوي فرمان څخه یو تعقیبوي پلټنه تر سره کوي (د پروژې شمیره. D2012-D000AS-0075.000). په دې تعقیبي پلټنه کې DOD IG معلوموي چې ایا د DOD چارواکو د فیدرالي او DOD مقرراتو او پالیسیو په اساس د Mi-17 ډوله الوتکو د بدلون په اړه، د وظیفوي فرمان 0102، W58RGZ-09-D-0130 شمیره قرارداد کې نامعینه انتقال او نامعینه مقدار په سمه توګه قرارداد او اداره کړي که نه. د تیرې پروژې په اساس، DOD OIG د پاکستان په ملکیت Mi-17 ډوله الوتکې د ترمیم لپاره هغه قرارداد بیاکتنه وکړه چې د 0102 وظیفوي فرمان لخوا لاسلیک شوی و.

### د ډاترون ورلډ کمونیکیشن.انکارپوریشن لپاره د بیې سموالی معلومول. هغه قراردادونه چې د متحده ایالاتو پوځ د قرارداد کونکې قوماندې لخوا د افغان ملي امنیتي ځواکونو لپاره لاسلیک شوي دي

(د پروژې شمیره. 2013-D000AT-0083.000، د 2013 کال د جنوري په 3 پیل شوی)

DOD OIG معلوموي چې آیا د متحده ایالاتو نظامي قرارداد کونکې قومانداني د افغان ملي امنیتي ځواکونو لپاره مخابراتي تجهیزات او پرزې د ډاترون ورلډ کمونیکیشن انکارپوریشن څخه په مناسبه بیه اخیستې دي. دا پروژه د یوې لړۍ څخه دویمه پلټنه ده چې د ډاترون ورلډ کمونیکیشن قراردادونو باندې تمرکز کوي. د دې لړۍ لومړۍ پلټنه D2012-D000AT-0129.000 ده.

### د 2014 کال څخه وروسته د افغان ملي امنیتي ځواکونو د مهم پیاوړي کونکي امکاناتو لیرد لپاره د پلان جوړونې ارزونه

(د پروژې شمیره. D2013-D00SPO-0087.000، د پیل نیټه، 18 دسمبر 2012)

DOD OIG ټاکي چې ایا د متحده ایالاتو او ایتلاف اهداف، مقاصد، پلانونه، لارښود او زیرمې افغان ملي اردو (ANA) او ANP وړتیاو ته د ANSF حیاتي عملیاتو وړکونکو په مؤثره ډول ودې، اداري او لیرد لپاره کافي دي. برسیره پردې، DOD OIG معلوموي چې پیاوړي کونکي امکانات به د 2014 کال څخه وروسته کومو پرمختیاو ته اړتیا ولري. همدارنګه، DOD OIG معلوموي چې آیا کموونکي کارونه په پلان کې نیول شوي او د ANSF مهمو پیاوړي کونکي امکاناتو په اړه چې له 2014 کال څخه وروسته دي یا د پراختیا لاندې وي، څه وایي. په اصل کې، DOD OIG بیاکتنه کوي چې د پیاوړي کونکي ځواک د کارونو لپاره کوم پلانونه او کړنو ته اړتیا شته څو ANSF د خپلواکو عملیاتونو په لاره اچونه او ساتنه سرته ورسوي. لومړی راپور، DODIG-2013-129 (محرم راپور)، په سپتمبر 20، 2013 خپور شوی و. د دوهم راپور تمه د 2014 مالي کال تیر لومړۍ ربعه کې کیږي.

## د دفاع وزارت لخوا د شمالي اتلانتیک پیمان سازمان (ناټو) د مرسته کونکو هیوادونو د افغانستان ملي پوځ خیریه بودیجې سره د هغو مرستو معاینه چې د پایداره پروژو لپاره د 2012 کال د سپتمبر تر 30 پورې تصویب شوي دي

(د پروژې شمیره. D2013-D000FL-0056.000، د پیل نیټه، 3 دسمبر 2012)

د دفاع وزارت تر واک لاندې(کنترولر)/د مالي مامورینو مشر، USD(C)/CFO] DOD] د دې معاینې غوښتنه کړې ده. USD(C)/CFO پلان لري څو ثابته کړي چې د ټولو موادو په اړه دا لاندې جدول په سمه توګه کارول شوی دی:

- د افغانستان ملي پوځ د خیریه بودیجې سره د مرستندویه هیوادونو د مرستو جدول چې د پایداره پروژو لپاره د 2012 کال د سپتمبر تر 30 پورې تصویب شوي دي
- د افغانستان ملي پوځ د خیریه بودیجې سره د مرستندویه هیوادونو د مرستو د جدول مالي وضعیت چې د پایداره پروژو لپاره د 2012 کال د سپتمبر تر 30 پورې تصویب شوي او د امریکا متحده ایالاتو ته لیږدول شوي دي

